تفسیر ایوبی حنفی

تالیف

ملا متعلم وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد الشہید الایوبی

القندہاری العلیا خیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

از الناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ مشا الدین کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتوژبه کښي اولنی او په افغاني تاريخ کښي بې ساري په زرګونو جديدو مسئلو باندي مشتمل

تفسير ايوبي حنفي

اوولسم ټوک ۱۷

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ (۲۷) قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ (۲۸)

تاليف او تصنيف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبد الله الايوبي

الکندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مکتبة القراءة والتجويد
کاسي روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم .... تفسير ايوبي پښتو اوولسم ټوک

مفسر .... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الکندهاري السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر .... حبيب الحق حقاني

ټايپ .... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکې اداره .... مکتبة القراءت والتجويد کاسي روډ کوټه

د چاپ ځای .... لاهور

يو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم په قرآن مجيد، احاديثو يا د فقهي په کتابو کې په قصده سره غلطي نه کوي، زموږ اداره تر خپله وسه پورې د کتابو تر ليکلو وروسته تصحيح ته زياته پاملرنه کوي، چې له دې کبله زموږ کتابونه معياري دي، خو بيا هم بنده بنده دي، يو نه يو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کې يا په يوه جمله کې ځنې صادره سي، نو زموږ د ټولو ناظرينو څخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زموږ سره تماس ونيسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کې د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القرائة والتجويد كوئته باكستان

ر يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat I waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٣٣ هجري - ٢٠١٢ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

شارع كانسي كوئته - بلوجستان

رقم الهاتف ٠٣٠٠٣٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT WALTAJWEED

KANSI ROAD QUETTA BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ الْوَرٰى

وبعد: محترمو لوستونکو! تاسو په دې حقیقت ښه خبریاست، چې د افضل الانبیاء ﷺ را لېږنه الله تبارک وتعالی د ټولي نړۍ او ټوله عالم لپاره کړې ده.

او نبي کریم ﷺ اخیري نبي او استازی دی، نو دا دین به و مختلفو قومونو، مختلفو ژبو ویونکو، او مختلفو سیمو ته د دنیا څوک رسوي؟ د دې ځواب خپله نبي کریم ﷺ په خپلو مبارکو وینا وو کښې فرمایلي دی، فرمایي: اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، له انبیاء کرامو څخه په میراث کې سره او سپین زر نه دي پاته سوي، بلکې له هغوی څخه علم په میراث پاته سوی دی.

نو معلومه سوه چې علماء کرام د انبیا کرامو علیهم السلام وارثین دي، او دوی به د آنحضرت ﷺ دا دین و خپلو قومونو ته رسوي، دا خبره هم تر لمر روښانه ده چې هر څوک پخپله مورنی ژبه باندې تر نورو ژبو ډېر ژر او په ډېره اسانه طریقه سره پوهېږي، او کوم مقصد او کومه

Scanned by CamScanner

موخه چي دی له خپلي ژبې څخه اخستلای سي،
کېدای سي چي دی دې د نورو ژبو له کتابونو
څخه هغه مقصد وانه خلي، نو ځکه مفسر وخت
حضرت العلامة شیخ التفسیر والحدیث استاذ کل الحاج **مولانا محمد عبیدالله** الایوبي القندهاري صاحب د خپلو هیواد والو مسلمانانو د فائدې لپاره د معتبرو تفاسیرو څخه دا یوه علمي ذخیره په نامه د تفسیر ایوبي حنفي، په خپله خوندوره او مورنۍ ژبه پښتو کښې ولیکی، چي دادی اوولسم ټوک چي پکښي اووه ویشتمه او اته ویشتمه پاره ترتیب سوې ده ستاسي په لاسونو کښي دی.

مکتبه القرائت والتجوید په دې ویاړي چي د قرآن مجید ودې ستر خدمت ته یې ملا تړلې ده او د تجوید د کتابونو سره سره یې د علم تفسیر، علم فقه او علم عقائد کتابونه هم چاپ ته سپارلي دي.

ستاسي د دعاؤ په هیله چي تر څو د حضرت ایوبي قلم نور هم ګړندی او صحت یې نور هم مخ په وړاندې سي.

والسلام

قاري فضل الحق حقاني

تلمیذ حضرت ایوبي وباني مکتبة القرائت والتجوید

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب حمدًا كثيرًا جزيلاً جميلاً طيبًا مباركًا، والصلوة والسلام على من دنى فتدلى فكان قاب قوسين او ادنى وعلى آله وصحبه البررة الكرام.

وبعد: فيقول العبد الفقير سامحه القدير بلطفه الخطير محمد عبيد الله الايوبي الكندهاري: تاريخ شروع تفسير جزء فما خطبكم جزء (٢٧) من اجزاء القرآن العزيز في شهر ذى القعدة الحرام (٢٥) في ليلة الجمعة ساعة (٩) من شهور سنه (١٤٣٢) هـ ق، و وفقني لتفسير بقية اجزاء القرآن المجيد بالخير والعافية والصحة والسلامة واجعله خيرًا باقيًا لي الى يوم نفخة الصور، اللهم سهل ويسر ولا تعسر.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٣١﴾

قال (اى ابراهيم) فما خطبكم (اى ماشانكم وفي اى حاجة ارسلتم) اى د خداى را استول سوو ملكو.

قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾

ملكو وويل موږ را استول سوي يو و داسي قوم ته چي مجرمين دي يعني قوم لوط.

پوه سه: چي مجرم په اصطلاح د قرآن عظيم کي هغه چا ته وايي چي پر خپل جرم ټينګ ولاړ وي، دوى داسي خبيث کارونه کول يعني چي تر دې دمخه په بني نوع کي د انسان چا نه وه کړي يعني اللواطة الكبرى چي اتيان په دبره کي د نر حتى چي حيوانات لاهم بد ځني وړي، ته نه وينې چي نر خر چي پر بل خره د دبري د کار لپاره پوښې پورته کړي هغه يې په لغتو مخ ور تک شين کړي، يعني قوم لوط تر حيواناتو بد تر وه چي لوى لوى خلک يو پر بل سره ختل، ما لواطة الكبرى ووايه د دې لپاره چي لواطت د مايني سره خو هم حرام دى لان الدبر موضع الفرث دى، او وطي د مايني سره خو په دې سبب روا دي چي ځاى د حرث دى چي بقا د نوع انساني په راسي لكن د نر دا اعظم جرمًا من لواطة زوجة، او قوم لوط قطع السبيل هم كاوه يعني پر مسافرو د دوى د وطنو لار بنده کړې وه ولي چي مسافر د لواطت له بېري د دوى پر لار نه راتله، نو خداى پاک چي د دوى د قبيلې سرى يعني لوط ورواستوى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دوی منع کړي له دې کار عظيم څخه، نو دوی انکار وکړی او چي لوط ؑ به دوی ته وويل چي عذاب به دربانده ي نازل سي دوی به ورته وويل: آتنا بعذاب الله ان کنت من الصادقين، نو د لوط ﷺ تر ډېر تبليغ وروسته او په منع کي ددوی بيا هم دوی نسوه منع، نو بيې داسي وويل: رب نجني من القوم الظالمين وانصرني على القوم المفسدين، فارسل اليهم الملائكة، نو ملکو و ابراهيم ﷺ ته دا خبره وکړه.

لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِيْنٍ ۙ مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ۝

چي نازل کړو پر دوی يعني وه اوروو ډبري د خټو يعني هغه خټي چي په اور د جهنم لکه ډبري کلکي کړځېدلي وي چي سجيل يې بولي لکه چي په بل ځای کې د قرآن کريم راغلي دي (معرب دي له سنګ ګل څخه) "مسومة" چي علامه داري سوي وي چي پر هره ډبره هغه څوک چي به په ويشتل کېدی د هغه نوم به پر نوشته وُ.

فائده: د من طين د قيد فائده داده که دغه لفظ نه وای د سړي به خيال کېدای چي له حجارة څخه به ږلی مراد وي، ولي چي د اسمان له خوا را اورېږي، او ږليو ته هم اسماني ډبري خلک وايي.

"عند ربک للمسرفين" په نېز د خدای ستا د اسراف کونکو لپاره چي تجاوز يې کړی تر حد په فجور کي وهو الواطة مع الرجال، او ابن عباس ؓ وايي يعني للمشرکين فان الشرک اشرف الذنوب واعلاها.

درويش وايي: چي له دې روايت څخه دا معلومه سوه چي په قوم لوط کي دوه اسرافه موجود وه يو شرک او بل لواطت.

فَاَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيْهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

نو موږ و ايستل څوک چي وه په دی (قريې) کي د مسلمانانو څخه (يعني چي پر لوط ؑ يې ايمان راوړی وُ).

سوال: قری لوط کله ذکر سوي وې، نو اضمار قبل الذکر به نه وي؟

ځواب: قری لوط معلومي دي له سياق څخه د بيان.

درويش وايي: چي هغه قول د ملکو چي په بل ځای کي د قرآن مبارک راغلی دی: انا رسل ربک لن يصلوا اليک فاسری باهلک بقطع من الليل ولا يلتفت احد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منكم (يعني ترشا دي نه ګوري) لهول ما ينزل الا امرتك (يوه ستا مايينه چي واهله يا واعله نو مېده چي هغې به هر ګړی ترشا کتل او د يا قوم ناري به يې وهلې) فانه مصيبها ما اصابهم، يعني د دې پر سرهم حجارة من طين را ايله کېږي.

فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿۳۶﴾

مو ونه کړی پيدا په قری ؤ کي د قوم لوط "غير بيت من المسلمين" يعني اهل بيت يعني لوط وبناته وصفهم الله بالايمان والاسلام جميعًا لانه ما من مؤمن الا وهو مسلم.

وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿۳۷﴾

او مو پرې ښودل نښاني په هغه قری کي د هغه چا لپاره چي له دردناک عذاب څخه بېرېږي، چي هغه ايت د برې د برې پر شا وخوا د قوم لوط او پر دوی چي مځکه چپه سوه پر هغو ځايو توري او به بد بويه پيدا سوې چي دا عبرت دی د هغو کسانو لپاره چي له خدايه بېرېږي... بيت:

پند گیز از مصائب دیگران .... تانه گیرند دیگران ز تو پند

پوه سه: چي په دې ايت سره دليل دی علی کمال قدرته تعالی علی انجاء من يؤيد (په نجات ورکولو کي د هغه چا چي تائيد د دين د خدای "کوي) والانتقام من اعدائه ولو بعد حين.

وَفِي مُوسَىٰ إِذْ أَرْسَلْنَاهُ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿۳۸﴾

او په استولو کي د موسیٰ څه وخت چي دی مو ور رسول وګرځاوه (ای فرستاده شده) و فرعون ته (چي عمالقه يې قوم ؤ او فرعون دعوه د خدايي کړې وه او قوم يې هم ورسره منلې وه: انا ربکم الاعلی) "بسلطان مبين" په حجت ظاهره سره چي په تېرېدو سره د کلو او د زمانې په اوږدو کي دغه معجزات و فرعون ته ده ښکاره کړه (۱) لکه عصا چي مار کېدله به (۲) يد بيضاء: چي لاس به يې په ګرېوان چخ کړی چي را وه به يې ايستی لکه لمر بر ښېدی به او چي بيرته به يې په ګرېوان دننه کړی عادي لاس به ؤ (۳) الطوفان: يعني ډېر باران چي په کورو کي چي به دوی ناست وه او به به يې تر حلق پوري رسېدلې، يعني طوفان نوح مراد نه دی بلکي مشابه د هغه سره چي تر عادي باران ډېر لوړ ؤ (۴) الجراد: ملخان يې پر مسلط

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه چي باغونه او کښتونه د فرعونيانو بلکې د درختو پوستونه يې هم وخوړل (۵) والقمل: او سپوږي چي د غنمو مغز به يې وخوړی خالي پوستکی به يې پاته سو (۶) والضفادع: او چنګوښي چي صفا اوبه چي پر سر د منګي يا بوبل لوښي به تيوکر هوار هم ؤ چي فرعونيانو به پر سر راپورته کړی نو د مخه تر اوبو به يې چونګښه په خوله ور ننوتل، وعلی هذا خوراکي شيان (۷) والدم: او به به يې سري ويني وګرځېدلې په وخت کي د څيښلو د دوی (۸) والسنين: کاختي يعني باران نه اوريدل څو کاله پر له پسې (۹) وفلق البحر: چي درياب کوڅې کوڅې سو د بني اسرائيلو د تېرېدو لپاره او فرعون او دده قوم تولا پکښي غرق سوه.

فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ۝

روی ګرداني او انکار وکړی فرعون د ايمان راوړلو څخه او وه يې ويل چي دا موسیٰ چي خوارق يې ښکاره کړه جادوګر دی يا لېونی دی.

درويش وايي: چي فرعون دومره بېوقوف ؤ چي د ساحر او لېوني ترمابين يې ترديد وکړی او سره ددې چي ساحر خو ډېر فهميده سړی وي، قاضي بيضاوي دده ترديد داسي توجيه کړې ده چي دا خوارق العادة معجزات چي فرعون وليدی نو دا يې په خيال کي ورغله چي دا خو د پيرانانو وظيفه ده نو په دې کي متردد ؤ چي موسیٰ په اختيار به وي نو خو دی ساحر دی او که دده په اختيار نه وي نو پيرانان دا شيان ښکاره کوي.

درويش وايي: چي ددې لوی خره د توجيه څه ضرورت دی بلکې د وار خطايي څخه يې دا ترديد وکړی او قوم چي دده خدايي يې منله بلکې دا قول دده يې هم مني.

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ وَهُوَ مُلِيْمٌ ۝

نو موږ دی ونيوی يعني سره د قوم او دده د لښکرو مو وغورځاوه په رود نيل يا بحر قلزم کي "وهو مليم" دده داسي کار وکړی چي راتګ يې په ده ملام يعني ملامتيا راغله چي عبارت دی هغه کار چي فرعون راتګ په وکړی هغه کفر، تکبر او عناد.

فائده: دا جمله حال ده له ضمير منصوب څخه د اخذناه.

وَفِيْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ الْعَقِيْمَ ۝

ای في اهلاک قوم عاد آية چي نبي هود ؑ چي موږ را واستاوه پر دوی اصالة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(وي چي گمراهان او کافران خو دوی وه وعلی دورهم واموالهم ومواشیهم تبعا)
"الريح العقيم" يعني وچ باد.
فائده: العقيم باد هغه دی چي لاخير فيه ولابركة او نه د کښت فائده او نه د درختو چي دبور يعني د کښې باد ؤ. لقوله عليه الصلوة والسلام نصرت بالصبا (يعني د پاسه باد) واهلكت عاد بالدبور.

مَا تَذَرُ مِن شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾

نه پرېښو دغه باد چي دی پر راغلی (ريح چونکه مؤنث سماعي ؤ ځکه يې د اتت ضمير مؤنث ورته راجع کړی) مگر گرځاوه به يې هغه شی لکه ايرې، او بعض وايي لکه وچ وابښه چي تر پښو د خلکو لاندي ميده سي.
فائده: عقيم که څه هم صفت د ښځي دي چي رحم يې نطفه نه قبلوي نو عيا ليې نه کېږي لکن دلته يې استعمال په ريح کي استعارة کړې ده، علاقه د تشبيه يې داده چي د دبور په باد کي هم فائده نسته.

وَفِي ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٤٣﴾

يعني په اهلاک کي د قوم د ثمود چي نبي يې صالح عليه السلام ؤ، اية يعني دليل د قدرت د خدای عزوجل سته او عبرت دی د من کانوا بعدهم "اذا قيل لهم" کله چي وويل سول دوی ته د صالح عليه السلام له خوا ځکه چي دوی اوښه ذبح کړه او غوښي يې سره تقسيم کړې "تمتعوا" تاسي اوسېږئ او نفع اخلئ په خپلو کورو کي تر يو وخت پوري يعني درې ورځي.
پوه سه: چي دوی اوښه ذبح کړه د چهارشنبې په ورځ او په ورځ د شنبې پر دوی عذاب نازل سو، او صالح عليه السلام نښاني د نزول د عذاب داسي بيان کړي وې چي اوله ورځ چي سهار راپورته سئ مخان به مو ژړ وي، او دوهمه ورځ به مو مخان سره وي او دريمه ورځ به مو مخان تک تور وي، بيا عذاب الهي پر تاسي نازلېږي.

فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ وَهُمْ يَنظُرُونَ ﴿٤٤﴾

بيا هم دوی سرکښي وکړه له امر څخه د خدای يعني ايمان يې رانه وړی او د صالح عليه السلام متابعت يې ونه کړی او پر ده يې ايمان رانه وړی "فاخذتهم الصاعقة" نو دوی ونيول عذاب مهلک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: هر عذاب مهلک ته صاعقه وايي او صاعقه سخت عذاب ته هم وايي كذا في القاموس، او مراد دلته نعره شديده د جبرئيل دَه "وهم ينظرون" او دوى دغه عذاب په سترګو ليدى، كريمه: فاصبحوا في دارهم جاثمين، پر زنګنو يې تكيه كړې وه.

فَمَا اسْتَطَاعُوا مِن قِيَامٍ وَمَا كَانُوا مُنتَصِرِينَ ﴿٤٥﴾

دوى طاقت نه درلودى چې ولاړ سي او پر پو خوا وتښتي، يعني بعد نزول العذاب "وما كانوا منتصرين" او نه وه دوى خلاصونكي ديو چا له خوا، راويان د قصې وايي چې دوى هغه علامات چې صالح ﷺ ورته بيان كړي وليدل قصد د قتل د صالح ﷺ يې وكړى صالح ته خداى نجات وركړى ځني وتښتېدى شام ته يا فلسطين ته.

وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿٤٦﴾

په تحقيق د قوم نوح فاسقان يعني خارجون له سمي لاري ځنه و كفر او عصيان ته.

پوهه: چې د قوم لفظ منصوب دى په يو فعل محذوف سره چې ماقبل دلالت پر كوي عند اكثر القراء، او بعض قراء يې په جر وايي چې عطف يې پر ثمود بولي، فالمعنى وتركنا في اهلاك قوم نوح اية كمامر.

پوهه: چې لفظ قبل مبني پر ضمه دى عوضًا عن المضاف اليه (نو ځكه كلمه د من چې حرف جر دى عمل يې نه دى پكښې كړى) والمضاف اليه اى قبل قوم لوط و فرعون و جنوده وعاد و ثمود.

پوښتنه: دغه قصې چې تاسي واورېدلې په نورو سورتو كي د قرآن كريم په ډېر تفصيل سره ذكر كړل سوي دي، نو په دې اجمالو قصو كي د دوى څه حكمت الهى دى؟

ځواب: يو حكمت تسلي ده و رسول كريم ﷺ ته، دوهمه فائده وعده وركول و عليه الصلوة والسلام ته چې ته به منصور يې لكه هود او صالح او لوط او موسٰى، دريمه فائده يې بېرول د اهل مكه او كافرانو دي چې تاسي به لكه د كفارو ماضيين عذاب دركړل سي لكه وهغو ته فمالكم لاتؤمنون ولا تصدقون محمدًا ﷺ.

وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾

پوهه: چې لفظ السماء منصوب دى په وروسته فعل سره چې دې ته په نحو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي منصوب علی شريطة التفسير وايي يعني دمخه تر السماء لفظ بنيناها ؤ هغه يې حذف کړی وروسته يې تفسير په بنيناها مذکور سره وکړی.

سوال: په حذف کي د عامل او وروسته تفسير کولو کي فائده څه ده؟

ځواب: په دې قول کي د عبدالرحمن الجامي قدس سره په خپل يوسف زليخا کي فکر وواهه جواب به درته ښکاره سي:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری .... با امید رسد امیدواری

او اسمان (چونکه اسم جنس دی نو ټولو اسمانو ته شامل دی) بناء کړی پر خپل قدرت او قوت سره (يعني د لفظ د ايد معنی متعارف نه ده مراد)

"وانا لموسعون" ابن عباس وايي ای قادرون مطيقون مشتق من الوسع بمعنی الطاقة، کريمه: لايكلف الله نفسا الا وسعها ای طاقتها چي وسه يې پوره وي (څکه پر مسکين زکوة او حج خدای نه دي فرض کړي) دا جمله حال ده له فاعل څخه د بنيناها.

وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ﴿۴۸﴾

او مځکه غوړولې يعني لکه فراش چي انسانان قرار پر ونسي يعني د ژوند شپې او ورځي پر تېره وي، ښه فرش او مهد غوړونکي يو (مخصوص بالمدح يې محذوف دی ای نحن)

وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ﴿۴۹﴾

او له هر شي څخه پيدا کړي دي مونږ دوه صنفه.

پوښتنه: اصناف د هر شي خو په دوه کي حصر نه دي، وګوره چي خورما څومره ډېر اصناف لري، او انګور څونه ډېر اقسام لري وهکذا انار او نور مېوه جات او غذائيه د کښتو دانې؟

ځواب: د خدای پاک مراد صرف تعدد د اصنافو مخلوقاتو من ای جنس کان ذالک المخلوق بلکي يو شی دوه جهته درلودلای سي لکه هر سړی چي عاجز بالذات دی قادر بالغير دی.

درويش وايي: چي بعض مفسران پر ظاهر د قرآن معنی د مثنی په هر شي کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوړي ده يعني متقابل او متضاد دوه شيه، لکه د مجاهد ؒ څخه روح المعاني نقل کړی دی لکه ذکر او انثی، اسمان او مځکه، شپه او ورځ، لمر او سپوږمی، دوبی او ژمی، بر او بحر يعني دښت او دريـاب او خالي مځکه او غر، انس او جن، نور او ظلمه، تور او سپين، دنيـا او اخرت، ايمان او کفر، نيکبختي او بد بختي، حق او باطل، خوږ او تريخ، مرګ او ژوند، لوند او وچ، علم او جهل، قدرت او عجز، سخي او بخل، قوت او ضعف، صحت او ناجوړي، غنی او فقر، خندا او ژړا، خوشحالي او غم، لوړه او کښته، راسته لاس چپه لاس، دمخ خوا د شا خوا، ګرمي او يخ وهلم جرا.

پوه سه: چي د "تذکرون" اصل تتذکرون وُ يوه تا يې په دال بدله کړه او ادغام يې وکړی لپاره د دې چي تاسي پند واخلئ او پر دې يقين وکړئ چي تعدد له خواصو څخه د ممکناتو دی والواجب بالذات لايقبل التعدد والانقسام و وجوده لايقبل العدم وقادر لاعجزله.

فَفِرُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ ۖ إِنِّى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ

الفاء اجراء لشرط محذوف ای اذا کان امر الله کما مر نو وتښتئ يعني موجه وکړئ له هر شي څخه و خدای ته بالمحبة وامتثال او امره والانتهاء لنواهيه وکسب السعادات او له نقائصو او شرور څخه پاک.

پوه سه: چي دا جمله حکايت ده د رسول الله ﷺ بتقدير القول ای قل يا محمد لهم ففروا الی الله، نو له وروسته ايت سره به يې ارتباط پيدا سي.

"اني لکم منه" زه تاسي لره د خدای له خوا ای من عذابه چي مرتب دی پر غضب او پر عصيان او پر هجران د خدای دی "نذير مبين" چي انذار د خدای له جانبه څخه چي معلوم دی په معجزاتو سره يا د مبين معنی داده چي زه مظهريم لمايجب اظهاره من العذاب المنذر به.

وَلَا تَجْعَلُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ إِلَـٰهًا ءَاخَرَ ۖ إِنِّى لَكُم مِّنْهُ نَذِيرٌ مُّبِينٌ

تاسي مه ګرځوئ سره د خدای بل معبود لکه بتان د اهل مکه وغيرهم يا عيسیٰ چي ابن الله يې بولي يا ملائکه چي د خدای لوڼي يې بولي او عبادت يې کوي "انی لکم منه نذير مبين" ترجمه دده ي ايت خو عنقريب تيره سوه لکن پوښتنه دده ي

کېږي چي دا آيت تکرار د اول به نه وي او که څرنګه؟ بعض مفسران وايي چي دا آيت تاکيد د اول دی او بعض مفسران وايي چي اول دغه ايت لپاره د خواصو د مؤمنانو دی چي دوی و بېروي د مطلق توجه او محبت د غير سره د خدای او دوهم دغه ايت لپاره د بېرولو د عوامو د شرک او معاصيو څخه لکه له سياق څخه د کلام چي فهمېږي، يعني قوله تعالی: ولاتجعلوا مع الله الهًا اخر، فافهم هداک الله.

كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ

"كذالک" خبر د مبتداء محذوفي دی ای شانک، مع قومک کشان الرسل تر تا د مخه سره د خپلو قومو چونکه په دې تشبيه کي احتمالات وه، د و تعيين لپاره د تشبيه دا ايت نازل سو چي يو احتمال يې لپاره د تشبيه وتاکی.

پوه سه: چي د موصول يعني الذين څخه مراد کفار د پېشو امتو دي او ضمير د هم راجع دی و کفارو ته د مکې، او کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي يعني يو رسول د رسولانو.

فائده: نحات وايي چي د دې قول د يو سړي ما اتاني اليوم رجل او د دې قول د سړي ما اتاني من رجل فرق سته ولي دوهم قول نص دی په استغراق کي د نفي د اتيان د رجل ما فتدبر.

اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ

"الا قالوا" دا استثناء مفرغ ده، يعني مستثنٰى منه يې محذوف دی، د اعراب له لاري په محل کي د نصب دی د فاعل د اتی يا د مفعول د اتی يا د دواړو، والتقدير ما اتاهم من رسول في حال من الاحوال (دا يې مستثنى منه محذوف ده الاحال قولهم) "ساحر او مجنون" د ترديد وجه يې داده چي دوی چي به يې معجزاتو ته وکتل چي خارق العادة وې، نو به يې ويل چي ساحر دی او چي و دې ته به يې نظر وکړی چي دی خو خلک و توحيد ته د معبود رابولي او بعث بعد الموت ته چي دا د دوی په عقيده محاله وه، نو به يې ويل چي مجنون دی.

فائده: ساحر او معطوف پر ده خبر د مبتداء محذوف دی ای هو ساحر او تول له مقول د قالوا ده، يعني قالوا هذا لکه چي کفارو د مکې به هم و عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته دا خبره کوله وفيه تسلية لرسول الله ﷺ، پښتانه وايي: چې د عالم سره غم نه غم دی.

أَتَوَاصَوْا بِهِ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ

يعني کافرانو و اولينو او اخرينو يو و بل ته دا وصيت کړی دی چې د رسول په مقابل کې دغه وايا ست ساحر او مجنون، والاستفهام للانکار لعدم اجتماع الاولين والاخرين في زمان واحد او په عين حال کې توبيخ هم ورسره ملګری دی "بل هم قوم طاغون" کلمه د بل لپاره د اضراب ده د تواصي څخه لما قلنا انما بل الجامع لهم على هذا القول مشاركة الاولين والاخرين في الطغيان.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَا أَنْتَ بِمَلُومٍ

يعني اعراض وکړه يا محمد ﷺ يعني د بې فائدې بحث سره ددوی ولې چې تا په کراتو مراتو سره دوی ته دعوت ورکړی دی الى التوحيد فابوا الانكار والاصرار على الكفر والضلال "وما انت بملوم" يعني على الاعراض ته ملامت نه يې د خدای له خوا څخه لانک بذلت جهدک في التبليغ والدعوة، ابن جرير و غيره له علي رض څخه بالواسطة روايت کړی دی چې دا آيت چې نازل سو فتول عنهم الاية، لم يبق منا احد الا ايقن بالهلاک اذ امر النبي ﷺ بالتولی عنهم.

وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ

يعني يکلخته تبليغ مه پرېږده بلکې مؤمنانو ته يې کوه (راوي د حديث مذکور وايي طابت انفسنا) زمونږ زړونه خوشاله سوه، او له قتاده رض څخه دا سي روايت راغلی دی چې ايت د فتول عنهم چې نازل سو پر اصحابو رض د رسول الله ﷺ ډېر سخت پرېوتی، ولې چې ددوی په خيال کې دا وه چې وحي قطع سوې او عذاب الهي حاضر دی فانزل الله تعالى اطمئنانا لقلوب المؤمنين و اذهاب ما اصابهم من الغم من قلوبهم.

"تنفع" تعليل دی للامر بالتذکير (المؤمنين) ولې چې تبليغ او تذکير نفع رسوي مؤمنانو ته يعني بصيرت ددوی زياتېږي او هر شي ور پياده ېږي بلکې د رسول کريم ﷺ د وعظ اورېدل عين رحمت دی.

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ

پوهسه: چې تقديم د جن په اعتبار د شرافت نه دی بلکې باعتبار التقدم الزمان دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اى خلقتهم لعبادتي او ادعوهم اليه اى وجوده تعالى حيث قال الله تعالى: وان سئلت عنهم من خلقهم ليقولن الله، وقيل معناه ليكون عبادتي او ليخضعوا الي ويتذكرون.

پوه سه: چي معنى د عبادة تذلل او انقياد دى وكل مخلوق خاضع لقضاء الله ومتذلل لمشيته (ايملک احد خروجها عما خلق له) وقيل معناه لتوحدون اما المؤمنون فتوحدونه في الشدة والرخاء، واما للكافرون وتوحدونه في الشدة والبلاء دون النعمة والرخاء قال الله تعالى اذا ركبوا في الفلک دعوا الله مخلصين له الدين، قال صاحب المدارک الكفار يوحدون الله في الاخرة ايضا كما قال الله تعالى لم يكن دعواهم الا ان قالوا والله ربنا ما كنا مشركين.

مَآ اُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ اُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ ۝

زه اراده نه لرم له دوى څخه د رزق او نه اراده لرم دپ چي دوى ما ته طعام راكړي.

پوه سه: چي له دې ايت څخه دا مراد دى چي شان د خداى تعالى د بندګانو سره داسي نه دى لكه د دنيا سرداران او مالكان چي له خپلو مريانو څخه رزق غواړي او ذريعه د معاش خپل يې ګرځولى دى والله تعالى منزه من الطعام والاستمداد عن غيره لانه غني قدير.

اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ ۝

په تحقيق خداى جل سلطانه دى دى چي رزق وركوي خپل مخلوق ته او په خپل مستغني دى له رزق څخه ''ذو القوة'' چي خاوند د قدرت دى پر ترزيق د مخلوق وعلى كل ما اراد ''المتين'' چي مځكه او مبالغ في القدرة دي.

رساند رزق بر وجهى كه شايد .... بسازد كارها نوعى كه بايد
بروزى بينوايان را نوازد .... برحمت بى كسان را كار سازد

فَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذَنُوْبًا مِّثْلَ ذَنُوْبِ اَصْحٰبِهِمْ فَلَا يَسْتَعْجِلُوْنِ ۝

نو په تحقيق هغو كسانو (چي ظلم يې پر ځانو كړى وي يعني په شرک او په ګنهو سره) چي په دې كارو سره يې فطرة سليمه خدا داده بدل كړى وي كما قال رسول اللهﷺ كل مولود يولد على فطرة الاسلام الحديث. ''ذنوبا'' برخه سته د عذاب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ذنوب په اصل لغت کي هغه لويي سولغې ته وايي چي خلک په نوبت له څاه څخه اوبه په راکاږي "مثل ذنوب اصحابهم" لکه برخه د گنهو د دوی د ملگرو.

پوه سه: چي مراد له اصحابو څخه دلته مثل د دوی دي په کفر او معاصيو کي لکه ثموديان او عاديان، فرعونيان، قوم نوح و قوم لوط.

فائده: کلمه د فاء في قوله تعالى: فان الذين آه لپاره د سببيت ده لقوله تعالى فتول عنهم يعني اذا سمعت وعيدي لکفار الامم الماضية فهو يکفيک لتسلية فلا تستعجل في نزول العذاب على قومک لان کل شيئ بقدر، فلهذا قال "فلا يستعجلون".

درويش وايي: چي په "لايستعجلون" کي يې صيغه د غائب راوړه مع ان سياق الکلام مع رسول اللهﷺ، تعظيمًا لحبيبه، او صيغه د جمع يې راوړه لان المراد الرسولﷺ واصحابه.

فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ يَّوْمِهِمُ الَّذِيْ يُوْعَدُوْنَ ﴿٦٠﴾

افسوس دی او هلاکت دی (ويل مبتداء ده تنوين لپاره د تعظيم دی ای ويل عظيم شديد، نو ابتدائيه يې صحيح ده او الذين کفروا يې خبر دی) د هغه ورځي څخه د دوی چي ورځ د قيامت ده چي د دوی سره وعده کړه سوې ده يعني من جانب الله تعالى، او بعض مفسرين وايي چي ورځ د بدر ده.

درويش وايي: چي دا ترجمه مناسبه نه ده لان الکلام في هذه الاية في احوال جميع الکفرة ويوم بدر مخصوص بهذه الامة ای بکفار مکة فافهم.

فقير وايي: چي تفسير د سورة الذاريات پر نهه (۹) بجې د خميس د ورځي ۲۵ د ذوالقعدة الحرام من سنة (۱۴۳۲) هجري قمري پای ته ورسېدی، ومن الله التوفيق وله الحمد الجميل من جانب هذا العبد الذليل.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الطور مكية وهي تسع واربعون آية وفيها ركوعان — بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالطُّوْرِ ﴿۱﴾ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ﴿۲﴾ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ﴿۳﴾ وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ﴿۴﴾

پوه سه: چي طور په سرياني ژبه مطلق غره ته وايي، او جمهور وايي چي په عربي ژبه مطلق غره ته وايي، او مراد دلته طور سينين دی چي د يو غره نوم دی په مدين کي چي په هغه غره کي موسیٰ ﷺ د خدای ﷻ سره خبري کړي دي.

فائده: کلمه د واو په الطور کي او په معطوفاتو کي لپاره د قسم ده والجواب هو قوله تعالی: ان عذاب ربک لواقع. او بعض مفسرين وايي چي مراد دلته مطلق غرونه ده چي اوتاد الارض دي او په غرو کي د اوبو چيني ستنه او نور منافع د انسانانو او خزائن و معدنيات پټ کښي ستنه، والاول هو الاظهر والاشهر.

پوه سه: چي السطر ترتيب الحروف، والمراد المکتوب، او رق هغه پوست ته وايي چي په عصر قديم کي يې خط پر ليکی اوس مستعار دی لما کتب فيه الکتاب که څه کاغذ وي يا توکر.

درويش وايي: چي فراء النحوي وايي چي مراد له دې کتاب څخه هغه کتاب دی چي په هغه کي اعمال يعني کرام کاتبين يې ليکي (چي په پښتو يې عمل نامه بولي) او بنده ته ورکول کېږي په ورځ د قيامت بيمينه او بشماله، وهو المذکور بقوله تعالی ونخرج له يوم القيامة کتابًا يلقاه منشورًا، انتهی الاحتمالات البعيدة کلبيؒ وايي چي مراد ځني تورات دی، او بعض وايي چي مراد ځني لوح محفوظ دی، ددې روايت سره دا لفظ منافي دی "في رق منشور" ولي چي لوح محفوظ خو رق منشور نه دی، وقيل هو الانجيل. البته دا احتمال چي مظهري ذکر کړی دی چي مراد ځني قرآن دی يا جنس الکتب چي په هغو کي شرائع د دين نوشته وي ډېر بعيد نه دی "والبيت المعمور" او هغه خونه چي اباده ده، قال البيضاويؒ المراد به الکعبة المبارکة وعمارتها بالحجاج والمجاورين، او يا زړه د مؤمن دی وعمارته بالمعرفة (ای معرفته تعالی بجميع صفات الجلال والجمال) والاخلاص (چي په حديث صحيح کي د عمر ﷺ يې روايت په احسان سره تعبير ځني سوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، حدیث چونکه طویل دی د مقصد د ځای عبارت داسې دی الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک، رواه البخاري بطوله.

درویش وایي: چې اکثر مفسرین پر دې دي چې بیت المعمور په اووم اسمان کې دی پر برابر د کعبة المبارکة، روایت کړی دی مسلم په حدیث کې د معراج النبوي ﷺ عن انس ؓ قال علیه الصلوة والسلام چې زه چې اووم اسمان ته ورسیدم فاذا انا بابراهیم ؑ مسند ظهره الی بیت المعمور (شا یې تکیه کړې وه بیت المعمور ته) او بیت المعمور داسې عظیم الشانه خونه وه چې هره ورځ اویا زره ملکې د طواف او د لمانځه لپاره ورتلې، ثم لا یعدون الیه ابدًا یعنې نوبت بیا نه ور رسیدی.

درویش وایي: چې سره ددې چې بیت المعمور سره د خلق د سابع اسمان پیدا ده، لکن اول طواف کونکو ته د ملکو بیا نوبت نه ور رسیږي ابدًا، نو دلیل دی د غایت کثرت د ملکو، کریمه: ولا یعلم جنود ربک الا هو.

فائده: د بیت المعمور بل نوم الضراح دی.

وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ ۝ وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ۝

هغه بام چې پورته دی، چې مراد ترېنه اسمان دی کما قال الله تعالی: وجعلنا السماء سقفًا مرفوعًا چې له مځکې څخه تر اول اسمانه پورې د پنځه سوه کالو (۵۰۰) لار ده وهکذا الی العرش الکریم عند الله "والبحر المسجور" ډېر مفسران د بحر مسجور ترجمه داسې کوي ای الموقد نارًا، اخرج ابن جریر وابن المنذر وابن ابی حاتم وابو الشیخ في العظمة عن سعید بن المسیب ؒ قال قال علي ؓ لرجل من الیهود این موضع النار في کتابکم؟ قال البحر قال علي ؓ ما اراه الا صادقًا (د یهودي نه وینم مګر صادق په دې خبره کې) وقرء علي ؓ واذا البحار سجرت (هغه وخت چې دریابونه ټول اور وګرځي) دا مذهب دی د مجاهد ؒ و شمر بن عطیة وابی بن کعب والضحاک والاخفش ؒ، وقال قتادة ؒ سجره ای ملئه والمراد به عنده البحر بالارض، وقیل بحر في السماء لاندې تر عرش، او په قاموس کې وایي: سجر التنور ای حماه قال محمد بن اسحاق والضحاک ؒ ای الموقد المحمی مثل التنور المسجور ای المملو نارًا وهو قول ابن عباس ؓ، ددې بیان هغه دی چې خدای پاک ټوله دریابونه په ورځ د قیامت اور وګرځوي او اور د جهنم په زیات کړي، روایت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی الضحاک له النزال بن سبرة څخه عن علي چي د بحر مسجور په باره کي يې داسي وويل چي دا يو درياب دی لاندي تر عرش چي عمق يې دومره دی اووه اسمانه او اووه مځکي په هغه درياب کي ځيه اوبه دي چي هغه درياب ته بحر الحيوان وايي چي تر نفخه اولی وروسته چي پر مځکه څلويښت (۴۰) ورځي باران څني اوري، نو مړي هر ځای د مځکي چي وي را وځي بيله روح لکه نباتات د مځکي چي په باران را وځي، وروسته روحان را واستول سي چي بدونه ته داخل سي تو له ژوندي سي، شاوخوا گوري. او روح البيان اول تفسير د بحر مسجور داسي کړی دی ای المملو وهو البحر المحيط الاعظم الذي منه مادة جميع البحار المتصلة والمنقطعة وهو بحر لا يعلم له ساحل ولا عمقه الا الله.

درويش وايي: چي وروسته روح البيان په بيان کي د دې بحر عجائب او غرائب راوړي دي، والله اعلم. فقير وايي چي پر عجائبو د قدرت د خدای ﷻ والملک والملکوت علم د خدای محيط دی وبس، ولا يعلم جنود (ای المخلوق) ربک الا هو.

إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۝ مَّا لَهُ مِن دَافِعٍ ۝

په تحقيق عذاب د خدای واقع کېدونکی دی يعني پر کافرانو او بيا دفع کونکی يې نسته له دوی څخه يعني چي واقع سي، دا وروسته جمله صفت ده واقع، له جبير بن مطعم څخه روايت دی، دی وايي چي زه مدينې ته ورغلم چي د رسول الله ﷺ سره خبري وکړم په باره کي د بنديانو د بدر چي د عليه الصلوة والسلام په لاس کي بنديان وه، نو زه په داسي وخت کي ورورسېدم چي عليه الصلوة والسلام د ماښام لمونځ خلکو ته ورکاوه او دده جهري قرائت له مسجد نبوي څخه دباندي اورېدل کېدی.

درويش وايي: چي په زمانه کي د حيوة النبي ﷺ مساحة د مسجد نبوي ډېر کوچنی ؤ نو ځکه يې اواز دباندي اورېدل کېدی) جبير وايي ما چي غوږ ورته ونيوی عليه الصلوة والسلام سورة الطور وايه، دې ځای ته چي راورسېدی ان عذاب ربک لواقع ماله من دافع، فکانما صدع قلبي حين سمعته، ما چي ويل زما زړه به سره وچوي: جبير وايي چي زه تر دغه وخته نه وم مسلمان، دی وايي چي دستي مي ايمان راوړی خوفًا من نزول العذاب، دی وايي وما کنت اظن ان قوم من مقامي حتى ينزل العذاب.

Maktaba Tul Ishaat.com　　Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي لـه دې قـصې څخـه دا معلومـه سـوه چي نـرم زړونـه چي قساوت نه وي ورسره په لږ شي ژر متاثره کېږي خصوصًا چې وعظ د قرآن عظيم وي او تالي يې رسول کريم ﷺ وي او وارثه المستقيم وي، بخلاف القاسي (سخت زړه) لکه زړه د ابی جهل ونحوه... شيخ سعدي وايي:

آهنی را که مـوريانه بخـورد.... نتوان برد ازو به صيقل زنگ

باسيه دل چه سود گفتن وعظ .... نرود ميـخ آهنين در سـنگ

يعني هغه اوسپنه چي زنګ خوړلې وي صيقل په پښتو زنګ نائل بولي، او نه ننوزي مېخ د اوسپنې په ډبره کې.

يَوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا ۙ﴿۹﴾ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ؕ﴿۱۰﴾

هغه ورځ (يوم منصوب دی ظرف دی د واقع چي بيان د کيفيت د وقوع دی يعني وقوع دذې عذاب د کمال هول او فضاعة سره همراه ده) چي په اضطراب کي واقع وي اسمان، والجريان السريع او تګ ؤ راتګ مبتلا وي، بعض مفسرين وايي لکه ژرنده ګر چي او خپل اهل کښته راغور ځوي، قتادة يې په مطلق حرکت سره ترجمه کړې ده، او عطاء الخراساني دا ترجمه کړې ده چي اجزاء د اسمان يو په بل ګډوډ سي، حاصل دا چي ټولې ترجمې صاحب قاموس راوړي دي.

"وتسير الجبال سيرًا" عطف دی پر تمور، او روان سي غرونه له خپلو ځايو څخه او په دوران کي سره ټوک ټوک سي او ميده ميده سي فکانت هباء منبثًا (لکه ګرز فراګنده سي)

فَوَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿۱۱﴾ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ﴿۱۲﴾

الفاء جزاء لشرط محذوف ای اذا وقع ذالک المور والسير نو هلاک او افسوس دی هغه کسانو لره چي تکذيب يې کاوه (د قرآن يا تکذيب د عليه الصلوة والسلام او يا تکذيب د بعث بعد الموت) هغه کافران چي دوی په دنيا کي بحث کاوه په باطلو خبرو کي.

پوه سه: چي خوض په لغت کي د ډېډلو ته وايي په اوبو کي، يعني دوی په باطلو خبرو کي ډوب وه چي تکذيب القرآن دی او تکذيب د عليه الصلوة والسلام دی استهزاءً و انکارًا کما يدل قوله يلعبون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿١٣﴾

چي دوی به په شدت وغورځول سي اور ته د دوږخ يعني خزنه د دوږخ به دوی وغورځوي اور ته چي لاسونه به د دوی په غاړو کي تړلي وي او پښې به يې د تړلي په وېښتانو سره تړلي وي او ځنځيرونه به يې هم پر پېچلي وي او پر مخي به يې دوږخ ته وغورځوي.

هٰذِهِ النَّارُ الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿١٤﴾

دا هغه اور دی چي په دنيا کي يې تاسو تکذيب کاوه چي دوږخ هرګز نسته، ای يقول خزنة جهنم هذا القول لهم.

اَفَسِحْرٌ هٰذَا اَمْ اَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ ﴿١٥﴾

آيا دا اور سحر دی؟ والاستفهام للانکار والتوبيخ، يعني تاسي به په دنيا کي قرآن او معجزاتو ته د عليه الصلوة والسلام سحر وايه، نو که هغه سحر ؤ نو دا اور په هم سحر وي ستاسي په خيال واذ ليس هذا مسحرًا عندكم ايضًا فليس القرآن والمعجزات مسحرًا.

پوه سه: چي ام منقطعه دی په معنٰی د بل للانتقال والهمزة للانکار علی کون النار سحرًا کما تقولون في الدنيا حين عاينتم المعجزة انما سکرت ابصارنا دا کلام تهکم بالکفار دی.

اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوْٓا اَوْ لَا تَصْبِرُوْا ۚ سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ؕ

ور داخل سئ دې اور ته پس که صبر کوئ پر سوځلو د اور، او که صبر نه کوئ بلکي بغاري او چغاري وهئ، تاسي ته صبر کول او نه کول برابر دي.

پوه سه: چي سواء مصدر دی په معنی د فاعل خبر د مبتداء محذوفي دی او تصبروا او لا تصبروا په تأويل د مصدر دي ای الصبر و عدم الصبر مستويان عليكم يعني په يوه نه خلاصيږئ له عذاب څخه.

اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٦﴾

تاسي ته جزاء نه در کول کيږي بيله هغه شي چي تاسي يې عمل کاوه په دنيا کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من الكفر والمعاصي، كلمه د ما كه مصدريه وي، نو معنى د آيت داده انما تجزون اعمالكم في الدنيا او كه موصوله وي نو عائد يې محذوف اى تعملونه.

فائده: عادت د خداى عزوجل په قرآن كريم كي غالبًا په دې سره جاري دى چي د مجرمانو يعني كافرانو حالات ذكر كړي وروسته د محسنانو يعني د مؤمنانو حالات بيانوي للانذار والتبشير.

پوښتنه: څه حكمت دى چي د اهل انذار حالات د مخه ذكر كوي تر حالاتو د اهل بشارت؟

ځواب: يو حكمت دادى چي اهل انذار په هره زمانه كي د پېر دي تر اهل بشارة فينبغي ان يهتم بحال اهل الانذار لعلهم يتذكرون، او بل حكمت دادى چي عاقلان وايي چي تخلية (بالخاء المعجمة) مقدم تر حلية (بالحاء المهملة) د مثال په توګه هغه څوک چي د خلكو خيرن دېګونه وغيره ور سپينوي چي په پښتو يې پوښان بولي تر هغو پوري چي د شګو او د پښو په ښوولو سره د دېګ خيره پاكه نه كړي قلاين نه پوري موږي تاچي دېګ سپين سي، فلهذا قال الحكيم المطلق.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾

په تحقيق هغه كسان چي له خدايه بېرېږي (چي مؤمنين دي على تفاوت درجاتهم په جنتو او په نعمتو كي، والتنوين في كلا اللفظين لتعظيم اى جنات عالية القدر ونعم في غاية التعميم)

فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٨﴾

متلذذين (فاكهين، حال دى له ضمير مستتر څخه في الجار والمجرور يعني في جنات) په هغه سره چي دوى ته وركړى دى رب ددوى، او وساتل دوى رب ددوى له عذاب څخه د دوږ، دا جمله "ووقاهم آه" عطف ده پر اتاهم چي كلمه د اتاهم چي ما مصدريه سي، ولي تقدير يې داسي كېږي اى متلذذين بسبب ايتاء ربهم ووقايتهم عذاب الجحيم، او كه ما موصوله سي، نو تقدير يې داسي ګرځي بالذي وقاهم ربهم آه، نو موصول بې عائده پاتېږي، نو پر تقدير د موصول دا جمله حال ده په تقدير د قد (يعني نحات وايي چي ماضي چي حال واقع سي تقدير د قد لازم دى)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: اسناد د ما اتهم يې ورب ته د دوی وکړی لپاره د تعظيم د ما اتاهم، ولي ورکونکی رب د دوی دی چي ارحم الراحمين دی او خاوند د قدرت عظيمه دی، نو خامخا نعمت جليل دی.

كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيٓـًٔا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ

په تقدير د يقال يعني يقال لهم من جانب خزنة الجنة كلوا آه او وروسته تر تقدير دا جمله خبر بعد الخبر ده ان، والتقدير ان المتقين في كذا و كذا وان المتقين يقال لهم كلوا و اشربوا، خورک کوئ او څښل کوئ.

پوهه سه: چي د امر تكليف نه دی لان الجنة ليست بدار التكليف بل امر التعظيم دی. "هنيئًا" ای اكلاً وشربًا هنيئًا، والهنيئ ما لا يلحق الآكل والشارب باكله وشربه ضرر وثقل المعدة او غير ذالک، په فارسي وايي: گوارنده، په پښتو وايي دارو درمان دي سه، نو هنيئًا صفت د مصدر محذوف دی كما اشرنا اليه.

"بما كنتم تعملون" دا په سبب د هغو عملو ستاسي چي په دنيا کي به مو كوله من الايمان والطاعات ای العبادات.

درویش وايي: چي په تفسير فضل الرحمن کي وايي چي ددې اية معنى دا ده چي درجې د جنت او مراتب د جنت په مقابل کي د اعمالو دي، واما نفس دخول الجنة په فضل او رحمت د خدای دي او اعمال د بندګانو پر خدای شی نه واجبوي.

مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾

دوی تکیه کړي وي، متكئين حال دی له فاعل مستتر څخه په ظرف ای في جنات.

سوال: في جنات خو نه فعل دی او نه مشتق دی، نو د ضمير مستتر په في جنات کي څه معنٰی؟

ځواب: اصل د في جنات داسي و چي ان المتكئين كائنون في جنات، نو كائنون چي يې حذف کړی لپاره د اختصار في العبارة په كائنون کي چي ضمير و هغه يې نقل کړی و جار او مجرور ته يعني في جنات تا چي احجاف په کلمه د كائنون را نه سي (يعني بيخ كندن) نو يې ضمير پر ېښو و في جنات ته يې نقل کړی وهذا صرف اعتبار نحوي، ورنه في الجنات ځای د استتار د ضمير نه دی كما لا يخفٰى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي تصریح کړی ده په تولله ما قلنا البحر الزاخر عبد الرحمن الجامي "في شرح الکافیة.

"علی سرر" جمع د سریر ده، چارپایي، چپرکټ، پلنګ په مختلفو اصطلاحاتو کي.

پوه سه: چي علی سرر متعلق دی په متکئین پوري "مصفوفة" یعني چي صف صف پرتې وي للتوسع علی اهل الجنة "وزوجناهم" عطف دی خبر د ان.

پوښتنه: د زوجنا لفظ خو ماضي دی او دا تزویج تر اوسه نه دی واقع سوی؟

ځواب: ماضي دلته په معنی د مستقبل ده وانما عبر عنه بالماضي لتیقن وقوعه حسب موعود الرحمن.

پوه سه: چي تزویج په معنی لغوي دی چي مقابل د تفرد دی یعني جفت والی او په معنی اصطلاحي في الدنیا نه دی من العقد والایجاب والقبول والشهود ولان الجنة لیس بدار التکلیف، کذا في فتح الرحمن، و روح البیان.

پوه سه: چي حور جمع یې حورا ده یعني سپین رنګ چي لږ ژړوالی ورسره وي چي دا احسن رنګ دی په دنیا کي د ښځو، او عین جمع د عینا ده چي معنی یې ده اوږدې سترګې والا چي دا هم اعلی رنګ د سترګو دی چي طول یې تر عرض ډېر وي.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ

او هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي او د دوی متابعت کړی وي د دوی اولادونو په اصل ایمان کي "والذین آمنوا" مبتداء ده "بایمان" حال دی له ضمیر منصوب څخه په واتبعتهم کي، ای متلبسین بایمان چي ذریة یې هم ایمان راوړی وي، ایمان چي یې نکره راوړی لپاره د تنبیه پر دې چي الحاق لپاره د اشتراک او متابعت په اصل ایمان کي کافي د عملو شراکت نه دی مشروط په الحاق بلکي لپاره د ایمان حکمي هم کافي دی لکه په صغیر او لېوني کي چي مؤمنان دي تبعًا للابوین.

پوه سه: چي "الحقنا بهم ذریتهم" جمله خبر ده د "والذین آمنوا" له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ ان الله یرفع ذریة المؤمنین الی درجة المؤمنین وان کانوا دونهم (یعني في العمل) لیقر بهم عینه (تاچي خنکي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سي يعني خوشاله سي په دې ذرية سترګې د مؤمن) ثم قرء رسول الله ﷺ هذه الاية، رواه الحاكم، والبيهقي في سننه، و البزار، وابو نعيم في الحلية، وابن المنذر، وابن جرير، وابن ابی حاتم كذا قال المظهري".

فائده: له الحاق څخه د ذرية دا مراد نه دی چې کله کله زيارت ته د ابوين ورځي بلکې مراد اقامت دی على الدوام د مور او پلار سره، ودليله ما رواه ابن مردوية او الطبراني عن ابن عباس رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ اذا دخل الرجل الجنة سئال عن ابويه وزوجته و ولده (هغه چېرې دي؟) نو ده ته و ويل سي چې هغه خو ستا و درجې ته د عمل نه دي رسېدلي (يعني په کښته درجو کې دي د جنت) دا جنتي و وايي يا رب قد عملت لي ولهم (ما خو عمل کړی خپل لپاره او د دوی لپاره) نو امر د رب ﷻ و ملکو ته وسي چې ورسئ دد ې جنتي اقارب جنت ته راولئ، وقرء ابن عباس رضي الله عنه هذه الاية، بعض مفسرين وايي چې دا الحاق الذرية به مخصوص په بعض دون بعض سره وي آلوسي بغدادي دا خبره رد کړې ده چې په دې خبره کې تنګوالی دی د لوی احسان د خدای".

درويش وايي: چې تخصيص والا هغه حديث د ابن عباس رضي الله عنه راوړی دی چې د "الذين آمنوا" څخه مهاجرين او انصار رضي الله عنهم مراد دي، او د "الذرية" څخه مراد تابعين دي، فقير وايي چې د الذرية څخه تابعين اراده کول خلاف اللغة والاجماع ده، او علامه بغدادي" ددې حديث په باره کې ويلي دي، لا اظن صحته انتهى.

وَمَآ اَلَتۡنٰهُمۡ مِّنۡ عَمَلِهِمۡ مِّنۡ شَیۡءٍ ؕ کُلُّ امۡرِیٴٍۢ بِمَا کَسَبَ رَهِیۡنٌ ﴿۲۱﴾

مور نه کمو و له اباؤ څخه په سبب د الحاق د ذرية د دوی د عمل څخه ای من ثواب عملهم هيڅ شی، کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده يعني چې مور دې يو شی له ثوابو څخه د پلار کم کړو و زوی ته يې ورکړو نو ثوابونه د پلار به کم سي او درجه به يې په کښته سي، دا سي نه کوو بلکې مور ذريه پورته درجې ته د آباؤ په محض تفضل او احسان پر اباؤ کوو، چونکه له ماقبل څخه دا توهم کېدی چې مذکوره حالات خو د من آمن واتبعه ذريته بايمان فما شان من کسب سيئة فقال الله في جوابه.

"کل امرئ بما کسب رهين" هر سړی په عمل چې ده يې کسب کړی وي ګرو دی، مقاتل" وايي چې مراد دا دی کل امرئ کافر بما عمل من شرک يا غير له شرک څخه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انواع د كفر مبتلاء وي لكه يهوديت هغه په عمل خپل من شرك وغيره گرواو محبوس وي يعني فلا يلحق بالكافر والعاصي ذريته چي هغو د پلار عمل نه وي كړی.

وَأَمْدَدْنٰهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ۝

او موږ زياتوو متقينو ته وقتا بعد وقت مېوې قسم قسم او غوښې يا د مرغانو رقم رقم د هغه فاكهه او د مرغانو غوښې چي د دوی اشتهاء ورته كېږي، حاصل دا چي په جنت كي د هيڅ شي كمی نسته، "وامددناهم" عطف دی پر زوجنا.

يَتَنَازَعُونَ فِيهَا كَأْسًا لَّا لَغْوٌ فِيهَا وَلَا تَأْثِيمٌ ۝

"يتنازعون" مشتق دی له نزع څخه چي اخستل د شي دي د بل د لاسه، او باب د تفاعل په معنی د مجرد دی لكه عاقبت اللص، يعني جنتيان به اخلي د ساقي د لاسه.

سوال: باب د تفاعل چي په معنی د مجرد دی، نو ولي يې ينزعون مجرد نه راوړی؟

ځواب: لپاره د دلالت پر كثرة د اخذ يعني گړی په گړی د لاس څخه د ساقي گاهي د شرابو گلاس اخلي گاهي د شيدو گلاس گاهي د عسلو گلاس گاهي د اوبو گلاس "فيها" ای في الجنة.

پوهه: چي مراد دلته له "كأسا" څخه گلاس دی چي ډک وي له شرابو څخه، كه څه هم په عربي كي خالي گلاس ته هم وايي او ډک په شرابو گلاس ته هم وايي كما يقال كأس خال وشربت كأسا "لا لغو فيها" لغو باطل او فضول خبرو ته وايي لكه په شرابو كي د دنيا، او نه به يو و بل ته ښكنځل او نه جنگ سره كوي يعني عقول به يې پر ځای وي "ولا تاثيم" نه د گناه نسل يا قول پكښې سته لكه د دينا په شرابو كي.

په تاريخ كي وايي چي يو سړي شراب څښل هغه وخت چي نشه يې سر ته وختل او عقل يې مغلوب سو بولو ونيوی پر بولو كښېنستی او دواړه لاسونه يې بولو ته ونيول چي غبرگه به يې ډكه سول مخ به يې په پرېولی او داسي به يې ويل: الحمد لله الذي جعل الماء طهورا.

وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُونٌ ۝

طواف كوي او گرځي پر جنتيانو يعني د خدمت لپاره مريان مخصوص بهم، له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انس رضي الله عنه څخه روايت دی قال رسول الله ﷺ چي تر ټولو جنتيانو په کښته درجه کي من يقوم على رأسه لس زره خادمان، وفي رواية ابن ابي الدنيا عن ابی هريرة رضي الله عنه خمسة آلاف خادم د هر يوه په لاس کي به يو ظرف وي چي د بل خادم په لاس کي هغه نه وي.

سوال: غلمانهم يې نه وو ايه مع انه اخصر من غلمان لهم؟

ځواب: د دې لپاره چي غلمان لهم په سبب د لام اختصاص پر دې دلالت کوي چي پر يوه جنتي مخصوص په ده پوري دی يعني غلمان مشترکه نه دي، او بل له دې سببه چي که يې غلمانهم ويلی وای توهم به د دې کېدای چي مراد له غلمانو څخه مريان د دنيا دي، كذا في روح البيان "كانهم لولوء مكنون" لکه ملغلره چي محفوظ په صدف کي د درياب وي يعني لاسونو د چا نه وي مسه کړي او غبار د مځکي نه وي پر واقع سوی، حسين كاشفي" وايي: گويا ايشان در صفا ولطافت مرواريد پوشيده در صدف اند که دست کسی بريشان نه رسيده انتهی، او په حديث کي راغلي دي چي اصحاب کرامو رضي الله عنهم و عليه الصلوة والسلام ته وويل: الخادم کالؤلؤ فكيف المخدوم؟ فقال عليه الصلوة والسلام فضل المخدوم على الخادم كفضل القمر ليلة البدر (يعني د څورلسم د شپې سپوږمی) على سائر الكواكب.

وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَسَاءَلُونَ ﴿٢٥﴾

مخ را اړوي بعض د جنتيانو پر بل بعض پوښتني سره کوي چي تا په دنيا کي څه عمل کاوه او خوف له عذاب څخه د خدای دي څومره ؤ الى غير ذالک.

پوه سه: چي اقبل ماضي صيغه ده په معنی د مستقبل ده، او دا جمله چونکه لفظا ماضي ده نو حال ده په تقدير د قد كما هو القانون في النحو له ضمير مجرور څخه د عليهم.

فائده: د دې اية معنی دا نه ده چي يو بعض معين د بل بعض معين څخه پوښتنه کوي بلکي هر بعض هم سائل دی او هم مسئول.

فائده: دا پوښتني ظاهره دا ده چي په جنت کي سره کېږي او هغه روايت چي طبري له ابن عباس رضي الله عنه څخه کړې ده چي دا پوښتني هغه وخت کېږي چي نفخه ثانيه وسي في الحال کېږي، علامه بغدادي" وايي لا اراه صحيحا عن ابن عباس رضي الله عنه لبعده جدا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي عند النفخة الثانية هغه وخت تېوله محشر گاه د حيرت په درياب كي غرق وي حتى چي انبيا عليهم السلام د نفسي نفسي نعرې وهي.

قَالُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِىٓ أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ ﴿٢٦﴾

دوى به وايي اي يقول المسؤلون، جمله مستأنفه ده في جواب من يقول ماذا يقولون المسئلون موږ وو تر دې د مخه يعني في الدنيا په خپلو كورو كي بېرېدلو له عذاب څخه د خداى جل جلاله، د في اهلنا فائده دا ده چي په دنيا كي نو دا تاكيد دى د قبل، او دا احتمال هم سته چي كلمه في لپاره د معيت وي يعني موږ او اهل زموږ تول د خداى له عذاب څخه بېرېدلو ولې چي اهل هم زموږ متابعت يې كاوه.

فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾

نو خداى عزوجل احسان وكړى زموږ سره چي توفيق د ايمان يې راكړى او زموږ گنهونه يې را وبخښل او احسان يې راسره وكړى په دخول كي د جنت (كما قال العلماء قاطبة ان ادخال الجنة انما هو بفضل الله فقط، البته تقسيم د درجاتو د جنت پر اندازه د عمل د دنيا دى) او موږ له عذاب څخه د اور چي د بدن په كوچني سوريو ننوځي لكه مار او لندى، او غونډك زهر چي په مسامو كي د بدن نفوذ كوي، او الحسن رحمه الله وايي چي السموم د دوزخ له نومانو څخه دى.

إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْبَرُّ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٨﴾

موږ وو د مخه يعني په دنيا كي عبادت د خداى موږ په وحدانيت كاوه او امان مو له اوره غوښتى، په تحقيق خداى محسن دى، او ابن عباس رضي الله عنه وايي مهربان دى، او الضحاك رحمه الله وايي الصادق فيما وعد دى او كثير الرحمة دى.

فَذَكِّرْ فَمَآ أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾

"فذكر" اى دوام وكړه پر ما انت عليه من التذكير بما انزلت عليك من الآيات والذكر الحكيم، او باك مه كوه په هغه عيبو چي كفار مكه پر تا وايي من الاباطيل "فما انت" تعليل للامر بالتذكير ولې ته نبي يې من الله، او نه يې ته "بنعمت ربك" اى متلبسا بنعمة ربك، نو دا لفظ حال دى له انت ضمير څخه "بكاهن ولا مجنون" مراد له نعمت څخه د خداى نبوت او عقل سليم دى يعني

Maktaba Tul Ishaat.com　　Scanned by CamScanner

نبوتک ينافي الكهانة (وغيب کوي د شيطانانو او جنيانو په ذريعه) لانها وظيفة اخوان الشياطين وعقلک السليم ينافي الجنون، مفسرين وايي چي دا ايت نازل دی په حق کي د هغو کسانو يعني من اهل مكة چي دوی په اشهر کي د حج پر لويو لارو چي مکې ته به مسافر راتله خلک به يې کښېنولي وه چي مسافرانو ته به يې ويل چي په مکه کي يو سړی دی په نامه د محمد (ﷺ) چي د هغه ملاقات ونه کړئ، ولي چي هغه هم کاهن او هم ساحر او هم شاعر او هم مجنون دی، ابن جرير له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چي کفارو د مکې د عليه الصلوة والسلام په باره کي په دار الندوة (چي د دوی قومي مشورتي ځای و) سره کښېنستل چي بايد مونږ د محمد (ﷺ) سره څه وکړو، بعض د دوی دا رای وړاندي کړه چي په يو سرای کي به يې لاس تړلی بندي کړو يا ورځي يا مياشتي يا کلونه، انتظار ورته وکړئ چي په خپله مړ سي او مونږ به ځني خلاس سو، ولي دی خو هم يو له شاعرانو څخه دی لکه زهير او نابغه چي برجسته شاعران وه او مړه سوه، فانزل الله تعالى:

أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾

پوهه: چي ام په معنى د بل أ دی چي بل لپاره د نقل من مضمون الى مضمون آخر دی، او معنى أ استفهام انكاري ده، يعني شاعر نه دی او تربص انتظار ته وايي، او منون مشتق دی له من څخه په معنى د قطع او مراد ځني دهر او زمانه ده، ولي چي د زمانې تېرېدل قطع د اعمار کوي او ريب مصدر دی د رابه اى اضطربه واقلقه او حمل يې مبالغة دی لکه زيد عدل.

پوهه: چي تفسير د منون په دهر سره مروي دی عن مجاهد رح واخرج ابن جرير وغيره عن ابن عباس رض چي ده تفسير د منون په موت سره کړی دی، والظاهر ان المنون لفظ مشترک بين الدهر والموت.

فائده: په بعض رواياتو کي رَيْبَ په صيغه د جمع راغلی دی لقصد تعدد انواع المنايا يعني بعض انسانان په يوه مرض مړه کېږي او بعض په بل مرض كما يشهد به المشاهدة.

قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾

ته ووايه يا محمد (ﷺ) دوی ته يعني کفارو ته د مکې چي تاسي انتظار کوئ زما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

و مرگ ته زه منتظر یم ستاسي و هلاک ته تر څو امر او تقدیر د خدای ﷻ راځي په تاسي کي چي یا به خدای ﷻ عذاب در کړي فتعذبوا بالسیف کیوم بدر وقد کان کذالک.

أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا ۚ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ

(احلامهم، ای عقولهم. ام منقطعه په معنی د بل آه دی بل لپاره د انتقال دی او همزه لپاره د تعجیب او انکار دی) "بهذا" یعني په دې اقوالو سره چي یو د بل نقیض دي ولي چي کاهن خو ذی فطانة او صاحب د فکر وي هره خبره چي کوي په ډېر غور سره یې کوي او لیوني مغلوب العقل وي هر څه چي پر خوله ورغله هغه خبره کوي او شاعر یو کلام موذون په اوزانو مخصوصه ؤ سره وایي چي په کتابو کي د اوزان الشعر والقوافي لکه محیط الدائرة وشرح المختصر الشافي، او قرآن مجید له دې قسم څخه نه دی چي پر رسول الله ﷺ د رب الجلیل له خوا نازل سوی دی ولاتیاتي من المجنون، بل من کثیر من العلماء.

درویش وایي: چي سردارانو د قریشو به ویل چي علیه الصلوة والسلام شاعر دی، او لیوني او کاهن دی، نو خدای عزوجل پر دوی رد وکړی چي ستاسي څومره ضعیف عقلونه دي چي دا خبري په علیه الصلوة والسلام پوري تړئ چي نه ېې پړېږئ چي ستاسي د خاله د خورزوی پر تا شاهدي د کذب او بیعقلی اداء کړي.

پوهسه: چي ام ثاني په معنی د بل دی یعني بلکې دوی یو قوم دی چي تر اندازه یې تېري کړی دی په صرف عناد کي، ولي بېله عناده بل شی دوی ته نه دی پاته لانه لاسبیل لهم الی القدح في القرآن لانه کلام معجز لبلغاء العدنان عن الاتیان بسورة من مثله کما مر تفصیله في تفسیر سورة البقرة ولا الی القدح في الرسول ﷺ لان المعجزات الباهرات کشق القمر لیلة البدر علی السماء بمحض اشارته وامثالها شاهدة صدق علی نبوة محمد ﷺ وقد مر بیان الاقوال المتناقضة لهم في شان النبي ﷺ کما مر تفصیله فلم یبق في ایدیهم الا العناد وانکار الامر المعلوم لکل عاقل.

أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ ۚ بَل لَّا يُؤْمِنُونَ

ام په معنی د بل دی، یعني دوی وایي چي قرآن کریم د محمد ﷺ اختراع ده له خانه څخه من عند الله شی نه دی، بلکې دوی ایمان نه لري پر قرآن عنادًا واستکبارًا، نو ځکه دوی مذکوره طعنونه پر قرآن کریم وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا صَادِقِينَ

دوی دي راتګ وکړي په داسي يوه خبره سره چي هغه مثل د قرآن وي (ولي چي دوی خو عرب دي او په دوی کي فصحاء او بلغاء هم سته، کريمه: قل لو اجتمعت الانس والجن على ان يأتون بمثل هذا القرآن الى اخير الآية) "ان كانوا صادقين" شرط مستغن عن الجزاء بما قبله، هذا رد للتقول فقط، وقال المظهري هذا رد لجميع دعاويهم وعبارته فيما قالوا كاهن، او مجنون، او شاعر اذ فيهم كثير من الكهنة، والمجانين والشعراء آه.

درويش وايي: چي د هغو قولو د دوی جوابات خو دمخه تېر سوي وه ماسوی د تقول د جواب څخه، نو مناسب داده چي دا يوازي د تقول د اعتراض جواب دی كما اعترف بذالك المظهري بقوله ويجوز انيكون ردًا للتقول فقط آه والله اعلم بالصواب.

درويش وايي: چي روح البيان هم دا آيت رد د دعوی د تقول بوللی دی ولبس.

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ

آيا دوی پيدا سوي دي بېله خالق؟ ابن عباس وايي وذالك محال ولي هغه شی چي دمخه موجود نه وي نه دی متصور وجود دده بېله موجد لکه دهريه ملاعنه چي وايي او عقل نه مني چي دا احسن الصور چي دا انسان دی بېله خالق حکيم او عليم دي پيدا سوی وي فتبارک الله احسن الخالقين، او الطبراني وايي چي معنی د ايت داده چي دا نوع انساني چي حواس ظاهره او باطنه او عقل او ادراک لري نه دی عبث لا شی دي پيدا وي يعني من العبادات والمجازات بلکې عبث لا يؤمرون ولا ينهون كذا قال الزجاج وابن كيسان.

"ام هم الخالقون" او يا دي دوی د خپلو ځانو پيدا کونکي وي، لان ذالک اظهر في الاستحالة وبداهة استحالته ظاهر عند العوام ايضًا.

أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ ۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ

يا دوی يعني الكفارو دي پيدا کړي وي اسمانونه او مځکه، ولي چي د دوی څخه چي به چا پوښتنه وکړه چي اسمانونه او مځکه چا پيدا کړي دي؟ دوی به ويل الله خلقها "بل لا يؤمنون" او دوی پر خپله خبره يقين نه لري ولي که دوی يقين درلودای،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو د بتانو له عبادت څخه (چي د يوې ذرې خالق هم نه دي) به يې مخ اړولی وای و عبادت ته د خالق السموات والارض بلا شرکة الجمادات معه تعالى في العبادة.

أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ

آيا د دوی په تصرف کي وې خزانې د تصرفاتو د خدای حتی چي دوی به نبوت و هغه چا ته ورکولای چي د دوی خوښ وای لکه وليد بن المغيرة په مکه کي يا عروة بن مسعود الثقفي په طائف کي لکه دوی چي به ويل چي که نبوت من الله حق وای له جانبه څخه د خدای نو خو دوو نامړو کسانو ته به يې ورکړی وای لا ليتيم ابی طالب، يا مراد له خزائنو څخه خزانې د علم د خدای دي حتی چي به پوهېدای چي مستحق د نبوت څوک دی "ام هم المصيطرون" او يا دوی مسلط دي (په فارسي وايي برگماشته گان) پر ټولو شيانو چي يجعلونها حسب مشيتهم.

أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَسْتَمِعُونَ فِيهِ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُم بِسُلْطَانٍ مُّبِينٍ

او يا دوی لره يوه ځينه ستة (چي په فارسي يې نردبان بولي او په اردو يې سيړهي بولي) چي دوی غوږ نيولی وای و خبرو ته د ملکو "فيه" يعني صاعدين په هغه سلم کي، چي ملکي څه وايي نو دوی ته به علم غيب حاصل سوی وای، نو دلته فيه په معنی د عليه دی کما في قوله تعالى: لاصلبكم في جزوع النخل (ای على جزوع النخل)

"فليأت مستمعهم" بايد دوی راوړي هغه څه چي اورېدلي يې وي (وبالفارسية: پس بيايد بارد شنونده ايشان که بر آسمان برفتند و پيغام غيب شنيدند، دا امر تعجيز دی يعني اظهار عجزهم للناس كافة) بسلطان: ای بحجة واضحة تصدق استماعهم، وبالفارسية حجتی روشن که گواه باشد بر صدق استماع ايشان.

أَمْ لَهُ الْبَنَاتُ وَلَكُمُ الْبَنُونَ

آيا خدای لره لوڼې ستة (حيث يقولون الملائكة بنات الله) او تاسي لره زامن ستة.

يوه سه: چي په دې ايت کي اظهار د سفاهت د دوی دی چي دوی بېوقوفان دي چي خدای ته هغه څه منسوبوي (يعني لوڼې) چي د دوی په خپله نه دي خوښي، لکه يل چي راغلی دی واذا بشر احدهم بالانثى ظل وجهه مسودا كظيم الآية، نو ګويا دوی ځانونه تر خدای بالا بولي! نعوذ بالله، نو چي څوک دومره خروي هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باید په تعداد کې د ذوی العقل حساب نه سي، فضلاً عن الترقي الى عالم الملکوت وسماع کلام ذی العزة والجبروت.

درویش وایي: چي ددې بیان سره چي موږ وکړی ارتباط ددې ایت د ماقبل ایت سره ام لهم سلم ثابت سو.

فائده: التفات له غیبت څخه و خطاب ته لتشدید الانکار علیهم والتوبیخ لهم فافهم، له دې کبله خدای عزوجل په بل ځای کې د قرآن کریم داسي ویلي دي:- الکم الذکر وله الانثی تلک اذًا قسمة ضیزی.

أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُم مِّن مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُونَ

آیا ته غواړې له دوی څخه مزدوري پر تبلیغ د رسالت "فهم من مغرم" له التزام څخه د اجر چي تاوان دی "مثقلون" درانه دي، نو له دې سببه چي ته د دوی وړې په درانه بار د اجرور درنې کړې دوی ستا متابعت نه کوي سره ددې معجزات باهرات پر لزوم د اتباع ستا پر دوی باندي موجود دي.

یوه سه: چي ام دلته په معنی د همزة الانکار دی.

أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ

ابن عباس﷜ وایي چي مراد له غیب څخه لوح محفوظ دی چي غائب شیان په هغه کي مثبت دي "فهم یکتبون" او دوی له هغه څخه نوشته کوي چي محمد ﷺ نبي نه دی متقول دی، یا بعث بعد الموت نسته یا ثواب بالجنة او عقاب بالنار لکه محمد (ﷺ) چي وایي باطل دی.

أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا فَالَّذِينَ كَفَرُوا هُمُ الْمَكِيدُونَ

یعني که کفار مکه په هغه څه چي د مخه تېري سوې یعني مقالات فاسدة لهم (کاهن و شاعر و مجنون) کفایت نه کوي بلکې تا ته یې بل پلان سنجویلی دی چي دوی په دار الندوة کې مشوره سره وکړه چي تا به یا وژني یا به حبس دائم در کوي یا به دي له مکې څخه اخراجوي، قال الله تعالی في بیان ذالک الکید: اذ یمکر بک الذین کفروا لیثبتوک (ای یحبسوک) او یقتلوک او یخرجوک الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په دې آیت سره اخبار بالغیب دی او معجزه ده، ولې مشوره د دار الندوة په هغه وخت کې وه چې علیه الصلوة والسلام هجرت ته اماده ؤ یعني دا مشوره د دوی په دار الندوة کې آنحضرت ﷺ یې مجبور کړی و هجرت ته او نزول د دې سورة نه خو قبل ؤ د دار الندوة تر مشورې کما یدل الاثار الصحیحة فافهم.

"فالذین کفروا هم المکیدون" پس هغه کسان چې دا کید یې سنجولی ؤ د دوی کید به پر دوی احاطه وکړي او جزاء د کید به دوی ته ورکړي ولې اکثر دد دې کید د کولو لپاره چې اماده وه په بدر کې و وژل سول په شمول د فرعون هذه الامة چې مشرې د دار الندوة د مشورې ده پر غاړه اخستې وه یعني ابو جهل.

فائده: د بدر غزاء په دویم کال کې د هجرت وه چې د نبوت د علیه الصلوة والسلام پنځلسم کال ؤ:

اَمْ لَهُمْ اِلٰهٌ غَیْرُ اللّٰهِ ۭ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۴۳﴾

آیا دوی لره سته اله چې دوی له عذاب ځخه وساتي او له دوی سره دې مرسته وکړي، پاک او منزه دی الله د دوی له شرک ځخه، که کلمه د ما مصدریه وي او که کلمه د ما موصوله وي نو عائد یې محذوف دی، والتقدیر عن الذي یشرکونه یعني به تعالی، یو محقق شاعر وایي:

بر ذیل عزتش ننشیند غبار شرک .... باوحدتش کسی دم شرکت چه سان زند

وَاِنْ یَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا یَّقُوْلُوْا سَحَابٌ مَّرْكُوْمٌ ﴿۴۴﴾

دا جواب د هغه قول د دوی دی: فاسقط من السماء کسفا.

فائده جدیده: لفظ د کسفا په کسره د کاف او په سکون د سین مفرد دی په دې ایت کې فقط، نور په ټوله قرآن کې کِسَفًا و کِسْفًا په سکون د سین او په حرکت د سین دواړه قراءته مجوز دي کما قال القراء السبعة.

وحاصل هذه الآیة: که زه د دوی د عذاب لپاره یوه ټوټه له اسمانه را وغورځوم نو هم دوی له خپل کفر ځخه لاس نه اخلي حتی یهلکوا بالاستیصال، لکن حکمت الهي د دوی د استیصال اراده نه لري، دوی به له فرط جهل ځخه وایي "یقولوا سحاب مرکوم" دا وریځ ده جمع سوې او پنډه باران به و اوري، لکه عادیان چې توره وریځ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وليدل مستقبل اوديتهم قالوا هذا عارض ممطرنا، دا وريځ ده باران به و اوروي چي هغه د خداى عزوجل عذاب وُ چي په ځاى کي د معهود باران يې د اور باران پر وکړی.

فَذَرْهُمْ حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ فِيْهِ يُصْعَقُوْنَ

دوی پرېږده او طلب د نزول د عذاب پر دوی مه کوه (حسين کاشفي" وايي: پس دست بدار از ايشان يعني حرب مکن با ايشان که هنوز به قتال مامور نيستي ومکافات ايشان بگذار) "حتى يلاقوا" يعني يعاينوا.

پوښتنه: چي يومهم مفعول به دی د يلاقوا ظرف نه دی "يصعقون" ای يهلکون وهو يوم يصيبهم الصعقة بالقتل يوم بدر لا النفخة الاولى کما قيل اذ لا يصعق بها الا من کان حيًا حينئذ او د مکي کافران د عصر نبوي خو تر نفخة اولى پوري ژوندي نه پاتېږي.

پوښتنه: په هغه ايت کي: فصعق من في السموات والارض د صعقة څخه څه شی مراد دی؟

ځواب: مراد ځني موت د کل ذی روح دی وهو عند النفخة الاولى کذا في روح البيان.

يَوْمَ لَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ

هغه ورځ چي فائده نه رسوي کيد د دوی (چي و عليه الصلوة والسلام ته دوی سنجولی وُ شيئًا من الاغناء) نه د دوی سره کومک کړه کېږي چي له عذاب څخه د خدای د دي خلاص کړي.

وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ

"عذابًا" اى في الدنيا "دون ذالک" اى قبل ذالک اليوم يعني يوم موتهم في البرزخ، قال ابن عباس" يعني القتل يوم بدر، وقال مجاهد" هو الجوع و قحط بسبع سنين چي عليه الصلوة والسلام دوی ته ښېرا وکړه: اللهم اعني عليهم بسبع کسبع يوسف، او براء بن عاذب" وايي يعني عذاب القبر.

"ولکن اکثرهم لايعلمون" لکن اکثر د دوی نه پوهېږي چي حال خو کما ذکر دی لفظ د اکثريې و وايه اشاره و دې ته ده چي بعض د دوی پوهېږي و لکن پر کفر چي ټينګ دي عنادًا.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ ۙ

او ته صبر وکړه پر حکم د خدای یا محمد چي دوی ته مهلت ور کړي تر یوم الموعود پوري او ته یې د دوی په مابین کي پرې ایښی یې مع مقاساتِ الاحزان والهموم "فانک باعیننا" ته زموږ په حفاظت کي یې، فالعین مجاز عن الحفظ، زجاج وايي چي دوی مکروه نه سي رسولای و تا ته لکه دوی چي یې په دار الندوة کي ترون کړی وُ.

پوه سه: چي "و سبح آه" عطف دی پر و اصبر، و معناه ته تسبیح و وایه متلبس په حمد د رب ستا ای قل سبحان الله و بحمده "حین تقوم" هغه وخت چي ته ولاړېږې له هر مجلس څخه، فائده یې داده چي که مجلس د خیر وُ خیر به دي زیات سي او که خیر نه وُ دا سبحان الله و بحمده به یې کفاره سي. له ابو هریره څخه روایت دی، دی وايي چي رسول الله ﷺ وویل که څوک په یو مجلس کي ناست وُ فکثر فیه لغطه (په مجلس کي ده ډېري بېهوده خبري یعني ټوکي ټکالي وکړې) نو د مخه تر ولاړېدو له هغه مجلس څخه ده داسي وویل: سبحانک اللهم و بحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک و اتوب الیک. کان کفارة لما بینهما، رواه البغوي او د ترمذي په روایت کي داسي راغلي دي: الا غفر له ماکان في مجلسه، وعن رافع بن خدیج ده وویل چي رسول الله ﷺ په اخیر د عمره دده مبارک چي اصحاب کرام به ورته را جمع سوه، نو چي هر وخت به دی مبارک ولاړېدی نو به یې داسي وویل: سبحان الله و بحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک و اتوب الیک ان عملت سوء او ظلمت نفسي فاغفرلي انه لا یغفر الذنوب الا انت استغفرک و اتوب الیک ان عملت سوء، رافع بن خدیج وايي قلنا یا رسول الله ﷺ ان هذه الکلمات احدثتهن قال اجل (هو) جبرئیل ماته راغلی فقال یا محمد دغه کلمات کفارات دي د مجلس، رواه النسائي والله واعلم، او حاکم دا حدیث صحیح بللی دی، آلوسي بغدادي وايي و الاثار في ذالک (یعني چي دغه کلمات په وخت کي د ولاړېدو له مجلس څخه ویلي دي کمام) او بعض مفسرین وايي چي د حین تقوم معنی داده چي لمانځه ته ولاړېږې چنانچه اخرج ابو عبید و ابن المنذر عن سعید بن المسیب حق علی کل مسلم حین یقوم الی الصلوة ان یقول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبحان الله وبحمده، لان يقول لنبيه ﷺ وسبح بحمد ربک حين تقوم.

درويش وايي: چي د سعيد بن المسيب په نيز له تقوم څخه مراد قيام الى الصلوة دى لا القيام من المجلس، او د سعيد بن منصور وغيره عن الضحاک انه قال في تفسير الآية حين تقوم الى الصلوة تقول هؤلاء الكلمات سبحانک اللهم و بحمدک وتبارک اسمک وتعالى جدک ولا اله غيرک، وحكاه صاحب البحر عن ابن عباس او ابن مردوية له ابن عباس څخه دا روايت هم کړى دى انه قال وسبح بحمد ربک حين تقوم من فراشک الى ان تدخل في الصلوة، ورته روايت له ابن السائب څخه هم منقول دى، او زيد بن اسلم وايي حين تقوم من القائلة (د غرمې له خوب څخه) دي وايي والتسبيح اذ ذاک صلوة الظهر دى، او عاصم بن حميد وايي چي ما له عائشې ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي په څه شي افتتاح کوله رسول الله ﷺ چي د شپې به راويښ سو (يعني للتهجد) دې وويل اذا قام كبر الله (يعني الله اكبر) لس واره و حمد الله لس واره وسبح الله لس واره، و استغفر الله لس واره، وقال اللهم اغفرلي واهدني و ارزقني وعافني، او پناه به يې و غوښتل من ضيق المقام يوم القيامة، رواه البغوي.

درويش وايي: چي دا حال وُ د سيد المرسلين شفيع المذنبين محبوب رب العالمين ﷺ، نو موږ ته لازمه ده چي وايو به يې، رښتيا داده چي هر څونه چي قرب و خداى عزوجل ته ډېرېږي هغونه عجز او انکسار او ډېره له خداى ﷻ څخه زياتېږي.

وَمِنَ الَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ وَإِدۡبَٰرَ النُّجُومِ

کلمه د من لپاره د تبعيض ده باتفاق المفسرين، مقاتل وايي د صلوة الليل څخه مراد صلوة المغرب و العشاء دي، لکن هغه تفاسير چي د درويش سره حاضر دي عند التفسير الايوبي هغه ټوله وايي چي مراد څني د تهجد لمونځ دى نو د سبحه څخه مراد صل دى تسمية للكل باسم بعض اجرائه.

نکته: صلوة الليل يې ولي خاص کړى په ذکر سره لان العبادة بالليل خصوصًا بعد النوم اشد دى پر نفس باندي او ابعد دى له رياء څخه هم له دې سببه يې جار و مجرور دمخه کړى، او بله وجه يې داده چي لمونځ معراج المؤمنين دى او معراج

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبوي ﷺ هم په بعض كي د شپې ؤ كما مر قصته الطويلة مع غاية التفصيل في تفسير قوله تعالى: سبحان الذي اسرى بعبده ليلا الاية، في التفسير الايوبي.

"وادبار النجوم" چي ستوري شا وګرځوي يعني غائب سي په سبب د طلوع الفجر، الضحاک" وايي چي مراد ځني د سهار لمونځ دی، لكن اكثر مفسرين پر دي دي چي مراد ځني دوه ركعته سنت دي د سهار تر لمانځه دمخه، له سيدتنا وامنا عائشة ﷺ څخه روايت دی دي ويل قال رسول الله ﷺ ركعتا الفجر (اى قبل صلوة الفجر) خير من الدنيا ومافيها.

درويش وايي: چي علماء بالاجماع وايي چي اكد السنن دوه ركعته سنت د سهار دي، كه څه هم روح البيان څه ناڅه مخالفت ښكاره كړی دی لكن العزة والغلبة للتكاثر.

تمت بالخير والعافية تفسير سورة الطور.

درويش وايي: چي زه د دغه سورة له تفسير څخه پر لس بجې تخميناً د ورځي د يكشنبې (۵) تاريخ د ذی الحجة الحرام من شهور سنه (۱۴۳۲) هـ فارغ سوم بعونه تعالى و حسن توفيقه اياى فاحمده حمدًا كثيرًا جزيلاً جميلاً كما يحب ربنا و يرضىٰ والصلوة والسلام على نبيه المجتبىٰ و على آله وصحبه الاتقياء.

بيت:- بضاعت نياوردم الا اميد .... خدايا زعفوم مكن نا اميد

چهار چيز اورده ام شاها كه در كنج تو نيست

عـــاجزی و مسكينی فقر گناه اورده ام

مصرع:

چي شاګرد راته بلا سو له حاسده څه ګله

بيت:

صبا مدینے میں مصطفیٰ سے ہم غریبوں کا سلام کہنا .... نہیں کوئی بجز تمھاری بس میرا اتنا پیام کہنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة النجم مكية وهي ثنتان وستون اية وثلث ركوعات

بسم الله الرحمن الرحيم

بوره سه: چي دې سورة ته سورة النجم بدون الواو هم وايي، دا سورة مکيه دی عند اکثر المفسرين على الاطلاق يعني ټوله او په تفسير اتقان کي وايي چي بعض مفسرين وايي چي الذين يجتنبون الى اتقى، او بعض مفسرين وايي چي افرئيت الذی تولى دا مدني دي او ايتونه ددې سورة دو شپيته (۶۲) دي د کوفيانو په نېز او غير کوفيان يې يو شپيته (۶۱) بولي، اخرج ابن مردوية عن ابن مسعودؓ وهي اول سورة اعلن رسول اللهﷺ بقرأتها نو په حرم مکي کي يې تلاوت وکړی والمشرکون يسمعون (غوږ يې ورته نيولی ؤ) او بخاري، مسلم، ابو داؤد او نسائي له ابن مسعودؓ څخه روايت کړی دی چي دا اول سورة دی چي سجده تلاوت پکښې راغلی، نو عليه الصلوة والسلام چي د سجدې ايت ته ورسېدی سجده يې وکړه او ټولو خلکو يعني مشرکانو هم سجده وکړه مگر يوه سړي سجده ونه کړه هغه په لاس کي څه خاوري واخستلې پر هغو خاورو يې سجده وکړه او دا يې وويل چي ماته دغه کفايت کوي، ابن مسعودؓ وايي "فرئيته بعد ذالک قتل کافرا وهو امية بن خلف" او بحر العلوم وايي چي عليه الصلوة والسلام چي سجده وکړه سجد معه المؤمنين والمشرکون والجن والانس غير ابى لهب فانه رفع جفنة من تراب فسجد عليه (يعني پر يوه موټ خاوره) او ددې دوو روايتو منافات نسته، ولي احتمال سته چي امية بن خلف او ابى لهب دواړو دي دا کار کړی وي.

فائده: سورة النجم په مياشت کي د روژې من السنة الخامسة للنبوة نازل سوی دی.

درويش وايي: چي روح البيان د سجده نه کونکي درې کسان ذکر کړي دي، يو ابى لهب، او بل روايت دا دی چي وليد بن مغيرة او په بل روايت امية بن خلف ؤ، روح البيان وايي چي احتمال سته چي دغو درې سره کسانو دي دا کار کړی وي يعني رفع التراب الى الجبهة لکن بعضهم فعل ذالک تکبرًا وبعضهم فعل ذالک عجزًا عن السجود، چنانچه وليد بن المغيرة شيخ کبير ؤ طاقت د سجدې يې نه درلودی او ابو لهب خو يقينًا کبرًا و عنادًا سجده ونه کړه او په اميه بن خلف کي دواړه احتماله سته، ولي چي هغه خو هم شيخ ؤ لکن دومره نه ؤ شيخ لکه وليد بن المغيرة لکن ډېر سخت دښمن د عليه الصلوة والسلام ؤ فيحتمل عدم سجدته لاجل التکبر او لاجل الشيخوخة فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ﴿١﴾

درویش وایي: چي په "النجم" کي هم اختلاف دی او په "هوٰی" کي هم اختلاف دی، والاظهر والاشهر دا دی چي مراد له النجم څخه ثریا (چي په پښتو یې پیروني بولي چي اووه یا اته ستوري بېخي سره نژدې دي مجموعې ته د هغو ثریا وایي) او هوٰی د دې النجم غروب یا طلوع ته هم وایي، دا روایت دی د الوالبي او العوفي عن ابن عباس وجاء في الحدیث عن ابی هریرة ما اطع النجم (ای الثریا قاله البغوي) صباحًا او په مځکه کي یو آفت وي (لکه وبا یا نور امراض) الا رفع، او مجاهد وایي چي مراد له النجم څخه ټول ستوري د اسمان دي حین تغرب، واللام للجنس، او مراد له غروب څخه یا حقیقت غروب دی، یا غیبوبت له ابصارو څخه په سبب د طلوع الشمس او یا مراد له هوٰی څخه یې طلوع ده، دوی وایي هر طالع نجم بولي او عکرمه له ابن عباس څخه روایت کوي چي مراد له نجم څخه هغه ستوري دي چي شیطان په وشتل کېږي وقت استراق السمع، او ابو حمزه الثمالي وایي چي مراد هغه ستوري دي چي له اسمان څخه را لوېږي یعني یوم القیامة، او عطاء له ابن عباس څخه داسي روایت کړی دی چي مراد له النجم څخه قرآن مبارک دی قرآن مبارک په دې نجم بولي چي نزول یې علیه الصلوٰة والسلام ته نجمًا نجمًا سوی دی په درویشت (۲۳) کاله زمانه کي د نبوت دده، وفي العربیة یسمی التفریق تنجیمًا، وقال الکلبي الهوی النزول من الاعلی واسفل ته، وقال الاخفش النجم هو النبت الذي لاساق له (له بادرنګ، هندواني، چمبرخیال وغیرها) ومنه قوله والنجم والشجر یسجدان، وهوئه سقوطه علی الارض (چي پر مځکه پرېوزي) وقال جعفر الصادق چي مراد له النجم څخه محمد ﷺ دی وهویه نزوله لیلة المعراج الی الارض، او بعض علماء وایي چي مراد له نجم څخه مسلمانان دي وهویه دفنه في القبر.

پوښتنه: تعین د دغو وختو چي ذکر سوه په قسم سره د څه حکمت لپاره وکړی؟

ځواب: ان وقت الهوی للنجم چي مراد ځني ثریا سي افضل له او قاتو څخه د ثریا دی کما مر، او که مراد له نجم څخه مطلق ستوري وي یعني چي شیطانان په ولي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وخت کې د استراق السمع او هوی یې شغله د ستوري وي چې شیطانان پـه سوځي فلا شک ان رجم الشیطان اهم مقصود دی من خلق النجوم کما نطق بـه القرآن (وجعلناها رجومًا للشیاطین) او کـه امر انتشار د ستورو پـه ورځ د قیامت وي فذالک وقت اتمام المقاصد التي خلق لاجلها النجوم، او کـه مراد لـه هوی څخه غروب وي د ستورو فلانه اوضح دلیل علی وجود الصانع القادر، او هم دا سبب دی چې خلیل الرحمن ابراهیم نفي د خدایي لـه ستورو څخه او د لمر او سپوږمۍ څخه وکړه پـه دې عبارت سره لا احب الآفلین ای الغاربین، او کـه لـه نجم څخه مراد آیات القرآن و سُوره او لـه هوی څخه نزولها الی النبي ﷺ او یا مراد لـه نجم څخه محمد ﷺ او لـه هوی څخه مراد راکښته کېدل د ده مځکې تـه پـه لیلة المعراج کې فلا شک ان نزول القرآن لهدایة الناس اهم شیئ في الدنیا ولا شک ایضًا ان نزولهٗ من السماء الی الارض لیلة المعراج نعمة جلیلة من الله تعالی لا نظیر لها، او کـه مراد لـه نجم څخه مسلمانان وي او لـه هوی څخه مراد د دوی دفن وي پـه قبر کې فلا شک ان المسلم مع ایمانه واعماله الصالحة نعمة جلیلة له، ولي دی خلاص سو لـه غوائل څخه د نفس د شیطان چې پـه ژوند کې یې احتمال ؤ، و جواب القسم قوله تعالی:

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ﴿۲﴾

نـه دی ګمراه سوی لـه لاري څخه د هدایت، او نـه یې ستا بعثت کړی دی و باطلي لاري تـه بل هو علی صراط مستقیم چې د آخرت لار ده.

پوهـه: چې ضلال او غي سره یو شی نـه دی بلکې عطف د ما غوی پر ماضل عطف الخاص علی العام دی لان الانسان قد یکون غیر معتقد اصلاً لاصالح ولا فاسد وقد یکون معتقدًا لشیئ فاسد وهذا الثاني هو الغي فان الغوایة هو الخطا في الاعتقاد خاصة، والضلال قد یکون في الاقوال والافعال والاخلاق وقد یکون في العقائد التي شرعها الله فالغوایة فرد من الضلال.

فائده: دا نفي د ضلال او غوایة لـه علیه الصلوة والسلام څخه چې خدای پاک وکړه رد دی د هغه قول د مشرکانو د مکې چې دوی بـه ویل ضل محمد عن دین آبائه وخرج من الطریق وتقول شیئًا من تلقا نفسه چې مراد د دوی قرآن دی (یعني ده پـه ډېر تکلف لکه چې خاصیت چې باب د تفعل د یو شي لـه ځانه څخه جوړ کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی چي قرآن دی او نسبت یې و خدای ته کوي) فرد الله علیهم ماضل صاحبکم آه.

پوښتنه: علیه الصلوة والسلام په عنوان کي د صاحبکم ولي راوړی؟

ځواب: اشاره و دې ته ده چي ده مبارک ستاسي سره طول صحبت کړی دی من صباه الی عنفوان الشباب ومنه الی اربعین سنة، نو تاسي د ده پر ټولو اخلاق حسنه ؤ قبل النبوة یې درلوده چي نه یې یو وخت شعر او غزل جوړه کړې ده او نه یې کهانت کړی دی او نه یې د لهوني کارونه کړي دي بلکې تاسي د مخه تر دعوی د نبوت امین مکه بالی، نو اوس څرنګه نسبت د ضلال او غي وده ته کوئ؟

این خیال است و محال است و جنون، یعني د اهل مکې له خوا څخه.

وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰٓ ۝

او دی خبري نه کوي، من القرآن وغیره ''عن الهوی'' صفت د مصدر محذوف دی ای نطقًا ناشیًا عن الهوی النفساني بلکې قرآن مستند دی الی الوحي من الله عزوجل.

إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝

نه دی قرآن مګر وحي دی ده ته کړه کېږي یعني د خدای له خوا په وساطت د جبرئیل.

پوښتنه: قرآن چېري ذکر سوی دی، نو اضمار قبل الذکر به نه وي؟

ځواب: له سیاق څخه د کلام قرآن فهمېږي ولي دا خبره چي تقول خو مراد یې قرآن ؤ، او کلمه د ان نافیه ده.

سوال: بطور جمله معترضه په دې ایت کي خدای پاک وویل ''ماضل آه'' او په سورة الضحیٰ کي وایي ''ووجدک ضالاً'' نو تطبیق به یې څرنګه کوو؟

ځواب: دلته خو له ضلال څخه هغه معنی مراد ده چي مشرکینو به ویل چي محمد (ﷺ) ګمراه سو له لاري څخه د هدایت چي متابعت د دین الآباء یعني الشرک یې پرېښو، او په سورة الضحیٰ کي په اتفاق د مفسرینو معنی د ضال داده یعني ناخبره له معالمو څخه د نبوت او له احکامو څخه د شریعت غافلاً من کل ما لاطریق الی درکه الا السمع.

درویش وایي: چي په تفسیر کي د سورة الضحیٰ به زه ان شاء الله پوره تحقیق دد جواب وکړم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: في قوله وما ينطق عن الهوى.

پوه سه: چي هوى خواهش دى چي د نفس د لاري پيدا کيږي وهي لايکون الا شرًا نو له دې سببه له متابعت څخه د هوا خلاص دى په توفيق د خداى ﷻ.

حکايت: بعض اولياء الله وايي چي يوه ورځ په وعظ کي د يو واعظ ناست وم، نو هغه خپل خبرو ته دوام ورکړى حتى چي ويې ويل لا مخلص من الهوى ولو کان فلان يعني د آنحضرت ﷺ نوم يې واخستى، ده ويل چي رسول الله ﷺ ويلي دي او په صحيح حديث کي هم راغلي دي خبب الي من دنياکم ثلث، الطيب والنساء وقرة عيني في الصلوة، نو ما پر واعظ رغ وکړى اما تستحي من الله فانه ؓ انما قال خبب من دنياکم آه، يعني بصيغة الماضي المجهول وما قال اجبت فکيف يلام العبد على ماکان من عند الله تعالى، خير د ېر مغموم له مجلس څخه د واعظ ولاړ سوم داغسي غمجن د شپې بيده سوم، څرنګه چي د خوب په درياب کي غرق سوم، عليه الصلوة والسلام مي په خوب وليدى فقال لا تغتم فانا قد کفينا امره ثم سمعت شخصًا چي فلانى واعظ سهار له کوره وتلى ؤ هورې دده کښتۍ ؤ هغه يې په لاره کي نا معلومه سړي وژلى ؤ، خداى ؒ مو دي وساتي چي په ژبه نکته چيني کوو پر يو نبي د انبياء کرامو عليهم السلام.

عَلَّمَهٗ شَدِيْدُ الْقُوٰى ۝

(علمه) يعني محمدًا ﷺ.

پوه سه: چي ضمير چي راجع و محمد ﷺ ته دى مفعول دى د علم والقرآن وجميع ما اوحى عليه السلام مطلقًا من حيث انه لکلام تام قائم مقام مفعوليه الثاني والثالث.

(شديد القوى) جمع د قوت ده يعني چي محکم دى قوت او قدرت د هغه، والمراد به الله سبحانه تعالى ذو القوة المتين، مظهري، او علامه بغدادي ؒ وايي چي مراد د شديد القوى څخه جبرئيل ؑ دى، کما قال ابن عباس ؓ وقتادة والربيع ؒ ولي چي جبرئيل ؑ في ابداء الخوارق عن العبادة واسطه دى او تا لره کافي دليلاً على شدة قوته چي قرى د قوم د لوط ابو څخه چي تحت الثرى وې او پورته کړې پر خپل وزر او پورته يې کړې د اسمان پر خوا ثم قلبها او هم د يوه نعره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر ثمودیانو وکړه فاصبحوا جاثمین یعني میتین، او هبوط دده پر انبیاء علیهم السلام وصعوده في اسرع من طرف العین، او دا معنی صاحب د روح البیان بیان کړې ده یعني له شدید القوی څخه مراد جبرئیل علیه السلام دی.

ذُوْ مِرَّةٍ فَاسْتَوٰى ﴿۶﴾

"ذو مرة" په قاموس کي وايي المرة بالکسر قوة الخلق وشدته والعقل والاحکام وذو مرة هو جبرئیل، والمريرة هغه رسۍ ته وايي چي محکمه ودل سوې وي او سعید بن المسیب وايي ذو حکمة وقال لان کلام الحکماء متين وقال الطیبي "ذو منظر حسن وصححه الطبري".

پوهنه: چي نافع الارزق له ابن عباس رض څخه پوښتنه وکړه یعني د ذو مرة د معنی، ابن عباس رض ورته وویل ذو شدة في امر الله تعالی.

"فاستوی" نو جبرئیل ورته ودرېدی پر خپل واقعي شکل چي خدای عزوجل دی پر هغه پیدا کړی ؤ د حراء په صحراء کي (دا لیدل په ابتدائي حالاتو کي د نبوت ؤ) احمد او عبد بن حمید او نورو ډېرو راویانو له ابن مسعود رض څخه روایت کړی دی چي جبرئیل لره شپږ سوه (۶۰۰) وزرونه وه کل جناح قد سد الافق، قال الخفاجي چي په توصیف کي د جبرئیل علیه السلام بغایة القوة وبعض الصفات السرية دلیل پر دې چي علیه الصلوة والسلام ته به جبرئیل راتلی دمخه په غیر کي د خپل صورت حقیقي، وهذا تفصیل لجواب سوال کانه قیل هل رئی النبي ﷺ جبرئیل في صورة الحقیقیة؟ فقیل نعم رآه.

وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى ﴿۷﴾

او حال دا ؤ چي جبرئیل په افق اعلی کي ؤ.

پوهنه: چي افق هغه دائرې ته وايي چي فاصل بین ما یری من الفلک وما لا یری منه والافق الاعلی مطلع الشمس دی، دا جمله حال ده له فاعل څخه د استوی.

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ﴿۸﴾

بیا نژدې سو جبرئیل من النبي ﷺ "فتدلی" ای فتعلق جبرئیل من النبي ﷺ في الهواء وهو کنایة عن غایة القرب کتدلی الدلو مع الرشاء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَىٰ ﴿٩﴾

نو وګرځېدی جبرئيل من النبي ﷺ، روح المعاني وايي چي قاب وکذالک القيب و القاد و القيد و القيس المقدار، نو معنی يې داده چي وګرځېدی قرب د جبرئيل او د نبي ﷺ په مقدار د دوو قوسو د عربو، او ادنی کلمه لپاره د شک نه ده بلکې د بل په معنی ده.

درويش وايي: چي عرب ګاهي تعيين د مسافت بين الشيئين په زراع سره کوي او ګاهي يې په شبر او ګاهي يې په قوس سره.

درويش وايي: چي امام مظهري د شديد القوی څخه مراد خدای عزوجل بولي او د ذو مرة څخه هم مراد خدای بولي، او استوی ته چي را رسېدلی دی داسي يې ويلي دي دا عبارت د متشابهاتو څخه دی مثال يې الرحمن علی العرش استوی دی بيا يې کلام د سلف علماؤ په هغه کي راوړی دی، نو فقير وايي چي الرحمن علی العرش استوی بېله تشابه بله لار نسته او په دې موجوده ايت کي بېله حمل کولو پر تشابه بله لار موجوده ده چي هم تفسير روح البيان راوړې ده او هم روح المعاني او هم امام رازي راوړې ده چي مراد د کمامر من النقل عن تفسير روح المعاني او فقير انفا وويل چي روح البيان هم داغسي وايي، والعجب منه چي مظهري وروسته د سيدتنا عائشة حديث نقل کړی دی او دا يې هم ويلي دي واختاره اکثر المفسرين چي مراد له شديد القوی څخه جبرئيل ﷺ دی، بيا يې پوره لکه درويش چي وړاندي کړی تفصيل کړی دی، وجه التعجب چي دا تفسير تاسي ليدلی ؤ نو به اول تاسي هغه د جبرئيل قصه کړې وای د تشابه د دعوی څخه به هم خلاص وای، او د اکثر المفسرين له رائي څخه اعراض کول خو اسانه کار نه دی، او ده د خپل اول تفسير په باره کي ويلي دي چي دا تفسير مروي دی د انس او ابن عباس وغيرهما من السلف ولا غبار عليه انتهی، والله اعلم بمراده في کتابه.

فَأَوْحَىٰ إِلَىٰ عَبْدِهِ مَا أَوْحَىٰ ﴿١٠﴾

وحي وکړې خدای په ذريعه د جبرئيل وخپل بنده يعني نبي کريم ﷺ ته.

سوال: ذکر د خدای خو د مخه نه دی تېر سوی حتی چي ضمير د عبده ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راجع سي، نو اضمار قبل الذكر به نه وي؟

ځواب: ددې سوال په ځواب کي روح المعاني وايي: والاضمار ولم يجر له تعالى ذكر لكونه في غاية الظهور كانه المذكور او داسي اضمار په قرآن کي ډېر سته كما في قوله تعالى: ولو يؤاخذ الله الناس بما كسبوا ما ترك على ظهرها من دابة چي ضمير د ظهرها راجع دی و مځکي ته او لفظ د ارض دمخه نه دی ذکر سوی و قوله سبحانه و تعالى انا انزلناه في ليلة القدر آه، چي ضمير د انزلناه راجع دی و قرآن ته مع انه لم يجر للقرآن ذكر.

درویش وايي: ومثل هذا السوال والجواب الاستشهاد بما ذكره روح المعاني اورده روح البيان ايضًا.

"ما اوحى" اى الذي اوحاه، والضمير المستتر في اوحى راجع الى جبرئيل ﷺ.

پوښتنه: ما اوحى به خدای پاک نه کړی ذکر چي هغه څه شی ؤ؟

ځواب: لپاره د تعظيم يې ذکر نه کړی كما في قوله في قصة فرعون، فغشيهم من اليم ما غشيهم چي مقدار د ما غشيهم يې معين نه کړی د تعظيم لپاره اى كثير من الماء لا يقار مقداره.

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ⑪

يعني تكذيب نه دی کړی زړه د محمد ﷺ، اى ما رءاه ببصره من صورة جبرئيل يعني زړه د عليه الصلوة والسلام انکار نه دی کړی چي ما چي هغه څوک وليدی هغه جبرئيل ؤ يعني زړه د عليه الصلوة والسلام هغه څوک چي په سترګو وليدی داسي يې نه وويل لم اعرفك زه دي نه پېژنم والا لكان كاذبًا ولي زړه خو پېژندلی ؤ چي جبرئيل دی كما راه ببصره.

اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ⑫

آيا تاسي ايها المشركون مجادلة يعني ناحقه بحث کوئ د محمد ﷺ سره پر هغه شي چي دده سترګو ليدلی دی، همزه لپاره د استفهام انکاري دی اى لا ينبغي الانكار فيما يدعيه محمد ﷺ رؤيته وهو صورة جبرئيل.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

پوښتنه: دا رؤية د جبرئيل ماضي ؤ نو په مضارع يې ولې تعبير وکړی چې داسي ويل سوي وای بنه به نه وای علی ما رئی بصيغة الماضي؟

ځواب: تعبير په مضارع سره لپاره د استحضار ده صورة ماضيه غريبه دی لان المضارع للحال.

وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿۱۳﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی او همزه مستتر دی په راه کې راجع دی و نبي ته او بارز ضمير يې راجع دی و جبرئيل ته يعني وليدی نبي ﷺ جبرئيل في صورته الحقيقية التي خلقه الله عليها.

پوه سه: چې په علم الصرف کې وايي چې فعلة بفتح الفاء د مرة (يعني يو وار) او فعلة بکسر الفاء لپاره د هيئت دی نحو جلست جلسة ای جلست واحدة و نحو جلست جلسة بکسر الجيم ای علی هيئة جلوس، نو معنی د ايت دا ده مرة اخری من النزول اقيمت نزلة مقام مرة نو په دې سبب يې نزلة ته نصب ورکړی بناء پر ظرفيت.

سوال: نو مرة اخری نه وويل سو بلکې نزلة يې وو ايه؟

ځواب: نزلة چې يې وو ايه لپاره د دلالت پر دې چې دا وار نزول د جبرئيل داسي دی لکه نزول د جبرئيل په اول وار کې بالدنو والقرب، او مراد له جمله قسميه څخه نفي د ريبة والشک دی من الرؤية الاخيرة او دا وار ليدل د عليه الصلوة والسلام جبرئيل لره په ليلة الأسراء کې وه يعني المعراج.

عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾

په نېز د سدرة المنتهی، دا يوه درخته ده چې نبق يې بولي او په پښتو يې بېره بولي عن يمين العرش في السماء السابعة علی المشهور، وروی في حديث اخرجه احمد ومسلم والترمذي وغيرهم انها في السماء السادسة نبقها (مېوه يې) لکه قلال هجر (لکه ژی د هجر د قبيلې) او بلګونه يې لکه د غوږ د فيل، يسير الراکب في ظلها سبعين عامًا لايقطعها واخرج الحاکم عن اسماء بنت ابی بکر مرفوعًا (الی رسول الله ﷺ يسير الراکب في الفتن منها) په يو ښاخ کې د دې درختې، مأة سنة، روح المعاني وايي چې ظاهره له احاديث څخه دا ده چې درخته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نبق د ه حقیقةً یعني د بېري درخته ده.

سوال: درخته حقیقةً څو خاوري غواړي او اوبه غواړي او هواء غواړي؟

ځواب: لايبعد من قدرة الله الباهرة ان يخلقها في اى مكان شاء لکه خدای عزوجل چي اخبار د شجرة الزقوم کړی دی انها تنبت في اصل الجحيم، والعقل يتحير في اثبات الشجرة في النار لكن القدرة القاهرة انبتها في النار.

پوهه: چي دا درخته مقام د جبرئیل دی چي بالاتر دغه ځای پرواز نسي کولای چنانچه په شپه د معراج چي عليه الصلوة والسلام مستوى العرش ته پورته کېدی جبرئیل امین ﷺ په سدرة المنتهی کي څني پاته سو، قال عليه الصلوة والسلام رئيته عند سدرة المنتهى چي پر ده شپږ سوه وزره ويتناثر منه الدرر واليواقيت.

درویش وایي: چي دغي قصې ته سعدي شیرازي قدس سره په دې خوږو بیتو کي اشاره کړی ده.

چنان گرم در تیه قربت براند	که در سدرة جبرئیل ازو ماند
بدو گفت سالار بیت الحرام	که ای عامل وحی برتر خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند	بماندم که نیروی بالم نماند
اگر یک سر موی برتر برم	فروغ تجلی بسوزد پرم

بعض مفسران وایي چي اطلاق ههنا مجاز دی یعني درخته نه ده بلکې ځای د اجتماع د ملکو علیهم السلام دی کما يجتمع الناس في ظل سدرة.

درویش وایي: وهذا القول ضعيف جدًا، او ابن ابی حاتم وعبد بن حمید له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي سدرة المنتهٰی یې په دې بولي چي تر دې ځایه پوري علم د هر عالم رسېږي وما ورائها لا يعلمه الا الله، یا له دې سببه یې منتهٰی بولي چي تر دغه ځایه پوري رسېږي اعمال د مخلوقاتو چي پېشېږي له دغه ځایه و خدای ته او یا له دې سببه یې منتهٰی بولي چي تر دغه ځایه پوري رسېږي علم د انبیاء علیهم السلام تر دغه ځای بل خواته د دوی څخه هم غائب ده، او یا له دې سببه یې منتهٰی بولي چي تر دغه ځایه پوري رسېږي ارواح د شهداء او المؤمنين مطلقًا، او یا منتهٰی په یې په دې بولي چي دې ته رسېږي ما ينزل من فوقها وما يصعد من تحتها.

درویش وایي: چي قصه د معراج د رسول کریم ﷺ چي تفصیل او بیان د دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایت په تفسیر کي تېر سوی دی سبحان الذي اسرى بعبده ليلاً من المسجد الحرام الى المسجد الاقصٰى الاية لكن اختلاف د مفسرینو په دې کي دی چي د رسول اكرم ﷺ په سترګو خدای ﷻ لیدلی دی او که څرنګه؟ سدتنا ام المؤمنين رض سخت انکار کوي و روى البخاري عن مسروق دی وايي چي ما پوښتنه وکړه د دې څخه يا اماه هل رئ محمد ﷺ ربه فقالت لقد قف شعري (زما پر بدن وېښتان جګ ودرېدل نه) مما قلت اين انت من ثلث (له درو خبرو څخه که چا تاته وکړې هغه دروغ دي) من حدثک (که چا تاته وويل) ان محمداً رئ ربه فقد كذب، دې دا آيت خپل دليل وګرځاوه لا تدركه الابصار (يعني الله) وهو يدرک الابصار الاية او بل دا ايت: ما كان لبشر ان يكلمه الله الا وحيا او من وراء حجاب ومن حدثک انه ﷺ يعلم ما في غد فقد كذب دا ايت يې دليل وګرځاوه ما تدري نفس ما ذا تكسب غداً، ومن حدثک که چا درته وويل چي عليه الصلوة والسلام يو شی د وحي څخه پټ کړی دی فقد كذب دليل يې دا وو ايه يا ايها الرسول بلغ ما انزل اليک من ربک الآية دې وويل ولكن رئى جبرئيل ع في صورته (اى الخالصة) مرتين او ابن عباس رض وايي ما كذب الفؤاد و ما رئى ولقد رئه نزلة اخرى ان محمد ﷺ رئى ربه بفؤاده مرتين، كذا روى مسلم.

درويش وايي: چي د زړه د رؤية معنى داده چي من وراء الحجاب چي خدای ج د چا سره خبري وکړي زړه يې متيقن وي چي دا خبري د خدای عزوجل دی او ابن جرير د ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چي يو چا پوښتنه وکړه د عليه الصلوة والسلام څخه قال: هل رئيت ربک؟ قال: رئيته بفوائدي، لكن مظهري چي دی معتقد دی د رؤية بالبصر الظاهري يعني په سترګو يې خدای ج ليدلی دی، ګاهي وايي چي قول د ابن مسعود رض عائشې رض شهادة على النفي اى نفي الرؤية بالبصر وشهادة الاثبات ارجح، او دا هم وايي چي ما احتج به عائشة رض على نفي رؤيته ﷺ بالبصر لا يخفى ضعفه.

درويش وايي: چي سبحان الله كيف اجترئ على ضعف حديث ام المؤمنين عائشة رض وقد صح انه عليه الصلوة والسلام قال خذوا ثلثى الدين من الحميراء اعني عائشة رض، او مظهري دا هم ويلي دي وقول النبي ﷺ رئيته بفؤادي لو ثبت (يعني اول خو دا حديث ثابت نه دی) وهذه جبرئة اخرى من المظهري لا يدل على نفي الرؤية بالبصر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي كيف لايدل على نفي الرؤية البصر لان السائل انما سئل رسول اللهﷺ هل رئيت ربک؟ فقال رئيته بفؤادي فهو نص على نفي الرؤية البصر والا لقال نعم لان غرض السائل هو السؤال عن الرؤية بالبصر كما هو ظاهر، فالجواب عنه نعم ليس الا.

قصة معراج النبيﷺ على وجه الاختصار: په بخاري او مسلم کي چي متفق عليه يې بولي په اصطلاح د محدثينو، عن انس بن مالک عن مالک بن صعصعةؓ عن النبيﷺ قال بينا انا في الحطيم مضطجعًا (په دې مابين کي زه پروت وم په حطيم کي پراخ) وفي رواية في بيت ام هاني بنت ابى طالبؓ)

درويش وايي وهذه الرواية هو الاشهر كما يدل عليه قول العارف الجاميؒ:

چو دولت شد زيد خواهان نهانی ..... سو دولت سرای ام هانی

اذا اتاني آت (هو جبرئيلؑ) فشق بين هذه وهذه يعني بين ثغرة نحره الى شعرته (نو څيري يې کړې په مابين کي د ثغرة النحر يعني د ځيګر د حلالېدو غار تر وېښتانو پوري يعني د نس چي د نس اوله حصه ده.

پوه سه: چي دا څيرېدل په ذريعه د آلة النحر من السكين وغيره نه وه بلکې په صرف ګوته سره د جبرئيل وه چي نه وينه بهېدلې وه او نه درد ؤ. فاستخرج قلبي (زما زړه يې را وکښی له خپل ځای څخه)

فائده: دا قدرتي اپرېشن ؤ، ولي که عادي وای نو زړه چي له خپل ځای څخه جلا سي سړی فوراً مري، ثم اتيت بطستة من ذهب (بيا راتګ وکړل سو و ماته په يو لګن يا کاسه سره د سرو زرو) مملو ايمانًا (چي هغه ډکه وه په ايمان سره، يعني دا سي شی پکښې ؤ چي استعمال يې د زړه په چاکو کي سبب د زياتوالي د ايمان ګرځېدی چي په صورت د واوريو ؤ (فغسل قلبي) نو زما زړه يې را پرېولی (فحشى به) هغه شی چي په طست کي ؤ په ډک يې کړی، يعني بعد ما اخرج من قلبهﷺ بعض الدم الجامد (ثم اعيد) بيا يې زړه بيرته په خپل ځای کي پيوند کړی (ثم اتيت بدابة دون البغل وفوق الحمار) بيا ماته را وستل سو يعني جبرئيلؑ را وستل يوه دابه يعني د سپرتيا لپاره چي تر غاتره کوچنۍ وه او تر خره غټه وه (يقال لها البراق) يا يې له دې سببه براق باله چي رنګ يې پر برېښېدی او يا له دې سببه

چي تېز رفتاره ؤ لکه پيلبو کما يدل عليه ما بعده (ليضع خطوه عند منتهى طرفه) چي ګام به يې ايښو په تېز د هغه ځاى چي دده ديد به هورې رسېدى زه يې پر هغه سپور کړم يعني جبرئيل، جامي قدس سره وايي:

شد از سبو حيان گردون صداده .... که سبحان الذي اسرى بعبده

درويش وايي: چي تر دې ورروسته قصه يعني د مسجد اقصى ورتله کما دل عليه الآية "سُبْحَانَ الَّذِىٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰى" الآية، ملتوي کړل سو صرف د اسمانو حالات ددې ورروسته بيانېږي. لان القصة تمامها وتفصيلها قد مرت في سورة الاسرى حتى چي دا بيت د مسجد الاقصىٰ د حال بيان دى:

درآن مسجد امام الانبياء شد .... صف پيشينانرا پيشوا شد

جامي.

(فانطلق بى جبرئيل حتى اتى السماء الدنيا) يعني ورغلى جبرئيل اول اسمان ته زه هم ورسره وم (فاستفتح) جبرئيل طلب د خلاصوالي د دروازې وکړى له خازن څخه د اسمان (قيل من هذا) دربان وويل چي څوک يې؟ جبرئيل خپل ځان ورته ذکر کړى، دربان ورته وويل (من معک) څوک درسره دى؟ (قال محمد ﷺ قال وقد ارسلت اليه) ته ور استول سوى يې و ده ته يعني که تا پر خپل سر را راهي کړى دى، جبرئيل وويل (نعم) د دربان له خوا وويل سول (مرحبًا به) دا د ملکو ښه راغلى دى په پښتو کي (فنعم المجئ جاء) په ښه راتګ سره راغلې، نو دروازه يې خلاصه کړه، عليه الصلوة والسلام وايي زه چي ور پورته سوم نو په دې اول اسمان کي آدم ؑ موجود ؤ جبرئيل راته وويل (هذا ابوک آدم فسلم عليه (لان الجائي يسلم على القاعد) نو ما سلام ورواچاوه ده جواب د سلام را کړى (ثم قال مرحبا بالابن الصالح والنبي الصالح ثم صعد بي السماء الثانية فاستفتح فذکر مثل ما ذکر في السماء الدنيا وکذا ذکر في کل سماء، قال رسول الله ﷺ فلما خلصت يعني الى السماء الثانية اذا يحيى و عيسى عليهما السلام (او دوى دوه سره د خاله زامن وه) قال يعني جبرئيل هذا يحيى وهذا عيسىٰ فسلم عليهما فسلمت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليهما فرداً السلام علي يعني وعليک السلام، بيا دواړو وويل (مرحبًا بالاخ الصالح والنبي الصالح فلنعم المجئ جئت، وذكر في السماء الثالثة يوسف عليه السلام فاذا هو اعطي شطر الحسن، وفي الرابعة اى السماء الرابعة ادريس عليه السلام فقلت ما قلت واجبت كمامر، قال رسول الله ﷺ، وفي الخامسة هارون عليه السلام فالحال الحال كمامر، وفي السادسة په شپږم اسمان كي موسیٰ عليه السلام فقلت ما قلت كمامر، واجبت مامر فلما جاوزت تر موسیٰ ؑ ده وويل غلامًا بعث بعدي.

درويش وايي: چي دا لفظ د اهانت د عليه الصلوة والسلام لپاره نه دی معاذ الله من انبياء الله تحقير بعضهم بعضًا بلكې معنی يې داده چي په عمر ځوان دی يدخل الجنة من امته اكثر من يدخلها من امتي.

درويش وايي: چي د موسیٰ ؑ دا خبره هم حسداً نه وه بلكې ترحمًا لامته، قال ؑ ثم صعد بي الى السماء السابعة فذكر الاستفتاح وغيره كمامر وذكر هناک ابراهيم ؑ قال جبرئيل هذا ابوک (يعني جدک الاكبر) فسلم عليه فسلمت عليه فرد السلام وقال مرحبًا بالابن الصالح والنبي الصالح، ثم زه پورته كړه سوم الى سدرة المنتهى فاذا نبقها مبده مثل قلال هجر و اوراقها مثل اذان الفيلة وقد مر معنا هذا قال جبرئيل ؑ هذه سدرة المنتهى، ناګاه ما وليدلې څلور ويالې چي دوې په مځكه كي پټې رواني وې او دوې ښكاره، قلت ما هذا يا جبرئيل؟ قال اما الباطنان فنيران في الجنة، واما الظاهران فالنيل والفرات، قال عليه الصلوة والسلام ثم رفع بي الى البيت المعمور، زه تړې سوم نو جبرئيل ؑ ما ته راوړی يو لوښی چي په هغه كي شراب وه او يو بل لوښی چي په هغه كي شيدې وې، فاخذت اللبن، فقال جبرئيل هي الفطرة يعني شيدې د فطرة اسلامي سره برابري دي، انت عليها وامتک اما لو شربت الخمر غوت امتک، قال عليه الصلوة والسلام ثم فرضت علي (اى علي و على امتي) خمسون صلوات في كل يوم وليلة (يعني من جانب الله عزوجل) فرجعت الى موسیٰ ؑ فقال بما امرت؟ قلت امرت بخمسين (۵۰) صلوات في كل يوم وليلة، موسیٰ عليه السلام راته وويل په څه شي سره ته امر سوې؟ ما ورته وويل په پنځوسو لمونځو په شبانه روز كي، موسیٰ عليه السلام راته وويل ستا امت طاقت د پنځوسو لمونځو نه لري په شبا روز كي او موسیٰ عليه السلام راته وويل ما تجربه كړې ده تر تا دمخه په بني اسرائيلو اشد المعالجة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فارجع الى ربک فاسئله التخفيف لامتک فرجعت فوضع عني عشرًا لس لمونځونه يې را معاف کړه چې ځلوېښت پاته سي (وفي رواية في كل رجعة خمس صلوات) فرجعت الى موسیٰ ؑ فقال مثله (ای مثل کلامه السابق) يعني ځلوېښت هم ډېر دي فارجع الى ربک فاسئله التخفيف، فرجعت فوضع عشرًا لس يې معاف کړه چې ديرش پاته سي. فرجعت الى موسیٰ ؑ فقال مثل ما قال اولاً فرجعت الى ربي فوضع عشرًا چې شل پاته سي، فرجعت الى ربي فقال مثل ما قال فرجعت الى ربي فوضع عشرًا چې لس پاته سي، فرجعت الى موسیٰ ؑ فقال مثل ما قال اولاً فرجعت الى ربي فوضع عني خمسًا چې پنځه پاته سي، فرجعت الى موسیٰ ؑ فقال مثل ما قال اولاً يعني لا تستطيع امتک خمس صلوات في کل يوم فارجع فسئل الله التخفيف ما ورته وويل سئلت ربي فاستحيت، نور نو شرمېږم لکني ارض واسلم په دغو پنځو لمونځو راضي يم او تسليم يم، زه تر موسیٰ ؑ تېر سوم يو منادي له جانبه ځخه د خدای ﷻ نعره وکړه: لامضيت مريضتي ما خپل پرض چې پنځه لمونځونه وه پر ځای کړه يعني په واقع کي لان الحسنة بعشر امثالها ثواب هذه الامة المرحومة يعني دا يې پنځوس و خففت عن عبادي يعني في الظاهر چې پنځه لمونځونه دي.

درويش وايي: چې په حديث کي د مسلم د ثابت البناني له انس ؓ ځخه دا عبارت زائد سته چې په اووم اسمان کي چې ما ملاقات د ابراهيم ؑ سره وکړی نو ده شا تکيه کړې وه و بيت المعمور ته، جبرئيل ؑ ماته وويل چې دا بيت المعمور دی چې هره ورځ اويا زره ملکي ورته راځي د عبادت لپاره چې دوی شباروز پوره کړي بيا نوبت نه ور رسېږي اخير ما عليهم يعني تر اخيره پوري دوی وي.

درويش وايي: چې ددې کثرت بلا نهايت د ملکو فهمېږي ولا يعلم جنود ربک الا هو، او په هغه حديث کي دا عبارت هم زائد سته که يو څوک قصد وکړي د يو ښه کار يعني د عبادت او په سبب د عارض يې ونه کړي يوه حسنه ورته نوشته کېږي او که هغه حسنه وکړه په لس حسنهٔ ورته نوشته کېږي، او که يې د يو بد کار يعني ګناه قصد وکړی او ويې نه کړی هيڅ شی نه ورته نوشته کېږي او که يې وکړي يوه سيئه ورته نوشته کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَىٰ ﴿١٥﴾

الضمير راجع الى السدرة، قال صاحب روح المعاني والمأوى على مانص عليه الجمهور اسم مكان دى والاضافة (اى الاضافة الجنة الى المأوى بيانية) يعني هغه جنت چي مأوى يې بولي د مأوى معنى مرجع ده، الحسن وايي مأوى اليها المتقون يوم القيامة، وقيل يأوى جبرئيل والملائكة اليها. او قتاده وايي هي جنة تأوى اليها ارواح الشهداء وليست بالتي وعد المتقون. اعراب جنت المأوى مبتداء ده عندها يې خبر مقدم دى والجملة صفت للسدرة.

إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَىٰ ﴿١٦﴾

چي پټه کړه هغه شي چي دا يې پټه کړه، زيادة في تعظيم السدرة، روح البيان وايي چي اذ ظرف زمان دى لراه (في قوله تعالى؛ ولقد راه نزلة اخرى) لا لما بعده من الجملة المنفية (يعني ما زاغ البصر آه) دى وايي لان ما النافية لايعمل ما بعدها في ماقبلها آه لكن روح المعاني دا خبره د روح البيان رد کړې ده په دې سره چي اذ خو ظرف دى او په ظروف کي توسع د ليس في غيرها آه.

سوال: دا غشيان د سدرة المنتهى خو په ماضي کي وُ، نو تعبير يې په مضارع ولي څني وکړى؟

خواب: تو له مفسرين وايي چي تعبير بالمضارع يې لپاره د استحضار د حالت ماضيه غريبه بديعه دى (که مضارع په معنى د حال سي) او يا ددې لپاره چي دا غشيان پر طريقه د تجدد په مستقبل کي (که مضارع لپاره د استقبال تجددي سي) والمعنى ولقد رئ محمد ﷺ جبرئيل عند السدرة وقت ما غشيها آه.

فائده: خداى عزوجل ما غشيها مبهم ووايه تعيين يې و نه کړى ليذهب نفس سامع الى مذهب ممکن او يا لپاره د تعظيم د ما غشيها کما في قوله تعالى في قصة غرق فرعون في اليم فغشيهم من اليم ما غشيهم.

درويش وايي: چي په دې ماغشيهم کي اختلاف دى د مفسرينو (۱) دا يو جماعت عظيم دى د ملکو چي د خداى عزوجل څخه اجازه د ملاقات د عليه الصلوة والسلام غوښتل لکن سره يعني د ښاره چي په پښتو يې خوښى بولي. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هري ملكي يو طبق (يعني پيالہ) لہ اطباقو څخہ د جنت را اخستي وہ من التحائف ما لايخفى، نو د عليه الصلوة والسلام په حضور كي يې اطباق خالي كړہ تقربًا اليہ٭ د رسول كريمﷺ څخه روايت: غشيها الوان لا ادري ما هي فليس احد من خلق الله يستطيع ان ينعتها يعني چي هيڅ د هغه ماغشيها بيان تفصيلي دي وكړي، او دغه رنګه په حديث صحيح كي راغلي دي رئيت السدرة يغشاها (چي پټه يې كړہ) فراش من ذهب ورئيت على كاورقة (پر هر بلګ) د سدرة ملكا قائمًا يسبح الله. وقال الحسين الكاشفي٭ في التفسير الحسيني، و ګويند بر حوالى آن سدرة فرشتګان طيران ميكردند چون پر آنها زرين بودند آه. او روح المعاني له الحسن څخه په روايت وايي چي پټه كړہ سدرة انوارو د خداى حين تجلى لها.

پوښتنه: په قصه كي د موسىٰ﷤ راغلي دي چي دہ چي پر كوه طور د خداى پاك خبري اورېدې داسي يې وويل: رب ارني انظر اليک (ته په ما ځان ووينه چي زہ دي ديدار وكړم) په جواب كي خداى پاک ورته وويل: لن تراني (يعني په دنيا كي په موجوده سترګو ستا) لكن انظر الى الجبل فان استقر مكانه فسوف تراني فلما تجلى ربه للجبل جعله دګا (يعني غر ټوټه ټوټه سو) وخر موسى صعقًا (غوځار سو موسىٰ٭ بېهوشه) الى اخير الايات هنالک، نو پوښتنه داده كه پر سدرة باندي الهيه فيض سوى واى نو بايد سدرة هم لكه جبل موسى٭ ټوک ټوک سوى واى؟

ځواب: جبل د موسىٰ﷤ خو په عالم الملک ضعيف كي ؤ او سدرةت المنتهى خو په عالم ملكوت قوي كي وہ ولهذا لم يصبها ما اصاب جبل موسى فافهم، او هم دا سبب دى چي عليه الصلوة والسلام چي جبرئيل په افق اعلى كي پر خپل صورة واقعي وليدى پر عليه الصلوة والسلام غشي او بېهوشي راغله او دلته د سدرة المنتهى سره چي عليه الصلوة والسلام جبرئيل پر خپل صورت اصلي وليدى هيڅ نه سوه پېښه و عليه الصلوة والسلام ته فافهم فانه سانح عزيز، وقيل يغشاها الجم الغفير من الملائكة امثال الغربان (لكه كارګان چي پر يوہ درخته كښېني) يعبدون الله (اى الملائكة) او يا زيارت د سدرة المنتهى يې كاوه كما يزورون الناس الكعبة الشريفة.

درويش وايي: چي مفسرينو نور اقوال په ماغشاها اى السدرة كي ذكر كړي دي وفيما ذكرناه كفايت لمن القى السمع وهو شهيد يعني بالقلب، نو كه ماته څوک ووايي چي ستا فتوى پر كوم يوہ دہ. نو فقير به ورته ووايم:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه قــاضــي يم نه مــفــتــي يم .... بلكې ذلــيــل عــبــيد قندهاري يم
د ساداتو مفسرينو اقوال رانقل كوم..... نور قضا و فتوى وتاسي ته پرېږدم

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ⑰

او نه دي كږې سوي سترګې د عليه الصلوة والسلام سره سره د رؤية د عجائبو د سدرة المنتهى، او نه يې تجاوز كړى دى يو خوا او بلې خوا ته سره د رؤية د عجائبو چې بېشماره وي، بل اثبت البصر الى المقصود الاعلى وهو رؤية الله تعالى، دا اية روح البيان دليل بولي ددې چې رؤيت د جمال د رب العزة بواسطه بصره عليه الصلوة والسلام يقظة په وېينه لان وصف البصر بعدم الزيغ بان ذالک كان يقظه، او كه چېري رؤيت قلبي واى لقال ما زاغ قلبه او فؤاده لكن مفسرين وايي چې مراد له بصر څخه بصر القلب دى فلا بد من قرينة صارفة عن بصر القلب الى بصر الرأس وهي ههنا معدومة، والجواب ان البصر حقيقة في بصر الرأس فلا بد لصرفها الى بصر القلب وهو مجاز من قرينة وهي ههنا معدومة فتامل، قال الحسين الكاشفي في تفسير هذه الآية: ميل نكرد چشم محمد ﷺ و بچپ و راست نگريست ودر نگذشت از حدى كه مقرر كرده و ويرا درين ايت ستايش است آن حضرت را بحسن ادب بارب العزة وعلو همت كه درآن پرتو التفات بر هيچ ذره از ذرات كائنات يفگند و ديده دل بجز مشاهده جمال بى زوال الهى كه درآن پرتو التفات بر هيچ ذره از ذرات كائنات نيفگند وديده دل بجز مشاهده جمال بى زوال الهى نشود.

درويش وايي: چې كاشفي" حيث قال و ديده دل آه چې دى هم قائل د رؤيت قلبي دى والله اعلم وروسته كاشفي" دا ابيات راوړي دي:

در ديده كشيده كحل مازاغ ..... نى زاغ نگه لــرد ونى بـــاغ
ميراند بــراق عــرش پرواز ...... تامــحــجــله ناز و پرده راز
پس پرده زپيش ديده برخاست ...... بى پرده بريد آنچه دلش خواست

درويش ميگويد كه درين بيت آخير اشاره خفى است برؤيت بصرى عند الكاشفي".

درويش وايي: چې په رؤيت كي د عليه الصلوة والسلام خداى پاک بروية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البصر الظاهري او القلبي في ليلة المعراج اختلافات من عصر الصحابة ﷺ الى يومنا هذا وهكذا للمفسرين اختلاف فيها وصاحب روح المعاني قد اطال الكلام، او په صفحو صفحو خبري په دې باب کې کړي دي، او روح البيان هم پر خپل حال ډېري خبري کړي دي د ټولو نقل کول به ډېر بوج وي پر متعلمينو د تفسير ايوبي لهذا درويش بما قال کفايت وکړې علما که تحقيق د رؤية بصري او قلبي د عليه الصلوة والسلام په ليلة المعراج کې غواړي نو مطولات د تفاسيرو دې مطالعه کړي مع ذهن ثاقب ومطالعة جديدة لکن هيهات في الزمان الحاضر، ولې ددې زماني بعض علماء پر خپلو استاذانو تعريضات کوي او په سپک نامه يې بولي، درمحظرش دست بوسيدن... ودرغياب ازار دادن.

لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿۱۸﴾

کلمه د لام موطئه د قسم محذوف ده او قد لپاره د تحقيق دی. ضمير د رئ راجع دی وعليه الصلوة والسلام ته. والمعنى والله په تحقيق وليدل عليه الصلوة والسلام "من ايات ربه الكبرى" کلمه د من لپاره د تبعيض ده، ولې چې ايات د قدرت د خدای عزوجل في العالم العلوي والسفلي غير متناهية لايسعها علم البشر.

اعراب: الكبرىٰ مفعول به دی د رئ ومن اياته حال مقدم دی، والمراد بالايات الكبرىٰ مارئ رسول الله ﷺ العجائب الملكوتية التي رئ ها في ليلة المعراج چې ددې خوا يعني بيت الحرام له خوا تلى او بيرته بيت الحرام ته راتلى من البراق، والملائكة والسدرة المنتهى وافاض عليها کما مر تفصيله وجنة المأوى، ورؤية جبرئيلؑ في صورته الاصلية له ستماة جناح، ورئ رفرف اخضر (وهو بساط طويل عريض جلس عليه النبي ﷺ بلغه الى غاية المتبنى.

فائده: اجمع المؤمنون من اهل السنة والجماعة ان معراجه ﷺ کان في اليقظه.

مسئله: معراج د عليه الصلوة والسلام له مسجد الحرام څخه تر بيت الاقصى پوري قطعي ثابت بالقرآن دی يعني قوله تعالى: "سُبْحٰنَ الَّذِيْۤ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اِلَى الْمَسْجِدِ الْاَقْصَا" الآية، فمنكره کافر، والصحيح ان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معراجه الى سدرة المنتهى قطعي ايضًا ثابت بهذه الآية فيكفر منكره ايضًا.

وما فوقها فثابت بالاحاديث الصحيحة، نو منكريې فاسق دی کافر نه دی.

يقول الفقير سامحه القدير اتفق اهل العلم على ان المعراج كان بعد الوحي تقريبًا اثنى عشر سنة بعد النبوة قبل الهجرة بسنة، او بعض اهل الحديث وايي چي معراج النبيﷺ اول وار خوب وُ چي قبل الوحي عليه الصلوة والسلام ليدلی وُ وهو في المسجد الحرام ثم عرجه في اليقظة بعد الوحي قبل الهجرة تحقيقًا لرؤياه من قبل، د دې داسي مثال دی چي عليه الصلوة والسلام په خوب کي فتح د مکې ليدلې وه په کال د حديبية بسنة (۶) من الهجرة وروسته فتح د مکې په سنه (۸) پای ته ورسېده، ونزل قوله تعالى: في ذالک لقد صدق الله رسوله الرؤيا بالحق.

فائده: خدای پاک چي ذکر وکړی تفصيلاً د عليه الصلوة والسلام د رؤيت ربه و آيات ربه وتعلمهﷺ وتصديق قلبه وروسته بيان د تقبيح د کافرانو د مکې يې وکړی په دې ايت سره.

اَفَرَءَيۡتُمُ اللّٰتَ وَالۡعُزّٰى ﴿۱۹﴾

آيا تاسي ليدلي دي (فالاستفهام للانكار والتوبيخ على عباده الهية الثلاثة للمشركين كما سيئاتي ذكرها، والفاء للعطف على مقدر انظرتم ما تعبدونه فرئيتم) "اللات والعزى" دا نومان دي د مشرکانو د هغو خدايانو چي دوی به يې عبادت کاوه، په بعض تفاسيرو کي وايي چي دوی پرېوه بت د الله نوم کېښېښاوی فصرف الله من الاسم الجليل الى اللات، او پر بل يې د العزيز نوم کېښېښاوی چي د خدای پاک نوم دی فصرف السنتهم الى العزى، والله اعلم، روح المعاني وايي چي قتادةؒ وايي چي لات د ثقيف د قبيلې معبود وُ په طائف کي، ابو عبيده وغيره وايي كان اللات بالكعبة يعبده اهل مكة او ابن زيد وايي چي لات په نخلة کي عند سوق عكاظ يعبده قريش، ابو حيان وايي چي ددې روايتونو جمع ممکن ده چي د لات په نامه دې ډېر بتان وه فاخبر عن كل صنم بالاسم المذكور بمكانه المذكور.

او بعض مفسرين وايي چي اصل د لات لَوِنَتٌ على وزن فعلة لانهم يلؤون عليها اي يطوفون بها قلبت الواو الفًا وحذفت الياء على خلاف قياس ووضعت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاء التانيث مكانها فلهذا كتبت طويلة كتاء اخت وبنت.

درويش وايي: چې په لات کې نورې خبرې هم په تفاسيرو کې سته ترکناها لمكان التطويل بلا فائدة، واما العزى فقال مجاهد" شجرة بغطفان كانوا يعني اهل غطفان يعبدونها، او ابن اسحٰق وايي چې عزى يوه خونه وه په نخلة کې چې خادمان او پهره داران يې بني شيبان وه چې حليفان د بني هاشم وه وكانت اعظم اصنام قريش و جميع بني كنانة.

تاريخ وايي: چې د قريشو لوی گمراه عمرو بن لحي به ويل چې خدای ژمی په طائف کې تېروي عند اللات او دوبی د العزى سره تېروي، نو تاسي د لات والعزى تعظيم کوئ او د دغو دوو بتانو لپاره دوی يوه خونه جوړه کړې وه چې خلګو به هديې ورته راوړلې او هغه هديې به د دغو دوو بتانو ساتندويانو په خپل منځ کې سره تقسيم کولې، په هغه باغ کې چې عزی وَ ډېرې درختې ولاړې وې چې سمرات يې بللې، تاريخ وايي چې څه وخت چې عليه الصلوة والسلام مكه مكرمه فتح كړه خالد بن وليد ﷺ ته يې وويل چې ورسه عزی ته خراب يې کړه، خالد بن وليد ﷺ هغه درختې ټولې ونړولې بيرته يې عليه الصلوة والسلام ته خبر راوړی چې ما خو ټولې درختې ونړولې، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې يو شی دې وليدی که څرنګه؟ خالد ؓ وويل يا شی مې نه دی ليدلی، عليه الصلوة والسلام ورته وويل فانت لم تهدمها (عزی دې نه ونړوی) فرجع خالد ؓ چې توره يې له تېکې څخه کښلې وه سادنانو يعني محافظينو د عزی چې خالد ؓ وليدی سره ناري يې سوې وهم يقولون يا عزى خليه (يعني ای عزی خالد خالي سلاح کړه) يا عزی په سترګو يې روند کړه والا فموتي برغم نو خالد ؓ ته يوه ښځه لڅه پڅه راووتل تکه توره ببر سريې ؤ خاورې يې پر سر بادولې، نو خالد ؓ توره ورته کش کړه وهو يقول كفرانك لاسبحانك زما پر خدای عزوجل عقيده ده چې خدای ستا اهانت وکړي فضربها بالسيف سره دوه ځايه يې کړه، ثم رجع خالد ؓ الى رسول اللهﷺ ټوله صورت حال يې ورته بيان کړی، قال رسول اللهﷺ نعم بنه کار دې وکړی تلک العزى قد نسيت ان تعبد ببلدكم ابداً.

او مظهري وايي چې لات، عزی او منات د بتانو نومان دي چې قريشو او نورو بت پرستانو يې عبادت کاوه او دوی به ويل چې ملائکه بنات الله دي او دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به ویل چي دا بتان زمونږ هیاکل یعني صور دي د هغو ملکو چي د خدای لوڼې دي.

وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ﴿۲۰﴾

درویش وایي: چي په منات کي هم اختلاف دی چي دا بت څه شی ؤ او عابدین یې څوک وه، بعض مفسرین وایي چي منات یوه لویه ډبره وه چي د هذیل او د خزاعه قبیلې یې عبادت کاوه، او په انسان العیون کي وایي چي منات بت چي اوس او خزرج یې عبادت کاوه یعني في الجاهلیة ارسل رسول الله ﷺ سعد بن زید الاسهلي رضي الله عنه او سل کسه د آسانو سپاره یې ورسره کړه چي منات ونړوي، نو سعد رضي الله عنه ورغلی هغه بت ته سادن یعني خادم د منات وسعد ته وویل ما ترید؟ سعد رضي الله عنه ورته وویل اهدم منات، سادن ورته وویل ته او دا کار چي منات به ړنګوې، سعد رضي الله عنه چي بت منات ته ورنژدې سو فخرجت الیه امرئة عریانة سوداء ببر سرېیې ؤ ناري د ویل یې وهلې تضرب صدرها فقال لها سادن (ای الخادم المحافظ لهذا الموضع) منات دونک بعض عصاتک (ای مناته ونسه یعني هلاک کړه بعض عاصیان ستا) چي مراد یې سعد بن زید رضي الله عنه ؤ فضربها سعد بالسیف فقتلها وهدم محلها (هغه ځای او خونه یې هم ونړول انتهی)

پوښتنه: فائده د منات په ثالثه سره څه ده، ولي چي د منات دریم والی خو دا دی چي عطف سو پر لات او عزی نو منات دریم سو؟

ځواب: فائده یې تاکید د دریم والي دی چي له عطف څخه معلوم سو کما مر آنفا.

سوال: د الاخری څه فائده ده بل منات خو نه ؤ چي له هغه څخه د احتراز لپاره یې لفظ اخری راوړی وای؟

ځواب: اخری په دې ځای کي په معنی د حقیر او ذلیل دی لان الاخری تستعمل في الضعفاء کما في قوله تعالی وقالت اخراهم لاولاهم ای ضعفائهم لرأسائهم یعني یوم القیامة، ولایصح حمل الاخری علی المعنی المتعارف و الا یلزم استدراکه کما مر في السؤال.

درویش وایي: چي کفارو د مکې او نورو مشرکانو لکه خزاعة قبیله به ویل چي ملائکه د خدای لوڼې دي، او دوی به دا هم ویل چي دا زمونږ بتان وطن او ځای دی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جنیاتو چي هغه لوڼې د خدای ؑ دي، نو خدای پاک پر دوی په دې ایتو کي رد وکړی.

اَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْاُنْثٰى۝ تِلْكَ اِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزٰى۝

پوه سه: چي همزه لپاره د استفهام انکاري او توبیخ دی، آیا تاسي لره زامن دي او خدای عزوجل لره لوڼې دي یعني بنځي، دا قسمت چي تاسي په دغه وخت کي قسمت دی، قال ابن عباس‌ؓ وقتادة‌ؒ في ترجمة ضيزى اى قسمة جائرة حيث جعلتم لربكم ما تكرهون لانفسكم، الحسن‌ؒ وايي قسمة غير معتدل ولي چي د مشرکینو له بنځینه اولاده داسي بد راتله لکه بل ځای چي خدای پاک د دوی د حال حکایت داسي کړی دی: واذا بشر احدكم بالانثى ظل وجهه سودا وهو كظيم، بلکې سر سخت د دوی به چي لور به یې پیدا سوه ژوندی یې په خاورو کي بنخوله.

فائده: پوه سه چي دا لفظ ابن کثیر ضئزى په همزه سره وايي، باب یې ضئزه اى ظلمه، نو ضئزى مصدر دی وصف به القسمة مبالغة يعني قسمة ظالمة او نور قراء یې ضيزى په یاء سره وايي، کسائي‌ؒ نحوي وايي ضاز يضيز ضيزًا وضاء يضوز ضوزًا، وضاء يضاز ضازًا اذا ظلم ونقص، مظهري‌ؒ دا قول د کسائي‌ؒ رد کړی دی چي واوي غلط دی بلکې یایي دی یا ضاء يضيز على وزن باع يبيع یا ضاز يضاء على وزن نال ينال، او اصل د ضيزى ضيزى فعلى بضم الفاء للكلمة، دلیل یې دا وايي چي ضيزى خو صفت دی والصفات لاتكون الاعلى فعلى بضم الفاء لکه حبلى او انثى یا به فعلى بفتح الفاء وي نحو غضى وسكرى، دی وايي چي نسته په کلمه د عربو کي فعلى بكسر الفاء في النعوت وانما يكون في الاسماء لکه ذكرى وشعرى.

سوال: ضمه د ضاد یې ولي په کسره بدله کړه؟

ځواب: که یې ضمه په کسره نه وای بدله کړې، نو یا په واو اوښتله نو درک نه معلومېدی چي دا لفظ واوي دی که یایي، نو چي ضمه یې په کسره بدله کړه یا سالم پاته سوه، نو معلومه سوه چي یایي دی، روح المعاني، روح البيان، مظهري.

درویش وايي: چي که زه ټوله اختلافات د مفسرینو‌ؒ د دغو بتانو یعني لات والعزى ومنات وثالثة الاخرى په ځایو کي او د دوی په عابدینو کي بنابر تفصیل راوړم شاید ډېري نوري صفحې به په بره کي ونسي چي و متعلمینو ته د تفسیر ایوبي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به درد سر بلا فائده پیدا کړي، وفیما ذکرنا خلاصة للتفاسیر المشار الیها، کفایة:

تا طبع شریفت نپذیرد ملالتي ...... آن به که به تفسیر قرآن برگردیم

اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ مَّآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ

(الضمیر راجع الی الاصنام المتخاذة من الاحجاز وغیرها من الذهب والفضة) نو معنی د ایت داده: نه دي دغه جمادات هیڅ یو د دوی مستحق د الوهیت (لکونها لیست) مګر صرف نومان دي چي تاسي او ستاسي پلرو او نیکه ګانو په هغو سره مسمٰی کړي دي دغه جمادات، چي نه دی نازل کړی خدای عزوجل د دوی په الوهیت سره یو دلیل عقلي یا نقلي، بلکې دلائل عقلیة والنقلیة متوافرة علی عدم استحقها قها الالوهیة.

یوه سه: چي جمله و سمیتموها او جمله د ما انزل الله آه دواړي صفت دي د الاسماء، او ضمیر راجع دی و اصنامو ته، والمستثنی المفرغ خبر د هي دی والمعنی ما تلک الحجارة الهة الا الهة اسمیة باصطلاحکم من غیر داع الیه، وما انزل الله علی الوهیتها واستحقاقها للعبادة حجة او داسي هم روا ده چي د هي ضمیر و اصنامو ته راجع وي باعتبار مایدعی الکفار چي دا بتان زموږ حقائق ملکیة دي حال دی زموږ په بتانو کي، نو دغه بتان زموږ د خدای لوڼي دي وشفعائنا عند الله، نو معنی د ایت داسي ده، نه دي دغه بتان ستاسي هیڅ شی في الواقع الا اسماء چي مسمی نه لري تخیلتم وجودها وسمیتموها باسماء مثل اللات والعزی ومناة او د بنات الله نوم مو پر ایښی دی او شفعاء یې بولئ او حال په اصنامو کي بولئ ما انزل الله یو جودها برهانًا، کذا في المظهري وغیره.

اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ

متابعت نه کوي کفار مکه وغیرهم مګر نه د ګمان چي دوی ته پیدا سوی دی له تقلید څخه د نیکه ګانو من غیر دلیل صحیح، کلمه د ما موصوله ده او عائد یې محذوف دی، والمعنی ما تشتهیه (هذا هو العائد) انفس هم الامارة بالسوء، او الف واللام لپاره د عهد دی او یا عوض د مضاف الیه دی ای انفسهم الامارة، ولي چي عادة د نفس دا دی چي سړی د سوا او فحشاء و خواته کشوي، والعقل یسوق الی حسن العاقبة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په د مخه ايت کي خو دوی مخاطب وه يعني انتم واباءكم او په دې يتبعون کي يې ولې غائب راوړه؟

ځواب: ددې لپاره يې غائب راوړه چې تعداد د قبائح د دوی دا غواړي چې د دوی څخه دي اعراض وکړل سي او د دوی د قبائحو حکايت دي و نورو ته وکړل سي، لکن مع هذه النكتة ابن عباس او ابن مسعودؓ او ابن وثاب وطلحة والاعمشؒ تتبعون په تاء د خطاب يې وايي.

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰىؕ

دا جمله حال ده له ضمير څخه د يتبعون مقرره د بطلان د ماهم عليه من اتباع الظن والهوی.

پوه سه: چې لام موطئه د قسم محذوف دی يعني والله چې په تحقيق راغلې ده د خدای له خوا څخه هدی، مراد له هدی څخه رسول اللهﷺ دی يا مراد ځني قرآن دی.

فائده: اطلاق د هدی چې مصدر دی پر عليه الصلوة والسلام يا پر قرآن مبالغة دی يعني بايد دوی اتباع الظن وماتهوی الانفس يې پرې ايښی وای او اتباع د محمدﷺ يا د قرآن کريم يې کړې وای چې هغه له جانبه د رب د دوی ده.

اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰىۖؗ

پوه سه: چې کلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل ده لپاره د انتقال من بيان چې هغه شی چې کفار پر هغه ولاړ دي يعني من عبادة الاصنام سره ددې چې هغه کم سند نسته مگر توهم ددوی او هوی انفسهم الی بيان ان ذالک لايجدي نفعًا اصلاً، او بل همزه دی لپاره د انکار او نفي يعني ليس للانسان ما يتمناه وتشتهيه نفسه يعني کفارو د بتانو طمع د شفاعت کول من الهتهم، يا به دوی دا ويل چې لئن رجعنا الی ربنا ان لنا للحسنی يعني په ورځ د قيامت، او يا د دوی اشتهاء وه چې نزول د قرآن پر يو رجل د دوی چې مکه ده چې په هغې کي مشر او مالدار سړی وليد بن المغيرةؓ يا په طائف کي مسعود بن عمرو الثقفي بايد پر هغو نازل سوی وای، ونحو ذالک من خرافاتهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿٢٥﴾

الفاء للسببية او دا جمله علت ده د نفي چي د ماسبق څخه وفهمېدى يعني چي نسته انسان لره ما يتمناه، ولي چي نعيم دده دار الآخرة او د دار الدنيا هر يو يې مملوک د خداى ج دي او اعطاء يې هم خاص په خداى پوري ده دواړه نعمتونه د آخرة او د دنيا وركوي ومن يشاء ته او منع كوي د من يشاء څخه په دې كي هيڅ مدخل نسته تمنى لره د چا ولا شيئ آخر يفعل مايشاء ويحكم ما يزيد لاوجوب عليه ولا اعتراض عليه فيما يفعله.

سوال: اخرة يې ولي دمخه كړى او سره ددې چي وجود كي خو دنيا دمخه ده؟

جواب: لپاره د قطع د طمع د كافرانو چي موږ لره په اخرت كي عند الله للحسنى دي.

وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِى السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِىْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا

او ډېري له ملكو څخه چي كائن په اسمانو كي دي چي شفاعت د دوى نفع نه لري يو شى له نفع څخه في وقت من الاوقات.

اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾

مګر په هغه وخت كي څه وخت چي خداى عزوجل و دوى ته اجازه وركوي د شفاعت ''لمن يشاء'' من الملائكة ان يشفع او من الناس ان يشفع او شفاعت هم د هغو خلكو چي خداى عزوجل په شفاعت د ملكو و دوى لره راضي وي ''ويرضى'' او سره ددې چي ملائكه عباد مكرمين او مقربين دي عند الله نو څرنګه كفار طمع كوي د شفاعت د جماداتو چي د دوى بتان دي، ويقولون هؤلاء يعني الاصنام شفعائنا عند الله يوم القيامة. البغوي وايي چي مراد له ملكو څخه هغه ملكي دي چي دوى يې عبادت كاوه چي دا بنات الله دي زموږ شفاعت به كوي يعني دا دروازه د شفاعت پر دوى بنده ده لانه كذب بحت على الله عزوجل.

اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿٢٧﴾

په تحقيق هغه كسان چي پر اخرت ايمان نه لري، مسمى كوي ملائكه (چي هغه پاكي دي له سماتو څخه د نقصان على الاطلاق) په تسميه سره د انثى، ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی به ویل چي ملائکه بنات الله دي وامهاتهم بنات سروات الجن، او میندي د دوی لوڼي د سردارانو د پیرانانو دي، سبحانه وتعالی عما یقولون علواً کبیراً.

فائده: لفظ د الملائکة لپاره د استغراق د مفرد دی یعني کل واحد منهم لکه په محاوره کسانا الامیر حلة، ای کسا کل واحد مناحلة، والافراد یعني مفرد به نه روایه یعني ملک لعدم اللبس او انثی یې هم مفرد راوړی ولم یقل تسمیة الاناث، فلا حاجة الی ماقیل ان الانثی بمعنی الاناث دي او یا دې تأویل ته هم ضرورت نشته چي انثی په معنی د طائفة الانثی دی.

فائده: وفي تعلیق التسمیة بعدم الایمان بالآخرة اشعار بان هذه المقولة في الشفاعة والقناعة واستتباع العقوبة في الآخرة بحیث لایجتري علیها الامن لایؤمن بها رأسا (ای بالکلیة)

وَمَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ

پوهه: چي دا جمله "ومالهم به من علم" حال ده له فاعل څخه د یسمون.

سوال: ضمیر د به خو راجع دی و تسمیة ته نو مذکر یې ولې راوړی؟

جواب: په تأویل د مذکور یا په تأویل د قول فافهم.

"ان یتبعون" دوی متابعت نه کوي (في ذالک القول)

پوهه: چي ظن دلته په هغه معنی نه دی چي متعارفه ده یعني الجانب الراجح بلکې دلته په معنی د توهم باطل دی.

وَإِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِي مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا

پوهه: چي او مراد له حق څخه علم دی وهو الاعتقاد الجازم (په قید د جازم ظن خارج سو) الثابت ای الدائم (په دې قید سره تقلید د مقلد ووتی) المطابق للواقع (په دې قید سره جهل مرکب ووتی) روح المعاني وایي چي ظن چي فائده نه کوي هغه مسائل اعتقادیه دي چي په هغو کي جزم لازم دی وانما یعتد به (ای بالظن) في العملیات والقصص عن الامم الماضیة ونحوها.

اعراب: لفظ د شیئا منصوب دی چي مفعول مطلق د لایغني دی والمعنی شیئا من الاغناء او من الحق ظرف لغو دی متعلق دی په لایغني پوري، او یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منصوب دی مفعول به دی ومن الحق حال منه تدبر.

درویش وايي: چي كه څه هم روح المعاني او روح البيان اجمالاً دا ويلي دي چي عدم اعتبار د ظن مخصوص دی په عقائدو سره چي په هغو كي جزم لازم دی البته ظن كافي دی په عملياتو كي لكن بيا هم مظهري د هر بنه تفصيل پكښي كړی دی حيث قال: فانقيل چي په شرع كي اتباع د ظن په عملياتو كي روا ده ولي غالب مسائل د فقي شريفي مستنبط دي له ادلة ظنيه وڅخه كالقياس واخبار الاحاد من الاحاديث ونحو ذالک كثير من قصص الامم الماضية وتفاصيل نعيم الجنة وعذاب جهنم وتفاصيل يوم الميعاد لانها ثابتة بالاحاديث الاحاد التي تفيد الظن فلو لم يكن الظن من العلم لكان تعليمها وتعلمها عبثاً، ددې سوال په جواب كي مظهري ويلي دي قلنا چي پښتو ژباړه يې داده: معنى ددې ايت داده چي نه ده روا اتباع د ظن په داسي ځای كي چي دا علم ظني معارض وي د هغه علم سره چي حاصل يې په دليل قطعي سره وي كالعلم الحاصل بالقياس او الجز الواحد چي معارض د علم ثابت بصريح القرآن سره وي اذ لاشک ان الاضعف لا يصادم الاقوى، نو مقتضى ددې ايت داده ان العقائد الحقة الثابتة بالادلة القطعية العقلية او الايات المحكمات و الاحاديث المتواترة السمعية ولو كان التواتر بالمعنى دون اللفظ لايجوز تركها باطباع الظن، او كه ممكن وي اول سړی دي تحصيل د علم دي د دلائلو قطعيه و سره والعمل بها او كه چېري دليل قطعي نه وي موجود نو عقل سړي ته اجازه وركوي چي په ډېر احتياط سره دي مراجعه و دلائلو ظنيه و ته وكړي او عقل واجب بولي عمل په دليل ظني سره ای مايفيد الظن بطريق صحيح، امثله يې دادي (۱) په خبر واحد سره ثابته ده چي وتر واجب دي (۲) د څابنت لمونځ سنت دی (۳) والبنج يعني چرس حرام دي (۴) او بيع په شرط فاسد سره ممنوع ده، وليس في هذه المسائل دلائل قطعية تعارض هذه الظنون، نو عقل په دې سره حكم كوي چي وتر دي څوک نه پرېږدي ولايشرب البنج ولا يباع بالشرط الفاسد مخافة عذاب الله او د څابنت لمونځ دي كوي رجاؤ الثواب لان احتمال جلب النفعة مع التيقن بعدم المفرة لكه د څابنت په لمانځه كي كافي دی لپاره د كولو د هغه كار، واحتمال د ضرر لكه په شرب البنج كي كافي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی لپاره د اجتناب مثلاً که د سړي ظن وي چي په غار کي به مار وي باید گوتي په
چغ نه کړي او ظن په مسائ فقهیه ؤ وانما هو في الطریق ای الخبر الواحد او
القیاس فبعد الظن الصحیح العمل بها واجب وایضًا قد ثبت بالادلة القطعیة من
الاحادیث المتواترة یعني چي از روی معنی متواتر دی که څه هم لفظًا متواتر نه
دی باجماع الامة علماء الامة المرحومة وبقوله تعالی فاعتبروا یا اولی الابصار
وبقوله تعالی فلولا نفر من کل طائفة فرقة منهم لیتفقهوا في الدین الی اخیر
الآیة، وجوب اتباع الاحادیث الاحاد والقیاس الشرعي علی شرائطه چي معارض
د اقوی سره تر ده نه وي لکه کتاب الله یا حدیث متواتر لفظًا.

درویش وایي: چي دا ؤ تحقیق ددې مقام حسب طاقة الفقیر عبید الله ابو
الفضل القندهاري:

حاسدان چي هر څه وایي دوی دې وایي
زه خادم یم د قرآن باک مي نه کېږي
روز محشر هر که آید تصویر جانان در بغل
من نیز حاضر میشوم تفسیر قرآن در بغل

فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكْرِنَا

پس ته یا محمد (ﷺ) روی گرداني وکړه د هغه چا څخه چي روی گرداني کوي
زما له ذکر څخه یعني القرآن والایمان او عن الاشتغال بذکرنا، یعني باک مه په
کوه او زړه مه تنگوه لانک قد بلغت ما امرت به.

سوال: کفار خو د مخه تېر سوه في قوله تعالی ان الذین آمنو په دې ځای کي
یې ضمیر ولي نه ورته راجع کاوه یعني فاعرض عنهم، نو راوړلو ته د موصول سره
د صله یعني عمن تولی عن ذکرنا ته ضرورت ؤ؟

ځواب: ضرورت دا ؤ چي د دوی توصیف وکړل سي په هغه قبیحه افعال سره
چي په صله کي ذکر کېږي او بیان د علت او دلیل دی علی قوله فاعرض،
والحاصل فاعرض عمن اعرض عن ذکرنا وهو القرآن الکریم المفید للعلم الحق
الیقین او مشتمل دی پر اعتقادات حقه ؤ او حاوي دی پر علوم اولین او اخرین او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دغه قرآن مجيد په ياد ونکی دی دې خلکو ته اخرت وما فيها من الاعمال المرغوب فيها والمرهوب عنها چي معاصي دي، او بعض مفسرين وايي چي مراد د ذکر څخه مذکر دی چي الرسول ﷺ دی او مراد له اعراض څخه عدم الايمان بما جاء به من شرائع الدين المبين.

وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٢٩﴾

او اراده نه لري مگر شهوات د ژوند ناقص او په هغو لذائذ دنيويه او شهوات نفسيه ؤ کي ډوب دي او منتهی د علم د دوی او د همت د دوی علم الامور الدنيوية دي.

ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيلِهٖ ۙ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰى ﴿٣٠﴾

دغه امور شهويه د دنيا ځای د انتهاء د دوی د علم دی (علم دلته په معنی د توهم او ظن فاسد د دوی دی فلا يرد ان العلم هو الاعتقاد الجازم الثابت المطابق للواقع وليس لهم ذالک) په تحقيق ستا رب يا محمد (ﷺ) ښه خبر دی په هغه چا چي لار د حق څني ورکه وي او خدای خبر دی په هغه چي د هدايت پر لار حق روان وي، له دې ايت څخه مقصد دا دی چي ضالينو ته به جزاء د ضلالت د دوی ورکړي او مهتدينو ته به ثوابونه د هدايت موصله الی الحق د دوی ورکړي.

ابيات موعظت آميز مناسب آيات متلوه:

سيراب کن ز بحر يقين جان تشنه را ..... زين پس خشک نشين بر سراب ريب
هوی و هوس را نماند ستيز ..... چو بيند سر پنجه عقل تيز
توان پاک کردن ز زنگ آئينه ..... وليکن نيايد ز سنگ آئينه

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۙ

او خدای هغه شيان چي په اسمانو کي دي (من الملائکة وغيرها) او هغه چي په ځمکه کي دي على ظاهرها وفي باطنها ای هو تعالى خالقهم ومالکهم يفعل بهم مايشاء موافقًا لحکمته الباهرة، دا جمله عطف ده پر جمله سابقه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيَجزِيَ الَّذِينَ اَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجزِيَ الَّذِينَ اَحسَنُوا بِالحُسنٰى ﴿۳۱﴾

تا چي جزاء يعني عذاب ورکړي و هغو کسانو ته چي عمل د بدو يې کاوه من الکفر والمعاصي، او ثواب ورکړي هغو کسانو ته چي عملونه يې په اخلاص قلبي يعني پاک له نفاق او رياء څخه کړي وي په مثوبة حسنٰى سره من الجنة ونعيمها.

پوه سه: چي لام متعلق دی بمضمون الجملتين السابقتين يعني خلق العالم وميز الضال عن المهتدی وحفظ احوالهم ليجزي الخ.

اَلَّذِينَ يَجتَنِبُونَ كَبٰٓئِرَ الاِثمِ وَالفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ

هغه کسان چي ځانونه ساتي د لويو ګنهو څخه.

فائده: بعض مفسرين وايي چي فواحش عطف تفسير دی د کبائر، او بعض وايي چي فواحش هغه ګناه ده چي په شرع کي حد لري لکه زنا او سرقه وغيرهما، او بعض وايي چي فواحش هغه ګنهونه دي چي په کبائرو کي افحش وي لکه زنا د همسايه د مايني سره.

پوه سه: چي بعض قراء لکه حمزه او الکسائي "کبير الاثم" وايي يعني په صيغه د مفرد علي ارادة الجنس، نو مراد له کبير الاثم څخه شرک دی، کريمه: ان الشرک لظلم عظيم، او هغه کسان چي په صيغه د جمع يې وايي لکه باقي قراء مراد ځني اصناف د کبائر بولي چي د هغو په تعداد کي اختلاف دی، بعض يې اوولس (١٧) بولي بعض يې (١٩) بولي، او ابن عباس رض تر (٧٠٠) پوري بولي.

درويش وايي: چي په تفسير کي د سورة النساء تحقيق د کبائرو ګنهو تېر سوی دی، لکن روح المعاني په تفسير او تحقيق کي د کبائرو ګنهو او اختلافات د علماؤ په تعداد کي د هغو اوراق د خپل تفسير ښائسته کړي دي ان شئت فارجع اليه.

پوه سه: چي بعض بعض قراء وايي چي للمم هغه ګناه ته وايي چي که څه هم کبيره وي بيله همېشه والي بيا توبه ځني وکاږي ولا يکون عادت له ولا ثبات لکه شارب الخمر چي په شرب الخمر يې عادت وي بل حينًا بعد حين کذا قال الجوهري، فالاستثناء على هذه التقادير متصل کما هو الاصل، وقيل اللمم الصغار من الذنوب لکه د بيګانه ښځي يا امرد څخه مچه اخستل يا لمس بالشهوة، کذا في القاموس يعني دون الزنى هر کار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي وي وهو قول ابن مسعود وابى هريرة والمسروق رضي الله عنهم والشعبي ورواه طاؤس عن ابن عباس رض، فالاستثناء على هذا منفصل لعدم دخول المستثنى وهو الصغائر في المستثنى منه وهو الكبائر، او ابن عباس رضي الله عنهما وايي ما رئيت اشبه باللمم مما قال ابو هريرة عن النبي ﷺ ان الله كتب على ابن آدم حظه من الزنى ادركه لا محالة فزنى العين النظر (كتل دي بيگانه ښځي ته په شهوت سره) وزنى اللسان النطق (د بيگانه ښځي سره د زنى خبري كول) الى اخير الحديث، وقال الحسن اللمم النظرة من غير عمد، فهو مغفور او كه بيا بيا په قصد ورته وكتل هغه لمم نه دى.

تفريع: نو پر دې تقدير الْمم اخص دى تر صغائر الذنوب، او بغوي په خپل سند سره داسي روايت كړى دى قال رسول الله ﷺ ان تغفر اللهم تغفر جمًا واى عبد لك لا الما.

اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ

په تحقيق ستا خداى فراخه دى مغفرت دده يعني يغفر ما يشاء لمن يشاء من الذنوب صغائرها وكبائرها بتوبة ولا توبة.

فائده: عقب الله وعيد المسلمين و وعد المحسنين بهذه الآية تا چي اصحاب الكبائر له رحمت عامه څخه د خداى تا اميد نه سي لكه معتزله چي وايي عذاب د گناه كارانو پر خداى واجب دى چي بلا توبة مړه سي، ابو نعيم د امير المؤمنين علي رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چي يو نبي ته د انبياؤ د بني اسرائيلو خداى عزوجل وحي وكړې چي اهل طاعت ته د امت خپل و وايه چي تكيه پر اعمالو خپل دي نه كوي ولي چي كه زه تنگي وكړم په حساب كي د يو چا سره په ورځ د قيامت كي لاعذبنه، او و وايه و اهل معصيت ته ستا د امت چي زما له رحمت څخه دي نه نا اميده كيږي فاني اغفر الذنوب العظيمة ولا ابالي (زه باک نه په كوم)

هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ

خداى په تاسي خبر دى ستاسي په عملو سره او په سعادة او شقاوة ستاسي سره (يعني له ازل څخه) "اذ انشاكم" بحذف المضاف آبائكم آدم عليه السلام او يا معنى داده في ضمن انشاء ابيكم "من الارض" يعني انشاء اجماليًا فان علمه تعالى قديم، وقد قال رسول الله ﷺ خلق الله مقادير الخلائق (اى احوالهم) قبل خلق السموات والارض بخمسين الف سنة وكان عرشه على الماء، رواه مسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"واذ انتم اجنة في بطون امهاتكم" او هغه وخت چي تاسي واست، اجنة جمع جنين ده يعني پټ واست.

پوه سه: چي اصل معنی د جن ستر دی ولهذا سمی المولود في رحم امه جنيا الستره والجنة جنة لاستار ارضها بالاشجار المكاثفة والجن جنا لسترهم عن اعين الناس.

پوه سه: چي اذ انتم آه معطوف دی پر اذ انشأكم او دواړه ظرفه متعلق دي باعلم، له ابن مسعودؓ څخه روایت دی قال حدثنا رسول اللهﷺ وهو الصادق المصدوق (چي دی صادق دی او خدای ئې هم تصديق کړی دی) چي خلق د يوه ستاسي په رحم کي د مور څلوېښت ورځي نطفه وي (یعني مخلوق د پلار او مور څخه) ثم يكون علقة (يا غليظه وينه وګرځي څلوېښت ورځي) ثم يكون مضغة (لکه ژوولي غوښه) مثل ذالک يعني څلوېښت ورځي، ثم يبعث اليه ملكا باربع كلمات فيكتب عمله واجله ورزقه وسعيد او شقي ثم تنفخ فيه الروح الى اخير الحديث، متفق عليه.

فَلَا تُزَكُّوٓا۟ أَنفُسَكُمْ

تاسي پاکي د خپلو ځانو مه وایاست، چي ما دومره روژې نفلي نولي دي او زه صلوة التهجد هم همېشه کوم الى غير ذالک من الطاعات الواجبة والنفلية.

پوه سه: چي کلمه د فاء لپاره د ترتيب د نهي ده عن تزكية النفس على ما سبق من ان عدم المواخذة على اللمم ليس لعدم كونه من الذنوب بلکي که لمم په محض فضل سره د خدای تاسي ته وبخښل سو مع علمه تعالى بصدوره منكم اى اذا كان كذالک فلا تزكوا انفسكم بالطهارة عن المعاصي بالكلية او په پاکوالي د اعمالو خپل بلکي شکر د خدای عزوجل وایاست پر فضل د ده و مغفرته جل شانه للمم لکم، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

همان به اګر می بستن ګوهری ..... که همچون صدف سر نخود دربری
اګر مسک خالص نداری مګوی ...... وګر هست خود فاش ګردد ببوی
منه ای پسر آب زر بر بشیز ...... که صراف دانا نګیرد بچیز

هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ ﴿۳۲﴾

خدای ئې به علم لري پر هغه تقوی داره سړي روح المعاني وايي چي لا فرق بين ان تكون تزكية النفس عبارة (كما مر امثالها) وبين ان تكون اشارة حتى چي تسمية ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نحو ط د برة معنی نېکو کاره ښځه هم شامل دی، چنانچه اخرج احمد و مسلم و ابو داؤد وابن مردوية وابن سعد عن زينب بنت ابی سلمة انها سميت په بره سره يعني د مور او پلار له خوا ښځه فقال رسول اللهﷺ لا تزکوا انفسکم الله اعلم باهل البر منکم سموها زينب او يا نوم د برکة پر زوی ايږدي.

فائده: دا نهي تنزيهي دي.

أَفَرَءَيْتَ الَّذِي تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾

آیا تا ليدلي (الاستفهام للتعجب والفاء للعطف على محذوف ای انظرت یا محمدﷺ) هغه چي اعراض يې وکړی له حق څخه چي ايمان دی.

درویش وايي: چي مشهوره په شان نزول کي ددې ايت داده چي دا نازل دی په باره کي د وليد بن المغيرة چي ده متابعت وکړی د نبيﷺ على دينه يعني ايمان يې راوړی ؤ.

پوهه: چي وليد المذکور لوی سرمايه داره سړی ؤ په مکه کي، نو ده ته پېغور ورکړی بعض مشرکانو چي مشر يې ابی بن خلف ؤ چي تا ولي پرېښو دين د خپلو نيکه ګانو او هغه دي ګمراهان و بلل، وليد ورته وويل چي له عذابه څخه د خدای بېرېږم، نو هغه پيغور ورکونکی چي ابي بن خلف ؤ وليد ته يې وويل چي دومره مقدار روپۍ ماته راکړه ورجع الى الشرک زه ستا عذاب پر ذمه اخلم.

وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿٣٤﴾

وليد بعض موعود روپۍ و ابی بن خلف ته ورکړې لکن لږ تر موعود روپو "واکدی" او پر باقي روپو وليد بخل مختاره کړی يعني نه يې ورکولې، کذا قال البغوي.

درویش وايي: چي دا قول غير مشهور دی في شان نزول الآية، او ورته روايت ابن جرير له ابن زيد څخه هم کړی دی ان رجلاً اسلم (يعني د وليد نوم يې نه دی ذکر کړی) فلقيه بعض من يعيره چي و ده ته يې پيغور ورکړی (يعني د ابی بن خلف نوم يې نه دی ذکر کړی) هغه معير و هغه سړي ته چي مسلمان سوی ؤ وويل: ترکت دين الاشياخ پرې دي ښودی دين د خپلو سپين ږيرو چي شرک ؤ، او هغه دي ګمراهان وبلل؟ دا مسلمان سوي سړي ورته وويل چي زه له عذاب څخه بېرېدلم، هغه معير ورته وويل چي که ته ماته دومره مبلغ راکړې (مقدار يې نه دی معلوم کړی) نو زه به هر عذاب چي ستا ؤ پر ذمه واخلم، فاعطاه شيئاً فقال المعير زدني څه مال نور راکړه، نو مسلمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي سړي د نور مال له ورکولو څخه بخل مختاره کړی هغه بيا ورته وويل زدني فاعطاه قليلاً بيا هغه معير خط ورته نوشته کړی او شاهدان يې هم پر دې معامله پکښې نوشته کړه، ففيه نزلت هذه الآية افرئيت الذي تولى الآية، وقال السدي "نزلت في العاص بن وائل السهمي ذالک وانه يوافق النبي ﷺ في بعض الامور الى اخير القصة (يعني ايمان يې نه ؤ راوړی) ومن اضعف الاقوال ما قال محمد بن كعب القرظي نزلت في ابي جهل وذالک لانه قال ما يأمرنا محمد الا بمكارم الاخلاق، لكن ترجمه د ايت يې داسي کړې ده اعطى قليلاً يعني ابوجهل قليلاً من الامر يعني الامر بمكارم الاخلاق "واكدى" بخل يې وکړی يعني ايمان يې نه راوړی.

درويش وايي: چي پر هر تقدير اصل معنى د كدى القطع ده مأخوذ من الكدية چي هغه يوه سخته ډبره ده چي د څاه کيندلو په وخت کي پيدا سي يمنع الحافر من الحفر، وقيل غير ذالک في شان نزول الآية ولا يعباء به فالاول هو الاولى في شان نزول الآية والله اعلم.

اَعِنْدَهٗ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرٰى ﴿۳۵﴾

آيا په نيز د وليد بن المغيرة علم د غيب سته، والاستفهام للانكار يعني علم پر غيب نه لري، كلمه د فاء لپاره د سببية ده، الرؤية قلبية يعني وليد بن المغيرة پر دې علم لري چي هغه صاحب دده چي هغه په مقابل د مال د وليد ضمانت دده پر غاړه واخستی چي په اخرت کي ستا عذاب زه پر ذمه اخلم په ورځ د قيامت کي.

اَمْ لَمْ يُنَبَّاْ بِمَا فِيْ صُحُفِ مُوْسٰى ﴿۳۶﴾ وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰى ﴿۳۷﴾

پوه سه: چي ام منقطعه دی په معنى د بل آه او بل لپاره د انتقال دی من قوله اعنده آه او همزه يې لپاره د استفهام انکاري دی "لم ينبأ" اى الم يخبر چونکه همزه چي لپاره د انكار ؤ پر كلمه د لم داخل سو نو په قانون ددې چي نفي د نفي اثبات دی يعني تاسي خبر یاست "بما في صحف موسٰى" يعني په اسفارو کي د تورات د موسٰى سته او په صحف کي د ابراهيم، هغه ابراهيم چي وفا يې وکړه يعني بما امره الله به واتمه چي ذبح ته د زوی اماده سو كما مر وبلغ رسالاته تعالى او صبر يې وکړی پر ازار د خلكو له خوا چي اتباع د نمرود جبار وه او صبر يې وکړی پر اوور د نمرود، كريمه: واذ ابتلى ابراهيم بكلمات فاتمهن. له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابراهيم په احکامو سره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسلام من الواجبات والسنن والمندوبات تپولو سره وفى وکره ولم يوف بها احد غيره چي هغه جمله سهام اى الاحکام دېرش دي چي لس سهام يې په سورة ابراهيم کي دي من قوله تعالى: ان الله اشترى من المؤمنين انفسهم الى اخير الآيات، او لس يې په سورت احزاب کي دي من قوله تعالى: ان المسلمين والمسلمات الى اخير الآيات او شپږ يې في قوله تعالى: قد افلح المؤمنون الى خيرها او څلور يې په سئل السائل يعني من قوله تعالى: والذين يصدقون بيوم الدين الى اخيرها.

درويش وايي: چي خواص د ابراهيم ﷺ ډېر دي حتى په يوه روايت صحيح کي راغلي دي چي ابراهيم ﷺ چي نمرود جبار د منجنيق په ذريعه اوورته وغورځاوه جبرئيل ؑ اورته نارسيده ورته راغلى ده ته يې وويل: هلک لک من حاجة؟ قال ابراهيم ﷺ اما اليک فلا. فقال الى الله فقال ابراهيم ﷺ حسبي من سؤالي علمه بحاله، فقال الله تعالى: يا نار کوني بردًا وسلامًا على ابراهيم الآية، وروى ايضًا چي ابراهيم ؑ به يو فرسخ په طلب پسي د مهمان تلى فان وجده اکرمه والانوى الصوم، ولنعم ما قيل في مدحه: وفي ببذل نفسه للنيران: وقلبه للرحمٰن: و ولده للقربان: وماله للاخوان اى الضيفان.

وفي الحديث القدسي: ابن آدم (اى يا ابن آدم) ارکع لي اربع رکعات من اول النهار اکفک اخره.

درويش وايي: چي مراد له دې څلورو رکعتو څخه صلوة الضحىٰ دى چي وخت يې په بنه لمر راپورته کېدو سره دى چي په دوبي کوډې د جونگيانو پر مځکه سوځي. بزرگانو د دين د دې څلور رکعته لمانځه لپاره دغه سورتونه ټاکلي دي په اول رکعت کي وروسته تر سورة فاتحه سورة والشمس وضحٰها الى اخيره وفي الرکعة الثانية والليل اذا يغشىٰ الى اخيره ثم يتشهد وفي الثالثة والضحىٰ وفي الرابعة الم نشرح الخ.

سوال: د اميانو لپاره چي دغه مذکوره سورتونه يې نه وي په ياد د هغو چاره به څه وي؟

ځواب: الطاعة حسب الطاقة دى يعني د هغو لپاره کوم سورتونه چي يې په ياد وي کفايت کوي په ثواب کي.

پوښتنه: آيتونه د دوهم رکعت د سورة يعني والليل اذا يغشىٰ آخو بالا دي د اول رکعت تر سورة يعني والشمس وضحٰها؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: فقهاؤ تصريح کړې ده چې په نفلي لمونځو کې دا زيادت د دوهم رکعت د سورة پروا نه لري يعني مکروه نه دی.

فائده: وسيئاتي مما نقل من صحف موسیٰ في اخير سورة سبح باسم ربک الاعلی كذا في فتح الرحمن.

پوښتنه: موسیٰ يې تر ابراهيم ولې مقدم راوړی مع ان ابراهيم اقدم منه وافضل؟

ځواب: لان صحف موسیٰ يعني التورات اشهر عندهم و اكثر، او بله خبره ده چې په دې تقديم کې د اقرب ځخه چې صحف موسیٰ وې و ابعد ته چې صحف ابراهيم وې لكون الاقرب اعرف عندهم، وعن ابی ذر الغفاري ﷺ قال يا رسول الله ﷺ كم من كتاب الله انزل الله قال (۱۰۴) كتب، انزل على آدم ﷺ عشر صحائف وعلى شيث ﷺ (۵۰) صحيفة، وعلى ادريس ﷺ (۳۰) صحيفة وعلى ابراهيم ﷺ (۱۰) صحيفة وانزل الله التورات والانجيل يعني الاول على موسیٰ ﷺ والثاني على عيسیٰ ﷺ والزبور على داوٗد ﷺ والفرقان على محمد ﷺ.

فائده: اخرج ابن جرير وابن ابی حاتم عن معاذ بن انس عن رسول الله ﷺ قال الا اخبركم (آيا زه تاسي خبر نه کړم چې ولې مسمیٰ سو ابراهيم خليل الله بالذي وفّٰى انه كان يقول كلما اصبح وامسیٰ فسبحان الله حين تمسون وحين تصبحون الى اخير الآية.

درويش وايي: لاتعارض بين هذه الروات في ابراهيم الذي وفى لانها كلها كانت موجودة فيه ﷺ قطعًا.

اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۙ

ان لا تزر (ای لا تحمل) وازرة (نفس حاملة لحمله) وزر اخرٰی (يعني وزر نفس اخرٰی)

پوه سه: چې روح المعاني او روح البيان وايي چې ان مخفف د مثقل دی اسم يې ضمير شان محذوف دی او وروسته جمله خبر ده او جمله سره د اسم او خبره په محل کې د جر ده، بدل ده د مافي الصحف الاولی او يا په محل کې د رفع دی خبر د مبتداء محذوف دی ای هو كانه سئل مافي صحفهما ونقله المظهري ايضًا.

پوښتنه: په حديث صحيح کې راغلي دي: من سن في الاسلام سنة سيئة فعليه وزرها و وزر من عمل بها الى يوم القيامة، نو د دې حديث له ظاهر ځخه دا معلومېږي چې واضع اول د سنة سيئة د نورو چې دده پر لار روان وي نيول کېږي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا واضع اول چي د نورو په ګناه نيول کيږي دا خو په سبب د اضلال دده چي ده نور خلک ګمراهان کړه اضلال خو دده فعل دی لا وزر غيره.

وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿۳۹﴾

او نشته انسان لره (يعني ثواب) مګر نه د هغه عمل چي ده سعي کړي وي.

پوهه: چي ان مخفف د مثقل دی لکه په دمخه ايت يعني ان لا تزر آه او دا ايت عطف پر هغه دی او اسم يې ضمير شان محذوف دی او للانسان خبر د ليس دی والا ما سعی اسم د ليس دی، و کلمة ما مصدرية ويجوز ان تکون موصولة والمعنى وانه ای الشان ليس للانسان في الآخرة الا سعيه في الدنيا، هذا اذا کانت ما مصدرية او الذي سعى وعمل به اذا کانت ما موصولة، روح البيان روح المعاني.

فائده: د دمخه ايت مضمون چي دا وُ چي د يوه سړي په ګناه خدای عزوجل بل سړی نه نسي کما مر في قصة الوليد بن المغيرة، ددې ايت مضمون دادی چي خدای چاته ثواب نه ورکوي په عمل د خير د بل چا که قريب وي او که بيګانه.

درويش وايي: چي ددې په مضمون کي لوی اختلاف دی د مفسرينو او د فقهاؤ؂ جمهور د مفسرينو او محدثينو پر دې مذهب دي چي د عمل د خير که عملي وي که مالي او که قولي وي ثواب د يوه د فعل و بل ته رسيږي بالأحاديث والاجماع. اما الآحاديث:

(۱) يو له هغو څخه حديث د ابی سعيد الخدري ﷺ دی، دی وايي چي ما له رسول الله ﷺ څخه واوريده چي ده وويل چي د يو مؤمن روح چي خدای قبض کړي نو هغه دوې ملکي چي دده سره ورسره وي کراماً کاتبين چي دده خير او شريې نوشته کاوه دوی خدای ته مناجات وکړي چي تا چي مقرر کړي وُ پر يوه بنده ستا بکتب عمله د هغه مؤمنه روح خو تا قبض کړی و ځان ته نو موږ ته اجازه راکړه چي موږ به په مځکه کي اوسېږو (يعني د عبادت لپاره) خدای پاک ورته ووايي چي زما مځکه ډکه ده د تسبيح ويونکو څخه لکن قوما على قبر عبدي (يعني المتوفى الآن) فسبحاني (ای سبحان الله) و هللاني (ای لآ اله الا الله) و کبراني (الله اکبر) الى يوم القيامة و اکتباه لعبدي (او دا ټول ه زما د عبد مؤمن پر نامه ...... کوي، رواه ابو نعيم.

(۲) بل حديث د ابو هريره ﷺ دی چي روايت يې مسلم کړی دی قال قال رسول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اللهﷺ اذا مات الانسان انقطع عمله (ای ثواب عمله ولي چي ميت خو د ثواب کار نسي کولای) الا عن ثلاث الا من صدقة جارية (لکه يو پل چي پر رود مثلاً جوړ کړي يا يو مسجد جامع يې جوړ کړی وي چي خلک لمونځونه پکښې کوي) او علم ينتفع (يا يې علم پاته وي چي خلک فائده پر اخلي يا د شاګردانو په ذريعه يعني په شاګردانو کي يې مدرسان وي يا يې کتابونه تصنيف کړي وي چي له هغو کتابو څخه خلک ګټه اخلي)

درويش وايي: چي يا يې وقفي کتابونه پرې ايښي وي، او ولد صالح (که زوی وي او که لور) صالح يد عونه چي هغه دعاء ورته کوي.

فائده: ولد يې مقيد کړی په صالح سره يا ترغيبًا للولد على الدعاء للوالد المتوفي يا له دې سببه چي د نا صالح دعاء خدای عزوجل نه قبلوي.

سوال: په د غه حديث سره څنګه احتجاج وسو ولي چي صدقه جاريه خو د ميت خپل کسب دی او د غه رنګه علم ينتفع به الناس خو هم د ميت خپل کسب دی؟

ځواب: وجه د احتجاج يې اخيره جمله د حديث ده يعني دعاء الولد الصالح لان هذا الدعاء ليس من عمله فافهم.

(۳) بل حديث د ابو هريرهؓ دی: قال قال رسول اللهﷺ ان الله تعالى ليرفع الدرجة للعبد الصالح في الجنة فيقول يا رب اني لي هذه (د کومه خوا پيدا سوه دا درجه و ماته) فيقول (ای الرب ﷻ) باستغفار ولدک لک، رواه الطبراني وروى نحوه عن ابی سعيد الخدريؓ مرفوعًا.

سوال: مړي خو هنوز جنت ته نه دي ورغلي نو په رفع د درجې في الجنة دی څه پوهيږي؟

ځواب: بتعليم الله المتعال لروحه ذالک الرفع فتدبر.

(۴) بل حديث د ابن عباسؓ دی قال قال رسول اللهﷺ ما الميت في قبره الا شبه الغريق المتغوث (نه دي مړي په قبر کي مګر لکه يو سړی چي په اوبو کي ډوب سي چي طلب د کومک کوي) ينتظر دعوة ملحقة من اب او ام او ولد او صديق ثقة (يا له اشنای څخه چي اعتمادي اشنای وي) فاذا لحقته كانت احب اليه من الدنيا ومافيها وان الله ليدخل على القبور من دعاء اهل الارض امثال الجبال وان هدية الاحياء الى الاموات الاستغفار لهم، رواه البيهقي والدارمي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي چشم دید واقعه في الیقظة پر درویش خپل پلار مرحوم د پر گران ؤ په ژوند کي ولي چي پاعث زما د علم او د کتابت هم دی ؤ او وروسته تر مرگ هم را باندي گران ؤ چي په هره دعاء کي په حضور قلبي ما وده ته دعاء کوله او کوم یې، یو کال ما ته دا فکر پیدا سو چي زما پر پلار که څه هم حج فرض نه ؤ لمکسنته ته خو اوس الحمد لله قدرت لرې راسه یو نفلي حج د پلار لپاره وکړه هغه ؤ چي دا فکر مي مصمم سو، نو مي یو کال د پلار لپاره نفلي حج وکړی په دې حج کي ما پر لوړ چت د کعبې مکرمې طواف کاوه چي لاندي ازدهام ؤ د طواف په دوران کي مي له نژدې څخه خپل پلار ولیدی چي ښه سپین کالي یې اغوستي وه پر هغه رنگ چي ما دی په ژوند کي لیدلی ؤ، ما چي هڅه پسي وکړه او دا مي وویل بابا، دی را څخه ورک سو هر څو مره کوشش چي مي وکړی بیا مي نه ولیدی.

تفریع: نو په دې چشم دید واقعه سره مي د نبي اکرم ﷺ پر دې حدیث یقین و حق الیقین ته ورسېدی:

(۵) و روی الطبراني في الاوسط قال رسول الله ﷺ امتي امة مرحومة تدخل القبور بذنوبها وتخرج من قبورها لا ذنوب علیها، یخلص عنها باستغفار المؤمنین لها، قال العلامة جلال الدین السیوطي" وقد نقل غیر واحد الاجماع ان الدعاء ینفع المیت ودلیله قوله تعالی: والذین جاؤا من بعدهم یقولون ربنا اغفر لنا ولاخواننا الذین سبقونا بالایمان.

درویش وایي: چي دا آیت "لیس للانسان الا ما سعٰی المذکور في صحف ابراهیم و موسٰی" چي مضمون یې دا دی چي نه رسېږي هیڅ چا ته ثواب د حسناتو د بل چا من الصلوة النفلیة والصوم والصدقة والحج ونحو ذالک دا حکم په صحفو پوري د ابراهیم او موسٰی علیهما السلام ؤ لکن د خصوصیاتو څخه د امت مرحومه دی نسخ د دغه حکم د والحقنا بهم ذریتهم.

(۶) دا حدیث چي روایت یې صدیقې عائشې رضي الله عنها کړی دی چي یو سړی راغلی و رسول الله ﷺ ته یې وویل چي زما مور ناببره مړه سوه او وصیت یې ونه کړی او زما گمان دی چي دې خبري کړي وای وصیت به یې کړی وای فهل لها اجر ان تصدقتُ عنها؟ قال ﷺ نعم، متفق علیه، هم دلالت پر دې کوي لکه ما قبل حدیثونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي هغه د صحف د ابراهیم او موسٰی منسوخ دي په حق د امت مرحومه کي.

(۷) و حديث ابن عباس رضي الله عنهما ان سعد بن عبادة رضي الله عنه توفيت امه وهو غائب نو دی عليه الصلوة والسلام ته راغلی او ماجری د مرگ د مور يې بيان کړه فقال فهل تنفعها ان تصدقتُ عنها قال نعم، قال (ای سعد بن عبادة) اشهدك (زه شاهد گرځوم تا) ان حائطي (زما باغ صدقه دی زما په مور پسي) رواه البخاري.

(۸) او حديث د ابن عمر رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ چي خيرات وکړي يو ستاسي څخه نفلي فيجعلها هو لابويه (ثواب يې مور او پلار ته ورو بخښي) فيكون لهما اجرها ولاينقص من اجره شيئًا (يعني د متصدق هيڅ شی له ثواب څخه نه کمېږي)

(۹) د حضرت انس رضي الله عنه حديث دی، ده وويل چي ما د عليه الصلوة والسلام څخه واورېدل چي ده وويل: ما من اهل بيت يميت منهم (يعني احد) نو قريبان يې په هغه پسي خيرات وکړي (من ای نوع كان) بعد موته الا اهداه له جبرئيل (استثناء د کلمې د ما نافيه) على طبق من نور (پر يوه کاسه د نور) بيا جبرئيل ودرېږي پر غاړه د قبر د هغه ميت او داسي ووايي يا صاحب القبر العميق، دا هديه چي تا ته را استولي ده قريبانو ستا نو قبوله يې کړه، هغه طبق په قبر ورننباسي نو ميت د پر په خوشحاله سي او نورو همسايه گانو ته دا خپل هديه ښکاره کړي، نو همسايه گان يې د پر خوابدي سي ولي په دوی پسي قريبانو د دوی کومه هديه نه ده را استولي، رواه الطبراني في الاوسط (نوم د کتاب دی تصنيف د الطبراني دی)

(۱۰) وحديث زيد بن الارقم رضي الله عنه عن النبي ﷺ من حج عن ابويه (ای احدهما او كلاهما) ولم يحجا (او د دوی غاړي خلاصي کړي) وبشرت ارواحهما في السماء وكتب برًا (يعني د مور او پلار د حق خلاص) اخرجه ابو عبد الله الثقفي.

(۱۱) او د عقبه بن عامر رضي الله عنه حديث دی چي يوه ښځه راغله و رسول الله ﷺ ته او عليه الصلوة والسلام ته يې وويل چي زه حج وکړم د مور لپاره (وقد ماتت) چي هغه مړه سوې ده، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ته خبره راکړه چي که ستا پر مور د چا پور باندي وای او تا هغه پور اداء کړی وای (يعني د پور غاړي يې نه خلاصېدلې؟) هغې ورته وويل هو يعني خلاصېدلې، نو رسول الله ﷺ ورته وويل حج ورته وکړه.

درويش وايي: چي رسول الله ﷺ چي تشبيه د حج د مور له خوا په پور سره وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي د هغې ښځې پر مور د چا باندي واى داسي فهمېږي چي د هغې ښځې پر مور باندي فرضي حج ؤ او دا مړه سوه، والله اعلم، رواه الطبراني.

(١٢) وحديث انس رضي الله عنه قال جاء رجل الى النبي ﷺ وقال ان ابى مات ولم يحج حجة الاسلام (يعني فرضي حج) يعني غرض يې دا ؤ چي زه د خپل پلار لپاره فرضي حج وكړم د پلار غاړي مي خلاصېږي، فقال ﷺ ارئيت لو كان على ابيک دين كنت تقضيه عنه (يعني د پور غاړي يې خلاصېدلې) هغه سړي ورته وويل نعم قال رسول الله ﷺ فانه دين عليه (يعني حج فرضي پور د خداى ﷻ دى) فاقضيه، رواه البزار والطبراني بسند حسن.

درويش وايي: چي دا حديث تائيد كوي د هغه ترجمې چي فقير د ښځې د مور په حج كي وكړه ولي چي عليه الصلوة والسلام په دواړو حديثو كي تشبيه په پور سره وكړه، فقير وايي و لله الحمد.

(١٣) وحديث ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من حج عن ميت فللذي حج عنه مثل اجره (اى الميت) رواه الطبراني في الاوسط.

(١٤) و حديث عطاء وزيد بن اسلم مرسلاً قال جاء رجل الى النبي ﷺ فقال يا رسول الله ﷺ اعتق عن ابي وقد مات، قال ﷺ نعم، رواه ابن ابى شيبة.

(١٥) وحديث ابن عباس رضي الله عنهما ان رسول الله ﷺ سمع رجلاً يقول لبيک عن شبرمة قال عليه الصلوة والسلام من شبرمة قال اخ لي او قريب قال ﷺ احججت عن نفسک قال لا قال حج عن نفسک ثم من شبرمة، رواه ابو داؤد وابن ماجه والدار قطني والبيهقي وقال اسناده حسن صحيح.

(١٦) و حديث علي رضي الله عنه مرفوعًا من مر على المقابر وقرء قل هو الله احد (١١) مراة ووهب اجره للاموات اعطى (يعني القاري) بعدد الاموات، رواه السمرقندي.

(١٧) و حديث ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من دخل على المقابر ثم قرء فاتحة الكتاب وقل هو الله احد و الهٰكم التكاثر ثم قال جعلت ثواب ما قرئت من كلامک لاهل المقابر من المؤمنين والمؤمنات كانوا شفعاً له (يوم القيامة) رواه ابو القاسم سعد بن علي.

(١٨) و حديث انس رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ قال فقرء سورة يٰس به يغفر الله عنهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(اى الاموات) يعني العذاب ان كان لهم و كان له بعدد من فيها حسنات اخرجه عبد العزيز صاحب الخلال بسنده.

(۱۹) وقال السيوطي "قد ورد قرائة الفاتحة عند رأس الميت (اى المدفون) وخواتيم سورة البقرة عند رجله.

(۲۰) قال الحافظ شمس الدين بن عبد الواحد مازالوا (همېشه) في كل مصر يجتمعون ويقرؤن لموتاهم من غير نكير فكان ذالک اجماعًا.

(۲۱) واخرج الخلالي عن الشعبي "كانت الانصار اذا مات لهم ميت، نو دوى به ورتله و قبر ته د هغه و يقرؤن القرآن.

(۲۲) وفي احياء العلوم عن احمد بن حنبل "قال اذا دخلتم المقابر فاقرؤا بفاتحة الكتاب والمعوذتين وقل هو الله احد واجعلوا ذالک لاهل المقابر يعني ثوابها فانه يصل اليهم.

(۲۳) و اخرج عن جعفر ان الحسن والحسين رضي الله عنهما كانا يعتقان عن علي رضي الله عنه بعد موته.

(۲۴) و اخرج ابن ابی شيبة عن عطاء قال يتبع الميت بعد موته (يعني ثواب يې ور رسېږي) العتق والحج والصدقة.

(۲۵) و اخرج ابن سعد عن القاسم "ان عائشة رضي الله عنها اعتقت عن اخيه عبد الرحمن رضي الله عنه رقيقًا عن تلاده يعني د خپل مال څخه ترجوا ان ينفعه بذالک بعد موته.

(۲۶) و حديث عمرو بن العاص.

پوه سه: چي العاص كافر ؤ پر كفر مړ هم سو او عمرو چي دده زوی ؤ مسلمان ؤ. او د العاص بل زوی هشام ؤ چي هغه هم كافر ؤ، نو العاص چي مړ كېدی وصيت يې وكړی چي په ما پسي سل (۱۰۰) مریان ازاد كړئ، نو هشام خپل برخه چي پنځوس مریان كېږي ازاد كړه، عمرو بن العاص رضي الله عنه چي مسلمان ؤ راغلی او دا موضوع يې نبي عليه الصلوة والسلام ته بيان كړه، عرض يې دا ؤ چي زه خپله برخه پنځوس مريان په پلار پسي ازاد كړم ده ته به نفع وكړي؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل يا، انما يتصدق ويحج ويعتق عن المسلم لو كان اى العاص مسلمًا لنفعه لكن دی خو پر كفر مړ سو، له دې حديث څخه دا ښكاره سوه چي مؤمن ته د صدقې او حج او د اعتاق نفع نه رسېږي، رواه ابو الشيخ".

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۲۷) و حديث الحجاج بن دينار ان من البر بعد البر يعني يعني دوه مور او پلار خو په ژوند کې د دوی کوي زامن لکن تر دې بر وروسته بل بر د مور او پلار پاتې سي يعني وروسته پر مړيني د دوی وهو ان تصلي عنهما يعني نفلي لمونځونه مع صلاتک ستا د فرضي لمانځه سره، وتصوم عنهما نفلي روژه مع صيامک.

درويش وايي: چې والله اعلم چې مراد په عدد کې د روژو خپل هغه عدد روژه د مور او پلار نسي او يا مطلق روژه د قل او کثر او داغه رنګه دا دوه احتماله په لمونځو کې هم سته، والظاهر هو الثاني کيلا يفضى الى الحرج على الابن، وتصدق لهما مع صدقتک په دې کې دوه احتماله سته، والظاهر هو الثاني کما مر آنفًا، رواه ابو شيبة. بيضاوي" په توجيه کې د دې ايت وايي ان الصدقة والحج ينفعان من عز الميت فان الناوي کالنائب عنه نو دا هم سعي د ميت ګڼل کېږي.

درويش وايي: چې وهذا التوجيه ليس بشيئ لانه على هذا لا يحتاج الى الاحاديث المتکاثرة التي ذکرناه بل يکفيه حديث واحد وهو ان يقول انت کالنائب عنه، نو دا تړوله دده سعي ده هر ځای چې وي کوه يې.

پوښتنه: ايوبي تا پر بيضاوي خوندي لوی محقق باندي رد وکړی؟

ځواب: هو! ته حق په رجالو سره پېژني که رجال په حق سره پېژنې، الاول حال العوام والثاني حال الخواص، زه به اجمالاً تا پوه کړم چې عبد الکريم الکوراني" په سر کې د بيضاوي يعني قبل الشروع بکتاب البيضاوي يو څو ورقي دده په حالاتو کې يعني د القاضي البيضاوي حالات ټوله په محققانه ډول ځېړلي دي. ته هغه مطالعه کړه بيا پر درويش اعتراض وکړه، او بعضې علماؤ توجيه د دې ايت داسي کړې ده چې ميت ته چې د صدقات وغيرها ثواب رسېږي هغه په سبب د ايمان دده، نو دا ټوله صدقات تبع د ايمان دده دي، او ايمان خو دده خپل سعي ده.

درويش وايي: چې مفهوم دد دې جواب في قلب قائله دي فافهم والله اعلم.

وَأَنَّ سَعْيَهُۥ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾

او په تحقيق سعي دده په دنيا کې ژر دی چې و به ليدل سي يعني په ورځ د قيامت که مؤمن وي، او پاته سو کافر نو که هغه هر څو مره خيراتونه کوي لکه په دې اوسني زمانه کې کافران د نړی مؤسسات خيريه لري چې يو ځای زلزله وسي او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلګو کوروته او وداني ونړيږي خيره مؤسسات بالفور مرستي ورسره کوي د خوراکي موادو او د ملبوساتو الى غير ذالک.

فائده: بعض مفسرين وايي چي د کفارو دغه ښه کارونه لغوه دي لعدم شرطها وهو الايمان، او بعض مفسرين وايي چي خداى پاک و کافرته په دې دنيا عوض ورکوي من الصحة والعافية وکثرة الاموال و الاولاد الى غير ذالک من نعم الدنيا فهم کاجير اخذ اجرته قبل تمام الوقت.

درويش وايي: چي د دې آيت يعني: وان ليس للانسان الا ما سعىٰ په تفسير کي روح البيان اووه (۷) صفحې وليک او لوست ته سپارلي دي، خو اکثره ځايونه يې داسي دي چي تفسير ايوبي ورسره موافق دى البته بعض ځايونه يې مخالف دي، او علامه بغدادي رح په روح المعاني کي د پر مختصر بيان کړى دى او پر معتزله وُيې رد کړى دى لکن بيا هم علامه بغدادي ګويا درياب يې په کوزه کي ځاى کړى دى او تفسير قرطبي هم په زړه پوري تفسير د دې ايت کړى دى.

درويش وايي: چي ثواب د اخرت او عدم ثواب پر فعل د خير ولو کان العامل مؤمنًا په دې حديث نبوي ﷺ کي چي د جوامع الکلم له افرادو څخه دى کما ورد في الحديث الصحيح چي رسول الله ﷺ ويلي دي: واوتيت جوامع الکلم، هغه حديث دادى چي بخاري او نورو محدثينو روايت کړى دى "اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَاِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوٰى فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَهِجْرَتُهٗ اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلٰى دُنْيَا يُصِيْبُهَا اَوِ امْرَاَةٍ يَتَزَوَّجُهَا فَهِجْرَتُهٗ اِلٰى مَا هَاجَرَ اِلَيْهِ"

(اِنَّمَا الْاَعْمَالُ) اى ثواب الاعمال (بِالنِّيَّاتِ وَاِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوٰى) د مثال په توګه آن حضرت ﷺ د هغه وخت چي هجرت د مکې مکرمې څخه و مدينې منورې ته هجرت فرض وُ، داسي فرمايلي دي (فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهٗ اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَهِجْرَتُهٗ اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ) يعني دا هجرت يې مقبول او ثواب يې في الآخرة موعود دى.

پوښتنه: کلمه د من شرطي ده نو په دې عبارت کي خو شرط او جزاء سره يو نه سوه؟

ځواب: لا ولي چي شرط يعني فمن کان آه مقيد دى اى نية وقصدًا خالصًا سره، او جزاء هم مقيد ده د ده په قيد سره اعني قوله فهجرته الى الله آه، يعني ثوابًا في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآخرة عليه الصلوة والسلام زياته کړه (ومن کان هجرته الی دنیا یصیبها) چي دنيا ته ورسيږي او نفقه پيدا کړي يعني بعض مسلمانان چي مسکينان وه په مکه کي او خبر سوه چي انصارؓ د مديني د مهاجرينو ؓ سره ډېر کومکونه کوي او نفقي د کور او عيال ورکوي، د دغه غرض لپاره به يې هجرت مديني ته وکړی (او امرئة ينكحها) يا د يوې ښځي لپاره چي هورې په مديني کي به نکاح ورسره وکړي، لکه يوه ښځه چي د ام قيس په نامه وه چي کونډه وه او مسلمانه وه، په مکه مکرمه کي يو سړي دې ته مرکه وکړه د نکاح په مکه کي، دې ورته وويل چي زه خو هجرت کوم مديني منورې ته که ته راپسي راغلې هورې نکاح درسره کوم، نو ښځي چي هجرت وکړی هغه سړی دې ته چي يې مرکه کړې وه پسي ورغلی او هورې يې نکاح سره وکړه (فهجرته الی ماهاجر اليه يعني الدنيا) يا د ام قيس نکاح.

درويش وايي: چي دا حديث معيار دی د ثواب في الآخرة وعدمه لکه په دغه مذکور حديث کي چي د دواړو مثال تېر سو، او دغه رنګه مدار دی د لږ ثواب او د ډېر ثواب ورکولو په يو عمل کي په سبب د دعاء مثلاً د نيت په باره کي فافهم.

ثُمَّ يُجْزٰىهُ الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ۙ﴿۴۱﴾

وروسته به جزاء او ثواب ورکړل سي و مؤمن ته د خدای پاک له خوا څخه جزاء اتم و اکمل لايقادر قدره ان الله سبحانه سماه الجزا الاوفی.

فائده: الجزاء الاوفی مصدر مبين د نوع دی مثل جلست جلسة القاري.

وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ الْمُنْتَهٰى ۙ﴿۴۲﴾

مفسرينو د دې ايت دوې ترجمې کړې دي يوه معنی داده چي انتهاء د خلکو که مؤمن وي او که کافر وي او رجوع د دوی و خدای ﷻ ته ده خاص لا الی غيره لا استقلالاً ولا اشتراکاً، کما يدل عليه تقديم الی ربک علی المنتهی، والمراد بذالک رجوعهم اليه سبحانه وتعالی يوم القيامة چي دوی حشر سي، د دې سببه ډېر مفسرين داسي ترجمه کوي: الی ثواب ربک من الجنة وعقابه من النار الی الانتهاء، او بعض مفسرين وايي چي معنی د ايت داده چي انه تعالی عزوجل منتهی د افکارو د عقلاؤ او اولياؤ يعني افکار د متفکرينو فکر وهي ماهيات او هويات او فوائد او خواص د شيانو يې معلوم وي حتی چي حرم ته ذات د الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عزوجل ورسيږي او حقائقو ته د صفات د الله عزوجل ورسيږي وقفت وتلاشت وانتهى سيرها، ددې ترجمې تائيد هغه حديث کوي چې البغوي" روايت کړى دى عن ابى بن کعب عن النبي ﷺ انه قال في هذه الآية لا فكرة في الرب جل مجده.

درويش وايي: چې پوهان د دنيا او حکماء د نړۍ وايي لا يتصور الرب بكنهه اى بحقيقة الخاصة..... سعدي شيرازي قدس سره چې مخاطب يې رب جل وعلا دى داسي خواږه ابيات متناسبة المقام وايي:

اى برتر از قياس وخيل ووهم ..... وزهر چه گفته اند شنيديم وخوانده ايم
مجلس تمام گشت و به پايان رسيد عمر ..... ماهمچنان دراول وصف تو مانده ايم

قال البغوي" وهذا مثل ما روى عن ابى هريرة ﷺ مرفوعًا (يعني الى رسول الله ﷺ) تفكروا في الخلق ولا تفكروا في المخالق فانه لا تحيط به الفكرة.

درويش وايي: چې فکر په مخلوق کي دا دى چې اسمان ته وګوره شمس او قمر او ستورو ته وګوره چې خالق مقتدر په صفت د قدرة تامة او د رحمت عامه په وېړتيا بلکې هره ذره له ذراتو څخه د عالم ائينه د قدرت د قدرة عظيمه د خداى" او د حکمت د رب جل وعلا ده، سعدي شيرازي" وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقى دفتريست معرفت کردگار

په يوه روايت کي د ابن عباس ﷺ چې ابو شيخ يې روايت کړى دى راغلي دي تفکروا في الخلق ولا تتفکروا في الخالق فانکم لا تقدرون قدرة، په صحيح حديث کي راغلي دي چې شيطان د سړي په زړه کي ورواچوي مثلاً من خلق السماء؟ سړى و وايي خداى" وهکذا من خلق الشمس والقمر والکواکب الى ان يقول من خلق الله چې وسوسه دې ځاى ته ورسېده اعوذ بالله دې و وايي او سوال و جواب دې ختم کړي.

درويش وايي: چې په دې باره کي احاديث صحيحه ببخي ډېر دي چې د فقير په علم ناقص سره متوترة المعنى دي چې د ټولو نقل ماته ډېر ګران دى ... بيت:

تا طبع شريفت نپيزيرد ملالتى .... ان به که نامه بدعاء مختصر کنيم

مولينا جلال الدين الرومي قدس سره په مثنوي کي وايي:

دست بربالا دست اين تا کجا .... تا بيزدان که اليه المنتهى
کان يکى درياست بى غور وکران .... جمله درياها چو سيلى پيش آن
ميلها وچارها کر اژدها ست ... پيش الا الله آنها جمله لاست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَنَّهُ هُوَ أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ

والمراد ان الله خالق كل شيئ من اعمال العباد حتى الضحک والبکاء، نو په دې سره رد دی پر معتزله وُ چي خالق د افعالو د عبادو بندگان بولي.

بوه سه: چي عطاء بن ابی مسلم ؒ وایي افرح واحزن.

درويش وايي: چې دا مجاز دی لان الفرح غالبًا يفضی الی الضحک سرورًا والحزن يقضی غالبًا الی البکاء فافهم، او مجاهد ؒ وایي اضحک (يعني الله ﷻ) اهل الجنة في الجنة وابکی اهل النار في النار، نو ضحک او بکاء پر دې تفسير محمول پر حقيقت دی، وقال الضحاک ؒ اضحک الارض بالنبات وابکی السماء بالمطر (نو پر دې تفسير ضحک او بکاء محمول پر مجاز دي) البغوي ؒ په خپل سند سره وایي چي اصحاب د نبي ﷺ به سره کښېنستل او بعض اشعار يا قصې د جاهليت د وخت به يې سره کولې او دون القهقهة چي ضحک يې بولي خندل به يې او عليه الصلوة والسلام به د دوی سره تبسم کاوه، وروی البغوي ؒ (يعني بسنده) عن قتادة ؒ قال سئل ابن عمر رضي الله عنهما هل کان اصحاب النبي ﷺ يضحکون؟ قال نعم، والايمان في قلوبهم اعظم من الجبل، فاذا کان الليل کانوا رهبانًا يعني لمونځ د تهجد به يې په ډېر شوق او ذوق سره کاوه، او ترمذي د عبد الله بن الحارث بن جزء څخه روايت کړی دی قال مارئيت احدًا اکثر تبسمًا من رسول الله ﷺ، وروی البخاري عن ابی هريرة رضي الله عنه قال قال ابو القاسم ﷺ لو تعلمون ما اعلم لبکيتم کثيرًا ولضحکتم قليلاً.

درويش وايي: چي دا حديث د حديثو سره د ضحک د اصحاب کرامو رضي الله عنهم او د تبسم د عليه الصلوة والسلام منافي دی ظاهرًا، امام مظهري ؒ صرف احاديث نقل کوي او د جمع کوشش نه کوي، لکن روح البيان د سيدتنا عائشة رضي الله عنها څخه روايت کړی دی چي عليه الصلوة والسلام تېرېدی خلک (يعني بعض صحابه) ناست وه خندل يې يعني بالضحک، فقال ﷺ لو تعلمون ما اعلم لبکيتم آه فنزل جبرئيل ؑ فقال انه تعالی يقول وانه هو اضحک وابکی، نو عليه الصلوة والسلام بيرته راغلی هغو خلکو ته چي خندل يې چي ما څلوېښت گامه نه وه اخستي چي تاسي ته مي هغه خبره وکړه لبکيتم آه چي جبرئيل ؑ راغلی ما ته يې وويل چي بيرته ورسه هغو کسانو ته يعني هغه د مخه خبره چي تا ورته کړې وه او ورته ووايه ان الله يقول انه هو اضحک وابکی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چې په حدیث سره د روح البیان تعارض او منافات د حدیثو دفع سو، او د روح البیان مصنف په (۱۱۲۷) تیر سوی دی، نو تفسیر روح البیان مقدم دی پر تفسیر مظهري ولي چې مظهري په (۱۲۲۵) کي وفات سوی دی چې تخمینًا تر ماینیې سل کاله فرق ستهٔ، نو زه نه پوهېږم چې مظهري د روح البیان و احادیثو ته ولي اعتبار نه ورکوي، ولي دی سند نه ذکروي لکه مظهري او یا یې د ایت په تفسیر کي روح البیان نه ؤ مطالعه کړی، والاظهر هو الاول والله اعلم.

وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ﴿٤٤﴾

او په تحقیق هم هغه خدای انسانان وژني او بیا ژوندي کوي، او پر احیاء او اماتت هیڅ څوک قدرت نه لري لا خلقًا ولا کسبًا، لکن مراد له دې احیاء او اماتت څخه اختلاف دی، بعض وايي چې امات الآباء واحیاء الابناء، او بعض وايي چې یو میت شی پیدا کړي په حیوان چې نطفه ده او بیا هغه ژوندي کړي حیوان ځني پیدا سو، او تخم چې میت ؤ ژوندی درخته ځني پیدا کړي، او روح المعاني په تفسیر کي د انه هو امات واحیا وايي چې حقیقت الضحک بسبب الاماتة والاحیاء لا سیما والموت سبب البکاء غالبًا والاحیاء عند الولادة الضحک، قال الشاعر بالعربیة:

ولدتک امک یا ابن آدم باکیًا .... والناس حولک یضحکون
فاجهد لنفسک ان تکون اذا .... بکوا ضاحکًا مسرورًا

وبالفارسیة:

یاد داری ز روز زادن تو .... خلق خندان بودند و تو گریان
همچنان زی که روز مردن تو .... خلق گریان باشند و تو خندان

درویش وايي: چې د دې عربي او فارسي بیتو مضمون سره یو دی.

وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰ ﴿٤٥﴾ مِن نُّطْفَةٍ إِذَا تُمْنَىٰ ﴿٤٦﴾

او په تحقیق خدای پاک پیدا کړي دي نر او ښځه په ټولو حیواناتو کي، له نطفې څخه د نر او ښځي چې په رحم کي د ښځي توی سي او سره ګډه سي، دا مذهب الضحاک رح دی.

بوه سه: چې آدم و زوجه حوا او عیسیٰ علیه السلام له دې څخه مستثنی دي، کما هو المعلوم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبیه: په دې ایت کې یې ضمیر د هو نه راوړی لکه په نورو ایتو کې لاندلا یتوهم نسبة خلق الزوجين الى غيره عزوجل.

وَأَنَّ عَلَيْهِ النَّشْأَةَ الْأُخْرَىٰ ﴿٤٧﴾

او پر خدای ده خلق الثاني، یعني البعث بعد الموت يوم القيامة.

سوال: کلمه د علی خو لپاره د وجوب ده، او پر خدای عزوجل وجوب د شي نسته بل هو الخالق الجبار؟

ځواب: کلمه د علی دلته مجاز ده لاجل تاکید الموعود من البعث بعد الموت او په تفسير البحر کې وايي چې چونکه مشرکان د بعث بعد الموت څخه منکر وه نو خدای پاک په رد کې د زعم د دوی عبارت د مبالغې راوړی يعني کانه تعالی اوجب ذالک ای البعث على نفسه.

وَأَنَّهُ هُوَ أَغْنَىٰ وَأَقْنَىٰ ﴿٤٨﴾

او خدای پاک دی چې غنی بعضې خلکو ته ورکوي، او ورکوي قنية له اموالو څخه.

پوهه: چې قنية هغه مال ته وايي چې يبقى و يدوم ببقاء نفسه او اصله لکه مېوه داره باغونه کالابل والغنم وغيرهما والبناء، کوټې او بنګلې.

پوښتنه: د اقنى و راوړلو ته څه ضرورت ؤ ولې چې په اغنى کې داخل دی؟

ځواب: سبب د راوړلو يې دا دی چې قنية انفس ته د اموالو او اشرف ته وايي چې باقي او دائم وي کما مر سابقا... يو شاعر وايي:

کم من غني اصاب الدهر ثروته ..... ومن فقير يقنى بعد اقلال

او الضحاک وايي: اغنى بالذهب والفضة وصنوف الاموال واقنى والابل والبقر والغنم، او بعض مفسرين وايي چې اغنى الناس بالكفاية من الاموال واعطى القنية وهي ما يدخرونه بعد الكفاية وفي تاج المصادر، الاقتناء سرمايه دادن و خوشنود کردن، او بعض مفسرين لکه ابن زيد او اخفش وايي چې اقنى په معنى د افقر دی، توجيه د قول د دوی دا ده چې همزه د اقنى لپاره د سلب دی او ازالة نحو اشکيته ای ازلت شکايته، او ابن عباس رضي الله عنهما وايي اغنى واقنى يعني اعطى فاوصى، چې وپس مانده ګانو ته وصيت وکړي.

درويش وايي: چې د اغنى و اقنى متضاد تفسيرونه علماؤ کړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَأَنَّهُ هُوَ رَبُّ الشِّعْرَىٰ ﴿٤٩﴾

او خدای دی پیدا کوونکی د شعری.

يوه سه: چي شعری يو ستوری دی وروسته جوزا ده دا دوه شعريان دي، يوه ته شعری عبور وايي او هغه بلي ته غميصا پر صيغه د تصغير سميت بها ای الغميصا لانها احقر من الاخرى الى العبور، والمجرة چي په فارسي يې کهکشان بولي چي يوه سپينه لار غوندي ده چي د دوبي په وخت کي پر ماينځ د اسمان معلومېږي او مراد دلته شعری عبور ده.

تاريخ قديم وايي: چي د خزاعه قوم د دغي شعرلی عبادت کاوه او اول سړی چي رسم د عبادت د شعری عبور ته يې قوم دعوت کړی يو سړی وُ له سردارانو څخه د خزاعة چي نوم يې ابو کبشه وُ، دې سړي له قريشو څخه د مکې چي عبادت د بتانو بې کاوه مخالفت مختاره کړی، ولما خالف رسول اللهﷺ په دين کي يعني په عبادت کي د بتانو سموه ای قريش ابن ابی کبشه لمناسبة مخالفة قريش في الدين.

فائده: تخصيص د شعری چي په ايت کي يې وکړی سره ددې چي رب او خالق د ټولو ستورو دی لپاره د تنبيه پر دې چي شعرلی مخلوق د خدای ده لا يستحق العبادة مثل اللات والعزلی، او شايي چي يو قوم دې په زمانه کي د ابراهيمؑ هم عبادت د شعرلی کاوه ولذالک ورد التخصيص بها ای بالشعرلی في صحف ابراهيم و موسیٰ.

درويش وايي: چي دا ؤ يو مختصر بيان ددې ايت په متعلق کي، او علامه آلوسيؒ په روح المعاني کي په باب کي د شعريانو اوږدې خبري کړي دي په اخير کي يې ويلي دي کل ذالک من تخييلاتهم الكاذبة.

درويش وايي: چي دا تخييلات کاذبه په حواشيو کي د شرح الچغمني هم راغلي دي لکن شعري عبور چونکه اکبر جرمًا وه او اکثر ضياء وه ځکه معبود د خزاعه وُ گرځېدی.

فائده: قريشو چي عليه الصلوة والسلام ته ابن ابی کبشه وايه يوه مشهوره او د قبول وړ وجه خو يې هغه وه چي قبلاً فقير ذکر کړه، لکن مفسرينو لکه روح المعاني او روح البيان نوري وجهي د تسميه د عليه الصلوة والسلام په ابن ابی کبشه سره هم راوړي دي (۱) يو له نيکه گانو څخه د مور له خوا وُ (۲) ابن ابی کبشة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كنيت وُد وهب بن عبد مناف جده ﷺ (٣) و قيل هو كنية عم ولد حليمة السعدية چي مرضعه د عليه الصلوة والسلام وه.

درويش وايي: چي روح البيان او مظهري ډېر مختصر او په زړه پوري بيان په تفسير كي دد ي ايت كړى دى، والله اعلم بحقيقة الحال.

وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا الْأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَ فَمَا أَبْقَىٰ ﴿٥١﴾

او په تحقيق خداى جلت قدرته هلاک كړي عاديان، توصيف يې په اولى (يعني چي مؤنث د اول دى) سره په دې وكړى چي عاد مؤنث په اعتبار د تأويل د عاد په قبيله سره.

پوه سه: چي دا عاديان قوم د هود ﷺ وه او دوى اول قوم دى چي هلاک كړه سوي دي بعد قوم نوح ﷺ اهلكوا بريح صرصر، د اولى په قيد سره يې احتراز د عاد اخرىٰ څخه وكړى، په تكمله كي وايي چي وصف د عاد په اولى سره دلالت پر دې كوي ان لها ثانية فالاولى قوم هود ﷺ وه چي عاد بن ارم بن عوص بن سام بن نوح ﷺ يعني نسب نامه يې دغه ده، او دوهم عاد د هغو اولاد دى چي د هغو سره موسىٰ ﷺ جنګ وكړى په اريحاء كي.

پوه سه: چي "وثمود" بعض قراء يعني عاصم و حمزة بې تنوينه وايي چي عطف پر عاداً او غير منصرف دى په سبب د علمية او تانيث په تأويل د قبيلة، او بعض قراء يې په تنوين وايي يعني منصرف يې بولي په تأويل د قوم او وقف په الف سره پر كوي، دا ثمود قوم د صالح ﷺ وه هلاک سوه په نعره د جبرئيل ﷺ.

"فما ابقى" احداً اى دو من واحد من الفريقين اى عاد و ثمود احداً او دا احتمال هم سته چي ما ابقى عليهما فالابقاء على هذ التقدير په معنى د ترحم دى (بالفارسية بخشودن) وانما لم يترحم عليهما لكونهما من اهل الغضب ورحمة الله تعالى لاهل اللطف.

وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوا هُمْ أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴿٥٢﴾

او قوم فرعون د مخه تر دوى (يعني اهلكهم د مخه تر عاد او ثمود، تخصيص د قوم يې وكړى لان فرعون اولى و احرىٰ بالاهلاک لانه قال انا ربكم الاعلى) په تحقيق قوم فرعون وه دوى ډېر سخت او ډېر سركښه او اهل طغيان تر عاد و ثمود (هم ضمير فصل دى لپاره د حصر) په سبب د ډېر تبليغ د نوح ﷺ نهه نيم سوه (٩٥٠)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاله او سره د طول تبلیغ دوی پر سرکښي او معصیت او تکذیب ثابت قدم وه او دومره ازار به یې نوح علیه السلام ته رساوه چې له ډېر ضرب و کوب څخه به نوح علیه السلام بېهوښه سو او د خلکو به له ده څخه نفرت کېدی الی غیر ذالک من الاذیة.

وَالْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ۝ فَغَشَّاهَا مَا غَشَّىٰ ۝

او هغه قرلې خدای پاک هلاکې کړې یعنې چپه یې را واړولې، چې قرې د قوم لوط وې "اهوٰی" ای پورته یې کړې جبرئیل الی جانب السماء والاهواء الاسقاط الی الارض مقلوبة.

پوه سه: چې المؤتفکة منصوب دی په اهوٰی سره.

"فغشاها ما غشٰی" دوی هغه شي پټ کړه چې دوی یې پټ کړه، چې د ډېرو باران یې پر وکړی المنفوذة (پې درپې)

پوه سه: چې په کلمه د ما غشی تهویل او تعظیم د ما غشاهم دی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ تَتَمَارَىٰ ۝

په کومو نعمتو ته شک کوې او مجادله کوې (نو باب د تفاعل په معنی د مجرد دی) قال ابن عباس رضی الله عنهما تکذب والخطاب لکل احد، والمعنی لایجوز الشک والمجادلة في آلاء ربک الباهرة والنعماء الظاهرة والقدرة الباهرة (ای الغالبة) بعد ما سمعت احوال الامم السابقة، قیل اراد الخطاب مع الولید بن المغیرة، وقیل الخطاب للنبي صلی الله علیه وسلم.

سوال: ممارات او مجادلة في آلاء الله کي خو علیه الصلوة والسلام نه کوله؟

ځواب: دې ته تعریض وایي پر بل چا چې ممارات کوي.

درویش وایي: چې په هره ژبه کي دا سته، په پښتو کي یو سړی پر خپل سر چې ښه وښتان پر ولاړ وي لاس تېر کړي او وایي چې شکر دی چې یک نه یم، په مجلس کي یو یک ناست وي پر هغه تعریض کوي، وقیل الخطاب للانسان علی الاطلاق قال البغدادي وهو الاظهر والاستفهام للانکار یعنی لاینبغي التماري في نعم الله.

هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْأُولَىٰ ۝

دغه (یعني محمد صلی الله علیه وسلم او القرآن المجید) بېرونکی دی من الکفر والمعاصي.

درویش وایي: چې متعلق یې نه کړی ذکر للانذار عام للمؤمن والکافر لان

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الانذار ليس مختصًا بالكفرة ولي چي داسي انسان نسته چي په ده کي دي ما لا ينبغي نه وي فافهم "من النذر الاولٰى" اى من جنس النذر الاولى اى المنذرين الاولين من الانبياء والمرسلين، او الكتب والصحف النازلة من جانب رب العالمين.

پوه سه: چي الاولى چي مؤنث دى مفرد يې راوړى په تأويل د جماعت لمراعات الفواصل.... سعدي شيرازي وايي:

بگوى آنچه دانى سخن سود مند .... وگر هيچ كس را نيايد پسند
كه فردا پشيمان بر آرد خروش .... كه اوخ چرا حق نكردم بگوش
به گمراه گفتن نكو ميروى .... گناه بزرگست و جور قوى
مگو شهد شيرين شكر فائقست .... كسى را كه سقمونيا لائق است
چه خوش گفت يكروز دارو فروش .... شفاء بايدت دا روى تلخ نوش

درين ابيات سعدى قدس سره اشاره باينست كه انذار بر عموم علماء امت لازم است و در موعظت چاپلوسى نبايد كرد لكن حال اكثر علماء هذا العصر الحاضر معكوس است.

أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ۝ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ اللَّهِ كَاشِفَةٌ ۝

يعني نژدې سو قيامت كما في قوله تعالى اقتربت الساعة، نسته ازفه لره ماسوى د خداى جلت قدرته مظهره ظاهرونكى كما يدل عليه قوله تعالى لا تجلها لوقتها الا هو.

پوه سه: چي بعض مفسرين وايي چي آزفة علم بالغلبة دى د ورځي د قيامت لپاره.

درويش وايي: چي نژدې والى د قيامت په متعددو ايتو كي د قرآن عزيز راغلى دى.

پوښتنه: له وخته ځخه د آدم عليه السلام هر نبي او هر كتاب اعلان د قرب القيامة كړى دى او تر اوسه چي الوف د كلو تېر سوه قيامت نه دى قائم سوى؟

ځواب: هر راتلونكى شى قريب دى او هر ماضي شى بعيد دى، ولنعم ماقيل: قريب كل ما هو آتٍ وبعيد ما هو فات اى مضٰى.

پوه سه: چي دا جمله "ليس لها آه" حال دى د "من الازفة" ځخه، او "كاشفة" چي يې مؤنث راوړى موصوف يې مؤنث دى اى نفس كاشفة، او يا كلمه د تاء لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د مبالغې ده کالعلامة، روح البیان دا توجیه رد کړې ده ولې چې له دې څخه دا توهم پیدا کېدی چې مطلق کشف یې بل څوک هم کولای سي، ولیس کذالک، روح المعاني دا اعتراض را نقل کړی دی وروسته یې ویلي دي وفیه نظر، والله اعلم بما في قلبه من النظر، او دا هم جواز لري چې الکاشفة دې مصدر وي کالباقیة والعافیة، وحاصل الآیة لیس لها من دون الله کشف ولا یکشفها ولا یظهرها من دون الله غیره، او عطاء او قتاده او الضحاک وایي: لیس لها نفس قادرة علی کشف اهوالها وشدائدها (چې زائل کړي دغه بېرې او سختۍ چې په ورځ د قیامت به وي) الا الله تعالی لمن شاء من المؤمنین او خدای عزوجل هم حسب الموعود دا شدائد او اهوال له کفارو څخه نه کشف کوي یعني زائلوي.

أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ۝ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ۝ وَأَنتُمْ سَامِدُونَ ۝

پوهسه: چې همزه لپاره د انکار دی (یعني تعجب د قرآن او خندل پر قرآن تاسي ته مناسب نه ده) او کلمه د فاء عطف ده پر مقدر کما هو القانون النحوي تقدیره اتسمعون "وتضحکون" او خاندئ د استهزاء لپاره او ژاړئ نه خشوعاً وخوفاً من عذاب الله، او یا معنی داده چې تاسي خاندئ پر هغه شي چې تاسي ته خدای درکړی دی من اللذات الدنیویة ولا تبکون تحزناً علی ما فاتکم من الایمان والطاعات.

پوهسه: چې "سمد" په لغت کې غفلت ته وایي له یو شي څخه واللهو، یعني انتم غافلون من عذاب الله علی کفرکم ومعاصیکم، او له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې سمود رفع الرأس تکبراً چې البرطمه یې هم بولي، او عبد الرزاق او البزار او ابن جریر او البیهقي وجماعة عن ابن عباس رضي الله عنهما ان سمود الغناء (یعني سروز او غزل) په یماني لغت کې نو کفارو چې به قرآن واورېدی نو به یې غزلې ویلې او چکچکې به یې ورسره کولې لیشغلوا عن استماع القرآن، وجملة وانتم سامدون حال ده من فاعل لا تبکون، وفي الحدیث الصحیح ان هذا القرآن نزل بالحزن فاذا قرئتموه فابکوا وان لم تبکوا فتباکوا (او که ژړا نه درتله نو په تکلف د ژړا هیئت پر ځان جاري کړئ) ددې سبب دادی چې حزن سړی رسوي خوشحالۍ ته او ژړا د خدای جل جلاله له بېرې سړی رسوي و خندا ته، صائب اصفهاني وایي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنال ای ساکن بیت الحزن از چشم تاریکی
که خواهد صیقلی گشت از جمال روشن یوسف.

فَاسْجُدُوا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوا ﴿٦٢﴾

نو سجده وکړئ د الله لپاره (يعني خشوعًا و تواضعًا لله بوعده و وعيده) او د خدای عبادت کوئ دون غیره تعالی، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي عليه الصلوة والسلام چي ددې ایت په ویلو سره سجده د تلاوت وکړه وسجد معه المؤمنون والمشركون والجن والانس، رواه البخاري وفي رواية ابن مسعود رض غيران شيخًا من قريش اخذ كفًا من حصى (له شگو څخه) یا یې خاوري تندي ته پورته کړې تندی یې پر کښېښود او وه یې ویل یکفيني هذا فلقد رئيته بعد قتل كافرًا او دا كافر اميه بن خلف و، او بخاري وايي چي اول سورة چي په هغه کي سجدة التلاوة راغلې ده سورة النجم دی.

پوښتنه: د زید بن ثابت رض روایت دی چي ما سورة النجم پر رسول الله ﷺ تلاوة کړی ده سجده و نه کړه؟

ځواب: اول دا چي سجده تلاوت خو واجب بالفور نه دی، دويم دا چي شاید علیه الصلوة والسلام به اودس نه درلودی، دریم دا چي علیه الصلوة والسلام ته به یو عذر پېښ و يعني يو سړي به خبره ورسره کوله.

درویش وایي: چي بحمد الله و حسن توفیقه له تفسیر څخه د سورة النجم پر پنځه تاریخ د محرم الحرام په ورځ د یک شنبې وخت د ماپښین (۱۴۳۳) هـ ق، او په هم د غه تاریخ مي شروع په تفسیر د سورة القمر وکړه.

اللهم سهل ويسر تفسير هذه السورة بالخير والعافية والصحة التامة على وجه السداد، والحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله واصحابه الهادين المهتدين وازواجه امهات المؤمنين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة القمر مكية وهي خمس وخمسون آية وثلاث ركوعات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

پوهسه: چي دا سورت اقتربت هم بولي، او له ابن عباس ﷺ څخه روايت دی چي دا سورة په تورات کي المبيضة هم بولي لانها مبيض وجه صاحبها (ای قائلها) يوم تسود الوجوه اخرجه البيهقي لکن بيهقي ويلي دي چي دا حديث منکر دی يعني په صحيح حديثو کي نسته، وجه ذالک ان تلک السورة بالعربية ليست في التورات، ويتوهم منه انه عليه الصلوة والسلام ترجم له بعض الغارقين بلغة التورات ونقل رسول الله ﷺ تلک السورة الى العربية وهذا بعيد غاية البعد لقوله تعالى: انا انزلناه قرآن عربيًا وفي موضع آخر بلسان عربي مبين، او دا سورة په نېزد جمهور القراء مدني دی وقال مقاتل" مکية الاثلث آيات (ام يقولون الى وأمر) او ابن ابی حاتم او الطبراني في الاوسط عن ابی هريرة انزل الله على نبيه ﷺ بمکة قبل يوم البدر، سيهزم الجمع ويولون الدبر، فقال عمر بن الخطاب قلت يا رسول الله ﷺ ای جمع يهزم (عليه الصلوة والسلام جواب را نه کړی) فلما کان يوم بدر او قريشو شکست وکړی نظرت الى رسول الله ﷺ چي توره يې له تېکي څخه کښلي وه وهو يقول سيهزم الجمع ويولون الدبر، فکانت تلک الآية ليوم بدر وان نزلت بمکة.

تفريع: نو چا چي دغه ايت په مشبهاتو کي (يعني حال يې معلوم نه دی چي مکي دی که مدني) راوړی دی يعني چي مکي نه دی خطا وتلی دی والله اعلم.

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ①

يعني نژدې سو جدًا قيامت او سره دوې ټوټې سوه سپوږمۍ يعني په زمانه کي د عليه الصلوة والسلام قبل الهجرة پېښه کاله، په حديث مبارک کي په روايت د شيخانو او ابن جرير عن انس ان اهل مکة سؤال وکړی چي ته موږ ته علامه ستا پر صحت د نبوت را ښکاره کړه، نو عليه الصلوة والسلام د انشقاق القمر معجزه ورښکاره کړه حتی چي د سپوږمۍ يوه حصه پر غره وه او بله ټوټه تر غره کښته، او په يوه روايت کي راغلي دي چي يو يهودي چي د ابو جهل مېلمه، نو ابو جهل ورته وويل چي په موږ کي يو سړی دی چي دی وايي زه نبي او رسول من الله يم ته بې درک نه کړې را معلوم؟ هغه ورته وويل که ما وروليږ زه يې سمدلاسه معلومات در ته کوم،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي چي د ساحر سحر پر اسمان نه چلېږي، خير څو ورلس تايخو د مياشتي چي سپوږمۍ د بدر په حالت کي وه د شپې په کمال نور کي وه، نو يهودي و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي ته سپوږمۍ ته اشاره وکړه چي دوه ځايه سي او بيرته اشاره ورته وکړه چي سره ضم سي يعني جوته سي، عليه الصلوة والسلام هم داغسي وکړه.

درويش وايي: چي روح المعاني وايي چي ابو نعيم له ابن عباسؓ څخه روايت کړی دی: ان احبار اليهود سئالوا، اية فارأهم الله القمر قد انشق لايعول عليه پر دې اعتماد نه کېږي.

سوال: تا د مخه وويل چي يو يهودي د ابو جهل کره مېلمه راغلی و النخ، نو دا ستا د مخه خبره به د روح المعاني د قول سره مخالفه نه وي؟

ځواب: روح المعاني هغه روايت رد کړی و چي احبارو د يهودانو دا سوال کړی و زما په تېر سوي حکايت کي خو يهودي و چي په امر د ابو جهل يې دا پوښتنه وکړه، وفي البخاري و مسلم وغيرهما من حديث ابن مسعودؓ قال انشق القمر على عهد رسول اللهﷺ فرقتين فرقة (يوه ټوټه يې فوق الجبل وه) او يوه فرقه دون الجبل وه، فقال رسول اللهﷺ اشهدوا، ومن حديث ابن مسعودؓ ايضًا وانشق القمر على عهد رسول اللهﷺ فقالت قريش هذا سحر ابن ابى كبشة (چي مراد يې عليه الصلوة والسلام و كما مر بيانه) نو يو سړي له قريشو څخه وويل چي تاسي انتظار وکړئ چي مسافران راسي، ولي چي محمد خو دا طاقت نه لري چي پر ټوله دنيا دي سحر وکړي مسافرين چي راغله هغو هم د انشقاق القمر کېده تائيد کړه، ولي د بدر سپوږمۍ خو هر څوک ويني، فانزل الله اقتربت الساعة وانشق القمر، او ابو نعيم في الدلائل له ابن عباسؓ څخه روايت کړی دی که څه هم روايت يې ضعيف دی وايي: اجتمع المشركون على عهد رسول اللهﷺ منهم وليد بن المغيرة و ابو جهل بن هشام العاص بن وائل والعاص بن هشام والاسود بن عبد يغوث والاسود بن المطلب و ربيعة بن الاسود والنضر بن الحارث فقالوا للنبيﷺ ان كنت صادقًا (يعني في دعوىٰ النبوة) فشق لنا القمر فرقتين نصفًا على ابى قبيص ونصفًا على قينقاع؟ فقال لهم النبيﷺ وان فعلت که داسي وکړم تاسي ايمان راوړئ؟ دوی ورته وويل نعم، نو رسول اللهﷺ و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای عزوجل ته خواست وکړی ان یعطیه ما سئالوا، نو وګرځېده میاشت دوې ټوټې علی نحو ما سئالوا، نو علیه الصلوٰة والسلام دوی ته ناري کړې اشهدوا، لکن یوه هم ایمان نه راوړی (الفتوی المتفق علیه للمفسرین)

روح المعاني وايي چي احاديث صحيحه په انشقاق القمر کي ډېر دي، واختلفوا في تواتره فقيل هو غير متواتر، وفي شرح المواقف للسيد الشريف الجرجاني" انه متواتر وهو الذي اختاره العلامة ابن السبكي" في شرح مختصر لابن حاجب" الصحيح عندي ان انشقاق القمر متواترة منصوص عليه في القرآن، او بخاري او مسلم او په نورو کتابو کي د احاديثو من طرق شتّٰی بحيث لا يمترى في تواتره انتهى چي په تواتر کي يې شک نسي کېدای، وقد جائت احاديث صحيحة عن جماعة من الصحابةﷺ منهم علي وانس وابن مسعود وابن عباس وحذيفة وجبير بن مطعم وابن عمرﷺ ان لم يحضر تلك الواقعة كابن عباس" فانهم لم يكن مولودًا في تلك الواقعة، وانس فانه ابن اربع سنة او خمس بالمدينة، وهذا لا يطعن في صحة الخبر.

درويش وايي: چي اکثره مذکوره خبري د روح المعاني وې لکن روح المعاني نوري اوږدې خبري کړي دي ما يې په تفسير ايوبي کي ګنجائش نه درلودی، او مظهري په څو روايتو متحدة المآل سره انشقاق القمر بيان کړی دی، او بعضو علماؤ داسي ويلي دي چي دا انشقاق په ورځ کي د قيامت دی آه.

درويش وايي: چي دا قول ليس بشيئ او مخالف لقول اكثر الصحابة ولاقوال اكثر المفسرين، وفي فتح الباري شرح البخاري لابن حجر" حنين الجزع وانشقاق القمر كل منهما مشهورًا يفيد القطع واليقين عند من يطلع على طرق الحديث انتهى، وقال الطيبي" اسند ابو اسحاق الزجاج (١٩) حديث في تفسيره الى رسول اللهﷺ في انشقاق القمر بمكة .... بيت:

شق گشت ماه چهارده بر لوح سبز چرخ .... چون خامه د بيرزد تيغ بناف او

وقال الجامي":

چو مه را بر سپر كـــرده اشارت	زد از ســبا بـه تـيـر اشـــارت
دو نــون شد ميـم دور حـلـقـه ماه	چهل را لا ساخت او شصت از دو پنجاه
بلی چون داشت دستش بر قلم پشت	رقــم زد خــط شـق بــر مه ز انگشت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ﴿٢﴾

كه و ويني (كفار د مكې) يوه معجزه (چې دلالت كوي پر صدق د عليه الصلوة والسلام په دعوىٰ كې د رسالت من الله عزوجل) دوى روى گرداني كوي (له تأمل څخه په هغه معجزه كې او له ايمان څخه) او دوى وايي چې دا سحر دى (نو سحر خبر د مبتداء محذوفي دى اى هذا) "مستمر" اى ذاهب سوف يذهب دا سحر به هم تېر سي لكه نور مستمر مشتق دى من قولهم مر و استمر بمعنى ذهب (يعني د مجرد او د باب د استفعال ترجمه يوه ده) كذا قال مجاهد و قتادة وقال ابو العالية والضحاك مستمر قوى شديد يعلو كل سحر مراد دوى انشقاق القمر دى مأخوذ من قولهم مر الحبل (رسى) اذا صلب واشتد و من قولهم امرأت الحبل اذا احكمت فعله واستمر الشيئ اذا قوى اذا اشتد مرارته، او بعض مفسرين وايي سحر متتابعة يعني يو په بل پسې يعني ګاهي يو سحر وكړي ګاهي بل.

وَكَذَّبُوا وَاتَّبَعُوا أَهْوَاءَهُمْ ۚ وَكُلُّ أَمْرٍ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾

او دوى تكذيب وكړي د نبي ﷺ او د قرآن او د هغه شي چې دوى په خپلو سترګو وليدى من انشاق القمر (وكذبوا عطف على انشق) او متابعت يې وكړى د وحي منزل.

سوال: متابعت د دوى خو په حال حاضر كې ؤ نو بايد مضارع راوړل سوى ماضي يې د څه لپاره راوړى؟

ځواب: د دوى لپاره چې دا تكذيب د رسول او قرآن د دوى عادت قديمه ؤ نه يوازې په وقت حاضر كې.

"وكل امر مستقر" والمعنى كل امر مستقر اى منة الى غاية تسقر عندها لا محالة ومن ذالک امر النبي ﷺ يا به يې خذلان وكړى يعني كومک به نه ورسره وكړي او يا نصريا به كومک ورسره وكړي في الدنيا من غلبة على اعدائه واعلاء كلمة الاسلام كما وقع له ﷺ.

سوال: دې ته ولي مستقر وايي؟

ځواب: هر شى چې خپل پاى ته ورسېږي استقر دى كذا قال مقاتل، وقيل كل امر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مقدر من عند الله مستقر كائن لا محالة وكل امر وعده الله تعالى كنصرة النبي ﷺ واعلاء كلمة الله واقع لا محالة لامتناع الكذب على الله عزوجل وقد كان كذالك.

﴿وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّنَ الْأَنبَآءِ مَا فِيهِ مُزْدَجَرٌ﴾

اى الى كفار مكة (من الابناء) اى اخبار الامم الماضية الكافرة او ابناء امور الآخرة من الجنة والرضوان لاهل الايمان والعذاب والنار لاهل الطغيان.

اصله مزتجر وُ تاء د افتعال يې و دال ته واړول کلمه د ما موصوله ده يا موصوفه او مزدجر مصدر ميمي دى په معنى د ازدجار يعني الذي (كه ما موصوله وي او شيئ جائهم كما موصوفه سي) په هغه موعظت دى د ازدجار چي سړى د كفر او معاصيو څخه توبه وكاږي او د اوامرو د خداى ج امتثال وكړي فان هلاك الامم الماضية يقتضى ذالك ... بيت:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند

﴿حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ﴾

"حكمة" بدل دى له "ما" څخه في قوله ما فيه مزدجر "بالغة" يعني غاية متناهية في كونها حكمة لا خلل فيها، او يا معنى داده قد بلغت الغاية في الانذار والنهى والموعظة، في القاموس الحكمة بالكسر العدل والعلم والحلم والنبوة والقرآن، نذر جمع د نذير ده كلمه د ما يا نافيه ده يا استفهاميه لپاره د انكار دى والمعنى فلم تغن النذر (على تقدير كون ما نافية) او يا به څه غنا وكړي يعني النذر يعني لا ينفع النذر فالمآل واحد.

﴿فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ نُّكُرٍ﴾

نو ته يا محمد (ﷺ) چي انذار فائده نه ورته كوي مخ څني واړوه، په هغه ورځ چي ناره وكړي ناره كونكى و داسي شي ته چي نابلده او فضيع وي چي نفوس يې نه پېژني او انكار څني كوي ولي تر اوسه يې نه وُ ليدلى وهو هول يوم القيامة.

پوهه: چي دا ايت منسوخ دى په اية القتال سره، او "يوم يدع الداع" يا منصوب دى ظرف دى ليخرجون يا مفعول به دى د اذكر مقدر، وقيل ننتظر يعني ته انتظار وكړه و هغي ورځي ته، او يا ظرف مقدم ده يقول الكافر دى، او يا ظرف دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تول ای تول عن شفاعتهم يوم يدع آه چي مراد ځني ورځ د قيامت ده، والمراد بالدعی هو اسرافيل چي پر صخره د بيت المقدس و دريږي او داسي و وايي يا ايها العظام النخرة والجلود المتمرقة ان الله يأمركن ان تجمعين لفصل الخطاب يعني الثواب والعذاب، رواه ابن عساكر عن بن جابر الشافعي.

فائده: حذف الواو من يدع لالتقاء الساكنين ای الواو في يدعوا واللام المدغمة يعني لفظًا خو په دغه سبب او رسمًا چي حذف کړی اتباعًا لرسم المصحف العثماني او اتباعًا للفظه، الكلمة يا په الداع كي حذف كړه تخفيفًا.

پوه سه: چي عرب نكر كنايه بولي د خوفناک شي لانه في الغالب منكر.

فائده: الحسن او ابن كثير دا لفظ نكر وايي باسكان الكاف كما في عشر وعشر.

خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴿۷﴾

عاجزه ذليل به وي سترگي د دوی، او اجداث جمع د جدث ده وهو القبر. والمعنى يخرجون من القبور، لكه هوايي مچخان چي په سېل راسي ځوک پر مځکو ځغلي ځوک پر بل طرف روان وي، تشبيه يې په كثرت او انتشار كي ده.

مُّهْطِعِينَ إِلَى الدَّاعِ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿۸﴾

چابک روان وي، ابو عبيده وايي چي بعض مفسرينو دا قيد هم ورسره زيات کړی دی مادی اعناقهم (غاړي يې ځکې نيولي وي) وقال عكرمة چي غوږونه يې خلاص نيولي وي و داعي ته يعني اواز ته، او وايي به كافران چي ډېره سخته ورځ ده، ولي چي دوی وويني خپل حال چي سوء العذاب دی، وعن ابن عباس ناظرين اليه لا تقلع ابصارهم، سترگي نه رپوي، وفي رواية عنه خاضعين.

فائده: په اسناد کي د قول مذكورو كافرانو ته اشاره وده ته ده چي مؤمنان به داغسي نه وي ببركة ايمانهم واعمالهم الحسنة.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ﴿۹﴾

تكذيب کړی دی دوی د مخه تر كفارو د مكې (چي رسول به يې كاذب باله په دعوی كي د رسالت، تانيث د كذبت په اعتبار د تأويل د قوم دی په قبيله سره) يعني زموږ د بنده نوح عليه السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: عبدنا يې و وايه رسولنا يې نه وو وايه لان مقام العبودية فوق مقام الرسالة كما في اشهد ان محمداً عبده ورسوله، سر يې دا دی چې په عبودية سره وصال دی د رب العزة سره او په رسالت کې فراق دی په اعتبار التبليغ الى الخلق، تخصيص د نوح چې يې وکړی له دې سببه چې هغه زر کاله په پنځوس کم په تبليغ کې سر ګردانه وُ په دوران کې د نبوت دده قرنونه قرنونه تير سوه هر قرن چې راغلی اشد تر دمخه قرن به يې دده تکذيب کاوه وهذا القانون جار فيهم الى الف سنة الا خمسين عاماً.

پوه سه: "وقالوا" عطف دی پر کذبوا او دوی به وويل "مجنون" خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو "وازدجر" عطف دی پر قالوا وهو اخبار من الله عزوجل يعني زجروه دی منع کاوه څخه بانواع الاذية والتخويف لکه ابن زيد چې ويلي دي او د ايت شاهد خپل وګرځاوه لئن لم تنته يا نوح لتکونن من المرجومين، وقال مجاهد هو من تمام قول القوم ای هو مجنون وازدجرية الجن يعني پر دماغ يې پيريان مسلط سوي دي دماغ يې ور خراب کړی دی، او دا ايت پر دې دلالت کوي چې فعل ددوی دپر بد وُ تر قول ددوی.

درويش وايي: چې په دې ايت سره تسلي ده و عليه الصلوة والسلام پر اذيت د مکې والو ده لره او په عين حال کې وعد کريم دی لکه نوح عليه السلام چې له اذيت څخه د قوم خلاص سو، نو ته به هم له اذيت څخه د کفارو د مکې خلاص سې.

فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ ۝

"فدعا" ای نوح "ربه" وروسته تر دې چې خدای پاک ده ته وحي وکړې انه لن يؤمن من قومک الا من قد امن فلا تبتئس بما کانوا يفعلون "اني مغلوب" ای باني مغلوب من قومي "فانتصر" زما کسات او انتقام له دوی څخه واخله بنزول عذاب عليه، د دعاء کلمات يې په بل ايت کې داسې راغلي دی: قال رب لا تذر على الارض من الکافرين دياراً انک ان تذرهم يضلوا عبادک ولا يلدوا الا فاجراً کفاراً.

فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُّنْهَمِرٍ ۝

درويش وايي: چې بعض مفسرينو دا عبارت او نظم جليل پر استعاره تمثيله حمل کړی دی چې فهم يې پر متعلمينو د تفسير ايوبي ډېر ګران پر بوځوي، نو له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې ابن المنذر او ابن ابی حاتم يې روايت کړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، ابن عباس رضؓ وويل چي تر طوفان نوح لم تمطر السماء قبل ذالك اليوم ولا بعده الا بواسطة السحاب لكن په طوفان نوح كي د روازې د اسمان بيله وريځي ورښت ته ايله كړې في ذالك اليوم، په يو روايت كي راغلي دي چي څلوېښت ورځي مسلسل باران شروع وُ، ترجمه: نو مونږ خلاصي كړې د روازې د اسمان و معنى المنهمر هو المنصب صبا شديدا چي په پښتو يې د شرف باران بولي، ومن الاعاجيب چي پر قوم د نوح د باران څو كاله يعني د اورښت د روازه بند وه او دوى فاهلكهم الله بمطلوبهم يعني دوى باران غوښتى.

وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَىٰ أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ

اصل كلام خو دا وُ فجرنا عيون الارض (مونږ خلاصي كړې چينې د مځكي) لكن په اية كي عيونا تمييز د نسبت وګرځاوه د مبالغې لپاره كانه قال جعلنا الارض كلها عيونا.

پوهه: چي التقاء باب د افتعال په معنى د تفاعل دى ولي چي اوبه د اسمان هم ورېدې او د مځكي څخه هم راوتلې.

سوال: باب د تفاعل خو دوه فاعل غواړي مثل ضارب زيد وعمرو دلته خو يې فاعل يو دى يعني الماء؟

ځواب: چونكه الماء اسم جنس دى يطلق على الواحد والكثير نو الماء يې يو او مفرد راوړى، نو ګويا داسي يې وويل فالتقى الماءان يعني ماء السماء والارض المخلوط.

وَحَمَلْنَاهُ عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ

او مونږ ګرځولي وُ دى، ضمير راجع دى و نوح عليه السلام ته.

سوال: د نوح عليه السلام سره خو په كښتۍ كي من آمن به او دده زامن او د هغو زوجات هم وې د هغو ذكر يې ونه كړى؟

ځواب: لانهم تابعين له فلا حاجة الى ذكرهم.

"على ذات" اى على سفينة "ذات الواح" چي عريض من الخشب يعني فراخي تختې د لرګي "دسر" جمع د دسار ده او يا د ديسر ده يعني مېخونه چي پر تختو ټكوهلي وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د نوح عليه السلام د کښتۍ تختې د ساج وې وهو شجرة عظيمة في الهند.

بوه سه: چې د سر په عربي مسامير هم بولي.

تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا ۚ جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ﴿۱۴﴾

"تجري" حال دی من ذات الواح څخه يعني روانه وه دا کښتۍ د اوبو پر مخ "باعيننا" اى محفوظة بحفظنا من الغرق که څه هم اعين جمع د عين ده چې سترگي ته وايي لکن په عربي ژبه کې کنايه د حفظ ده يقولون فلان في عيني اى في حفاظتي، فلا يرد ان الله عزوجل ليس بجسم حتى يكون له عين "جزآء" مفعول به دی يعني فعلنا ذالک يعني من حفاظة نوح ومن معه واغراق الآخرين اى الكفرة لاجل الجزاء "لمن كان كفر" د هغه چا لپاره چې کفر يې مختاره کړی ؤ او شکر د نعمت د خدای يې نه وايه چې نوح عليه السلام ؤ، ولي هر نبي نعمت دی د خدای ورحمت على امته او شکر د نعمت د خدای واجب دی، نو شکر د نبي د را استولو الايمان به او کفران د نعمت يې الكفر به.

وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۵﴾

او مونږ پرې ايښې دی دا فعلة مذكورة اى قصتها "آية" دليل پر قدرت زمونږ او پر صدق د انبياء عليهم السلام، او قتادة وايي چې ضمير منصوب راجع دی و سفينة ته اى لقد ابقى الله السفينة بارض الجزيرة، وقيل بالجودي دهراً طويلاً حتى نظرها اوائل هذه الامة المرحومة.

بوه سه: چې اصل د "مدكر" مدتكر ؤ على وزن مفتعل نو تا يې په دال واړول للتناسب في قرب المخرج ثم ادغم الدال في الدال للتجانس.

بوه سه: چې استفهام لپاره د اغرا او باعثه کولو دی پر ادكار والاتعاظ يعني پند گرفتن... سعدي شيرازي وايي:

پند گير از مصائب ديگران ..... تا نگيرند ديگران زتو پند

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿۱۶﴾

نو څرنگه ؤ عذاب زما چې قوم ته د نوح مې ورکړی اى الطوفان.

بوه سه: چې استفهام لپاره د تعظيم او تهويل دی، والفاء للسببية فان القصة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السابقة سبب للتهويل و التعجيب چي خلک په تعجب کي واچوي، ونذر جمع د نذير ده، وقال الفراء الانذار و النذر مصدران دي کالايقان و اليقين والانفاق و النفقة وکيف خبر کان قدم لاقتضائها صدر الکلام بسبب الاستفهام.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿١٧﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی، ای والله چي په تحقيق موږ اسانه کړی دی قرآن لپاره د اتعاظ (پند گرفتن) ولي په قرآن عزيز کي خدای عزوجل انواع د مواعظو او د عبرتو او د وعيد د کفارو او احوال د امم ماضيه ؤ لپاره د عبرت او يا معنی دا ده چي اسانه کړی دی قرآن لپاره د حفظ چي هم مختصر دی او عبادات يې خواږه دي.

فائده: دا جمله قسميه خدای عزوجل په اخير کي د ټولو قصو راوړه لپاره د تقرير د ټولو قصو تقريراً لمضمون ماسبق من قوله تعالی (ولقد جائهم آه)

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ﴿١٨﴾

تکذيب وکړی قوم د عاد چي نبي هود عليه السلام ؤ د هود بل جميع الانبياء عليهم السلام لانهم متفقون في اصول الدين.

پوه سه: چي دا شروع د بلي قصې لپاره د عبرت د کفارو د مکې ده.

پوښتنه: دا قصه او وروسته قصې يې ولي يو پر بل عطف نه کړې؟

ځواب: لپاره د اشارې وه دې ته چي هره قصه ددې قصو څخه مستقل ده په عبرت او پند اخستو کي او چونکه د قوم د نوح عليه السلام بل نوم نه درلود دی نو ځکه يې په اضافت ذکر کړی يعني قوم نوح عليه السلام.

سوال: نوع د تکذيب د عاد يې نه کړه ذکر روما للاختصار و مسارعة الی مافيه الاذدجار من العذاب.

اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْ يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾

پوه سه: چي صرصر ويخ باد ته وايي په قول د ابن عباس رضی الله عنه او قتاده او الضحاک رحمه الله وقيل شديدة الصوت، په پښتو وايي چي برهاری يې کاوه وقدمر في صورة فصلت في يوم نحس، په هغه ورځ کي شوم وه پر دوی په پښتو سوی پاله.

"مستمر" چي همېشه پر دوی تر وخت د اهلاک د دوی صغير هم و کبير هم فلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يبق منهم احداً، البغوي" وايي چي د چهارشنبې په ورځ کي اخير الشهر، کما قال البيضاوي دد ې ايت په تفسير کي.

تَنْزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنْقَعِرٍ ﴿٢٠﴾

کافران عاديان به يې را ايستله د خپلو کورو ځخه، نو بيضاوي وايي چي دوی د باد له کبله په غارو ننوتل او يو و بل به يې سره ټينګ کړي وه باد به په غارو پسي ور ننوتی او د دوی لاسونه به يې سره ايله کړه او د اسمان له خوا به يې پر سرو ور رايله کړه مغزی به يې غوټ مات سو.

"منقعر" لکه بېخونه د خورما د درختي چي د خپل ځايه و خېژي پر مځکه را ايله سي، وجه د تشبيه يې داده چي د خورما درختي غالبًا طويلي وي او عاديان هم په طول القامة کي ضرب المثل وه.

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾

قد مر شرح مثل هذه العبارة

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾

قد مر تفسيره ايضًا.

پوښتنه: پر هود عليه السلام خو بعض عاديانو ايمان راوړی ؤ نو هغه له باد ځخه د نجات ځه حکمت عملي کړی ؤ؟

ځواب: هود عليه السلام ته د مخه تر باد را الوتلو خدای د اسي وحي را استولي وې چي مسلمانان سره جمع کړه يو خط پر راوګرځوه، ده داسي وکړه نو باد په هغه نه ور ننوتی.... ابيات نصيحت آميز مناسبة لقوله تعالی بعد عدة من هذه القصص يعني فهل من مدکر.

چو بر گشته بختی درافتد به بند .... از و نيک بختان بگيرند پند
تو پيش از عقوبت در عفو کوب .... که سودی ندارد فغان زير چوب
فراشو چو بينی درصلح باز .... که ناگاه درتوبه گردد فراز
مرو زير بار گنه ای پسر .... که حمال عاجز بود درسفر
پی نيک مردان ببايد شتافت .... که هر کين سعادت طلب گرديافت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولکن تو دنبال دیو خسی .... ندانم که در صالحات کی رسی

فائده: عادیان چي په باد سره هلاک کړه خدای عزوجل که څه هم باد یو ضعیف شی دی بناء علی اغترارهم بقوة اجسامهم.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾

پوهه: چي تانیث د فعل مسند و ثمود په اعتبار د تأویل د دوی دی په قبیله سره بالانزارات والمواعظ والرسول ورسولهم کان صالح علیه السلام، یا مراد دادی چي د ټولو رسولانو یې تکذیب وکړی لان تکذیب الواحد منهم تکذیب الکل لاشتراکهم في اصول الشرائع.

فَقَالُوا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُ إِنَّا إِذًا لَّفِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾

"منا" ای کائنا من جنسنا.

پوهه: چي جار او مجرور په ځای کي د صفت دی د بشرًا او بشرًا منصوب دی علی شریطة التفسیر یعني وروسته فعل یې تفسیر دی یعني نتبعه "واحدًا" ای منفردًا معنی دا چي اتباع هم نه لري یا معنی داده چي موږ غوندي یو سړی دی یعني له اشرافو څخه هم نه دی "نتبعه" موږ یې متابعت کوو، والاستفهام للانکار یعني د دې سړي لکه صالح علیه السلام موږ متابعت نه کوو، د دوی مراد دا ؤ چي دی د ملکو د جنس څخه وای یا د شاهانو څخه د بشر وای موږ بی اتباع کړې وای.

"انا اذًا" په تحقیق موږ په دغه وخت کي چي د صالح علیه السلام غوندي چي تاسي صفات اوربدل متابعت وکړو، په لویه گمراهي او خطاء کي به یو (فالتنوین للتعظیم)

پوهه: چي وهب بن المنبه" وایي چي د "سعر" معنی ده ای بُعدًا من الحق، وقال الفراء" في جنون، وقال قتادة معناه في عناد، او بعض مفسرین وایي چي سعر جمع د سعیر ده قال ابن عباس معناه في عذاب، وقال الحسن" في شدة عذاب.

فائده: صالح علیه السلام به قوم ته ویل چي که تاسي زما متابعت ونه کړئ تاسي به په ضلال د حق یاست او په سعیر کي یعني په اور کي به یاست، دوی به عکس ورته وکړی چي که موږ ستا متابعت وکړو نو موږ به ضلال عن الحق او په اور کي به یو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ءَاُلْقِیَ الذِّکْرُ عَلَیْهِ مِنْۢ بَیْنِنَا بَلْ هُوَ کَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾

استفهام لپاره د انکار دی آیا ده ته راغلی ذکر ای الوحي والکتاب زموږ په منځ کي چي اشراف راپکښې دي لکه کفارو د مکې چي به ویل لو لا انزل هذا القرآن علی رجل من القریتین عظیم، یعني په مکه کي ولید بن المغیرة چي غټ سرمایه داره سړی ؤ او ډېر اتباع یې درلوده او لس زامن یې هم وه او په طائف کي عروة بن مسعود الثقفي چي هغه هم له اشرافو څخه په طائف کي ؤ "بل هو کذاب اشر" دی ډېر دروغ وایي پر خدای باندي "اشر" یعني کبرجن پر موږ باندي سرداري غواړي په دعوی سره د نبوت، اضراب دی له نفي څخه د فضیلة و دعوی ته د رزیلة فیه.

سَیَعْلَمُوْنَ غَدًا مَّنِ الْکَذَّابُ الْاَشِرُ ﴿۲۶﴾

دوی به پوه سي سبا یعني هغه وخت چي پر دوی عذاب نازل سي، او الکلبي وایي یوم القیامة من الکذاب الاشر، آیا دوی دي که صالح ﷺ دی، او بعض قراء یې ستعلمون په تا د خطاب وایي والخطاب لهم مبني عن الالتفات من الغیبة والجملة استیناف ده في جواب ما شانهم.

فائده: دوی له صالح ﷺ څخه معجزه وغوښتل چي صدق د ده دلالت وکړي په دعوی د نبوت او معجزه یې صرف تعنت او ضد ؤ ولي د دوی په ګمان دا معجزه ناممکنه ورتله (چي دوی ډېري دي یعني غر في الجملة کوچنی ؤ) چي له دې څخه به اوښه راوزي حمراء وه په رنګ سره او عشرا یعني د لسو میاشتو بلاربه به وي چي اوښه پر لسمه میاشت لنګېږي من صخرة عتق ها او جونګی به یې په قد اقامت لکه مور وي، قال الله تعالی انا مرسلوا الناقة فتنة لهم لپاره د امتحان د دوی چي دوی به په معجزه سره ایمان راوړي که نه.

اِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿۲۷﴾

موږ را استوو (یعني راباسو) اوښه "فتنة لهم" یعني امتحان د دوی لپاره، نو ته انتظار وکړه "واصطبر" ته صبر کوه یا صالح پر ازار د دوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾

چي دوی به حیوانات او مواشي پر اوبولې د دغه څاه قسمة بین الناقة وبین مواشیهم چي یوه ورځ به د اوښې وا روي بله ورځ به د دوی د مواشیو نوبت وي "کل شرب" محتظر یعني چي هر یو به حاضریږي پر خپل نوبت.

درویش وایي: چي دا دوی ته ډېر گران تمامېدل چي یوه ورځ بې ټول مواشي پر کور وږي او تږي ورته ولاړ وای.

فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾

"فنادوا" یعني وخپل مشر ته چي قذار بن سالف وُ مضمون د نداء یې دا وُ چي د دې اوښې څخه موږ تنگ یو هلاک به یې کړو او به به یو ازي موږ ته پاته سي "فتعاطی" هغه صاحب د دوی راواخستل توره (یعني نور کسان هم ورسره وه)

"فعقر" د اوښې پښې یې ور پرې کړې (او ذبح یې کړه او غوښې یې سره وېشلې) جونگې چي مور ولیدل چي مړه یې کړه نو جونگی د هغه غره و خواته چي موریې ځني راوتلې وه ورغلی او درې ناري یې وکړې په هغه غره ننوتی، صالح ﷺ چي په دې خبري خبر سو قوم ته یې وویل چي دا دې درو نعرو مقصد دادی چي درې ورځي وروسته پر تاسي عذاب نازلېږي اوله ورځ چي تاسي سهار راکښېنئ مخان به مو تک ژړ وي لکه زعفران، دوهمه ورځ چي تاسي راکښېنئ مخان به مو تک سره لکه وینې داسي وي او دریمه ورځ چي راکښېنئ مخان به مو تک تور وي نو عذاب د خدای عزوجل به دربانديي نازل سي، او هغسي وسوه.

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾

درویش وایي: چي قدمر معنی هذه الآیة مرارًا اوس خدای عزوجل نوع د دوی د عذاب بیانوي، فقال.

إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾

موږ نازل کړه پر دوی یوه ناره، یعني ناره وکړه جبرئیل ﷺ لویه ناره یو وار "فکانوا" ای فصاروا دوی وگرځېدل.

یوه سه: چي ابن عباس ﷺ وایي چي محتضر هغه ځای ته وایي چي یو سړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د خپلو پسو د ساتنې لپاره د لرګیو څخه د بوالونه او د څوزانو څخه یو ګاش جوړ کړي او د ثنه په ګاش کې پسو ته وچ وابښه د خورک لپاره هم واچوي، نو پسونه هغه څه چې د ګاشه څخه راولوېږي یا هغه وچ وابښه دوی پکښې ګرځي او میده میده هغه ته یې خوري هغه ته هشیم وایي، والحاصل چې په نعره د جبرئیل ثمودیان داسې ریزه ریزه سوه لکه د ګاش وابښه.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ۝

درویش وایي: چې د مخه تېر سوی دی بیان او تفسیر د دې عبارت قرآني په تفصیل سره، او س بیان د بل قوم د کافرانو کوي خدای عزوجل اجمالاً.

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطٍ بِالنُّذُرِ۝

قوم لوط سره د کفره یو بل شوم کار هم کاوه وهو اللواطة مع الرجال.

درویش وایي: چې دا مذکوره ټولې قصې په نورو ځایو کې د قرآن عزیز تېرې سوي دي دلته یې راوړل صرف د اجمالي انذار لپاره دي.

پوه سه: چې تفسیر د دې عبارت قرآني هم د مخه تېر سوی دی فتذکر.

اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ۝

موږ را واستولې پر دوی لپاره د هلاک د دوی، مظهري وایي چې حاصب هغه باد ته وایي چې شیګې پاشي، او روح المعاني وایي ای ملګا چې دوی یې وېشتل په ډبرو، او ابن عباس وایي هو ما حصبوا به من السماء من الحجارة في الریح، او بعض مفسران وایي چې حصباء هغه ډبرې ته وایي چې تر ملئ الکف کم وي.

پوه سه: چې "الا آل لوط" استثناء ده من الضمیر المجرور في علیهم، یعني اهل بیت د لوط علیه السلام چې نجات یې پیدا کړی له عذاب څخه، بعض وایي چې دیارلس (۱۳) نفره وه، او په کشف الاسرار کې وایي چې د لوط علیه السلام لونې وې او د هغو مړونه وه چې ایمان یې راوړی ؤ "ونجیناهم بسحر" موږ نجات ورکړی دوی ته "بسحر" ای في سحر من الاسحار، بعض رواة وای چې په ثلث اخیر کې د شپې، او بعض وایي چې په سدس اخیر کې د شپې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نِّعْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا ۚ كَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ شَكَرَ ﴿٣٥﴾

("نعمة" مفعول له دی د نجينا "من عندنا" زمونږ له جانبه څخه، صفت دی د نعمة) او داغه رنګه مونږ نجات ورکوو (يعني په دنيا او اخرت کي) و هغه چا ته چي زمونږ د نعمت شکر وو ايي بالايمان بالله وحده والطاعة.

وَلَقَدْ أَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله په تحقيق انذر لوط قومه "بطشتنا" زمونږ د نيولو څخه په عذاب سره ان لم يؤمنوا "فتماروا بالنذر" ای کفروا بلوط وشکوا في الانذار.

درويش وايي: چي د قوم لوط د اهلاک لپاره خدای پاک ملکي را واستولي چي جبرئيل عليه السلام يکښي موجود ؤ پر صورت د ښائسته هلکانو نو دوی د مېلمنو په رنګه د لوط عليه السلام کور ته ورغله او لوط عليه السلام هم نه پېژندل چي دا ملکي دي بلکې خيال يې د مېلمنو پر کاوه، نو د قوم څخه د لوط يو چا وليدل چي ښائسته هلکان د لوط کره مېلمانه راغلي دي، نو دوی په قصد د لواطت حسب العادة د لوط عليه السلام کور ته ورغله، لوط عليه السلام دروازه ورته بنده کړه.

وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَنْ ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾

او دوی طلب وکړی، چي ته اعراض له ضيف څخه وکړه يعني زمونږ په لاس يې راکړه چي مونږ خپل کار د لواطت ورسره وکړو.

سوال: ملکي (چي په صورت د ښائستو هلکانو وې) خو ډېري وې، نو لفظ د ضيف چي مفرد دی څرنګه استعمال سو؟

خواب: لفظ د ضيف اسم جنس دی پر يوه او پر ډېرو يې اطلاق روا دی.

درويش وايي: چي په ملکو کي جبرئيل هم ؤ تول په صورت د ښائستو هلکانو وې دا ملکي خدای را استولي وې لپاره د اهلاک د قوم لوط ليرسلوا عليهم حجارة من طين (ډېري د ختو يعني پخي خښتي چي په اور پخ سوي وې) لوط عليه السلام دروازه دوی ته بنده کړه، نو دوی به ناري کړې چي دروازه خلاصه کړه خو لوط نه ورخلاصول اخير قوم قصد ددې وکړی چي پر دېوال ورواوړي، وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملكو نوح علیه السلام ته وويل چې دروازه ورخلاصه كړه، او خپل حال يې ورته وواييه: فانا رسل ربک لن يصلوا اليک بسوء، تا ته هيڅ بد نه سي رسولای، نو قوم لوط په سرای ورننوتل جبرئيل علیه السلام په خپل وزر ووهله باذن الله نو ټوله يې په سترګو رانده كړه يتردون متحيرين دروازه يې نه ليدل نو لوط علیه السلام دوی له خپل كوره وايستل او دوی ناري وهلې و نورو خلكو ته چې د لوط كره جادوګران راغلي دي، چې ورنه سئ تاسي به هم رانده كړي، قال الله عزوجل:

درويش وايي: چې اكثره مفسرين چې تفسيرونه يې زما سره موجود دي د طمسنا على اعينهم ترجمه داسي كوي چې سترګي يې لكه نور مخ داسي سوې چې شق د سترګو يې هم نه معلومېدی يوه مستوي سطح مخ يې وو، او ضحاک وايي چې طمس الله على اعينهم، يعني سترګې يې فقط ړندې سوې چې هغه رسل يې نه ليدل چې په رنګ د غلمانو وه او دوی به ويل قد رئينا هم حين دخلنا البيت اى بيت لوط فاين ذهبوا فرجعوا قوم لوط خائبين، خدای عزوجل پر ژبه د رسولانو وايي "فذوقوا عذابي ونذر" نو تاسي اوس ورئ هغه عذاب چې ما تاسي په بېرولي واست يعني پر ژبه د لوط.

وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾

او په تحقيق دوی سهار كړی يعني جائهم العذاب وقت الصبح "بكرة" په اول كي د ورځي "عذاب" اى الرمي بالحجارة من طين چې دا عذاب دوام داره وُ تر وخته د هلاک د دوی ټولو حتی چې په قبر كي به هم عذاب القبر د دوی سره ملګری وي تر هغه وخته چې نار مؤبده ته داخلېږي.

فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾

د دې ايت ترجمه او تفسير د مخه تېر سوی دی.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾

وقد مر مرارًا هذه العبارة مع التفصيل.

پوښتنه: د دې اية د تكرار د هري قصې سره حكمت يې څه دی؟

ځواب: فائده او حكمت يې دا دی چې دوی ته يعني كفارو ته د مكې تنبيه وركړه سي چې دوی دې له شرک څخه بېزاره سي او په ايمان دې ځانونه مشرف كړي.

Maktaba Tul Ishaat.com   Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴿۴۱﴾

نذر جمع د نذير ده په معنى د منذر بصيغة اسم الفاعل چي مراد ځني موسىٰ او هارون عليهما السلام او من معهما دي.

فائده: په من معهما سره جمعيت د نذر صحيح سو.

سوال: نذير خو پر وزن د فعيل دى يعني د مجرد له باب ځخه نو په معنى د منذر چي صيغه د اسم فاعل چي باب د افعال دى يعني منذر ځرنګه کېدای سي؟

ځواب: بعض نحات وايي چي دا روا دى لکه په دې قول کي د شاعر:

امن ريحانة الداعي السميع (اى المسمع) يورقوني واصحابي الهجوع

درويش وايي: ولهذا الشعر قصة طويلة مذكورة في علم الادب وذكرنا بالتفصيل قبلا، او بعض مفسرين وايي چي مراد له نذر ځخه هغه معجزات د موسىٰ او هارون عليهما السلام دي چي قوم فرعون يې په ېړاوه لکه عصى او يد بيضاء.

پوښتنه: آل فرعون يې ذکر کړی په ځپله فرعون يې نه کړی ذکر حکمت يې ځه دی؟

ځواب: حکمت يې دا دى چي هر سړى په دې پوهېږي چي سبب د اضلال د قوم خو فرعون ؤ فهو اولى و احرى بالاحكام المذكورة في هذه الآيات.

كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۴۲﴾

دوى تکذيب وکړى زموږ د اياتو "کلها" تاکيد د اياتو ؤ يعني بها الآيات التسع چي په مرور د زماني فرعون او دده قوم ته ښکاره سوې.

فائده: جمله کذبوا بآياتنا جمله مستأنفه ده په جواب کي د سوال د سائل چي دا سوال د حکايت ځخه د مجيئ النذر پيدا سو کانه قيل فماذا فعل آل فرعون فاجيب بانهم كذبوا بآياتنا كلها "فاخذناهم" نو دوى موږ ونيول په عذاب سره يعني اغرقنا هم في اليم ثم ادخلناهم في النار "اخذ عزيز" مفعول مطلق دى نيول د غالب ذات "مقتدر" چي قادر دى غاية القدرة پر انتقام له هر کافره ځخه لا يعجزه شيئ.

درويش وايي: چي دا ټولي قصې د کفارو معدودي چي خداى په اجمال سره ذکر کړې او د هغو اخير په دنيا کي هم بيان کړى لپاره د عبرت د کفارو د قريش د مکې مکرمې، نو اصل مقصود خداى پاک بيانوي او وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿٤٣﴾

مخاطب د مظهري د بيان سره موافق مؤمنان د مکي دي.

سوال: کفار مکه يې ولې مسلمانانو ته مضاف کړه؟

خواب: په سبب د جوار و بس "من اولئکم" يعني من قوم ثمود و قوم نوح و قوم عاد و قوم عاد و قوم لوط و آل فرعون چې په دنيا کې بيان کړه سوي عذابونه د استيصال خدای عزوجل ور کړه.

پوه سه: چې مراد له خيريت څخه فضيلت دی په اعتبار د قوة الابدان او دا کثرة الاموال والاولاد او د طول الاعمار الی غير ذالک من النعم الدنيوية والاستفهام للانکار يعني تاسي يا کفار مکه تر هغو خير نه ياست، نو ولي تاسي بيغمه ياست د نزول څخه د مثل د نزول د عذاب د هؤلاء المذکورين چې ايمان نه راوړي.... تر حيواناتو تاسي بد ترياست:

نرود مرغ سوئی دانه فراز ..... چو بيند مرغ ديگر اندر بند

پوه سه: چې ام منقطعه دی په معنی د بل آه للانتقال من دليل الی دليل اخر او همزه لپاره د انکار دی، ترجمه: آيا تاسي لره يا کفار مکة امان سته د عذاب الهي په کتب سماويه وُ کي يعني په هغو کتب سماويه کي داسي نوشته دي چې تاسي اهل مکة که شرک او که نور معاصي وکړئ خدای عزوجل تاسي ته عذاب نه درکوي يعني دا سند خو هم نه لرئ، نو ولي ايمان نه راوړئ.

أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿٤٤﴾

ای هؤلاء کفار مکة، ام منقطعه دی په معنی د بل آه، بل لپاره د انتقال دی او همزه لپاره د انکار علی ما يقولون "نحن جميع" ای جميع ای متفق علی عداوة محمد ﷺ "منتصر" ای ممتنع من الاعداء يعني دښمن مونږ ته قصد د جنګ نسي کولای. او يا معنی داده چې مونږ له دښمن څخه کسات اخستلای سو.

سوال: نحن خو متکلم مع الغير ده نو بايد منتصرين ويل سوي وای؟

خواب: توحيد د منتصر بناء دی پر لفظ د جميع چې هغه مفرد دی و لموافقة رؤس الآيات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿۴۵﴾

ژر دی چي شکست به و خوري دا جماعت د کافرانو او شا به وګرځوي.

سوال: په کار خو دا وه چي ادبار په صيغه د جمع يې ويلی وای؟

ځواب: افراد په تأويل د جنس دی ای جنس الدبر مع موافقة رؤس الآيات ومشاكلة قرائن او يا جواب دا دی يولون كل واحد دبره كما في قول القائل كسانا الامير حلة ای لكل واحد حلة (يو جوت كالي يا چپنه) وهذه الآية من دلائل النبوة ای معجزة من المعجزات النبي ﷺ واخبار بالغيب قبل وقته لما روی عن ابن عباس رض كان بين نزول هذه الآية ويوم بدر سبع سنين، فالآية على هذا مكية قال ابو جهل يعني يوم بدر چي دی پريوه سور رنګه آس سپور ؤ چي د ورځي به يې يو فرق اوريشي ورکولې، او ده قسم وخوړی په لات او عزی سره چي نن ورځ به زه محمد (ﷺ) او دده اصحاب وژنم، اخيره يې دا سوه چي ابنی د عفرا رض دی مردار کړی او ابن مسعود رض يې سرو عليه الصلوة والسلام ته ور وغورځاوه، امير المؤمنين عمر رض وايي چي زه نه پوهېدم چي الجمع يؤتون الدبر څوک دي حتی چي ورځ د بدر راغله او عليه الصلوة والسلام په خپله او په روايت د بخاري عن ابن عباس رض چي عليه الصلوة والسلام په خپله خېمه کي داسي خواست و خدای ته وکړی انشدک عهدک و وعدک (زه طلب جدي کوم ستا څخه يا الله ستا د عهد او وعدې چي زما سره دي کړې وه چي زه تا ته نصرت در کوم پر کافرانو (ته ورځ يې راکړه پر کفارو د مکې) اللهم ان تشاء ان لا تعبد بعد اليوم (يعني که ستا دا اراده وي چي ستا عبادت دي له دې ورځي وروسته نه کېږي) ولي چي دا مسلمانان زما سره وو ژل سي نو ستا عبادت به څوک کوي؟ فجاء ابو بكر رض واخذ بيده ﷺ حسبک يا رسول الله الححت على ربک (يعني ډېر طلب د نصرت دي د رب ﷻ وکړی) فخرج عليه الصلوة والسلام زغره يې اغوستې وه يقول سيهزم الجمع ويولون الدبر، مراد له دې جماعت څخه قريش د مکې وه چي تعداد يې تخميناً زر (۱۰۰۰) کسه ته بالغ ؤ او مسلمانان درې سوه ديارلس (۳۱۳) کسان وه حتی چي جنګ شروع سو او ويا کسه وو ژل سوه او او ويا (۷۰) کسه يې ژوندي ونيول سوه او نور په تېښته ولاړه مکې ته، او د مسلمانانو شهيدان څوارلس (۱۴) کسه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چې د بدر قصه ډېره اوږده ده او د مخه هم موږ ذکر کړې ده وفیما ذکرناه کفایة لفهم هذه الآیة سیهزم الجمع آه.

بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ وَالسَّاعَةُ أَدْهَىٰ وَأَمَرُّ ﴿٤٦﴾

(بل لپاره د انتقال دی) او اهم تر قتل د بدر "موعدهم" بلکې قیامت زمانه د وعدې د عذاب د دوی ټولو که په بدر کې شامل وه او که نه وه دا د بدر قتل پېش خېمه ده د عذاب د یوم القیامة ولیس هذا بعذاب بالنسبة الی عذاب یوم القیامة او دا سبب دی چې بعض کافرانو د دنیا عذاب نه ولیدی مع انهم مستحقین للعذاب "والساعة ادهی" او قیامت اشد او سخت دی از روی اهیة او اهبة او داهبة هغه امر فظیع خوفناک ته وایي چې یې په دفع نه پوهېږي "وامر" یعني تریخ دی تر عذاب د دنیا، ولې چې د دنیا عذاب لکه فقر او مسکنت ناجوړي چې اخیري عذاب یې قتل دی او د اخرت عذاب اول خو اوور دی او هغه هم دائم مع العقارب والحیات دی.

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَالٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾

په تحقیق مجرمان یعني مطلق کافران که اهل مکه وي او که نور نو دا ایت تعمیم بعد التخصیص دی ولې چې د مخه ایتونه په اهل مکه پورې خاص وه او په دې ایت کې بیان د حال د مطلق کافرانو دی په ضلال کې له حق څخه چې اسلام دی یعني په دنیا کې او په اورو کې (او سعر جمع د سعیر ده یعني په ورځ د قیامت او بعض الناس وایي چې سعیر مفرد دی)

يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾

په هغه ورځ چې کشول کېږي (یعني ملائکة العذاب یې کشوي) په اوور کې پر مخانو یعني پر مخې او دوی ته ول کېږي د ملکو له خوا څخه په امر د خدای "ذوقوا مس سقر" لیس من ذوق الفم بل بمعنی جربوا یعني وړئ په شدت سره ګرمي د دوږخ (نو مس په معنی متعارف سره نه دی یعني مجرد اللمس) فتدبر هذا ک الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ ﴿۴۹﴾

پوښتنه: چې لفظ د کل منصوب دی په فعل محذوف سره چې وروسته خلقنا يې تفسير دی يعني بيان العامل چې دې ته په نحو کې منصوب على شريطة التفسير وايي.

پوښتنه: د دې چې يې عامل حذف کړی بيا يې تفسير وکړی او د اول واره يې داسې نه وويل سول انا خلقنا کل شيئ څه فائده يې ده؟

ځواب: فائده په دې حذف کې استقرار في الذهن دی، له دې کبله چې متعلم چې د کل نصب وويني نو عامل ته حيران او طالب وي وروسته چې تفسير وکړل سي په ذهن کې ښه قرار ونسي .... بيت:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری .... با امید رسد امیدواری

درويش وايي: چې د بقدر معنى داده چې هر شى چې موږ پيدا کړی دی بتقدير سابق تر خلق او يا يې معنى داده چې مقدر او محفوظ په لوح محفوظ کې قد علمنا حاله و زمانه قبل الخلق چنانچه د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی قال سمعت رسول الله ﷺ قال كتب الله مقادير الخلائق قبل ان يخلق السموات والارض بخمسين الف سنة يعني پنځه زره (۵۰۰۰) کاله، وعن علي بن ابى طالب رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ لا يؤمن عبد حتى يؤمن باربع (۱) يشهد ان لا اله الا الله (۲) واني رسول الله بعثني بالحق (۳) وان يؤمن بالبعث (۴) وان يؤمن بالقدر يعني خير و شر دواړه د خدای په تقدير دي (يعني على ما يقضيه الحكمة) رواه الترمذي وابن ماجه وعن ابن عمر نحوه.

درويش وايي: چې قدريه يوه ډله ده تر ټولو درواوويا (۷۳) ډلو خيشه ډله ده چې هغه وايي خالق د افعالو د بندګانو په خپل بندګان دي د خدای په اراده پوري اړه نه لري، وقد ورد في الحديث الصحيح الحديث القدرية مجوس هذه الامة (يعني مجوسيان وايي چې عالم لره دده واجب الوجود خدايان دي يو خالق د فائده مندو شيان دی لکه ميوې، انګور، انار وغيرها من المثمرات يا غنم، ورجې، جوار وغيرها من الاشياء الارتزاقية چې دا خدای دوی يزدان بولي، او بل خدای ضرر مند شيان پيدا کوي لکه ځوزان، کرورې، ماران، لړمان، لړوان،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرانګان وغيرها چي دې خداى ته دوى اهرمن وايي او په بل نامه شيطان ورته وايي، نو قدريه که څه هم واجب الوجود يو بولي، لکن خالقان غير متناهي بولي يعني بنده خالق بولي د خپلو افعالو) قال ﷺ في اخير الحديث المذكوران مرضوا فلا تعودوه (پوښتنې ته يې مه ورځئ) وان ماتوا لا تشهدوهم (يعني جنازې ته يې مه ورځي) رواه احمد وابو داؤد.

درويش وايي: چي په دې باب کي چي تقدير د خير او شر د خداى عزوجل له خوا دى ېخي ډېر احاديث ستة وانعقد عليه اجماع الصحابة ﷺ ومن بعدهم من اهل السنة والجماعة كذا قال المظهري .... بيت:

قضى الله امرًا وجف القلم .... سر بر خط ازلي دار وخموش

درويش وايي: چي په نامه د اسلام يو بله ډله هم ستة که څه هم په ايت او حديث کي اشاره نه ده ورته سوي لکن په مناسبت د قدريه چي هغه ډله هم د اياتو او احاديثو پر خلاف ده او د اجماع څخه د امت مرحومه هم مخالف دي، زه به يې بيان کړم چي دې ډلي ته مرجيه وايي مشتق من الرجاء (يعني اميد د بخښني) دا ډله وايي چي لکه چي د کفره سره هيڅ حسنات په ښه نه دي يعني ثواب يوم القيامة نه لري، دغه رنګه د ايمان او اسلام سره ګناه که صغيره وي او که کبيره تاوان او ضرر نه لري يعني په ورځ د قيامت عذاب ورلره نسته ولو مات بلا توبة.

﴿وَمَآ أَمْرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِٱلْبَصَرِ ۝﴾

يعني لشيئ اردنا ايجاده وتكوينه "الا واحدة" اى كلمة واحدة وهي كلمة كن او يا معنى داده الا فعلة واحدة وهي الايجاد بلا معالجة الاسباب والآلات "كلمح بالبصر" لکه رپول د سترګي يعني في اليسر والسرعة.

﴿وَلَقَدْ أَهْلَكْنَآ أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ۝﴾

لام لپاره د قسم دى قد لپاره د تحقيق دى، او په تحقيق موږ هلاک کړي دي "اشياع" جمع د شيع ده معناه المثل يعني امثال ستاسي په کفر کي يا اهل مکه "فهل من مدکر" الاستفهام لپاره د تحريض او باعثه کولو دى د اهل مکه پر عبرت اخستلو په ايمان راوړلو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوْهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾

او هر شی چي دوی يې فعل وكړی (فعلوه صفت د شي دی) "في الزبر" ای مكتوب په صحائف د اعمالو د دوی چي د كرام كاتبين له خوا نوشته كېږي، او يا په لوح محفوظ كي تا چي په ورځ د قيامت مطابق د هغه سره جزا، وركړه سي ان خيرًا فخير وان شرًا فشر.

وَكُلُّ صَغِيْرٍ وَّكَبِيْرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾

او هره صغيره او كبيره له اعمالو څخه د مكلفينو.

پوهه سه: چي دا جمله تاكيد ده د ماقبل جملې.

درويش وايي: چي عادت د رب الجليل دی په قرآن مجيد كي چي تر وعيد د كافرانو وروسته وعد د مؤمنانو بيانوي نو دلته هم وايي:

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ﴿٥٤﴾

په تحقيق هغه كسان (چي د كفر او الحاد په صفاتو جميله ؤ كي او په صفاتو جليله ؤ كي ځان ساتلی وي) په باغو كي او په ويالو كي به وي چي جاري په جنت كي يعني الماء والخمر والعسل واللبن كي به وي.

پوښتنه: لفظ د نهر يې مفرد راوړی او سره دديې چي ويالې خو څلور دي كما مر؟

ځواب: اكتفاء بان النهر خو اسم جنس دی قليل او كثير دواړو ته شامل دی مع موافقة رؤس الآيات ای اواخرها. البغوي" وايي قرء الاعرج ونهر بضمتين چي جمع د نهار ده والمراد لا ليل لاهل الجنة.

فِيْ مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾

يعني په ځای كي د رشتيا ولا لغو فيها ولا تأثيم لكه چي په بعض مقاعدو كي د دنيا به وه چي هغه مقعد صدق عبارت له جنت څخه دی، او الجوهري په خپل كتاب چي په بيان كي د لغاتو عربيه ؤ دی وايي چي تعبير كول كېږي د فعل فاضل ظاهرًا وباطنًا په صدق سره ومنه قوله تعالى في مقعد صدق الآية وقوله تعالى لهم قدم صدق عند ربهم وقوله تعالى ادخلني مدخل صدق و اخرجني مخرج

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صدق، او جعفر صادق رحمه الله وايي چي مدح د مكان يې په صدق سره وكړه نو په دغه مكان كې نسې او سېدلای مګر اهل الصدق يعني في الدنيا آه.

درويش وايي: چي صدق عبارت دی له اخلاص څخه د عمل لله عزوجل ظاهرًا وباطنًا لا كالمنافقين واهل الرياء والسمعة.

"عند مليک مقتدر" ای عند الله چي قادر تام دی او هم مالک دی د ټولو مخلوقاتو او هم ملک دی لايعجزه شيئ.

پوه سه: چي مراد له دې څخه خو مراد عندية مكاني نه دی لانه تعالى ليس بجسم ولا ذی مكان بلكې عندية دی چي لا كيفية لها ولا يفتهموها العقول والافهام.

درويش وايي: قد تم تفسير سورة القمر بالخير و العافية په شپه د چهار شنبې بعد صلوة المغرب في ۱۶ محرم الحرام (۱۴۳۳) هـ ق، وروسته ان شاء الله عزوجل تفسير د سورة الرحمن شروع كېږي اللهم وفقني لتفسيرها ايضًا بالخير والعافية والصحة والسلامة، الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين ثم على اصحابه الاكرمين و ازواجه امهات المؤمنين.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الرحمن مدنية وهي ثمان وسبعون اية وثلث ركوعات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلرَّحْمٰنُ ۙ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ؕ﴿۲﴾

خدای عزوجل تعلیم یې کړی دی د قرآن یعني و محمدﷺ ته بواسطة جبرئیلؑ. او دا سورة په روایت چي بیهقي په خپل سند د عليؓ څخه روایت کړی دی مرفوعًا. د عروس القرآن په نامه یادیږي، و رواه ابن جعفرؓ عن آبائه الاطهار کذالک ای عروس القرآن.

درویش وایي: چي دا سورة مکي دی په قول د جمهورو علماؤ اوقراؤ رحمهم الله قاله العلامة البغدادي رح في روح المعاني وروسته علامه بغدادي رح د دې سورة د مدني والي پر تائید په اسناد و سره احادیث صحیحه رانقل کړي دي چي د تولو نقل به سبب د ملال د مطالعه کونکو وګرځي، فقیر وایي چي په مصاحف مطبوعه ؤ کي في المطابع المختلفة هم وایي چي دا سورة مکي دی والله اعلم بالصواب.

درویش وایي: چي کفارو د مکې به ویل چي موږ رحمٰن نه پېژنو انسجد لما تأمرنا، او بعض د دوی به ویل چي موږ یو رحمٰن یمامه پېژنو چي د دوی مراد مسیلمة الکذاب ؤ چي هغه ځان په رحمٰن الیمامة سره مشهور کړی ؤ چي دې کذاب په حیوة کي د رسول اللهﷺ دعوه د نبوت کړې وه او ډېر اتباع یې درلوده چي هغه په خلافت د ابی بکر الصدیق رض په قتل ورسېدی قاتل یې وحشي ؤ چي په جاهلیت کي دغه وحشي حمزه بن عبد المطلب رض په قتل رسولی ؤ او دې وحشي په حیوة د نبيﷺ ایمان راوړی ؤ، نو د سورة رحمن په اول کي یې پر هغو کفارو رد وکړی چي الرحمن هغه ذات دی چي ورکونکی دی د نعم دنیویه او اخرویه ؤ د تولو له ابتداء څخه د خلق الی ابد الآبدین کما یدل علیه صیغة الرحمن (چي صیغه د مبالغې ده) او خدای پاک اولاً هغه اصل د دیني نعمتو ذکر کړی و اجلها واعظمها وهو تنزیل القرآن وتعلیمه لان القرآن الجلیل اساس الدین وفیه صلاح الدارین، وروسته یې بیا خلق الانسان ذکر کړی اشارةً الی ان الانسان انما خلق لپاره د تعلم القرآن والایمان به ولذالک علمه البیان، ولي زدکړه د قرآن جلیل په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نعمت د بيان کړه کبري من التعليم والتعلم ومع هذا اشراک د مکې والو او عبادت د بتانو چې دوی نعمتونه د خدای نه پېژني او له هغو څخه منکر دي نو دوی ته خدای پاک توبيخ او سرزنش ورکړی په دې سورة کې (۳۱) واره يعني وروسته تر ذکر کولو د بعض نعمتو "فبای آلاء ربکما تکذبان" او بعض مفسرين وايي چې دا ايت رد دی د هغه قول د مشرکانو د مکې انما يعلمه بشر يعني چې قرآن ده ته يو بشر ورښيي، نو حاصل د رد يې دادی چې بشر دومره طاقت نه لري چې مثل د قرآن البليغ المعجز دي جاته وښيي کما يدل عليه ايات التحدی يعني مثل قوله تعالى ان کنتم في ريب الآية وغير ذالک بلکې دا قرآن علمه الرحمن الذي هو المنعم بالنعم الدنيوية والاخروية کلها بمقتضى رحمته وهذا القرآن من اجل نعمه ولې چې په قرآن کريم کې صلاح د دارينو سته.

خَلَقَ الْإِنسَانَ ۝ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝

قال قتادة وابن عباس المراد بالانسان آدم ﷺ، کريمه: وعلم آدم الاسماء کلها الآية، فکان آدم يتکلم بلغات کثيرة بمقدار ما يتکلم به اولاده الى يوم القيامة وافضلها العربية وتعيين لغات آدم في علمه تعالى وقال ابو العالية والحسن المراد جنس الانسان "علمه البيان" و انسان ته يې ښوولی اظهار د مافي ضميره چې دده په زړه کې يا په ژبه سره يا په کتابت سره او انسان ته يې فهم او افهام ورکړی دی حتى چې تميز د انسان وسي له ټولو حيواناتو څخه وصار قابلاً للوحي وتنزيل القرآن على اشرف افراد الانسان وهو محمد ﷺ، او السدي وايي علم کل قوم ژبه د دوی چې دوی خبري په کوي، او ابن کيسان وايي خلق الانسان يعني محمداً ﷺ علمه البيان يعني القرآن چې په قرآن کې ما کان او ما يکون من الازل الى الابد موافق دي د ما جاء به رسل الله (ای في اصول الدين وهي المعتقدات) وهداية للناس (بل للانس والجن) او په عين حال کې قرآن معجزه ده د عليه الصلوة والسلام لپاره، کريمه: قل لو اجتمع الانس والجن على ان يأتوا بمثل هذا القرآن لايأتون بمثله ولو کان بعضهم لبعض ظهيراً.

درويش وايي: چې په سلګونو کلونه تېر سوه د نزول د قرآن عظيم الشان پر محمد ﷺ او دا اعلان د اتيان بمثل القرآن په قرآن مجيد کې مکرر ځايونه راغلی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم دي نو كه اتيان بالمثل ممكن واى بشر ته نو كفارو د نړى به په ملياردو ډالراو پونډونه وغيرها سره جمع کړي واى او عربي دانان بې مزدوران کړي واى چي مثل د قرآن دي جوړ کړي، بلکې د لسو سورتونو كما جاء في القرآن بلكې په مثل د يوه سورت لكن نه سوه كامیابه.

درويش وايي: چي اعظم د معجزاتو د عليه الصلوة والسلام هم دغه قرآن کريم دى ولي چي باقي دى كر الازمان ومر الدهور د مثال په توګه شق القمر خو معجزه عظيمه وه، لكن موږ كه كافرانو ته ووايو چي زموږ د نبي ﷺ معجزه شق القمر وه كافران به راته ووايي چي دا خو تاسي مسلمانان وايا ست موږ يې نه منو چي شق القمر دي په اشاره ستاسي د نبي وجود ته راغلې وي وهكذا نوري معجزې چي د عليه الصلوة والسلام په حيوة رونما سوي وي، نو اخيراً موږ مسلمانان مجبوريو چي كافرانو ته به وايو "لو كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا الآية"

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ۝

يوه سه: چي حسبان يا مصدر دى لكه غفران يا قرآن يا رجحان من حسبت حسبانًا يا جمع د حساب ده كركبان، معنى يې پر هر تقدير داده چي لمر او سپوږمى په مقدار معلوم مقدر سره چي د دوى په رفتار سره امور او احوال د كائناتو سفليه ؤ مربوط دي او كلونه يا قمري يا شمسي او اوقات د لمونځو او روژې او حج او وعدې د پورو هم مربوط دي.

يوه سه: چي دا څلور فصله يعني پسرلى، دوبى، منى او ژمى په شمسي حساب پوري مربوط دي او روژه يا حج يا لمونځونه په قمري حساب پوري مربوط دي، د لمر د رفتار ځايو ته بروج وايي او د سپوږمى د رفتار ځايو ته منازل وايي، نو قمري كال (۳۵۴) ورځي دى او شمسي كال (۳۶۵) ورځي دى په يوه ربع بالا، وتفصيل ذالك في شرح الچغميني وغيره.

وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ۝

يوه سه: چي نجم هغه نبات ته وايي چي تر مځكي خو راووځي لكن ساق نه لري چي جګ ودرېږي لكه بادرنګ يا چمبرخيال يا كدو وغيرها، او شجره هغه نبات ته وايي چي تر مځكي راووځي پر خپله تنه جګ ودرېږي لكه توت، انار،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبب، شوتالو وغيرها، مراد له سجدې څخه د دوی انقیاد دی وما اراد الله منهما طبعًا لکه مکلف چې سجده کوي خدای ته اختیارًا او دا روایت دی د ابن عباس ابن جبیر او رزین څخه.

فائده: خدای پاک مشابه کړی انقیاد طبعي د دوی د انقیاد اختیاري سره د مکلف یعني په سجده کي ثم استعمل لفظ د مشبه به چې سجده کول دي په اختیار سره په مشبه کي چې انقیاد طبعي دی د نجم او شجر چې دې ته په علم بیان کي استعاره مصرحه تبعیه وایي، قال مجاهد والحسن و قتادة المراد بالنجم ستوري د اسمان دي، والمراد بسجودها غروبها، وفیه نظر چې دا توجیه د معطوفه سره سمون نه لري وقال العلامة البغدادي المشهور هو الاول، او بعض مفسرین وایي چې مراد د سجدې د نجم او شجر سایه د دوارو ده پر مځکه کما في قوله تعالی یتفیؤ ظلاله عن الیمین والشمال سجدًا لله وهم داخرون، او بعض مفسرین وایي: مارا بر سجده ایشان وقوف نیست چنانچه بر تسبیح ایشان قال الله تعالی ولکن لا تفقهون تسبیحهم.

فائده: ذکر الله سبحانه في مقابلة النعمتین السماوتین ای الشمس والقمر نعمتین ارضتین وهما النجم والشجر ولا یخفی علی العاقل کون الشمس والقمر والنجم والشجر نعیم للانسان او الحیوان فتدبر.

وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ۙ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ۝

او اسمان، چې مراد ځني جنس دی پورته یې پیدا کړی دی یعني د اول الامر څخه، داسې نه ده چې اول کښته و بیا یې پورته کړی.

درویش وایي: چې روح البیان او مظهري وایي چې معنی د ایت خلقها مرفوعة او روح البیان وایي چې نصب د السماء په فعل مضمر دی علی شریط التفسیر لکن، علامه بغدادي په روح المعاني کي په دې کي ډېر لوی بحث کړی دی او سوال و جواب یې راوړی دی چې اوسنی زماني مفسر بې را نقل کړي ان شاء الله.

فائده: د رفع څخه مراد یا رفع مکاني ده کما هو محسوس مشاهد یا رفع رتبي ده ولي چې اسمان منشاء د احکامو د خدای عزوجل دی او د قضایاو د خدای وتنزل منه او امره تعالی ومحل ملائکته چې د مځکي څخه تر اول اسمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوري د (۵۰۰) سوه کالو لار ده، يا رفع حسي او رتبي دواړه مراد دي عند من يجوز عموم المشترک او يا عموم مجاز دی فتأمل فيه.

پوه سه: چي مجاهد وايي مراد له ميزان څخه عدل دی والمعنی امر بالعدل او د خلکو په ذمو کي يې عدل لازم کړځولی دی حتی انتظم امر العامة، او الحسن او قتادة او الضحاک وايي چي مراد له ميزان څخه ما يوزن به الاشياء ويعرف به المقادير يا ترازو يا پيمانه يا ګز ونحو ذالک، ولي په دغو مذکوره آلاتو سره انصاف او انتصاف معلومېږي، نو اصل معنی د ميزان مطلق تقدير دی وهو يشمل الکل نو پر دې تقدير معنی د وضع الزام ده، وقيل المراد بالميزان القرآن المجيد دی او معنی د وضع انزل ده يعني انزل القرآن علی محمد ﷺ.

پوه سه: چي کلمه د ان ناصبه ده او کلمه د لا نافيه ده ولام العلة مقدرة چي متعلق دی بوضع الميزان ای وضعه لئلا تطغوا فيه ولا تتجاوز احد الا مضاف.

وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ ﴿٩﴾

برابر ورکوئ ترازو په عدل سره يعني د ترازو په ذريعه د چا حق مه خورئ او کم مه ورکوئ ترازو يعني هغه شی چي په ترازو يې مشتري ته ورکوئ کم يې مه ورکوئ، حسين کاشفي په تفسير حسيني کي وايي اين همه تاکيد اهل ترازو در جهت آنست که بوقت وضع ميزان قيامت شرمنده نشويد.

فائده: خدای عزوجل لفظ د ميزان درې واره مکرر راوړی ولم يکتف بالضمير لپاره د تشديد د توصيه او يا د الامر باستعمال الميزان علی وجهه، کريمه: ويل للمطففين الآية، دوی هغه کسان دي چي په پيمانه يا ترازو کي چم کوي.

وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ﴿١٠﴾

"الارض" منصوب علی شريطة التفسير بما بعده "وضعها" ای خلقها وحفظها يعني کښېنته يې پيدا کړې ده غوړولې يې ده "للانام" لپاره د مخلوق يعني لمنافع الانام وهو جمع لا مفرد له من لفظه بمعنی الخلق والجن والانس مما علی الارض کذا في القاموس، او البيضاوي وايي چي الانام هر ذی روح ته وايي پر هغه دا سوال وارد دی چي مخاطبه په دې سورة کي د انس او جن سره ده لا للحيوانات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿فِيهَا فَاكِهَةٌ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ﴾

په دې مځکه کې دي مېوې (ابن کيسان) وايي چې په مځکه کې انواع کثيرة سته چې انسانان يې په مزه مزه خوري من النعم التي لاتحصٰى) او خورما په مځکه کې سته.

درويش وايي: چې دا تخصيص بعد التعميم دی لان النخل داخلة في الفاکهة.

پوه سه: چې دا جمله "فيها فاكهة" تعليل ده لقوله والارض وضعها للانام، او اكمام جمع د كم ده بكسر الكاف چې پوښ د خورما دی بالفارسية خوشهای آن در غلاف تا ما دام كه منشق نشده درغلاف باشد.

﴿وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ﴾

او دانې سته په مځکه کې چې خلک يې خوري كالحنطة والشعير وجميع ما يتغذی به لکه جواري ورجي وغيرها، عصف بلگو ته د کښت او نبات وايي چې وچ سي لکه پرور "والريحان" او ريحان هغه غذايي دانې دي لکه غنم وغيره كذا قال اكثر المفسرين، او ابن عباس وايي كل ريحان في القرآن فهو الرزق كما يدل عليه ما قيل للاعرابي الى اين تذهب، قال اطلب ريحان الله ای رزقه، او له ابن زيد څخه ابن جرير واخرج عن الحسن انه قال كل مشموم طيب الريح من النبات چې په پښتو يې هم ريحان بولي چې د دانو او بتې يې ښه خوشبويي ولاړېږي او تور تخم کوي هغه تخم يې په مځکه کې وپاشي درخت وزمه شين بوټی راشين سي چې تر يو حده پورې بلند کېږي، او بعض مفسرين وايي چې اصل د ريحان روحان وُ قلب الواو ياء للتخفيف.

سوال: اهل اشتقاق ولې وايي چې اصل يې روحان وُ يعني ولې يې واوي بولي؟

ځواب: انه مأخوذ من الروح (چې ښه بوی ته وايي) و الروح واوي فافهم.

اعراب: عامه قاريان پر دې دي چې والنخل ذات الاكمام والحب ذو العصف والريحان ټول مرفوع دي عطف دي پر فاكهة.

﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾

درويش وايي: چې په دې سره مخاطب انس او جان دواړه په اتفاق د مفسرينو.

سوال: جن خو د مخه نه دی ذکر سوی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: ددې سوال په جواب کې روح المعاني او روح البيان او مظهري وايي چې دا دواړه صنف داخل دي په انام کې چې د مخه ذکر سو، ولي چې الحسن وايي چې انام دواړه ډلو ته شامل دی، مګر مظهري دا جواب هم راوړی دی چې دا خطاب و واحد ته دی (يعني الانس) په لفظ د تثنيه مثال يې دا ويلی دی القيا في جهنم، او روح المعاني په سختۍ سره دا جواب رد کړی دی چې دا ډېر ابعد جواب دی، او قياس يې پر القيا في جهنم هم بعيد دی، او بعض مفسرين وايي چې دا خطاب دی و ذکر او انثى ته د بني آدم، روح المعاني دا جواب هم ابعد بللی دی چې وروسته هغه ايت سنفرغ لکم ايها الثقلان څخه هم خطاب د دواړو فريقينو فهمېږي دا جواب روح البيان هم راوړی دی او مظهري هم راوړی دی او روح المعاني هم راوړی دی، لکن في قلب الفقير في هذا الجواب شيئٌ وهو ان القرينة ينبغي ان تكون سابقة الا ان يقال ان غاية القرب كالسبق والله اعلم، او روح البيان او خازن دا هم قرينه بولي چې اصل دواړو ډلو ته قريبًا راغلی دی في قوله تعالى خلق الانسان من صلصال الآية چې متصل په هغه پوري و خلق الجان الآية.

درويش وايي: چې په دې کې هم ماذكرت بقولي لكن في قلب الفقير آه والجواب ههنا هو الجواب السابق كما مر آنفًا.

فائده: په تفسير بحر العلوم کې وايي چې آلاء نعم ظاهرة او باطنة انس و جوان دواړو ته وايي نو هغه چا چې ويلي دي چې آلاء نعم ظاهره ته وايي فقط او النعماء و نعم باطنهٔ ته وايي سهو يې لانهما مترادفان فافهم.

خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ۙ

پيدا کړی يې دی انسان يعني آدم عليه السلام.

حپوه سه: چې صلصال وچو خټو ته وايي چې سرې يې په يو شي کرار کرار وټکوي شرنګی کوي، او فخار هغه خټو ته وايي چې په اوور پخې سوي وي چې په پښتو يې کودري بولي.

پوښتنه: په بل ځای کې د قرآن عزيز راغلي دي من حماء مسنون په دې ايت کې صلصال راغلی دی نو ددې به منافات نه وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: يا ولي چي آدمؑ اول له خاورو څخه بيا ختي سو بيا من حماء مسنون څخه بيا من طين لاب بيا فخار سو.

وَخَلَقَ الْجَآنَّ مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ۝

درويش وايي: چي مراد له جن څخه جنس پېرانان دي، او بعض مفسرين وايي "الجان" د جن د پلار نوم دی، او الضحاک وايي هو ابليس او مجاهدؒ وايي چي جان ابليس نه دی وهو الصحيح، او په کشف کي هم وايي چي الجان ابو الجن دی لکه چي آدم ابو الانس دی او ابليس ابو الشياطين دی "من مارج" له صافو لمبو څخه چي دود نه وي ورسره، او مجاهدؒ وايي چي مارج ګډوډو لمبو ته وايي سرې، ژړي، زرغونې چي اور دېر بل سي او دخان يې قطع سي خالص انګار پاته سي پر هغه باندي دا مختلفي لمبې پيدا کېږي فمعنی المارج من لهب مختلط "من نار" بيان د مارج دی او په تفسير کشف الاسرار کي وايي خلق الجن من مارج من نار، والملائکة من نور، والشياطين من دخانها او انسانان له خاورو څخه يعني په اعتبار د اصل د دوی چي آدمؑ دی او په روح البيان کي وايي چي په مابين د پيدائش او خلق د جن او د آدمؑ شپېته زره کاله دي والله اعلم، شيخ اکبر او کبريت احمر او مشک اذفر محي الدين ابن العربي قدس سره از سفر ثاني دفتوحات مکي ميگويد که مارج آنست که ممتزج بهوا که آنرا هوائی مشتعل گويند چون آب و خاک بهم شود آنرا طين گويند پس جان مخلوقست از دو عنصر آتش و هوا و آدم آفريده شده از دو عنصر آب و خاک وچنانچه تناسل در بشر بالقاء آب است (يعني نطفه) در رحم (يعني رحم زن) تناسل در جن بالقاء هوا است در رحم انثی شان.

پوه سه: چي اولاد ابليس لايموتون قبل النفخة الاولی، و اولاد الجان يولدون ويموتون قبل ذالک.

درويش وايي: چي انس او جن دواړه مکلف دي بالاحکام الشرعية فالکافر من الفريقين في النار ابدًا والمؤمن منهما في الجنة ابدًا.

پوښتنه: د مخه تېره سوه چي جان مخلوق دی من مارج من نار نو اوور څو په اوور نه سوځي نو دوی لره په دوږخ کي چي هم اوور دی څه باک سته؟

ځواب: دا مذکوره په ايت کي څو بيان د اصل مادې د دوی دی نور څو دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدنونه لړي په اوور سوځي، دا سوال یو انګرېز پر مسلمانانو کړی ؤ په دور کي د انګرېزانو د حکومت پر لویه وچه د هند او پاکستان، نو مسلمانانو ته د انګرېزانو حکومت وویل چي ددې سوال جواب دي د مسلمانانو یو عالم ورکړي، خیر ددې لپاره یو عالم برجسته د مسلمانانو له خوا وټاکل سو او انګرېزانو سخت انتظامات ددې جلسې لپاره کړي وه چي د مسلمانانو او انګرېزانو ترمنځ یو ولویه فتنه جوړه نه سي، خیر مجلس ته بحث پر دې مسئله د انګرېزانو حبر (یعني لوی ملا) او د مسلمانانو خپل ملا او ستر عالم هم حاضر سوه، خو د مسلمانانو له خوا عالم و حاکم ته د انګرېزانو وویل چي موږ چي هر څه سره وکړو فوراً به دوی کاروايي نه کوي، خیر نو حبر د انګرېزانو خپل سوال مطرح کړی چي اور په اوور څه باک کوي کمامر؟ د مسلمانانو عالم ورته وویل چي آدم عليه السلام له څه شي څخه پیدا سوی دی؟ انګرېز حبر ورته وویل چي له خاورو څخه، نو د مسلمانانو د عالم په بغل کي پټه یوه اومه خښته وه یعني په اوور نه وه پخ سوې د انګرېزانو حبر یې پر دا سر په وویشتی سر یې مات سو او ویني څخي وبهېدلې د انګرېزانو عسکرو چابک دستي کول چي د مسلمانانو عالم ګرفتار کړي، د مسلمانانو عالم ورته وویل چي زما او دده بحث جاري دی چي په هوش کي راسي که فرضًا هغه مړ سو بیا په ما هر څه چي کوئ، خیر حبر چي په هوش کي راغلی د مسلمانانو عالم ورته وویل چي ولي دي سر مات سو او بېهوشه سوې؟ حبر ورته وویل چي تا څرنګه قاتلانه حمله راباندي وکړه، د مسلمانانو عالم ورته وویل چي تا خو ویل چي جنس په جنس نه په عذابېږي، او تا دا هم وویل چي آدم عليه السلام له خاورو څخه پیدا دی نو ما خو ته د خاورو په یوه لوټه وویشتلې نو ولي بېهوشه سوې، حبر سلامي ورته وکړه چي زه خطاوتلی وم شیطان غولولی وم بخښنه غواړم، د مسلمانانو څخه ناري د الله اکبر د خوشالۍ پورته سوې، حاکم د انګرېزانو خپل ټوپۍ په خوله ورته نیولې وه لکه د دوی چي عادت دی چي په وخت کي د پښېمانۍ پر یوه خطا باندي ټوپۍ په خوله نسي، دا ؤ تفصیل د هغې خبري چي د درویش د ماسبق پوښتني په جواب کي تېره سوه تائید او صحت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾

يعني له هغو نعمتو څخه چې پر تاسي يعني انس او جن باندي يې فيض كړى دى حتى چې افضل د مركباتو يې تاسي ګرځولي ياست او خلاصه د كائناتو يې هم تاسي د دوى ګرځولي ياست تكذيب كوئ.

رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿۱۷﴾

دا خبر آخر دى د الرحمن.

پوه سه: چې مراد د مشرقين څخه دوه مشرقه د لمر دي په دوبي او ژمي كي او دوه مغربه د لمر دي په دغو دوو فصلو كي د دوبي او ژمي.

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۸﴾

چې په دې كي هم نعم الٰهيه سته او فوائد لا تحصىٰ سته لكه اعتدال د هوا و مايناسب كل فصل من الفصول الاربعة.

سوال: د مخه ترجمه خو تا ترجمه د مشرقينو او مغربينو سره د دوبي او ژمي وكړه اوس دې بيا فصول اربعه راوړه؟

ځواب: يو هغه مشرق مراد دى په هغه لويه ورځ د كال او د بل مشرق څخه هغه مشرق مراد دى چې لمر پكښې راخېژي په كوتاه ورځ كي د كال چې د دې دوو مشرقينو او مغربينو تر مابين (۱۸۰) مشرقه او مغربه دي، نو د مابين دوه فصله چې پسرلى او منى دى هم پكښې داخل سوه، دا دى مثال دد ايت چې څلور سره فصلو ته شامل دى لكه يو سړى چې مدح د يو عظيم بادشاه ووايي مثلاً سليمان چې ده لره دى د مشرق او مغرب سلطنت، نو له دې څخه دا فهمېږي چې سلطنت د مابينها هم دده دى، او بعض مفسرين وايي چې مراد مشرق د لمر او د سپوږمۍ دى وكذا المغربين.

مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيٰنِ ﴿۱۹﴾

او خداى پاك روان كړي دي دوه بحره

پوه سه: چې لوى رود ته په عربي بحر وايي او مراد ددې بحرينو څخه دادى چې د يوه اوبه تروې وي او د بل دا خوږې وي) چې دا دواړه سره ملاقي كېږي يعني سره نژدې كېږي حتى چې تماس سره كوي، يلتقيان حال دى له بحرينو څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾

په مابین کي د دوی مانع د قدرت د خدای عزوجل دی، دا بل حال دی "لایبغیان" چي یو پر بل تجاوز نه سره کوي، دا بل حال دی له بحرین څخه.

بوه سه: چي برزخ حائل بین الشیئین ته وایي ځکه قبر ته برزخ وایي لانه حائل بین الدنیا والآخرة، او د لا یبغیان معنی داده چي یو د بل خاصیت ته یعني تریو والي یا خوږ والي ته تاوان نه رسوي بلکي ډېره زمانه پر یوه حال باقي وي مع ان شانهما الاختلاط وانفعال کل واحد منهما من الآخر علی الفور، او بعض مفسرین وایي چي دوی دواړه تجاوز نه کوي تر خپل حد چي ددې دوو تر مابین مځکه دي خرابه کړي تا چي مځکه ښکاره سي او مسکن دي وګرځي د انسانانو لپاره، او الحسن علی ما رواه عبد الرزاق وابن المنذر عنه وایي لایبغیان علیکم چي تاسي دي غرق کړي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢١﴾

یعني ظهور د قدرت د خدای عزوجل دی.

يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾

حال دی من البحرین چي راوځي له دغو دوو دریابو څخه یو ملح او بل عذب دی ملغلري او مرجان.

سوال: دُر او مرجان خو د ملح دریاب څخه راوځي دون العذب؟

جواب: قیل في جوابه یخرج من المجتمع بین الملح والعذب وفیه انه ینافي عدم الاجتماع بینهما لقوله تعالی برزخ، او بعض مفسرین وایي چي په کلام د عربو کي دا روا ده چي دوه شیان ذکر کړي او خاصه د یوه شي ذکر کړي کما في قوله تعالی یا معشر الجن والانس الم یأتیکم رسل منکم مع ان الرسل کانوا من الانس دون الجن.

فائده: مفسرین وایي چي لوء لوء غټو ملغلرو ته وایي او مرجان کوچني ملغلري ته وایي کذا في القاموس، و روی عبد الرزاق و الفریابي وعبد بن حمید وابن الجریر وابن المنذر عن ابن مسعودؓ چي ده وویل چي مرجان سرې سرې داني دي وهو المشهور المتعارف چي په پښتو یې هم مرجان بولي، وعلی هذا اللوء لوء شامل لکبار والصغار کذا في روح المعاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ

درویش وايي: چي تر پایه پوري د سورة رحمن ترجمه د دغه ایت یوه ده.

وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ

او خدای لره دی (یعني د خدای ملک دی او دده په حکم سره چلیږي) جوار جمع د جارية ده چي لویي کښتی ته وايي چي سفينه یې هم بولي د منشئات معنی بعض مفسرینو په معجزات بحکم الله، ولي چي یوه کوچنۍ ډېره چي دریاب ته واچول سي ډوبیږي دا دومره لویه کښتی چي هم په لسګونو مسافر او د دوی تجارتي اموال هم په کښې پراته وي نه ډوبیږي الا ان یشاء الله، او بعض مفسرین وايي چي د کښتی لرګي یې یو بر بل پورته کړي وي "في البحر" متعلق دی په منشئات پوري وهي صفت للجوار "کالاعلام" یعني لکه غرونه جمع د علم طویل غره ته وايي، والجملة یعني من قوله وله الجوار آه عطف ده پر مرج البحرین خبر د الرحمن.

فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ

یعني په سفر کي د دریاب په واسطه د کښتی هم ډیر منافع تجارتي او علم پر عجائبو د بحر مربوط نو فبای الاء آه.

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ

هر شی چي پر مځکه دی من الحیوانات والمرکبات وحتی الجبال والبحار والمعادن او من الانس والجن.

پوه سه: چي کلمه د من لپاره د تغلیب ده عقلا او وده علی غیر هم.

درویش وايي: چي التغلیب فراخه دروازې ته وايي په عربیت کي "فانٍ" په ورځ د قیامت کان قبلها متی شاء الله.

وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ

مظهري وايي چي لفظ د وجه چي مخ ته وايي او خدای ﷻ خو مخ په دې معنی ته لري نو دا لفظ د متشابهاتو څخه دی.

درویش وايي: چي څه ضرورت دی ولي چي وجه په معنی د ذات حقیقت هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلي ده کما يقال عليؓ اى ذاته.

فائده: اولا يې وجه مستعار وګرځول ذات لشرف الوجه في اعضاء الانسان لانه مجمع الحواس الظاهرة وموضع السجود ومظهر اثار الخشوع، راوي وايي چي دا آيت چي نازل سو ملکو وويل هلکت بنو آدم، بيا چي دا آيت نازل سو کل نفس ذائقة الموت د دوی يقين سو چي موږ نه هم هلاکيږو لانهم اجسام لطيفة وارواح متعلقة بها کالانسان فلا بد لهم من الهلاک.

پوښتنه: په دې ايت کي وجه ربک يې په افراد سره د ضمير ووايه او په نورو ايتو کي يې ضمير تثنيه ووايه چي ربکما، فما وجه ذالک؟

ځواب: روح المعاني وايي چي ظاهره دا ده چي مخاطب په ربک سره رسول الله ﷺ دی وفيه تشريف عظيم له ﷺ بخلاف غيره من الايات فافهم.

"ذو الجلا" اى ذو العظمة والسلطان والاستغناء المطلق "والاکرام" اى اللطف العام والاحسان په دنيا کي پر مسلمانانو او کافرانو په ورکړه سره د رزق او صحت او عافيت او مال او اولاد الى غير ذالک .... بيت:

ای کريمی که از خزانه غيب..... ګبر و ترسا را وظيفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم..... تو که با دشمانان نظر داری
اديم زمين سفره عاو اوست..... برين خوان يغما چه دشمن چه دوست
آفاقها ګرديده ام مهريتان ورزيده ام
بسيار خوبان ديده ام اما تو چيزی ديګری

ترمذي له انسؓ او احمد والنسائي او الحاکم په صحيح سند سره د ربيعه بن عامرؓ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ چي تاسي محکم ساتئ ذکر د يا ذو الجلال والاکرام، سبب يې دادی چي په ذو الجلال والاکرام کي ټول له نعمتونه د دنيا او اخرت درج دي کمامر او په حصن حصين کي (چي د احاديث صحيحه ډيو کتاب دی) راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام تېرېدی هغه سړي ويل يا ذو الجلال والاکرام عليه الصلوة والسلام ورته وويل قد استجيب لک (خواست دي قبول سو) فسئل (سوال کوه) والا تعاظ بقوله من کريم صفات الانسان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۝

ولي چي احياء د دوى په حيات ابدي سره او ثواب ور كول په نعيم مقيم سره اجل النعماء واعظم الالاء.

يَسْـَٔلُهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ضمير راجع دى و خداى عزوجل ته. يعني د خداى ځخه طلب كوي اسمان او مځكي والا من الملائكة والانس والجن د خپلو حاجاتو من المغفرة والعافية و توفيق العبادة والبركات وغير ذالک.

درويش وايي: چي تخصيص چي ما په تفسير كي وكړى پر درو طائفو نظرًا الى لفظ من چي نحات وايي چي لفظ د من مختص په ذوى العلم پوري دى، او بعض مفسرين وايي چي مراد له من السمٰوات والارض ځخه تو له موجودات دي من المذكورات والحيوانات والنباتات والجمادات فان كل ذالک ممكن والممكن له مالک خالق مقتدر على ايجادها وهو الله تعالى نو پر دې تقدير راوړل د كلمه د من مبني پر تغليب د ذوى القول دى لشرفها على غيرهم.

كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ شَاْنٍ ۝

هر وخت (غرض دا دى چي له يوم ځخه مراد متعارفه معنى نه ده چي ورځ يې بولي) كل منصوب دى په ظرفيت سره د يسئله "هو" يعني رب تعالى شانه وسلطانه په يو حال او صفت كي دى وانما من شيونه تعالى ان يحيي ويميت ويرزق ويعز قومًا ويذل اخرين ويشفي مريضًا ويمرض صحيحًا ويفک عانيًا (اى مسكينًا) ويرهن فارغًا (چي له پوره ځخه فارغ هغه پوروړى كوي) ويفرج مكروها ويجيب داعيًا ويعطى سائلاً ويغفر للمؤمنين ذنوبهم بتوبة او بغير توبة حسب مشيته تعالى ويدخل جهنم ويعذبهم بانواع التعذيب من السلاسل والعقارب والزقوم الى غير ذالک اعاذنا الله منها بالثبات على دين الاسلام الى حين وداع الروح من البدن ويدخل الجنة من خاف مقام ربه ويكرمهم بانواع فى الجنة دار القرار الى ما لايحصى من احسانه لهم قال رسول الله ﷺ من شانه ايغفر ذنبًا ويفرج كربًا (اى غمًا) ويرفع قومًا (من مقام الذلة الى العزة) ويضع آخرين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(من مقام العزة الى مقام الذلة) رواه ابن ماجه وابن حبان.

درويش وايي: چي په دې باره کي احاديث صحيح ښځي ډېر دي وفيما ذكرناه كفاية لمن القى السمع وهو شهيد.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۰﴾

يعني چي تاسي له يوه حال څخه و بل حال ته نقل كوي كما مر في تفسير كل يوم في شان عنقريب.

سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ الثَّقَلَانِ ﴿۳۱﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۳۲﴾

پوهه: چي مراد له دې ايت څخه دا نه دی چي له کار څخه فارغ سم، لانه تعالى لا يشغله شان عن شان كذا قال ابن عباس رض والضحاک رح، نو معنی د ايت يا داده چي زه به قصد وکړم تاسي ته وروسته تر مهلت نو به شروع ستاسي په کار کي وکړم، او يا معنی داده چي خدای عزوجل وعده کړې ده د اکرام او انعام د مؤمنانو سره او وعيد د عذاب يې و اهل فجور ته ورکړې ده، نو وايي چي ژر دی چي زه به ځان فارغ کړم و تاسي ته مما وعدناكم واخبرناكم يعني يحاسبكم ونجزيكم ما وعدناكم من الخير والشر والى هذا ذهب الحسن وقتادة، يا معنی د ايت داده چي زه به ځان مجرد وګرځوم ستاسي د جزاء لپاره يعني يوم القيامة فانه تعالى لا يفعل يوم القيامة غير ذالک. او يا دا ايت مستعار دی د قول څخه د يو سړي و بل ته د تهديد لپاره "ته يار و دربره چي زه درفارغ سم" يعني چي درفارغ سم نو په تمام قوت سره به تاته عذاب درکړم "ايه الثقلان" اى انس او جن.

فائده: انس او جن چي ثقلان بولي څکه چي دوی پر مځکه بار د خپل ثقل اچولی دی احياءً و امواتاً. وقال جعفر الصادق بن محمد الباقر رح لانهما مثقلان بالذنوب يعني كفارهما، وقيل چي دوی درانه دي په تكليف الهي سره.

پوښتنه: سنفرغ لكم ايها الثقلان کي څه نعمت دی چي دوی ته خدای پاک وايي فبای آء، يعني د ماقبل څخه خو آلاء نه فهميږي؟

ځواب: ددې سوال جواب روح المعاني داسي ورکړی دی التي من جملتها التنبيه على ما ستلقونه يوم القيامة للتحذير عما يؤدى الى سوء الحساب، او روح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البيان هم بعينه دغه قدر عبارت ويلى دى او مظهري وايي وقيل التهديد ايضًا نعمة يتزجر به المكلف په اخير كي يې ويلي دي وهذا تكلف فافهم والله اعلم.

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ إِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ تَنْفُذُوا مِنْ أَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ فَانْفُذُوا

چي دمخه تعبير په ثقلان ځني سوى وُ په دې ايت تعبير په خپل اسم جنس له دوى څخه وكړى لزيادة التقرير والاهتمام بما سيأتي.

پوه سه: چي په دې ايت كي يې جن دمخه كړى له دې كبله چي په وجود كي جن دمخه دى تر انس او په هغه ايت كي قل لو اجتمعت الانس والجن كي يې انس دمخه كړى دى په سبب د شرافت د انس پر جن اجماعًا "ان استطعتم" كه ستاسي له طاقته پوره وي.

فائده: ضمير د جمع يې راوړى يعني استطعتما يې نه دوايه په اعتبار د كثرت د افراد د هر يوه د دوى دوو.

"ان تنفذوا" په قاموس كي وايي چي نفاذ تېرېده دي د شي تر شي يعني چي ووځي "اقطار" جمع قطر ده په معنى د جانب اى من جوانب السموات والارض يعني هاربين من قضاء الله فيكم وعذابه "فانفذوا" نو ووځئ، دا امر تعجيز دى، وقيل معناه ان استطعتم چي تاسي وتښتئ له مرګ څخه چي تر اطرافو د اسمانو او مځكي ووځئ نو وتښتئ لكن داسي نسئ كولاى، كريمه: اينما كنتم يدركم الموت الآية، او بعض مفسرين وايي لكه مظهري چي دا وينا يعني په ورځ د قيامت به وي، اخرج ابن جرير او ابن مبارك له الضحاك څخه روايت كړى دى چي ورځ چي د قيامت سي اول اسمان سره وچوي والملك على ارجائها او ملكي يې پر اطرافو ولاړي وي هغو ته هم خداى پاک امر وركړي چي وركښتي سي پر تو له اهل محشر راوګرځي من الجن والانس، نو دوى راسي پر تو له اهل محشر راوګرځي وروسته دوهم اسمان بيا دريم اسمان بيا څلورم اسمان بيا پنځم اسمان بيا شپږم اسمان بيا اووم اسمان چي پر اهل محشر اووه صفه د ملكو راوګرځوي (او دا نعره وسي اين المفر) د تښتي ځاى چيري دى؟.

درويش وايي: چي مظهري تر دې وروسته داسي متشابه عبارت د حديث

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

مذکور راوړی دی چي په تاویل يې زما ملاتړ کوي د نورو مطالعه کوونکو ملاوي به هم ور ماتي کړي، نو هغه عبارت ما نه رواړی صرف د غه عبارت را نقل کوم چي جهنم به هم راوړل سي، اهل محشر ته چي دوږخ و ويني ناري يو و بل ته وهي چي راځئ فرار وکړو ددې دوږخ څخه نو دوی پر طرف د مخکي چي ولاړ وي او صفونه د ملکو ويني چي فرار ته يې نه پرېږدي بيرته چار و ناچار خپلو اولو ځايو ته راسي، کريمه: اني اخاف عليکم يوم التناد يوم تولوا مدبرين (چي ناري مو سره وهلې بيرته تر شا راغلاست) وقوله تعالى يا معشر الانس والجن ان استطعتم ان تنفذوا من اقطار السموات والارض فانفذوا وقوله تعالى وانشقت السماء فهي يومئذ واهيه (يعني سره د محکمي بناء به هغه سست وي) والملک على ارجائها، اخيري ناره وکړل سي چي د حساب ځای ته راسئ فاذا سمعوا الصوت فاقبلوا الى الحساب.

لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ ﴿٣٣﴾

تاسي نفوذ او فرار نه سئ کولای مگر نه په قوة او په زور سره وانتم عن ذالک بمعزل والف الف منزل، او يا معنی د ايت داده الا بسلطان مني فانه لا قدرة لاحد الا مستفادة من الله تعالى لانه لاحول ولاقوة الا بالله د خدای قدرة داسي دی لکه چي رسول الله ﷺ يې سره د بدن په شپه د معراج من السموات السبع الى سدرة المنتهى، چنانچه شيرازي قدس سره وايي:

چنان گرم در تيه قربت براند .... كه در سدره جبرئيل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بيت الحرام .... كه اى حامل وحى برتر خرام
بگفتا فراتر مجالم نماند .... كه نيروى بالم نماند
اگر يک سرى موى برتر پرم .... فروغ تجلى بسوزد پرم

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٤﴾

نو په کومو نعمتو سره د خدای تاسي تکذيب کوئ، استفهام انکاري دی؛ ولي چي د تکذيب څخه تعذيب پيدا کېږي او تاسي فرار له تعذيب څخه هم نسي کولای، او بعض مفسرين وايي چي آلاء د تنبيه او تحذير دی او مساهلة د مع کمال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القدرة او بل نعمتو څخه ده د خدایٔ نصب د دلائل عقلیه ؤ دي چي په لږ فکر وهولو کي عاقل باید غافل او مکذب نه وي، شیرازي قدس سره وایي:
برگ درختان سبز درنظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار
کریمه: وفي انفسکم افلا تعقلون.

يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ۝

را استوي پر تاسي باندي (یعني هغه وخت چي تاسي له قبرو څخه بعث سئ) "شواظ" اکثره مفسرین وایي چي شواظ هغه لمبې دي چي دود نه وي ورسره، او مجاهد وایي چي هغه زرغوني لمبې دي چي دود څني قطع سوی وي والمآل واحد "من نار" بیان دی د شواظ "ونحاس" سعید بن جبیر او الکلبي وایي چي نحاس دود ته وایي وهو روایة عن ابن عباس، وقال مجاهد وقتادة النحاس هو الصفر المذاب یعني ویلي وي چي د دوی پر سرو بې تویوي وهو روایة العوفی عن ابن عباس "فلا تنتصران" ستاسي سره څوک کومک نسي کولای د خدایٔ له عذاب څخه چي تر حشرگاه پوري مو رسوي، روح البیان، مظهري او روح المعاني اوله ترجمه لایمنعان کړې ده او وروسته یې د الضحاک څخه یو روایت رانقل کړی دی چي هغه وایي دا کار په دنیا کي تر سره کېږي، دی وایي چي یو عظیم اور به د مغرب له خوا راووځي تحشر الناس حتی القردة والخنازیر آه لکن بحر چي تفسیر د علامه سمرقندي دی چي اصلي نوم یې البحر المواج دی وایي چي مراد په سورة الرحمن کي انس او جن دي فقط قردة او خنازیر څرنگه الضحاک ورسره ملگري کړي دي والله اعلم.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝

په کومو نعمتونو سره د خدایٔ تاسي تکذیب کوي چي هغه عبارت دی د تهدید څخه پر کفر او معاصیو فان هذا اللطف من الله تعالی والتمیز بین المطیع والعاصي بالجزاء والانتقام من الکفار لطف آخر.

فَإِذَا انشَقَّتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ۝

چي سره وچوي اسمان یعني وګرځي دروازې لنزول الملائکة، نو دا د انشقاق لپاره د فنا او عدم نه دی بلکې لپاره د نزول د ملکو بعد بعث الموتی من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القبور كذا قال الضحاك اوپه يو خبر كي راغلي دي چي دا انشقاق د اسمان په سبب د انكشاف د جهنم دى چي د هغه سرپوبن لېري سي "فكانت وردة" نو گرځي اسمان په رنګ سور لكه سور ګل ګلاب چي خلک يې بويوي او بعض وايي لكه سور رأس كذا في القاموس، او البغوي وايي چي سپين رنګ مائل و سور والي ته يا ژړوالي ته، او قتادة وايي چي اسمان خو اوس شين رنګ دى او په ورځ د قيامت به يې لون آخروي مائل و حمرة ته "كالدهان" جمع د دهن ده خبر ثان دى د كانت لكه وردة چي خبر اول ؤ، يا كالدهان نعت دى د وردة يا حال دى، والمراد كدهن الزيت يا مطلق مايدهن به دى، حاصل دا چي اسمان په دغه ورځ په رنګ سور وي لكه سور ګل او په قوام كي لكه ويلي غوړي د زيتون وغيره.

پوه سه: چي جواب د اذا محذوف دى اى يكون من الاحوال دا احوال معنى حالات و الاهوال غموته ما لا يحيط به دائرة البيان.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾

يا دا جمله معترضه ده بين الشرط والجزاء، نو جزاء د شرط پر دې تقدير قوله تعالى.

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْئَلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖۤ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿۳۹﴾

پوه سه: چي ضمير د ذنبه راجع دى و انس ته لتقدمه په رتبه كي او جان يې تبع دى.

پوښتنه: په دې ايت كي نفي د سوال د ذنب وسوې يعني چي بې سواله يې خداى دوږخ ته اچوي ولي چي خداى عالم الغيب والشهادة دى د دوى په ګنهو تر دوى خبر دى، او بل دا چي كرام كاتبين من الملائكة كتبوا اعمالهم وخزنة جهنم يعرفونهم بسيماهم فلا حاجة الى السوال عن الذنوب، او په بل ايت كي راغلي دي فوربک لنسئلهم اجمعين فما التوفيق بين النفي والاثبات، قال مجاهد في جوابه عن ابن عباس ونحو ذالک قال الحسن وقتادة وهو المعنى لما قال ابن عباس في الجمع بين الآيتين حيث قال انه لايسئلون سوال شفقة ورحمة بلكي سوال له دوى څخه پر طريقه د تفزيع او سرزنش كېږي، وعن عكرمة عن ابن عباس في الجمع بين الآيتين چي په قيامت مواقف ستة چي په بعض كي سوال نه ځني كوي او په بعض كي يې كوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ

فان الاخبار بما ذكر في الآية السابقة نعمة يزجركم عن الشر، او يا معنى داده چي هغه انعامات چي رب جل وعلا ورکړي دي عباده المنقادين په دغه ورځي کي د قيامت، او هغه انتقام چي خدای د عباده المتمردين على الكفر والعصيان نعمة على الاحباب كما قال الله تعالى: فقطع دابر القوم الذين ظلموا والحمد لله رب العالمين.

يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ بِسِيمَاهُمْ فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ

پېژندل کېږي مجرمان يعني کافران په سيما سره.

بوه سه: چي سيما بكسر السين يا په قصر سره يا په مد سره علامې ته وايي، نو دا جمله استيناف ده لپاره د جاري مجرى التعليل لعدم السوال، يعني سوال ته ضرورت نسته ولي دوی خپله علامه لري چي سواد الوجوه مع ارزقة العيون يا کابه عطف تفسير د کابه او بيقراري، لکه مؤمنان چي په اضدادو د هغو صفاتو پېژندل کېږي.

''فيؤخذ بالنواصي والاقدام'' نو مجرم نيول کېږي د ملکو له خوا په نواصي سره، نواصي جمع د ناصية ده چي مقدم ته د رأس وايي مراد څني وېښتان د مقدم الرأس دي او تر پښو يې ونسي او ورته يې وغورځوي او يا معنى داده و تجرهم على وجوههم او يا معنى داده چي نواصي او اقدام يې سره جمع کړي په يوه ځنځير کي د شا د خوا او د دوږخ ته يې وغورځوي.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ

ولي تکذيب بالآلاء مفضي و دغه تعذيب ته د مجرم چي نعمت دی لپاره د مؤمن لان تعذيب اعداء المؤمنين نعمة لهم.

هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ

دا دی دوږخ (مبتداء او خبر دی) هغه جهنم دی چي تکذيب کاوه چي نسته مجرمانو مشرکانو يعني في الدنيا.

فائده: موصول سره د صله صفت دی د جهنم او مجموع جمله مقوله ده يقال المقدر ده ای يقال لهم من جانب خزنة جهنم يعني چي دغه کش ماکش د اخذ بالنواصي والاقدام به ملکي دا خبره ورته کوي (ای هذه آه)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ ﴿٤٤﴾

تګ او راتګ به کوي مجرمان په مابين کي د دغه اى جهنم (چي مؤنث سماعي دى) او په مابين کي د حميم، يعني چي په دوږخ کي دوى تږي سي او د اوبو طلب وکړي حميم ته يې ورولي چي نهايته تودې اوبه دي "آن" اى بالغ نهايت الحرارة ته وايي چي تر دې بالا تودې اوبه نسته، ترمذي او البيهقي د ابو الدرداء ﷺ څخه يو روايت کړى دى مرفوع و عليه الصلوة والسلام ته چي پر اهل النار داسي لوږه غلبه وکړي، نو فرياد د خوراکي شيانو وکړي نو ملکي د طعام د ضريع ورته پيش کړي چي نهايت تريخ بټي دى لايسمن ولا يغني من جوع، بيا دوى د پر تږي سي طلب د اوبو وکړي نو ملکي په چنګک د اوسپني د دوى مخ ته چي نژدې کړي د مخ پوستکى يې ټوله راشوه سي الى اخير الحديث.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٥﴾

ولي چي تکذيب په الاء الله سره يوجب التعذيب بعض مفسرين بلکې اکثره مفسرين وايي چي له قول څخه د خداى عزوجل کل من عليها فان بيا تر دې ځايه پوري نصائح او زواجر او تخويفات دي وکل ذالک نعمة من الله لانها يزجر عن الکفر والمعاصي وذالک الزجر فضل ورحمة من الله عزوجل، يو مظهري" دى چي وايي دا ټوله تکلفات دي يعني زواجر او نصائح ته نعمت وايي وروسته ده له ځانه يو طويل بيان راوړى دى لايقبله الطباع السليمة ان شئت فارجع الى تفسيره وطالعة بدون العصبية ومعرفة الحق بالرجال.

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿٤٦﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٤٧﴾

پوه سه: چي مقام يا ظرف دى اى الموقف الذي يقف فيه العباد للحساب، او يا مصدر ميمي دى والمعنى قيام ربه اى اطلاعه وعلمه، په روح البيان کي وايي جنة للخائف الانسي يعني يو جنت د هغه خائف مقام ربه دى چي د انسانانو له جنس څخه وي او بل جنت د خائف جني لپاره دى على طريق التوزيغ، ولي خطاب دواړو ډلو ته يعني انس او جن ته دى. تفسير روح المعاني وايي وهذا عندي خلاف الظاهر آه شايد وجه به يې دا وي چي معنى د لمن خاف آه چي هر فرد لره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من خاف مقام ربه دوه جنت دي که انس وي او که جن.

پوښتنه: چي مذکور ايت شروع ده په تعديد کي د هغو آلاء چي په اخرت کي ور کړه کيږي ولمن خاف ته.

پوښتنه: دا دوه جنته څه شي دي؟

ځواب: په دې کي د مفسرينو اختلاف دی (۱) يو جنت دده خپل کور دی او يو يې لپاره د ملاقات دده د دوستانو دی واليه ذهب الجبائي (۲) دوه باغونه دي يو په داخل کي د قصر او يو خارج القصر (۳) وي دوه منزله چي له يوه څخه گناهي هغه بل ته ولاړ سي لپاره د کمال لذت بيا هغه اول ته ولاړ سي بلا تشبيه لکه من يطوف بين النار حميم آن (۴) جنت لعقائده الصحيحة وجنت لاعماله الصالحة (۵) جنت لفعل الطاعات وجنت لترک المعاصي (۶) او جنت چي ثواب د عمل دی او بل جنت چي د خدای پاک تفضيل او احسان دی (۷) يا يو جنت دی چي روحاني خوشالي پکښې وي او په هغه بل کي جسماني خوشالي، روح المعاني وايي چي له وروسته آيتو څخه دا فهميږي چي نعمتونه ټوله جسماني دي.

درويش وايي: چي بيهقي په شعب الايمان کي له حسن څخه روايت کوي چي يو ځوان په زمانه کي د عمر ﷺ د خلافت چي همېشه به په مسجد نبوي کي په عباداتو بخت ؤ، يوه ښځه پر ده عاشقه سوې وه، نو دی چي کور ته ولاړی په خپل خلوت ځای کي کښېنستی هغه ښځه پسي ورغله و ده ته يې د زنې دعوت ورکړی دده نفس هم څه ناڅه مائل سو وروسته چي مقام ربه وريياد سو لويه ناره يې وکړه او بېهوشه سو اکا يې ورته راغلی نو کله چي دی په هوش کي راغلی اکا ته يې وويل چي ورسه عمر ﷺ ته سلامونه وايه وقل ما جزاء من خاف مقام ربه، اکا چي يې عمر ﷺ ته ورغلی عمر ﷺ يې له ماجرا څخه خبر کړی، نو عمر ورسره راروان سو، عمر ﷺ و ځوان ته نارسيده يله چغه او بغاره وکړه او بېهوش سو او د بېهوشي په وخت کي يې روح خدای عزوجل ته وسپاره يعني مړ سو، عمر ﷺ چي راغلی ځوان مړ ؤ، عمر ﷺ وويل لک جنتان لک جنتان.

راغب اصفهاني وايي چي له خوف څخه د خدای عزوجل دا مراد نه دی چي صرف يې په زړه کي رعب پيدا سي لکه رعب د زمري څخه، بل انما يراد به الکف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عن المعاصي كلها وتحري الطاعات جبلها ، ولذا قيل لايعد خائفًا من لم يكن للذنوب تاركًا وقال بعض المفسرين المراد بالخوف اشده.

درویش وايي: چي مظهري دا ټوله بيان چي په بيان کي د جنتانو چي دمخه موږ بيان کړه او روح المعاني ټوله هم رواړي دي مظهري رد کړي دي او داسي يې ويلي دي وهذا التأويل مستبعد جدًا ، دليل يې دا ويلی دی چي د دې څخه خو دا لازمېږي چي عدد د جناتو پر ضعف د عدد د خائفانو وي بل علي ضعف ضعفهم لان قوله تعالیٰ ومن دونهما جنتان عطف دی پر هغه ايت و لمن خاف مقام ربه جنتان نو بايد هر يوه لره د من خاف مقام ربه څلور جنته وي، وروسته ده احاديث راوړي دي چي عدد د جنات څلور دی آه.

درویش وايي: چي د څلور والي حديثونه يې را نقل کړي دي هغه يو مخصوص جنتونه دي لکه په حديثو کي هم تصريح په خصوصيت سره سوې ده والا فالجنات مطلقًا ثمانية اجماعًا ، او هغه دليل چي مظهري د استبعاد د تأويل مذکور کړ خولی دی د هغه دليل دده فاسد دی ، ولي په جنات کليه د نه جنات صغيره صغيره سته هغه که څو ته ورسېږي څه استبعاد پکښي سته ، ولي جنات کليه هر يو يې تر دنيا و مافيها فراخه دي كما ثبت في الاحاديث الصحيحة المروية في الصحاح الستة ، وقد روی روح المعاني في شان هاتين الجنتين من حديث عياض بن غنم مرفوعًا ان عرض كل واحدة منهما (ای من الجنتين) مسيرة مأة عام.

درویش وايي: والله أعلم روح البيان ، روح المعاني او تفسير حسيني دا ټوله توجيهات مذکوره په باره کي د ومن خاف مقام ربه جنتان راوړي دي ، آيا دوی محدثين نه او که څرنګه؟.

ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾

پوه س: چي اصل د ''ذواتا'' ذو ؤ ای للمذکر وذات اصله ذوات للمؤنث او تثنيه ذواتا ده علی الاصل او په جمع کي هم ذوات راځي تخفيفًا او دغه الفاظ نه مستعملېږي مګر نه مضاف لانها وضعت ليتوصل بها الی الوصف باسماء الاجناس او دلته ذواتا صفت دی د جنتان ''افنان'' يا جمع د فن ده په معنی د نوع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمعنى ذواتا انواع من الاشجار والاثمار، دا روايت د ابن عباس رضي الله عنه وابن جبير والضحاك رحمه الله څخه مروي دى.

فائده: علم ته چي فن وايي هم په دغه مناسبت چي علم د هر فن وي فائده لري خصوصًا العلوم الشرعية من العقائد والعمليات كما لايخفى وما يتوقف عليه العلوم الشرعية كاللغة والنحو والصرف والمعاني والبيان يعني ما عدا علوم الفلاسفة، او يا جمع د فنن ده وهو مادق ولان من الاغصان كذا نقل عن ابن الجوزي، او ګاهي د فنن تفسير په ښاخ كوي وقال عكرمه رحمه الله ظل الاغصان على الحيطان (پر دېوالو) وقال الحسن رحمه الله ذواتا ظلال الى غير ذالك من التفاسير.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٤٩﴾

والآلاء ههنا ظاهرة كما يخفى.

فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴿٥٠﴾

په دې دواړو جنتو كي دوې چينې د اوبو چي بهېږي همېشه، دا بل صفت دى د جنتانو يا خبر دى د مبتداء مقدري اى في كل واحد منهما عين تجرى بالماء الزلال چي يوه تسنيم بولي او بل سلسبيل بولي، وروى هذا عن الحسن رحمه الله او عطية العوفى وايي چي يوه چينه من ماء غير آسن (چي خوند يې متغير نه وي) او بله چينه من خمر لذة للشاربين (يعني د سر درد نه وي پكښې كما في خمر الدنيا) او بعض مفسرين وايي چي عينان تجريان حيث شاء صاحبها من الاعالى والاسافل من جبل مسك.

پوهـه: چي ددې ايت معنى دا نه ده چي فقط دا دوې چينې د اوبو دي لامزيد عليهما. ولي خداى عزوجل په بل ځاى كي د قرآن كريم وايي فيها (اى في الجنات) انهار من ماء غير آسن وانهار من لبن لم يتغير طعمه (لكه شيدې چي خيد كـسي تريو خوند كوي) وانهار من خمر لذة للشاربين (يعني چي سر درد او بېهوشي نه وي پكښې لكه د دنيا په شرابو كي) وانهار من عسل مصفي (چي د مچمچى د آلودګي څخه پاک وي يعني موم) فلا بد انيكون من كل نوع انهار اربعة.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٥١﴾

د آلاء بيان ته ضرورت نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فِيهِمَا مِن كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجَانِ

په دې دوو جنتو کې د هرې مېوې څخه دوې نوعې دي، يوه نوع غريبه نا ولده او بله معروفه ده چې دوی په دنيا کې پېژندله، بعض رطب او يا بس لکه انګور او کشمش يا خورما تازه يا تمر وچه خورما دا بل صفت دی د جنتان، او بعض وايي چې رنګ يې يو وي او خوند يې جلا وي، البغوي بسنده له ابن عباس څخه روايت کړی دی ما في الدنيا حلوة او مرة که خوږه وي او که ترخه الا هو في الجنة حتى الحنظلة (يعني مرغوني چې ډېره ترخه ده) الا انها في الجنة حلوة يعني خوږه ده.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ

المعنى ظاهرة لايحتاج الى الاعادة.

مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ فُرُشٍ بَطَائِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَى الْجَنَّتَيْنِ دَانٍ
فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ

تکيه به يې کړې وي، يعني په ارام به ناست وي لکه بادشاهان.

پوه سه: چې دا لفظ "متکئين" حال دی له خائفين څخه.

سوال: خائفين چېرې ذکر سوي وه؟

ځواب: من خاف په معنی د جمع دی لان کلمة من شاملٌ للواحد والجماعة وههنا الخائف من مقام ربه اشخاص کثيرون "على فرش" جمع د فرش ده وهو ما يفرش للجلوس عليه والنوم چې په پښتو يې کوربچه بولي "بطائن" جمع د بطانة ده خلاف الظهارة (چې بطانة ته په فارسي او پښتو دوړو کې استروايي) دا به له استبرق څخه وي يعني پنډ وربښمين ټوکر.

درويش وايي: چې ابن جرير او ابن ابی حاتم والبيهقي عن ابن مسعودؓ چې تاسي ته خدای خبر درکړی د بطائنو چې استر يې بولي چې په دنيا کې خلک ديو معمولي ټوکر څخه ورکوي يعني د کوربچې سر پېره مخ چې په دنيا کې هغه د قيمتي ټوکر څخه ورکوي، و اخرج عن سعيد بن جبيرؒ قال ظواهرها من نور جامد، او البغويؒ وايي چې د سعيد بن المسيبؒ چې بطائن خو استبرق وه فما الظواهر فقال هذا کما قال الله عزوجل فلا تعلم نفس ما اخفی لهم من قرة اعين، په دې کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مقصد د سعيد بن جبير" دا دی چې علم ظواهر د موکول و علم ته د خدای عزوجل دی بدليل قوله تعالى فلا تعلم نفس آه.

بوه سه: چې "جنا" اسم دی په معنی د مجنود دی يعني هغه ميوه چې له درختو څخه پرې کيږي د خورک لپاره هغه نژدې و جنتيانو ته يعني جنتي ته دا تکليف نسته چې دی درختي ته وخېژي او ميوه به شکوي، اخرج سعيد بن المسيب" والبيهقي وهناد في تفسير قوله تعالى وذللت قطوفها تذليلا ان اهل الجنة ياكلون من ثمار الجنة قياما وقعودا و مضتجعين على اى حال شاؤا يعني ښاخونه د درختي ورته رانژدې کيږي على اى هيئة شاؤا.

فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ۝ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝

او په جنتو کې داسې ښځې موجودې دي من حور العين وغيرها چې سترګې يې پر خپلو ازواجو قصر دي يعني په بل جنتي پسې يې سترګې نه وي کړې، لکه په دنيا کې چې ښځه خپل تر ميړه ښائسته وويني سترګې پسې کړوي يعني چې کاشکې دا زما ميړه وای لکن په جنت کې د هري ښځې خپل ميړه تر هر چا ښائسته ورته معلوميږي.

بوه سه: چې اصل د "طمث" وينو ته وايي، نو ښځه چې بکره وي پر اول جماع کې چې د بکارة فرده يې څيرې سي تر فرج يې ويني راځي، نو معنی د ايت دا ده چې د غه اهل جنت ښځې تر خپلو ميړو د مخه يې نه انسان او نه جان يې بکارت ورته زائل کړی وي په جماع سره حتى چې ويني راسي بلکې د ښځو د اهل جنت کماهن باکرات وي چې خپل ميړه به يې بکارت ور زائلوي.

بوه سه: چې جمله د لم يطمثهن آه حال ده من قاصرات الطرف څخه.

فائده: زجاج" وغيره وايي چې د دې څخه دا و فهميده چې جن هم د خپلو ماينو سره جماع کوي.

فائده: اهل علم وايي چې د جنت حورې هميشه باکرات وي داسې نه چې په اوله پله کې باکرات وي وروسته بيا لکه د دنيا ښځې چې بکارت يې زائل سي نو فرج يې فراخه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

پوښتنه: د باکرې ښځې سره وطي خو درد کوي، نو د جنت حوري چې همېشه باکرات وي، نو د دوی سره جماع دوی ته درد پیدا کوي او که څرنګه؟

ځواب: درد خو هیڅ نه وي لکن همېشه چې باکرات وي ددې لپاره چې د باکره جماع خوندوره وي كما يدل عليه التجربة في نسائنا في الدنيا.

پوښتنه: وطي د جن د بشري ښځې سره کېدای سي؟

ځواب: مجاهد او الحسنؒ وايي چې انسان چې په وخت کې د جماع اسم الله نه وو وايي نو جن سره د دخول د بشر خپل آله هم ورسره ملګرې کوي.

درويش وايي: چې دې ته څه ضرورت دی ولې جن استقلالاً د بشريه ښځې سره ولې جماع نه سي کولای، ويدل على ذالک ما رواه ابو عثمان سعيد بن داؤد الزبيدي، قال كتب قوم من اهل اليمن الى مالكؒ صاحب المذهب چې دلته يو سړی دی د جنيانو څخه دی وايي چې زه نكاح غواړم د بشريه ښځې سره په حلال ډول، فقال مالكؒ ما ارى بذالک بأسًا لکن زه دا مکروه بولم چې يوه ښځه چې حامل سي يو څوک ورته ووايي چې ستا مېړه څوک دی؟ دا ووايي جن دی فيكثر الفساد في الاسلام ويفتح باب الزنى للنساء، ولې که د زنی يوه ښځه چې مېړه نه لري اميدواره سي، خو هغه ښځه هم دا ويلای سي چې زما حمل د خپل مېړه جن څخه دی.

فائده: بعض علماء وايي چې جن لره په جنت کې حوري نسته، لكن الطبرسيؒ وايي چې جنيانو لره هم حوري سته اذ لا مانع لان يخلق الله تعالى في الجنة حوراً للانس چې هم شكل د انسانانو وي، يقال لذالک حور الشهات، ويخلق الله تعالى من الحور ما يناسب الجن.

كَاَنَّهُنَّ الْيَاقُوْتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۹﴾

پوه سه: چې جمله صفت ده د قاصرات الطرف يا حال دی.

درويش وايي: چې په ياقوت او مرجان کې د مفسرينو اختلاف دی، اخرج عبد الرزاق و عبد بن حميد وابن جرير عن قتادةؒ چې ده ددې ايت په تفسير کې وويل في صفاء الياقوت وبياض اللؤلؤ (نو د مرجان سپيني ملغلري اخستي دي) او الحسنؒ ورته تفسير کړی دی، او بعض وايي في صفاء الياقوت وحمرة المرجان (نو له "جان" څخه يې متعارف معنی اخستې ده) او بعض وايي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی مشابه دي د یاقوت سره په سور کي د مخ او د مرجان ای صغار اللؤلؤ.

سوال: تخصیص د صغار يې ولي وکړی؟

ځواب: کشاف وايي چي صغار اللؤلؤ بالا دي تر کبارو په صفايي کي د رنګ که څه هم په قیمت کي کبار تر بالا دي، او بعض وايي چي اراده د کبارو ښه ده لانه اوفق بقوله تعالی کانهن بیض مکنون واخرج احمد وابن حبان والحاکم والبیهقي في بحث البعث والنشور في تفسیر هذه الآية ینظر الی وجهها چي دا په خپله پرده کي وي تر اندازېي مخ صاف وي او هغه کوچنی. ملغلره چي په دې پوري ځړېږي تضئ مابین المشرق والمغرب او حوري اوويا (۷۰) جوته کالي اغوستي وي داسي صافي وي چي تر دې ټولو سترګي ور وځي او پنډۍ يې معلومېږي.

یوه سه: چي یاقوت یوه ډېره ده ډېره سخته حتی چي سوهان تاثیر نه پکښي کوي اصلا بلکې د سوهانه سره یزداد حسنًا. لکن اصل یاقوت ډېر عزیز الوجود دی سیمًا یاقوت احمر يې وروسته هغه اصفر عزیز دی، د طب په کتابو کي وايي چي لوړ قیمت ده سره یاقوت که يې څوک په ګوتمۍ کي ولګوي امن الطاعون وان عم الناس وکان لابسها معظم عند الناس وجیهًا عند الملوک.

روایت کړی دی ابو سعید له رسول اللهﷺ څخه په بیان کي د اهل الجنة لکل رجل منهم زوجتان علی کل زوجة (۷۰) جوته کالي وي، یرئ مخ سوقهن (ماغزه د پنډۍ د دوی معلومېږي من وراء اللحم په سبب د حسن) او د غه په حدیث د ابو هریرهؓ په روایت اول زمرة (ډله) تدخل الجنة علی صورة القمر لیلة البدر (د څوارلسم تاریخ) والذین علی اثرهم (چي تر هغو وروسته داخلېږي) کاشد کوکب اضاءة قلوبهم علی قلب اجل واحد لا اختلاف بینهم ولا تباغض الی اخیر الحدیث الذي مر یعني له زوجتان آه.

هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ آلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦١﴾

نه ده جزاء او ثواب د نېک عمل په دنیا کي (استفهام انکاري دی) مګر احسان یعني ښه ثواب په اخرت کي، له انسؓ څخه روایت دی چي علیه الصلوة والسلام دا ایت و وایه هل جزاء الاحسان الا الاحسان بیا علیه الصلوة والسلام وویل هل تدرون ما قال ربکم (یعني په دې ایت د خدای عزوجل څه مراد دی) اصحابوؓ ورته وویل الله و رسوله اعلم، قال رسول اللهﷺ چي الله عزوجل وایي هل

جزاء من انعم عليه بالتوحيد چي ما احسان كړى وي پر چا په توحيد سره (يعني لآ اله الا الله) الا الجنة ابن عباس رض دا ورسره من قال لآ اله الا الله وعمل بها جاء به محمد ﷺ الا الجنة (چي مراد ځني عمل صالح دى)

وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٦٣﴾

ماسوئ د هغه جنتين ځخه چي دمخه ذكر سوه دا جمله عطف ده على قوله تعالى ولمن خاف مقام ربه جنتان، مظهري وايي چي جنتان دلته پر هغه جنتان چي په هغه ايت كي ذكر سوي ولمن خاف مقام ربه جنتان عطف المفرد على المفرد دى او من دونهما حال مقدم عليه، والمعنى ان لمن خاف مقام ربه اربع جنات.

سوال: خو اول به يې ځلور جنتان ويلي واى؟

ځواب: مظهري رح ددې په جواب كي وايي ولم يفعل هكذا ليدل على كون الاولين افضل من الآخيرين انتهى.

درويش وايي: چي وليس بشيئ او سلطان المفسرين علامه بغدادي رح وايي چي من دونهما مبتداء او خبر دي يعني جنتان مبتداء ده چونكه نكره د خبريه چي من دونهما پر مقدم كړى كما قال النحات في قوله في الدار رجل، حاصل د معنى يې بغدادي رح داسي بيان كړى دى دون تينك الجنتين في المنزلة والقدر جنتان اخريان، بيا روح المعاني ويلي دي چي ابن زيد والاكثرون وايي الاوليان للسابقين الى الخيرات والاخريان لاصحاب اليمين، وقد اخرج ابن جرير وابن ابى حاتم وابن مردوية عن ابى موسىٰ رض عن النبي ﷺ في تفسير قوله تعالى ولمن خاف مقام ربه جنتان وقوله سبحانه وتعالى "و من دونهما جنتان" قال ﷺ جنتان من ذهب للمقربين وجنتان من ورق (يعني سپين زر) لاصحاب اليمين، روح المعاني ويلي دي وزعم بعضهم ان الاولين للخائفين والاخيرين لذرياتهم الذين الحقوا بهم، روح المعاني دا تفسير رد كړى دى بقوله ولم اجدله مستنداً من الاثار انتهى قوله يعني په احاديث كي دا قول سند نه لري.

درويش وايي: چي روح البيان عيناً بيان د روح المعاني كړى دى او قول د مظهري چي ځلور جنته دي په قيل راوړى دى اشارة الى الضعف كما ذكرنا من قبل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿۶۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۵﴾

چي دا دوه جنته خالص شنه دي چي د ډېر شینوالي څخه مائل وتور والي ته دي.

فائده: په مدهامتان کي اشاره ودې ته ده چي غالب په دې دوو جنتو کي نباتات دي چي پر مخکه پراته ؤ لکه باد رنګ، کدو او هغه خوشبویه ګلان دي چي پر مخکه پراته وي او په اولو دوو جنتو غالب درختي مېوه داري دي او فواکه تا چي تفاوت يې ښکاره سي.

فِیْهِمَا عَیْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿۶۶﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۷﴾

په دې دوو جنتو کي دوې چینې سته چي اوبه لوړې پورته کوي چي په ښنتو يې فواره بولي او په بعضي کورو کي د عيش پرستو خلګو ليدل کېږي.

فائده: په وصف کي يعني نضاختان کي هم دا دوه جنته تر اولو دوو جنتو يعني ولمن خاف مقام ربه جنتان کم دي ولي د هغه جنتو په باره کي خدای پاک داسي ويلي فيهما عينان تجريان چي معنی يې داده چي تجريان من فوق العرش، او دلته يې داسي ويلي نضاختان چي له کښتني څخه لوړي يې اوبه ځي، ابن ابی حاتم د البراء بن عاذب څخه روايت کوي هما ای عينان تجريان خير دي تر عينان نضاختان.

فِیْهِمَا فَاكِهَةٌ وَّ نَخْلٌ وَّ رُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾

په دې دوو جنتو کي ده تفکه لپاره يعني نفس خوا پر پاکوي يعني غذا يې مطلب نه وي لکه مالته، لیمبو، نارنج وغيرها، نو ځکه علماء وايي چي خورما او انار فاکهة نه دي او د نخل مېوه چي خورما ده قوي غذا ده او انار دوا ده.

درويش وايي: چي عطف هم ددې تقاضا کوي، ولي عطف تغاير غواړي د معطوف او معطوف عليه ځکه امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چي که چا قسم واخستی چي فاکهه نه خورم او خورما يا انار يې وخوړی نه دی حانث او نور فقهاء وايي چي حانثېږي، يعني انار او خورما هم فاکهه دي.

سوال: چي انار او خورما هم فاکهه سي نو وروسته تر ذکر د فاکهة ددوی و ذکر ته ضرورت سته؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: ددې وسوال ځواب دوی ورکوي چي تخصيص بالذکر يې تعميم بعد التخصيص دی اشعارًا على كمال نفعها في التفكه لكه په قرآن شريف كي چي ذكر او عطف د جبرئيل او ميكائيل كړی دی بعد ذكر الملائكة.

درويش وايي: چي په مسئله کې د حنث په خورک د خورما يا انار چي سړی قسم اخستی وي چي زه فاكهه نه خورم لكه نور فقهاء چي د امام اعظمؒ څخه مخالف دي دغه رنګه امام ابو يوسفؒ او امام محمدؒ هم ځني مخالف دي كذا في روح المعاني او روح البيان او مظهري چي درې سره حنفيان دي.

درويش وايي: چي خورما او انار د جنت بلکې ټولي مېوې د جنت لكه انګور، انځر، شفتالو وغيرها صرف نوم دی په حقيقت کي بل شيان دي، البغويؒ په خپل سند سره روايت كړی دی له ابن عباسؓ څخه چي درختنه د خورما تنه يې د زمرد إخضر څخه ده او بلګونه يې د سرو زرو دي او سعف ددې (سعف د خورما له درختي څخه لكه وربښم داسي راوځي) دا كالي د اهل جنت دي، پر دوی قطع كېږي يعني لكه خياط چي يو ټوكر پر يو سړي سكښوي، وثمره امثال القلال (لكه لوی ژيان يا لوی سولغې) اشد بياضًا دي تر شيدو او ډېر خواږه دي تر عسلو او مندكي نه لري، او نرم دي تر پېروي، واخرج ابن ابي الدنيا عن ابن عباسؓ ان التمر من ثمر الجنة طولها اثنى عشر زراعًا او مندكي هم نه لري لكه ثمر د دنيا او پريوه انار د جنت ډېر خلک راټول وي خورک ځني كوي، مظهري، روح المعاني او روح البيان بادنى تفاوت في العبارات.

فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ ﴿۷۰﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۷۱﴾

دا جمله بل صفت دی د جنتانو، د فيهن معنی داده في اماكنهم د دوی په كورو كي، قال البغويؒ عن الحسن عن ابيهؒ عن ام سلمةؓ قلت يا رسول اللهﷺ اخبرني عن قوله تعالى خيرات حسان؟ ده وويل حورات دي خيرات الاخلاق حسان الوجوه، رواه الطبراني.

حُورٌ مَقْصُورَاتٌ فِي الْخِيَامِ ﴿۷۲﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۷۳﴾

پوه سه: چي ''حور'' بدل دی من خيرات جمع مؤنث يې حوراء ده او جمع مذكر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې احور ده والمراد بیض یعني سپین بدنونه به یې وي کما اخرجه ابن المنذر وغیره من ابن عباس رض او ام سلمة رض هم عن رسول الله ﷺ او مظهري له ابن الاثیر څخه نقل کړی دی چې حور شدید بیاض العین (چې د سترګو سپین یې تک سپین وي) او تور څایونه یې تک تور وي، د سترګو حدقه یې مستدیره وي (یعني مع قلیل من الطول) او بانو ګان د سترګو یې پورته ولاړ وي او شاخوا د بانو ګانو یې تک سپین وي.

فائده: داسي رنګ په انسانانو کي خو نسته استعارةً که ورته وویل سي امکان لري، په قاموس کي ورته ترجمه چې ابن الاثیر کړې وه کړې یې ده، روح المعاني وایي چې حدیث د ام سلمة رض چې د رسول الله ﷺ څخه یې نقل کړی دی، نو له تفسیر څخه د رسول الله ﷺ عدول نسي کېدای و بل تفسیر ته (یعني لکه د ابن الاثیر او قاموس او مظهري وغیرهم ته والله اعلم) او په بل ځای کي د قرآن عین راغلی دی "مقصورات في الخیام" پرده نشینه وي په خپلو خېمو کي.

محاورة: امرئة قصیرة او مقصورة یعني په حجاب کي ملازمه د خپل کور وي لا تطوف في الطرق لکه زموږ د زماني ښځي چې تول ورځ په بازارو کي ګرځي، البغوي رح یې داسي تفسیر کړی دی قاصرات طرفهن علی ازواجهن فلا یبغین بهم بدلاً (یعني سترګي یې پر خپلو مړو باندي چې د خپل مېړه ماسوی ته یې سترګي نه کېږي) وعن انس رض چې رسول الله ﷺ وویل چې زه په شپه د معراج جنت ته ورغلم یو ځای په جنت کي چې البیذ‌ع یې باله د ملغلرو او دشنه زمرد خېمې ولاړي وې او هم د یاقوت احمر خېمې ولاړي وې، له خېمو څخه دا نداء وسوه السلام علیک یا رسول الله، قلت یا جبرئیل ما هذا النداء، دا څرنګه ناري ماته په یا رسول الله سره وهل کېږي، جبرئیل رح راته وویل هؤلاء المقصورات في الخیام یعني حورات دي چې اجازه یې له خدای ﷻ څخه وغوښتل و تاته د سلام اچولو او خدای ت هم اجازه ورکړه الی اخیر الحدیث، فقرء رسول الله ﷺ حور مقصورات في الخیام، وروی البغوي رح بسنده عن عبدالله بن قیس ان رسول الله ﷺ قال ان في الجنة خیمة من لؤ لؤ مجوف عرضها (۶۰) امیال في کل زاویة منها اهل (یعني د جنتي حوري) مایرون الآخرین یطوف علیهم المؤمنون، او په بخاري او مسلم کي ورته حدیث راغلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي که زه ډېر وله حالات د جنت او د هغه د مېوو او د حورو چي په صحيح احاديثو کي راغلي دي وښيم او تفصيلي بيان یې وکړم، تفسير ایوبي به نهایته دراز سي او بعض عوام مطالعه کونکو ته به شکوک او شبهات پیدا سي، ولي د دوی تر عقلو لوړي خبري ېکښي راځي، نو ښه به دا وي چي هغه څه چي په صحيح حديث سره ثابت دی چي د جنت په احوالو کي راغلی دی چي په جنت کي مالا عين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر اكتفاء وکړم.

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾

چي نه وي مسه کړي دا حوري نه انسان د مخه تر جنتیانو او نه جان.

فائده: كناية عن الجماع.

فائده: ذكره المظهري نساء الدنيا يعني مايني د دنيا خير من حور عين لحديث اخرجه البيهقي عن ام سلمةؓ چي دا وايي ما و رسول اللهﷺ ته وویل نساء الدنيا افضل ام حور العين؟ قال نساء الدنيا افضل من حور العين كفضل الظهارة على البطانة لکه بالاوالی د سرېره پوښ د تلتک یا نالی وغيرها، پر بطانه (يعني استر د دغو شیانو) قلت بم؟ په څه سبب نساء الدنيا افضل دي تر حور العين، قالؐ بصلوتهن وصيامهن البس الله على وجوههم (اى نساء الدنيا) قالت ام سلمةؓ المرئة يوه ښځه يو مېړه وکړي چي هغه مړ سي بل پسي وکړي الى الثلثة والاربعة في الدنيا بيا دا ښځه مړه سي فتدخل الجنة ويدخلون كلهم الجنة، ايضًا فمن يكون زوجها منهم؟ قالؐ چي دې ته اختيار ورکړل کېږي نو دا به مختاره کړي احسنهم خلقًا يعني في الدنيا زوجه ایان ام سلمهؓ وايي چي حسن الخلق یې ښه دی په دنیا او اخرت کي.

مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾

تکې به یې وهلي وي "متكئين" حال دی لمن خاف مقام ربه جنتان حال کونهم متكئين "رفرف" في القاموس الرفرف ثياب خضر.

بوه سه: چي رفرف يا اسم جنس دی يا اسم جمع دی وعلى التقديرين يصح اتصافه بخضر او دا سوال نه واردېږي چي خضر خو مفرد دی نو څرنګه صحيح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اتصاف الرفرف به، وجه عدم الورود ان اسم الجنس واسم الجمع ايضًا مفرد فافهم. بعض اهل اللغة وايي چي رفرف هغه عالي ثياب دی چي پر چپر کټ د خوب يې کښنته وځړوي او اعلى قسم د فرش دی چي پر مخکه اوار وي او يا مزين بالبستان دي، تاريخ وايي چي بساط د نوشيروان شپيته گزه په شپيته گزه کي ؤ چي دده په بنګله کي به اواريدي ملغلري او جواهرات رنګ په رنګ پوري ځړيده آه. والرفرف الفراش الرقيق من الديباج.

پوه سه: چي تفسير د رفرف علي ﷺ او ابن عباس ﷺ والضحاک په دې ايت په فضول د رجاعي ګانو چي پر فراش يې اوار کړي لپاره د خوب کړي دی. او عاصم الحواري وايي چي رفرف بالبستانو ته وايي. او الجبائي وايي رفرف لوړو لوړو فرشو ته وايي. والى غير ذالک من التفاسير المذکورة في روح المعاني وروح البيان والمظهري والله اعلم بمراده في کتابه.

پوه سه: چي وعبقري حسان عطف دی پر رفرف، مراد د عبقري معنى د جنس ده ځکه توصيف په جمع سره چي حسان دی صحيح دی. لان اسم الجنس يشمل الکثير ايضًا، عرب دا ګمان لري چي عبقري منسوب دی و عبقر ته، چي هغه د يو ښار نوم دی د دوی په ګمان دېر جنيات پکښې دي نو هر يو غريب او نادر شی د هغه ته کوي، او قطرب وايي چي يا د عبقری لپاره د نسبت نه د بل هو بمنزلة کرسي وتخت ده، او په قاموس کي وايي عبقر بلد کثير الجن وقرية ثيابها في غاية الحسن، او په مفردات کي وايي چي عبقر موضع للجن ينسب اليه کل نادر من انسان وحيوان وثوب، او خليل نحوي وايي کل جليل نفيس فاخر من الرجال وغيرهم عند العرب عبقری.

تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِي الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ۝

لوړ دی از روی رتبه نوم د رب ستا.

فائده: تبارک ماضي صيغه ده چي معنا يې تعالى ده چي خاوند دی (صفت د رب دی) او مراد د بزرګی د ذات اقدس او اکرام مراد انعام دی پر مخلوق باندی چي اول اشاره ده و صفات جلاليه ؤ ته د ذات جليله کالخلق والملک او وحدانيت في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العبادة والانتقام من اعدائه في الآخرة والاولى او اكرام اشارة وصفات جمالية ته د خدای ؒ ده لکه رزق ورکول او صحت او عافیت ورکول دي و امت مسلمه ته في الدنیا والآخرة، والحاصل چي په دې ایت کي تنزیه او تقدیس دی له تعالی، نو په دې کي تقریر او تاکید دی لما ذکر في هذه السورة الكريمة من الآئه الفائضة على الآنام، وقد ورد في الاحاديث تعالى اسمه الجليل الذي من جملته ما صدرت به السورة اى الرحمن چي د اسم مبارک تنبيه ده باقاضة الآلاء المذكورة في السورة او اشاره و دي ته هم ده چي خدای لوړ دی د ما لايليق بشانه تعالى من الامور التي من جملتها انكار او تكذيب د نعمتو د خدای ؒ دی.

تنبیه: واذا كان اسمه تعالى باعتبار كونه دالاً على ذاته الاقدس كذالک فما ظنک بذاته الاقدس الاعلى، وقيل الاسم بمعنى الصفة دی (ای جنس الصفات الجلالية والجمالية كمامرت) والعلاقة بين الاسم والصفة داده صفت علامة دالة على الموصوف كما ان الاسم دال على المسمى، او بعض مفسران وايي چي د اسم لفظ زائد دی كما في قول القائل ثم اسم السلام عليكما.

درویش وایي: چي وهذا غير مقبول والقياس مع الفارق.

مسئله: په حدیث صحیح کي راغلي دي چي علیه الصلوٰة والسلام چي سورة رحمن و اصحابو ته تلاوت کاوه خلګو صرف غوږ ورته نیولی وُ نو علیه الصلوٰة والسلام دوی ته وویل چي ما دا سورة جن ته هم ویلی دی او هغه احسن جواباً منکم، ولي هر ځای چي به ما دا ایت ووایه "فبای آلاء ربکما تکذبان" دوی به ویل ولا بشیئ من الائک تکذب ولک الحمد، نو موږ که څه هم پر ځای ددې ایت سره دعاء د جنیاتو مکرر نه کړو ګناه نه ده لکن په اخیري ایت کي د فبای آلاء ربکما تکذبان هغه دعاء مندوب ده.

درویش وایي: چي بحمد الله وحسن توفيقه له تفسیر څخه د سورة الرحمن پر لس بجې تخمیناً د ورځي د چهار شنبې د محرم الحرام اخیري ورځ، سنه (۱۴۳۳) فارغ سوم، هم دا اوس تفسیر د سورة الواقعة شروع کېږي ان شاء الله تعالی.

اللهم سهل على تفسير هذه السورة واختمه بالخير والعافية والصلوٰة والسلام على سيد البرية محمد وعلى آله وصحبه البررة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الواقعة مكية وهي بسم الله الرحمن الرحيم ست وتسعون اية وثلث ركوعات

اِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ۝ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ۝

يعني چي پيدا سي نوې ورځ د قيامت، وجه التسمية بالواقعة لتحقق وقوعها البته كلمه د اذا منصوب ده په اذكر مقدر سره.

پوه سه: چي وقوع د يوم القيامة په تېز د نفخه ثانيه ده، اخرج ابو عبيد وابن الفريس والحارث بن ابى اسامة وابو يعلى وابن مردوية والبيهقي في شعب الايمان عن ابن مسعودؓ قال سمعت رسول اللهﷺ يقول من قرء سورة الواقعة كل ليلة لم تصبه فاقة ابدًا (يعني الفقر والمسكنة) واخرج ابن عساكر عن ابن عباسؓ نحوه مرفوعًا، واخرج ابن مردوية عن انسؓ عن رسول اللهﷺ قال سورة الواقعة سورة فاقرؤها وعلموها اولادكم، واخرج الديلمي عن ابن مردوية مرفوعًا علموا نسائكم سورة الواقعة فانها سورة الغنى.

پوه سه: چي كلمه د لام په "لوقعتها" كي لپاره د توقيت ده، والمعنى نسته په وخت كي د وقوع د هيڅ نفس چي پر خداى عزوجل دي دروا غ ووايي يا په شريك بالمعبودية سره لكه مشركين د مكې يا په ولد او صاحبه (يعني ماينې) لكه نصارى چي وايي چي عيسىٰ ابن الله دى او مور مريم يې د خداى صاحبه ده العياذ بالله، يا دا چي لايبعث الله الموتى لان كل نفس په دغه ورځ چي قيامت قائم سي مؤمنة صادقة مصدقة سره دد ې چي په دې دنيا كي اكثر نفوس كاذبه مكذبه على الله وه پر دې تقدير كاذبه اسم فاعل دى او دا هم احتمال سته چي لام دې لپاره د تعليل وي، فالمعنى ليس لاجل وقعتها او في حقها اخبار كاذبة بل كل ما ورد في شانها من الاخبار صادق حق لا ريب فيه، فاللام للتعليل والكاذبة مصدر دى كالعافية كذا في روح البيان، او دا معنى چي چا كړې ده چي په هغه ورځ خداى ته څوك دروا غ نه وايي غلطه ده، ولې چي كافران په ورځ د قيامت خداى ته وايي ربنا ما كنا مشركين، نو دا دروا غ نه دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝

دا ورځ ذليلونكې او كښته كونكې ده لاعداء الله الذين استكبروا في الدنيا وعتوا عتواً كثيراً "رافعة" پورته كونكې ده لاولياء الله الذين تواضعوا في الدنيا لامر الله.

پوهه: چې دا دوه صفتونه دي د واقعة بعد توصيفها بجملة يعني ليس آه.

سوال: خافض او رافع خو خداى عزوجل دى نو يوم ته يې ولې نسبت وكړى؟

ځواب: دا اسناد مجازدى په سبب د وقوع د خفض او رفع په دې كې.

إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا ۝

چې وښوري مځكه په سخت حركت سره حتى چې پر مځكه سربېره شيان كه بناء وي دي كه څه هم په سيخ او كانكريټ جوړي سوي وي يا غرونه وي.

پوهه: چې اذا شرطيه نه دى بلكې ظرف دى خافضة او معطوف پر هغه چې رافعةدى يا بدل دى د اذا وقعت.

وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ۝

معنى داده چې ټوك ټوك سي غرونه كما قال عطاء و مقاتل" يا معنى دا ده چې غرونه له ځايو څخه روان سي من قولهم بس الغنم اذا ساقها يعني مرعى ته كذا قال الكلبي والحسن وابن كيسان".

فَكَانَتْ هَبَاءً مُّنۢبَثًّا ۝ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ۝

نو وګرځي غرونه لكه يو ګرز چې پر يو سوري د خوني د لمر شعاع راسي منبثًا اى متفرقًا، او تاسي به وګرځئ (يا امت محمد ﷺ لان الخطاب معهم) درې صنفه.

سوال: زوج خو جوت ته وايي په لغت كې لكه مېړه او مايېنه، نو له درو څخه څرنګه درې جوته جوړيږي؟

ځواب: هر يو د درو چې د بل واخلي يا ذكر كړي جوت ګرځي، مثلاً نر چې يوازي وي فرد دى او دغه ښځه چې مېړه نه لري فرد ده چې مېړه و رضم كړه سو زوج سوه نو دواړه زوجين اثنين سوه وعلى هذا فقس.

پوهه: چې له درې صنفو څخه دوى په جنت كې به وي او يوه په دوزخ كې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ أَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۝

دا شروع په بیان کي د ازواج ثلثهٔ مع اشارة اجمالية الى احوالها قبل تفصيلها.

الاعراب: اصحاب الميمنة مبتداء ده كلمه د ما استفهاميه ده مبتداء ثاني ده او اصحاب الميمنة يې خبر دی، والجملة خبر ده مبتداء اولی دی چي اصحاب الميمنة وه.

فائده: بعض مفسرين وايي چي اصحاب الميمنة هغه دي چي پر راسته طرف جنت ته روان وي، او اصحاب المشئمة هغه کسان دي چي پر چپه طرف دوزخ ته روان وي او الضحاک وايي هم الذين يعطون كتبهم بايمانهم يعني چي عمل نامې په راسته لاس ور کول کېږي و اصحاب المشئمة هغه کسان دي چي عمل نامې په چپه لاس ور کول کېږي، او بعض مفسرين وايي چي اصحاب الميمنة هغه کسان دي چي پر راسته لاس د آدمؑ وه، او اصحاب المشئمة هغه کسان دي چي پر چپه لاس د آدمؑ وه اى حين اخذ الميثاق بقوله الست بربكم؟ قالوا بلى.

وَأَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۙ مَآ أَصْحٰبُ الْمَشْـَٔمَةِ ۝

ددې اعراب هم هغسي دی لکه د اصحاب الميمنة آه.

درويش وايي: چي کلمه د ما که څه هم د سوال له ماهيت څخه د شي په اصطلاح د اهل المنطق كما يقال ما الانسان اى ما ماهية الانسان فيقال في جوابه الحيوان الناطق لكن په عرف عام کي لپاره د استفهام عن صفة الشيئ كما يقال ما زيد فيقال في جوابه عالم مثلاً دلته استفهام جاري پر عرف دی، يعني ما صفت اصحاب الميمنة فيقال في جواب فخيم عظيم ويقال ما صفت اصحاب المشئمة فيقال في جوابه فضيع شنيع، واصل المقصود تعجيب الناس يعني په تعجب کي اچول د سامعينو كانه قيل اصحاب الميمنة في غاية حسن الحال واصحاب المشئمة في غاية سوء الحال.

وَالسّٰبِقُوْنَ السّٰبِقُوْنَ ۝

پوښتنه: چي دا دريم قسم دی د ازواج ثلثه.

پوښتنه: دا قسم او صنف خو اعلى او اشرف د درو قسموؤ نو ولي تر هغه نورو دوو وروسته راوړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: نعم لکن وروسته راوړه یې په سبب د دې د ی چې دوی او احوال سره متصل سي کما سیئاتي.

درويش وايي: د السابقون څخه مراد څوک دي په دې کې اختلاف دی.

(۱) هم الذين سبقوا الى الايمان بيله درنګه او سبقت يې و اسلام او طاعت ته کړی وي او مراتبو ته د قرب الى الله عزوجل وهم الانبياء علیهم السلام، ولي چي دوی مقدم انفاس شريفه دي چي و ايمان او طاعت ته يې لبيک وبلی دی والامم تبع لهم، او هغه کسان هم له امتو څخه د دوی چي پر اکمله وجه يې متابعت د دوی کړی وي او کمالات د نبوت يې بالتبعية يا په وراثت تر لاس کړي وي وهم الصحابة کلهم مع تفاوت درجاتهم رضي الله عنهم، وبعض التابعين لهم بالاحسان.

(۲) وقال ابن عباس رضي الله عنهما السابقون الى الهجرة هم السابقون في الآخرة يعني في دخول الجنة.

(۳) او ابن سيرين رحمه الله وايي هم الذين صلوا الى القبلتين من المهاجرين والانصار رضي الله عنهم، والمراد بالقبلتين الکعبة المبارکة وبيت المقدس.

(۴) ربيع بن انس رضي الله عنه وايي السابقون الى اجابة الرسول في الدنيا هم السابقون الى الجنة کابی بکر الصديق وعلي رضي الله عنهما، ولهذا قال علی..... بيت:

سبقتکم الى الأسلام طرًا ای جميعًا غلامًا ما بلغت اوان حلمی (ای البلوغ)

(۵) وعن علي رضي الله عنه هم السابقون الى الصلوة الخمس.

(۶) ابو نعيم والديلمي رحمهما الله عن ابن عباس رضي الله عنهما چي دا هغه کسان دي چي اول مسجد ته ورځي او اخير ته ځني وځي.

(۷) له عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روايت دی هم السابقون الى المساجد والخروج في سبيل الله ای الغزوات.

(۸) ابن جبير رحمه الله وايي هم السابقون الى التوبة واعمال البر.

(۹) وقال کعب بن مالک هم اهل القرآن بالحفظ والعمل به، وفي البحر قال وفي الحديث سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال هم الذين اذا عطوا الحق قبلوه، او چي سوال د حق ځني وسي بذلوه حکموا الناس کحکمهم لانفسهم.

(۱۰) وقيل السابق هو الذي سبق الى الطاعات في حداثة السن حتى خرج من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الدنيا، الى غير ذالک روح المعاني وايي وما ذكر في اكثر الاقوال من باب التمثيل پر هر تقدير السابقون السابقون مبتداء او خبر دي.

درویش وايي: چي چونکه مبتداء او خبر دلته سره يو دي او حمل يې اولی چي بدهي دی نو به توهم ددې کېدی چي په راوړلو کي يې فائده څه ده؟ نو د دفع ددغه توهم لپاره دا لس قولونه چي تاسي واورېده مبتداء او خبر يې مقيد کړه تاچي حمل له اوليت څخه ووځي او مقيد سي والله اعلم.

درویش وايي: چي په ايت مذکوره کي خو تأويل او تقيد په مبتداء او خبر دواړو کي وکړی کمامر مفصلاً، او داسي مقولې په عربو کي سته چي ظاهراً حمل اولی بدهي وي لکن يو ازي په خبر کي تأويل کوي کما في قول الشاعر:

انا ابو النجم زه ابو النجوم يم تأويل يوازي په خبر کي کوي يعني انا الشاعر المشهور المعروف، وشعری شعري يعني شعري المشهور بالبلاغة والفصاحة، ورته مثالونه په پښتو کي هم سته لکه يو عالم چي ووايي زه خو زه يم، ای چي تاسي مي پېژنئ چي علامه يم، يا يو سخي سړی ووايي زه خو زه يم ای المشهور بالسخاوة وامثال ذالک.

أُولَٰئِكَ الْمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾ فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ ﴿١٢﴾

دغه کسان چي دي مقرب بندګان و خدای ته دي، دا جمله مستأنفه ده في جواب ماحالهم "في جنات النعيم" متعلق دی په مقربون پوري، او يا متعلق دی په محذوف پوري چي حال دی له ضمير څخه المقربون ای كائنين في جنات النعيم.

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾

خبر دی د مبتداء محذوفي ای هم ثلثة يو جماعت عظيمه ده من الصدر الاولى من هذه الامة چي صحابه كرام ﷺ او تابعين او تبع تابعين ﷺ دي كما ورد في الحديث النبوي "خير امتي قرني (زما قرن چي صحابه دي) ثم الذين يلونهم (چي په پوري متصل وي يعني تابعين) ثم الذين يلونهم (چي تبع تابعين دي) ثم ان بعدهم قوم يشهدون ولا يستشهدون (چي شهادت به اداء کوي او دوی به چا نه وي شاهدان کړي، يعني د دروا غو شاهدي به اداء کوي) ويخونون ولا يأتمنون وينذرون ولا يفون ويظهر فيهم السمن، كذا روى مسلم عن ابى هريرة ﷺ (او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خیانت به کوي په معاملاتو کي او امانت داري نه لري او نذر کوي وفا نه کوي او چاغ والی د بدن به په دوی کي وي.

وَقَلِيلٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ﴿١٤﴾

او لږ کسان به وي د وروسته خلکو څخه یعني په امت کي د علیه الصلوة والسلام، یعني امت د علیه الصلوة والسلام به په مرور د ازمنة متطاولة څخه و طلب د دنیا بالحرام والحلال وحب الشهوات وقلة طاعت الله ورسوله ته اکثر د دوی به مائل سي. او یو لږ ډله به پر شریعت غراء مستقیم پاته وي او تناؤ د قال الله وقال الرسول به یې په غاړه کي اچولی وي د اوامرو د خدای او د رسول به اطاعت کوي.

عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾

دا بل خبر دی للضمیر المحذوف ای هم علی سرر جمع د سریر ده، چارپایي یا چپرکټ یا پلنګ یا تخت.

پوه سه: چي وضن محکم جوړول د زغري دی (چي په پخوا زماني کي جنګي قمیصوو د اوسپني د الغو څخه به یې جوړ کړی او په وخت کي د جنګ به یې اغوستی تا چي توره په اسانی سره بدن ته د لابس الذرع ته ونه رسیږي) بیا لفظ مستعار سو و هر محکم شي ته، له ابن عباس څخه روایت دی په تفسیر د دې ایت موضونة بالذهب، او ډېر مفسرین وایي موصولة منسوجة بالذهب (وصل سوي به وي او دل سوي به وي په سرو زرو سره) والجواهرات، او الضحاک یې ترجمه په بالښتانو سره کوي چي په تولو اطاق کي په صف پراته وي لکه په موجوده زماني کي د عربستان په مهمان خانو کي.

مُّتَّكِئِينَ عَلَيْهَا مُتَقَابِلِينَ ﴿١٦﴾

دوی به تکیه کړي وي او څنګ به یې اچولی وي پر هغو سرورو، او مخ په مخ به سره ناست وي، یعني یو د بل به یې سره څټ نه وي، دا کنایه ده د کمال محبت څخه د دوی یو د بل سره که چېري ضرورت پیدا سي چارپایي به ګرځي تا چي بیرته سره مخامخ سي، په عربي ژباړه دې ته حسن العشیرة وتهذیب الاخلاق وصفاء المودة والمحبة وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴿۱۷﴾

او طواف به کوي يعني شا وخوا به ګرځي لپاره د خدمت هلکان يعني چي کبير السن نه وي، بعض مفسرين وايي چي په قيامت کي خداى پيدا کوي لپاره د خدمت د جنتيانو، او بعض مفسران وايي چي دا غلمان چي دي اولاد د اهل دنيا دي لم يکن لهم حسنات فيثابون عليها ولاسيئات فيعاقبون عليها فجعلوهم لخدمة اهل الجنة، دا روايت د علي رضي الله عنه والحسن البصري "څخه دی.

درويش وايي: چي د ولدان په باره کي عظيم اختلاف دی او احاديث هم پکښي متعارض دي فارجع الى روح المعاني وروح البيان، نو د فقير په نيز ډيره زيبا خبره داده چي و الله اعلم ووايي، په تفسير کشف الاسرار کي وايي الاحاديث متعارضة في هذه المسئلة وکذالک مذهب المجتهدين"، والمسئلة ظنية والعلم عند الله تعالى وهو عزوجل اعلم، انتهى.

درويش وايي: چي نقل د احاديثو او مذاهبو و مطالعه کونکو ته د تفسير ايوبي سخت تشويش پيدا کوي، له دي سببه فقير له نقل څخه ډډه وکړه.

"مخلدون" يعني همېشه به وي دا ولدان چي به مري نه به زړېږي او نه به يې هيڅ تغير په الوانو کي راځي ويبقون ابداً على شکل الولدان، اخرج ابن ابى الدنيا عن انس رضي الله عنه مرفوعًا ان اسفل اهل الجنة (اى ادناهم) اجمعين من يقوم على رأسه عشرة الآف خادم، او په روايت کي د ابو هريره رضي الله عنه خمس آلاف خادم، ليس منهم خادم الا ومعه ظرف ليس مع صاحبه والله اعلم.

بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ ﴿۱۸﴾

پوهه: چي جار او مجرور سره د معطوفاتو متعلق دي په يطوف پوري، او اکواب جمع د کوب ده هغه د ښښنګ لوښي دی چي د هر شي څخه جوړ وي چي ګردی، خوله يې وي نه چوښکه لري او نه لاستی چي په ښنتو يې آب خوری بولي دا تر تولو لوښو ښه ده په جنت کي بلکي په دنيا کي هم ډېر قشنګ لوښي دی ولي پر هر ځای چي يې سړی خوله کښېږدي او به څني څښلای سي "واباريق" جمع د ابريق ده، هغه لوښي ته وايي چي فقط چوښکه لري، سميت اباريق ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

برېښني رنګ د هغه لوښي په سبب د صفا والي "وكأس" او هغه کټورېان چي شراب پکښې وي، که شراب نه وه پکښې کاْس يې نه بولي "من معين" د جاري ابداً لښتي ځخه د شرابو.

لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾

پر سريې نه درد کېږي له څښلو ځخه د هغو شرابو، لکه د دنيا شراب چي په اول وخت کي ډېر د سر درد لري، دا جمله سره د معطوف عليها صفت ده د کاْس چي مؤنث سماعي دی "ولاينزفون" په قاموس کي وايي نزف ذهب عقله يا سکر منه.

فائده: قراء د کوفې دا عبارت په کسره سره د زاء معجمه وايي من باب الافعال، نو معنی يې دا ده چي شراب نه نېستي کېږي بلکې همېشه به جاري وي، او نور قراء يې په فتح د زاء وايي، نو معنی يې هغه ده چي مورد ذکر کړه چي ذهب عقله وسکر فافهم.

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾

او مېوې د جنت د درختو به خوري چي د دوی خوښي وي يعني اشتهاء يې ورته کېږي.

تنبيه: تولو مېوو ته د جنت يې فاکهة وويل له دې سببه چي غرض په ټولو مېوو کي د جنت تفکه ده لا الغذاء لعدم الحاجة الی الغذاء لاهل الجنة.

وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾

او غوښې د مرغه چي د دوی اشتهاء ورته کېږي، البغوي" وايي چي د جنتي په زړه کي چي د يو مرغه غوښې ور وګرځي يا د کرک يا د تارو وامثال ذالک چي ده په دنيا کي خوړلي وي، نو هغه غوښې ورته پخې حاضري سي کما يشتهی، حديث نقل کړی دی ابن ابی الدنيا او البزار والبيهقي له ابن مسعود ځخه ده وويل قال رسول اللهﷺ انک تنظر الی الطير في الجنة نو ستا د دغه مرغه غوښو ته شوق وسي نو ته به يې و وينې پوخ بريان په غورو کي بين يديک، تفسير حسيني ميگويد وآن آن بود که مؤمنان بر خوان نشسته باشند، چيزی ميخورد کدام مرغ می آيد ودر پيش ايشان بر شاخ طوبی نشيند وبه قدرت الله جلت قدرته بگويد که من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آنم که هیچ چشمه نیست در بهشت که من ازان نه چشیده ام و هیچ درختي نیست که من از میوه آن نخورده ام گوشت من بهترین گوشتها است پس در بهشتی شوق خوردن گوشت او پیدا شود مرغ ازان شاخ طوبی بر گردد پر سر خوان بهشتیان قسمت شود، یکی پخته گوشت ویکی بریان گوشت ویکی قدید یعني گوشت خشک پس بهشتی چنان خواهد بخورد پس بقدرت الله آن مرغ زنده شود و بپرد، هناد د مغیث بن سوید رحمه الله څخه روایت کړی دی قال طوبی شجرة (یوه درخته ده) في الجنة حتی چي د جنت په هر سرای کي ددې یو ښاخ له ښاخو څخه سته چي په ښاخ کي یې رنګارنګ میوې سته پر دې هر ښاخ باندي ناست وي یو مرغه لکه مایه اوښی چي د جنتي و غوښو ته اشتهاء وسي اشاره ورته وکړي فیقع علی خوانه فیأکل من احد جانبیه سواء ومن الآخر قدید (له یو طرفه څخه تازه په غوړو کي پخ سوی) او د بل طرفه لکه د لاندي غوښي چي وخوري، بیرته دا اول مرغه سي والوزي.

پوښتنه: ایوبي ته ښځي نادره نه کوي؟

ځواب: ما د ځانه دا خبره نه ده کړې بلکي سند مې ورته ذکر کړی، او که تاسي تر دې لا نادره خبره غواړئ نو تفسیر مظهري، روح البیان او روح المعاني مطالعه کړئ چي په صحیح سند و سره به زما تر خبري نادره درته وکړي.

وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾

پوهه: چي حور جمع د حوراء ده او عین جمع د عیناء ده.

فائده: حور مرفوع چي مبتداء ده محذوف الخبر ای فیها حور عین او لهم حور عین کذا قال الاخفش رحمه الله یا معطوف دی علی ولدان ای یطوف علیهم حور عین.

سوال: د مخه ذکر سوه چي ولدان خو طواف پر جنتیانو کوي او طواف خو له شان سره د حوراتو مناسب نه دی لانهن مقصورات في الخیام؟

ځواب: امکان لري چي بعض حورات مقصورات في الخیام نه وي او محذرات دي نه وي بلکي خدم د هغو حورو دي چي مقصورات في الخیام وي فلا ینافي طوافهن ولا ینکر ذالک علیهن او یا طواف د دوی دی په داخل کي د خیامو وي وهو لاینافي طوافهن ولاینکر ذالک علیهن او یا طواف د دوی دي په داخل کي د خیامو وي وهو لاینافي کونهن محذورات ومقصورات في الخیام،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجاهد" وايي چې د حور معنی داده چې له ډېره حسنه سترګې پر برېښي او ماغزه د پنډيو يې تر جامو لاندې معلومېږي، او د عين معنی داده چې د سترګو توريې خالص نور وي او غټې سترګې يې په طول کې وي وهذا من احسن صفات العين.

كَاَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُوْنِ ﴿٢٣﴾

د ام سلمة ﷺ نه البيهقي داسې روايت کړی دی قالت يا رسول الله اخبرني عن قوله تعالى كامثال آه قال رسول الله ﷺ صفائهن كصفاء الدرر في الاصداف.

پوه سه: چې صدف د يو حيوان نوم دی په درياب کې چې دا اصداف د پسرلي په مياشتو کې ټوله د اوبو پر سر راسي او خولې يې باران ته نيولي وي، د بعض اصدافو په خوله کې چې يو څڅک باران وسي لکه د کيشف داسې کاسې لري چې دوی يې په خپل اختيار خلاصوي او بندوي، هغه صدف چې يو څاڅکی باران يې په خوله کې وسو کاسه بندي کړي د درياب پای ته ولاړ سي په قدرت د قادر متعال، دغه څاڅکی د باران ددې حيوان په نس کې کرار کرار ملغلره کېږي چې مقدار يې پوره سو حيوان مړ سي او هغه ملغلره ټوله صدف ډک کړي چې دې ملغلري ته دريکتا وايي او دريتيمه هم ورته وايي او دريکدانه هم ورته وايي چې لوی قيمت لري د بادشاهانو ښځې يې د سر په تاج کې نصب کوي، دا ملغلري بيا او باز راباسي، وهكذا چې پر دوه څاڅکي کاسې بندي کړي دوې ملغلري پيدا کېږي لکن د دريتيمه قيمت کم وعلى هذا درې څاڅکي څلور څاڅکي وهلم جرا.

مصرع:...... تا صدف قانع نه شد پر دُر نه شد

درويش وايي: وهذا البيان لا بد منه لفهم الآية والحديث.

پوه سه: چې كامثال اللؤلؤ صفت بعد صفت دی حورو ته د جنت "المكنون" ای المخزون في الصدف لايمسه ايدي الناس. البغوي" وايي چې يو وخت په جنت کې يوه رڼا پيدا سي جنتيان وايي چې رڼا د غابنو او د وريو د حوري وه چې وې خندل في حضور زوجها:- گفته اند: مشت نمونه خروار است.

جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾

دا جزاء او ثواب دی د هغو صالح عملو چې دوی په دنيا کې کوله، هل جزاء الاحسان الا الاحسان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي جزاءً منصوب دی بنا، پر دي دی چي مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای جزی جزاء یا منصوب دی مفعول له دی یعني یفعل بهم ذالک لاجل الجزاء لاعمالهم في الدنیا.

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿۲۵﴾

نه اوري اهل جنت په جنت کي باطلي خبري، وهذا هو المروي عن ابن عباس رض بروایة البیهقي، او روح المعاني وايي چي لغو هغه خبري دي چي د اعتبار وړي نه وي او بيله فکره د سړي څخه صادريږي فیجری مجری اللغا وهو صوت العصافير (د چوغکو اوازونه) وغیرها من الطیور و قد یسمی کل کلام قبیح لغواً. وفي القاموس اللغو واللغاء بیکاره خبرو ته وايي "ولا تأثيمًا" واخرج البیهقي عن ابن عباس رض وهناد عن الضحاک انه الکذب. او روح المعاني او مظهري او روح البیان وايي ای ولا نسبة الی الاثم ای لایقال لهم اثمم (ګناه ګار سوي) ویسئ ما صنعتم (او بدکار دي وکړي)

إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا ﴿۲۶﴾

"الا" استثناء منقطع ده ولي چي مستثنی په مستثنی منه کي چي لغو دی او تأثيم داخله نه دی "قيلاً" ای قولاً "سلامًا" قال الزجاج رح هو صفت لقيلاً بتأويله بالمشتق ای سالمًا سالمًا، وهذا ای التکرار یدل علی فشوا السلام فیما بینهم، او بعض مفسرين وايي چي دا سلامًا سلامًا د ملائکو دخوا و جنتيانو ته ويل کيږي ومعناه سلمتم من عذاب الاخرة، نو پر دې تقدير په معنا د اخبار دی او پر اول تقدير په معنی د دعاء دی بالسلامة.

وَأَصْحَابُ الْيَمِينِ مَا أَصْحَابُ الْيَمِينِ ﴿۲۷﴾

هم اصحاب القلوب الصافية والنفوس المطمئنة اولياء الله المتقون. ويدخل فيهم العصات من المؤمنين اما بمغفرة ذنوبهم بمحض فضل الله الغفور الرحيم. واما بشفاعة الانبياء والصالحين واما تعذيبهم بالنار تاچي له ګناه څخه پاک سي هغه هم په صالحين متقينو پوري ملحق کيږي.

فائده: الاستفهام لتعظيم شانهم عند الله، دا جمله معترضه ده لپاره د تعظيم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د مخه په اجمال کي خو اصحاب الميمنة راغلي ؤ او دلته اصحاب اليمين وويل سو؟

ځواب: دا تفنن في العبارة دی مصداق يې يو دی.

فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾ وَطَلْحٍ مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾

خبر د مبتداء دی ای هم في سدر مخضود او خبر بعد الخبر دی د مخضود معنی داده چي ځوزان يې ځني قطع سوي وي يا معنی داده چي ښاخونه يې راکاږه وي من كثرة الحمل، في القاموس خضد الشجر اى قطع شوكه، ويقال خضد الغض (ښاخ راکوږ سو) ای ثناه وهو رطب چي مېوه لنده وي نو په سبب د لوندوالي ښاخ يې کوږ سي، اخرج البيهقي عن ابی امامةؓ قد سئال اعرابي يا رسول اللهﷺ لقد ذكر الله في القرآن شجرة يؤذی صاحبها فقال رسول اللهﷺ وماهي قال السدر د بېري درخته ده فان لها شوكًا ځوزان لري، فقال رسول اللهﷺ يقول الله تعالى في سدر مخضود خدای عزوجل ځوزان ځني قطع کوي ويحصل مكان كل شوكة ثمرة، الحديث، واخرج البيهقي عن مجاهدؒ في قوله تعالى مخضود قال الموقر حملاً چي وابنکي يې ډېر وي وطلح منفود الموز المتراكم يو پر بل پراته وي لکه د کېلې وابنکي، او د السديؒ څخه روايت دی وهو شجر يشبه طلح الدنيا لكن ثمرها احلى من العسل، وعن مجاهدؒ كان لاهل الطائف واد معجب فيه الطلح والسدر فقالوا ليت لنا واد في الجنة مثل هذه الوادي فنزلت هذه الآية، كريمه: وفيها ما تشتهي الانفس وتلذ الاعين، وفضل طلح الجنة وسدرها على ما في الدنيا كفضل سائر ما في الجنة على ما في الدنيا.

درويش وايي: ومن اعاجيب التفاسير چي طلح منفود ام غيلان ده چي هغه ډېر ګلان کوي پر نظم برابر چي ښه بوی يې ځي چي عرب يې په باغو او مځکو کي شنه کوي لپاره د نزهت او زينت او طيب الرائحة لپاره وان كان لايؤكل منه.

مصرع...... ببين تفاوت راه از کجا بکجا.

وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿٣٠﴾

او په سايه کي دي چي غوړېدلي دي پر تولـه مځکه د جنت لکه سايه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غوريدلې وي پر تبوله مځکه په دنيا کي بعد الصبح قبل طلوع الشمس، او عرب هر شی چي نه قطع کېږي هغه ته ممدود وايي، بخاري او مسلم له ابي هريرةؓ څخه روايت کړی دی عن رسول اللهﷺ چي په جنت کي يوه درخته ستة چي سپور سرې يې په سايه کي روان وي سل کاله نه يې سي قطع کولای اقرئوا ان شئتم وظل ممدود يعني د ظل ممدود څخه دغه ظل مراد ده، په يل روايت کي يې دا هم ورزياته کړې ده چي بلکونه د هغې درختي خوشبويي د اهل جنت ده، وعن ابن عباسؓ شجرة في الجنة على ساق (پر خپله تنه) چي اهل جنت ورځي او هورې لاندي تر درختي مجلس سره کوي. د بعض خلکو ورپياد سي او اشتهاء يې وسي چي کاشکي موږ هغه لهو يعني سروز اوريدلی وای چي په دنيا کي به مو اوريدی، نو خدای پاک يو باد پيدا کړي له جنت څخه درخته وشوروي بکل لهو في الدنيا.

يوه سه: چي ديار د عربو ګرم دي، نو سايه د دوی لپاره استراحت دی، نو فيحتمل ان يكون المراد بالظل الممدود دي غاية الاستراحة وي كما ورد في الحديث الصحيح السلطان (اى العادل) ظل الله في ارضه يأوى اليه كل مظلوم اى يستريح عند عدله.

وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾ وَفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾

او اوبه وي چي جاري وي همېشه بېله لښتيو (يعني خرق العادة) او مېوې وي په جنت کي چي كثيرة الاجناس والانواع وي.

قال البغوي قال ابن عباسؓ چي نه قطع کېږي چي څوک يې پرې کوي ولې په ځای کي د هغې بله مېوه پيدا کېږي، ولا تمنع من احد اراد اخذها، او ددې تائيد کوي هغه حديث د ثوبانؓ انه سمع رسول اللهﷺ يقول لاينزع رجل من اهل الجنة من ثمرها الا اعيد مكانها مثلها، رواه البزار والطبراني، او بعض مفسرين وايي لا مقطوعة بمرور الزمان لکه اکثره مېوې د دنيا چي ژمی راسي قطعه سي ولا ممنوعة بالاثمان لکه په دنيا کي چي ثمن څوک ورنه کړي د کاندار د مېوې مېوه نه ورکوي.

يوه سه: چي "فرش" مع د فراش ده لکه سرج جمع د سراج ده، فراش هغه شي ته وايي چي سرې يې هواروي د ناستي يا د پروتي لپاره، او د مرفوعه معنی يا داده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي پر چپر کتهانو سر بېره اوار وي فالرفع حسي او يا معنى داده کما في حديث اخرجه احمد والترمذي وحسنه (ترمذي حديث حسن بللی دی) والنسائي وجماعة من المحدثين عن ابی سعيد الخدري عن النبي ﷺ انه قال ارتفاعها کما بين السماء والارض او د اسمان او مځکي تر منځ لاره او مسافه دی د پنځه سوه کالو.

سوال: دومره لوړ فراش ته جنتيان څرنګه ورپورته کېږي يا څرنګه راکښته کېږي؟

ځواب: روح المعاني ددې سوال په جواب کي وايي ولا تستبعد ذالک من حيث العروج والنزول ونحوهما فالعالم عالم آخر وراء طور عقلک انتهی.

درويش وايي: چي په دنيا کي ددې مثل في الجملة موجود دی ولي بعض بلډنګان په عربستان يا په اماراتو کي يا په نورو ممالکو کي د کفارو ډېر جګ بلډنګان سته د سل منزله څخه لوړ الی غير ذالک هرڅومره چي جګ د پايه څخه تر اعلی منزل په لفټ کي په دوو يا درو دقيقو کي سړی پورته کېدای سي، نو چي صنعت د انسانانو ودې اندازې ته ورسېدی فلا استبعاد في صنع الباري جلت قدرته، او يا معنی د مرفوعة داده چي دا فراش عاليه القدر دي فارتفاعها معنوي بمعنى شرفها، او ابو عبيدہ وايي چي مراد له فرش څخه ښځي د جنتيانو دي، ولي په عربي ژبه کي فراش کنايه له ښځو څخه راغلې ده لکه لباس چي هم کنايه له دوی څخه راغلې ده في قوله تعالی هن لباس لکم وانتم لباس لهن، او کښت هم کنايه له ښځو څخه راغلې ده في قوله تعالی فأتوا حرثکم انی شئتم ای من حيث الکيفية لا من حيث المحل يعني الدبر، د رفع معنى پر دې تقدير رفع القدر والمنزلة في الحسن والجمال والافعال وغير ذالک.

درويش وايي: چي پر دې تقدير ارجاع د ضمير ده.

إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ۝

آسانه سو (ولي چي ضمير خو غالبًا ومذکور مقدم ته راجع کېږي، مقدم خو فراش ذکر سوی دی فافهم ولا يناسب العود الی الفراش الا بهذا المعنی يعني چي له فراش څخه مراد نساء سي)

سوال: په عبارت کي دي صنعت استخدام وي يعني په لفظ ظاهره د فرش هغه د مخنی معنى مراد وي او په ضمير سره د هن دي حوري او ښځي مراد وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ځواب: استخدام ههنا لايفهمه كافة الناس فهو بعيد جدًا او پر تقدير د هغه چي د فرش ځخه فرش ظاهره مراد سي ضمير د هن راجع دی و ښځو ته که څه د مخه يې ذکر نه دی راغلی لکن له سياق څخه فهم کول کيږي کانه قيل و فرش مرفوعة ای في القدر واعلی قدر الفرش ان يکون عليه مع اهل الجنة نسائهم، او حور العين فتدبر غايته، والمراد بالانشاء خلق جديد، ابتداء من غير ولادة کالحور العين او اعادةً کنساء الدنيا.

فَجَعَلْنٰهُنَّ اَبْكَارًا ۝ عُرُبًا اَتْرَابًا ۝

موږ دوی ګرځوو باکرات چي د بکارت پردې به يې پر ځای وي، هر وار چي ميړه وطي ورسره کوي دوی به عذاري او باکرات وي من غير وجع چي په وطي کي درد نه وي لکه باکرات د دنيا چي په اوله جماع کي درد ورسره وي کما يدل عليه التجربة، اخرج البيهقي وابن المنذر عن الحسن" قال قال رسول الله ﷺ لاتدخل الجنة عجوز فبکت عجوز، فقال رسول الله ﷺ انها ليست بعجوز (په ورځ د قيامت يعني چي جنت ته يې خدای ﷻ وروليږي سپين سري به په انتهاء شابة کي ورولي ان شاء الله تعالی، يقول الله تبارک وتعالی: انا انشاء عن انشاء فجعلناهن ابکارًا "عربًا" جمع د عروب ده يعني معشوقې وي د مړو او پر مړو به ډېري ګراني وي، اخرج ابن ابی حاتم عن جعفر بن محمد عن ابيه عن جده قال قال رسول الله ﷺ کلامهن عربي، والله اعلم "اترابًا" جمع د ترب ده بالکسر ای مستويات في السن ښځي به يې (۳۳) کلني وي او مړونه به يې هم (۳۳) کلن وي او قد و قامت به يې شپېته (۶۰) وي او اووه (۷) ګزه به يې بر وي علی قد ابيهم آدم ﷺ شباب جرد پر مخانو د مړو به يې ږيري نه وي البته د باڼو ګانو او د ورځو وېښتان به يې وي لانه زينة للوجه، مکحولون سترګي به يې بې رنجو لکه په رنجو توري وي، هغه ډېر ښائسته جنتي به لکه د څوارلسم سپوږمی بريښي او اخيري به يې لکه روښانه ستوري په اسمان کي، د نر مخ به د دې په مخ کي ليدل کيږي او د دې مخ به د ميړه په مخ کي معلوميږي، تاره نه توکي او نه ګرنګ پاکوي وما فوق ذالک هو ابعد.

مسئله: در تفسير که بزبان فارسی است آورده که جمله زنان که بجنت آرند بدين سن سازند، او زن سال خورده هم بدين سن (۳۳) گرداند، واگر در دنيا شوهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نداشته باشد جوان باشد خواه سال خورده ببعض اهل بهشت دهند واگر در دنیا شوهر داشت اما شوهرش جهنمي باشد كامرئة فرعون، اورا بيكي از بهشتيان دهند، واگر زوجش بهشتي بود باز باو ارزاني نمايد واگر زن چند شوهر داشته باشد وهمه بهشتي باشند بزوج آخرين نامزد مينمايند انتهى.

درويش وايي: چي احوال د جنت او د هغه د مېوو او د هغه د حورو او غلمانو عدد يې تر عقل لوړ دی، وقد ورد في الجنة ان فيها ما لا عين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر، په ليدلو پوري اړه لري، اللهم اجعلنا من اهل الجنة بلا عذاب في النار واحشرنا في زمرة الابرار بفضل العزيز الغفار آمين يا رب العالمين.

لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ

حرف جر متعلق دی بانشانا او جعلنا يا صفت دی او يا خبر د مبتداء محذوفي دی اعني هن.

ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ۝ وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْآخِرِينَ ۝

خبر د مبتداء محذوفي دی اى هم كثيرون من الاولين من هذه الامة وكثيرون من الآخرين من هذه الامة كذا قال ابو العالية ومجاهد وعطاء بن ابى رباح والضحاك، وروى البغوي بسنده عن سعيد بن جبير عن ابن عباس في هذه الآية ثلثة من الاولين وثلثة من الآخرين، قال ابن عباس قال رسول الله ﷺ جميعًا عن امتي وهكذا في مسند الطبراني وابن مردوية من حديث ابى بكر عن النبي ﷺ.

فائده: مقتضى د دې حديثو داده چي امة د عليه الصلوة والسلام په هيڅ زمانه كي د اصحاب اليمين څخه خالي نه دی. روى الشيخان اى البخاري ومسلم في كتابيهما عن معاوية قال سمعت رسول الله ﷺ يقول لا يزال (همېشه به وي) من امتي قائمة بامر الله (چي ثابت قدمه به وي پ امر د خدای) لا يضرهم من خذلهم (دوی تاوان نه كوي كه څوک د دوی سره كومک نه كوي) ولا من خالفهم (چي له دوی څخه مخالف وي) حتى يأتي امر الله وهم على ذالک (مراد له امر الله څخه نفخة الصور الاولى ده)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَصْحٰبُ الشِّمَالِ ۙ۬ مَآ اَصْحٰبُ الشِّمَالِ ؕ

درويش وايي: چي ددې اعراب لکه د اصحاب اليمين آه وقدمر آنفًا

فِيْ سَمُوْمٍ وَّحَمِيْمٍ ۙ

"سموم" هغه تود باد ته وايي چي د سړي د وېښتانو په بېخو ننوځي، والتنوين للتعظيم، دا باد له دوږخه راوځي "حميم" نهايته تود ې اوبه چي دوی ته يې سي څښيني يې.

وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ۙ

او پر دوی سايه وي د د خان چي سخت تور وي، او ابن كيسانؒ وايي چي يحموم نوم دی له نومانو څخه د دوږخ، الضحاکؒ وايي چي اور د دوږخ په حال حاضر كي تور دی او اهل به يې تور وي بل كل شيئ فيها اسود.

لَّا بَارِدٍ وَّلَا كَرِيْمٍ ۝ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ مُتْرَفِيْنَ ۚۖ

چي نه خونک وي لکه د درختي وغيره سايه "ولاكريم" اى لانافع بوجه (ما په دې عبارت سره هغه توهم دفع كړی دی چي د ظل څخه يې توهم كېدی) په تحقيق دوی وه دمخه تر دې يعني په دنيا كي، دا علت دی د تعذيب د دوی په ماذكر من العذاب "مترفين" په نعمتو كي د دنيا وه او دوب وه په شهواتو كي لايتبعون في الطاعات.

وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ الْعَظِيْمِ ۚ

دوی وه په دنيا كي د پر ټينګ پر لوی ګناه چي شرک دی او انكار و على البعث بعد الموت وغير ذالک من كبائر المعاصي.

وَكَانُوْا يَقُوْلُوْنَ ۙ۬ اَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ۙ

او په دنيا كي دوی دا هم ويل، انكارًا عن البعث بعد الموت (همزه لپاره د انكار دی) آيا چي موږ مړه سو او وګرځو موږ خاوري (يعني غوښي مو خاوري وګرځي) او هډوكي (يعني يوازي هډوكي مو پاته وي متفرق بې پيوند ه، آيا موږ به از سر نو ژوندي كېږو (نو هل د استفهام انكاري دا دی)

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اَوَ اٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ

يا به بعث كبرئ زموږ پلرونه چي د مخه مړه دي.

پوه سه: چي همزه لپاره د انكار دى او واو لپاره د عطف دى پر محل د اسم د ان په انا كي، يا پر ضمير مستتر په مبعوثون كي.

سوال: عطف پر ضمير مستتر خو بيله تاكيده په ضمير منفصل سره يا په وجود د فصل په مابين كي د معطوف عليه او معطوف نه دى روا؟

ځواب: په دې عبارت كي خو فصل موجود دى چي همزه دى كه څه هم حرف واحد دى كذا قال الرضي في شرح الكافية.

قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ لَمَجْمُوْعُوْنَ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ

ته ورته ووايه يا محمد (ﷺ) چي ټوله انسانان كه اول دي او كه اخير دي من لدن آدم ﷺ الى نفخة الصور "لمجمعون" سره جمع به سي (بالبعث بعد الموت، لپاره د حساب او د جزاء د اعمالو بالجنة او النار) هغه وخت ته چي په دنيا كي دوى ته وعده وركړل سوې ده د ورځي معلومي چي يوم القيامة ده.

پوه سه: چي اضافت د ميقات و يوم معلوم ته لكه اضافت د خاتم فضة ده فتدبر.

ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ الْمُكَذِّبُوْنَ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ

"ثم انكم" عطف على ان الاولين والمخاطب به اهل مكة و امثالهم، او ثم يا د تراخي زماني لپاره دى يا د رتبې، او دا جمله داخله ده يعني لاندي ده تر قل "ايها الضالون" اى ګمراهانو د حق او هدايت څخه چي تكذيب مو كاوه له بعث بعد الموت څخه. خوركه به كوئ يعني بعد البعث و دخول جهنم له يوې درختي څخه چي نوم يې زقوم دى.

پوه سه: چي اول "من" لپاره د ابتداء دى او ثاني لپاره د بيان دى. روى الترمذي وصححه (يعني قال حديث صحيح) والنسائي و الحاكم عن ابن عباس ؓ لو ان قطرة (كه يو څاڅكى د زقوم) قطرت في بحار الدنيا لفسدت على اهل الارض معاشهم فكيف من يكون طعامه، اهل لغت وايي چي زقوم كريه المنظر بدبويه نهايته ترخه مېوه ده، په روح البيان كي وايي چي اهل حقيقت وايي چي د سدرة المنتهى بناخونه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نعمتونه دي د اهل الجنة لپاره او ريښيې يې زقوم دي د اهل النار لپاره فهي (اى سدرة المنتهى) منشاء د لطف او د قهر ده والجمال والجلال.

درويش وايي: چي كه څه هم دا خبره و قدرت ته د خداى عزوجل نادره خبره نه ده لكن كاشكي دا خبره په يو حديث كي كه څه هم ضعيف وي راغلي واى لكن لم يوجد او زه نه پوهېږم چي د اهل حقيقة څخه دده څوك مراد وي والله اعلم.

فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا الْبُطُونَ ۝

دوى ډكه وي، د منها ضمير راجع دى و شجر ته نظر و معنى ته لانه بمعنى الشجرة.

سوال: چي دومره زقوم تريخ بدبويه وي كما مر، نو دوى يې ولي په ډك نس خوري؟

ځواب: لغاية غلبة الجوع عليهم.

فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيمِ ۝

لغلبة العطش عليهم "عليه" ضمير راجع دى و شجر ته په اعتبار د لفظ يا راجع دى و زقوم ته "الحميم" يعني د تودو اوبو څخه.

فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ ۝

دوى څښنې لكه څښنل د اوښ چي په مرض د هيم مبتلاء وي، نقل بسند صحيح عن ابن عباس رض نو جمع يې همان د نر لپاره او همنى د انثى لپاره لكه عطشان وعطشى، بعض مفسرين وايي چي هغه اوښان چي په مرض د هيام مبتلى وي په اوبو نه اوبېږي ولايزال يشرب حتى يهلك لكه ورته مرض په انسانانو كي د استسقاء مرض دى، كذا اخرج البيهقي عن مجاهد رح وذكر البغوي عن عكرمة وقتادة رح وقال الضحاك رح وابن عيينة رح الهيم الارض ذات الرمل (يعني هر څو اوبه چي ورځي رېگ يې جزبوي) وكذا قال البيضاوي رح.

درويش وايي: چي دا ترجمه په دوو ځيانو كي بناء پر تشبيه ده فافهم.

هَٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّينِ ۝

دا د دوى مهماني ده، په دې عبارت كي تهكم په كي دى ولي نزل خو مهمانى ته وايي په مهمانى. كي خو ښه خوړك وي فهو كقوله تعالى فبشرهم بعذاب اليم، ولي چي بشارت خو خبري ته د خوشحالى وايي، عذاب اليم خو داسي نه دى نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه ايت هم تهكم بهم "يوم الدين" په ورځ د جزاء، فما ظنك بما يصيبهم بعد ما استقروا في جهنم.

نَحۡنُ خَلَقۡنَٰكُمۡ فَلَوۡلَا تُصَدِّقُونَ

موږ تاسي پيدا كړي ياست بعد مالم تكونوا شيئًا.

درويش وايي: چي په دې سره دوى هم اقرار كوي چي له دوى څخه به پوښتنه وسوه من خلقكم؟ قالوا الله "فلولا تصدقون" نه ولي تصديق نه كوئ پر بعث بعد الموت، ولي چي قادر پر ابداء وي قادر پر اعاده هم دى بلكې نظر وقدرة البشر ته اعادة اهون وي تر ابتداء وان لم يكن في قدرة الله عزوجل فرق بين الابداء والاعادة.

فائده جليله: خداى عزوجل خپل له ځانه اخبار په جمع سره وكړى لكه په دې ايت كي نحن خلقناكم اشاره و ذات او صفاتو ته ده، نحو قوله تعالى انا نزلنا الذكر وانا له لحافظون، او چي اخباريې له ځان څخه په لفظ مفرد وكړى مراد يې ذات مطلقه دى كما في قوله تعالى انا الله رب العالمين، او موږ چي خطاب و خداى عزوجل ته كوو په لفظ مفرد به يې كوو نحو يا الله يا رب العالمين، داسي خطاب موږ نه سو كولاى "انتم" ولي چي په دې خطاب ابهام د شرك سته يعني چي خدايان خو ډېر دي، فاحفظ هذه الفائدة..... ابيات:

آنکه مارا از خلوت نابود ..... مى كشد تا بجلوه گاه وجود
بار ديگر كه سموم هلاك ..... روئ پوشيم زير پرده خاك
هم تواند كه بامر كن فيكون ..... كه ازراز گوشه لحد بيرون

أَفَرَءَيۡتُم مَّا تُمۡنُونَ

تاسي خبر راكړئ چي تاسي نطفه غورځوئ په ارحامو كي د ماينو.

ءَأَنتُمۡ تَخۡلُقُونَهُۥٓ أَمۡ نَحۡنُ ٱلۡخَٰلِقُونَ

(يعني تجعلونه بشرًا سوى الاعضاء وعلى مايليق بالبشرية) كه د خلق انساني جامې موږ په اغوندو.

پوه سه: چي رؤيت علمي دى موصول سره د صله يې مفعول اول دى، او دا جمله استفهاميه ده مفعول ثاني د كذا دى في روح المعاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٦٠﴾

يعني موږ تقسیم کړی دی پر تاسي باندي مرګ، لکه وېشلي چي مو دي پر تاسي رزقونه ستاسي يعني لکه چي رزق په تقسيم دی بعض خلک مو فقرا ګرځولي دي على حسب تفاوت فقرهم او بعض مو اغنياء ګرځولي دي على حسب تفاوت درجاتهم في الغناء، داغه رنګه مو عمرونه ستاسي وېشلي دي بعض طويل العمر وي على حسب تفاوت الطول او بعض قصير العمر مو ګرځولي دي او بعض متوسط العمر، دا ټول په اراده سره زموږ دي في الازل. يا معنی داده چي موږ موقت کړی دی موت د هر انسان په وقت معين پوري لايستأخرون منه ولا يستقدمون منه.

پوه سه: چي ابن کثير ''قدرنا'' په تخفيف د دال وايي او باقي قراء يې په تشديد د دال وايي، دواړه لغته دي معنی يې يوه ده.

فائده: من علم المعاني تقديم د مسند اليه چي نحن دی پر مسند فعلي چي قدرنا دی لپاره د ارادة التخصيص دی يعني تقدير او وقت ورته معينه کول خاص په موږ پوري اړه لري لکه خلق د ټولو چي مختص په موږ پوري دی.

''وما نحن بمسبوقين'' دا جمله حال ده له فاعل څخه د قدرنا، نو معنی يې داده حال کوونکا غير مسبوقين يعني تر موږ د مخه تقدير د اعمارو او د موت د هيڅ چا نه دی کړی، داده ي حال کوونکا غير مغلوبين چي څوک موږ مغلوب او عاجزه وګرځوي.

عرب وايي: سبقته على كذا اذا غلبته عليه او دی په دي عاجز کړي. وحاصل المعنى چي موږ څوک نسي عاجزه او مغلوبه کولای چي يا دي له مرګه وتښتي يا دي په وخت کي تغير او تبديل راولي.

عَلٰٓى اَنْ نُّبَدِّلَ اَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾

متعلق دی په مسبوقين پوري يعني موږ څوک نسي مغلوبه او عاجزه کولای له دي څخه چي ستاسي په ځای کي نور خلک پيدا کړو يعني تاسي د عدم و کندي ته وغورځوو، او مظهري وايي متعلق دی په محذوف پوري حال دی له فاعل څخه د قدرنا تقديره بينكم الموت قادرين على ان نبدل منكم امثالكم.

درويش وايي: چي بېله حذفه د قرآن مبارک ممکنه وي نو محذوفاتو ته څه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضرورت سته ويرحم الله السيد محمود البغدادي "حيث قال وما نحن بمسبوقين اى لايغلبنا احد على نبدل امثالكم، مطلب چي روح المعاني بيله تقديره او حذف ترجمه د ايت كړې ده، او مظهري قرآن مبارک د خپلو توجيهاتو ځاى ګرځولى دى چنانچه اول يې د حذف معنى څرګنې ده كمامر بيا وايي وجاز انيكون آه، وروسته بيا وايي وجاز انيكون آه والله اعلم.

"وننشئكم" يعني موږ قادر يو چي وروسته تر مرګ تاسي بعث كوو، په داسي احوال او صفاتو كي يعني د بعض مخان يې سپين وي او د بعض دا به تور وي او د بعض ځاى به په دار الثواب جنت كي وي او د بعض دا به دار البوار دوږخ كي وي چي تاسي نه په پوهېږئ و "ننشئكم" عطف دى على ان نبدل.

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْاَةَ الْاُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾

"ولقد علمتم" عطف دى على قوله افرئيتم ما تمنون "النشأة الاولى" يعني چي انسان د نطفي له اوبو څخه پيدا دى "فلولا تذكرون" يعني تاسي حال د نشئاة الاولى وپيژندى نو ولي پند نه اخلئ چي قادر پر نشأة اولى قادر دى پر نشأة اخرى يعني په ورځ د قيامت، پند دا ؤ چي تاسي پر بعث بعد الموت ومايكون بعد البعث من الثواب والعقاب والجنة والنار به ايمان راوړى واى حسب ما اخبركم المخبر الصادق.

اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ﴿٦٣﴾

تاسي خبر راكړئ د هغه شي چي تاسي يې كښت كوئ يعني تخمونه يا د غنمو يا د جوارو الى غير ذالک په مځكو كي پاشئ.

ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ﴿٦٤﴾

آيا تاسي راشنه كوئ د غه ما تحرثون كه يې موږ راشنه كوو، الاستفهام للتقرير اى حملهم على الاقرار يعني شنه كونكى خداى دى كما هم مقرون بذالک.

لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ حُطٰمًا فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿٦٥﴾

"لونشاء" مفعول يې د وروسته څخه فهمېږي اى جعله حطاما "لجعلناه" اى الزرع "حطاما" عطاء" وايي چي خالي پرور به واى داني به نه واى پكښې، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض وايي خالي ورڅې به وای چې نه د انسانانو د خوړک شی به پکښې وای او نه غذاء. "فظلتم" تاسي به ګرځېدلي وای اصل یې ظللتم ؤ یو لام یې حذف کړی لپاره د تخفیف "تفکهون" تعجب به مو کولای بما نزل بزرعکم وهو قول عطاء" والکلبي" ومقاتل". او بعض وايي چې تاسي به پښېمان پر خپلو خواریو چې د دې کښت په اوبو خوره د باندې تېر سو یا پر تخم چې ضائع سو. وهو قول یمان البلخي". او الحسن" وايي چې پښېمان به پر هغه معصیت چې تاسي ته یې دا مصیبت پېش کړی. او عکرمه" تلاموں خانو ته به ملامت کولای پر دې کښت باندې او ابن کیسان وايي تحزنون (تاسي به غمجن وای).

إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾ بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾

دا جمله حال ده په تقدیر د قول د فاعل څخه د تفکهون. والتقدیر فظلتم تفکهون قائلون انا لمغرمون والمغرم الذي ذهب ماله بغیر عوض چې معنی یې دلته داده چې هغه تخم چې په مځکه کې پاشلی ؤ راباندې تاوان سو. ولې چې حاصل یې نه وکړه.

"بل نحن محرومون" اضراب دی عن الاول ولې تاوان د مال اسانه دی تر محرومیت د رزق چې مفضي وهلاک ته ګرځي، قرطبي" په خپل تفسیر کې وايي چې مستحب ده کښته ګر لره چې وروسته تر اعوذ بالله الخ او تر تلاوت د دې ایت دا سي وايي انا الزارع والمنبت هو الله اللهم صل علی محمد وارزقنا ثمره وجنبنا ضرره واجعلنا لانعمک من الشاکرین، بعض علماء وايي چې تجربه کړه سوې ده لپاره د دفع د افاتو د کښت کلها او نتیجه یې ورکړې ده، کذا في روح البیان او روح المعاني.

أَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾

تاسي خبر راکړئ د هغو اوبو یعني خوړې بقرینة مابعده چې تاسي یې څښئ والعائد الی الموصول محذوف ای تشربونه.

ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْنُ الْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾

آیا تاسي را اورولي دي له وریځې څخه (او بعض مفسران وايي چې مزن سپینې وریځې ته وايي چې اوبه یې ډېرې خوږې وي) یا موږ نازلې کړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ اُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۰﴾

که زمونږ مرضي و ای ګرځولي به مو وای دا اوبه (مفعول د نشاء له جواب ځخه د لو فهمېږي) "اجاجًا" ترروې یا ترخې، كذا في القاموس چي په اسانی نسي څیښتل کېدلای "فلولا تشکرون" ولي تاسي د خوږو اوبو چي نازلوي رب جل وعلا شکر نه وایاست د امثالو د دغو جليلو نعمتو چي له ضروریاتو ځخه د ژوند دي، ابن ابی حاتم د ابی جعفرؒ ځخه روایت کړی دی چي نبي كريمﷺ به کله اوبه څیښلې داسي به یې ویل: الحمد لله سقانا عذبًا (خوږې اوبه) فراتًا (تنده ماتونکي) برحمته ولم يجعله ملحًا اجاجًا بذنوبنا (زمونږ په ګنهو سره)

پوه سه: چي سره د عصمته رسول كريمﷺ نسبت و ځان ته کوي هضمًا لنفسه وتعليمًا لامته.

اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِيْ تُوْرُوْنَ ﴿۷۱﴾

تاسي خبر راکړئ له هغه اور ځخه چي تاسي یې راباسئ له زناد ځخه (زناد په پښتو اوورتک بولي).

پوه سه: چي په قديمه زمانه کي چي دا موجوده سهوليات د اور بلولو نه وه عربو به یا وسپنه پر ډبره په زوره ووهله د هغه ځخه به بڅرکي د اور راوتل لاندي به يې وچ وابنه یا پنبه وغیره ورته ایښي وه چي دا بڅرکي به په هغو کي ولوېده هغو به اور واخستی باره به یې نور بوټي پر واچول اور به یې بل کړی یا دوډی یا کتغ به یې پر پخاوه، دې ته دوی زناد وایه جمع یې زند ده، او د خدای عزوجل په قدرت دوې درختي وې يوې ته یې مرخ او بلي ته یې عفار وایه چي د دې درختي د پرې کولو په وخت کي به اوبه تر ځڅېدلې دا مرخ چي به پر عفار و موږی اور به ځني راوتی، بیا به یې نور وچ لرګي پر واچول اور به یې بل کړی، نو خدای پاک د دغو دوو درختو په باره کي وايي.

ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ الْمُنْشِـُٔوْنَ ﴿۷۲﴾

آیا تاسي پیدا کړې ده درخته ددې اور، چي عبارت د مرخ او عفار ځخه دي، او که موږ پیدا کړې ده دا درخته د اور، یعني خالق یې زه یم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي ضمير مؤنث د شجر تها راجع دی اور ته چي د مرخ او عفار څخه پيدا کېږي، ترتيب د اور را ايستلو يې دا دی چي مرخ پر عفار وموږي اور څني پيدا کېږي.

فائده: عرب هغه ته چي لوړ دی يعني مرخ زند وايي او کښته ته زندة په تانيث وايي قياسوي يې پر منده د اوښانو او پر طروقة چي اوښه ده چي د هغو له جماع څخه جونګي پيدا کېږي.

نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّ مَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ﴿۷۳﴾

موږ ګرځولې دی اور د زناد (ضمير مؤنث ورته راجع دی) پند او دليل پر بعث بعد الموت باندي، په داسي دول چي هغه ذات قادر متعال چي اور د شجر اخضر څخه را وباسي سره ددې چي شجر اخضر کي خو اوبه سته چي ضد د اور دی قادر دی پر اعادة د روح په عظام او په هډوکو کي چي تضاد هم نه سره لري، يا تذکره د لاري په تاريکه کي "ومطاعًا" اى منفعة "للمقوين" اى للمسافرين النازلين بالقوا.

فائده: قوا هغي مځکي ته وايي چي له ابادی څخه لېري وي چي قصر يې هم بولي، تخصيص د مقوين چي يې وکړی ولي چي د دوی نفع اخستل له اور څخه ډېره ده تر مقيمينو، ولي چي دوی چي اور بل کړي د شپې درندګانو څني تښتي او لار څني ورکه وه لار ورته معلومېږي او ځانونه هم په تو دوي که يخ ؤ، او شی هم پر پخولای سي الى غير ذالک من المنافع، وهذا قول اکثر المفسرين".

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿۷۴﴾

کلمه د فاء لپاره د سببيت ده يعني چي تا دا بدائع او عجائب د قدرت د رب جليل وا وريده نو ته تنزيه وکړه د هغه ذات جليل عما يقولون الکافرون المنکرون لوحدانية الکافرون لنعمه المتوالية "باسم ربک" قال المظهري الباء زائدة ولفظ الاسم ايضًا، فالمعنى سبح ربک وهذا ليس بشيئ عند الفقير، بلکي دا معنی ډېره زيبا ده فسبح بذکر اسمه تعالى "العظيم" صفت دی د ربک.

فَلَآ اُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ ﴿۷۵﴾

بعض مفسرين وايي چي زه قسم نه اخلم ولي چي بې قسمه امر ظاهر دی، پښتانه وايي چي زما دي قسم نه وي يعني قسم ته ضرورت نسته بې قسمه فلانی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبره ومنه، او بعض مفسرين وايي چي لام زائد دی لپاره د تاکيد كما في قوله تعالى لئلا يعلم اهل الكتاب آه اى ليعلم، نو معنی د ايت دا ده چي زه قسم اخلم بكذا، او بعض مفسرين وايي چي كلمه د لا رد دی لما قال الكفار في القرآن انه سحر او شعر او كهانة فالمعنى ليس الامر كذالك اى كما يقولون زما دي قسم وي بمواقع آه، او بعض مفسرين وايي چي اصل يې فلا انا اقسم محذوف المبتداء دی اى انا و اشبع فتحة لام الابتداء نو الف ځني پيدا سو، ويدل عليه قرائة عيسى بن عمر "فلا اقسم و اورد روح المعاني ههنا كلامًا طويلاً.

بوه سه: چي له نجوم څخه مراد په نېز د ابن عباس رضي الله عنه نجوم د قرآن كريم دي اى آياته وسوره او د مواقع څخه يې مراد اوقات د نزول دي ولي چي نزول د آياتو د قرآن پر عليه الصلوة والسلام په اوقاتو متفرقه ؤ د نبوت د عليه الصلوة والسلام سوی دی. او بعض مفسرين وايي چي مراد د مواقع النجوم څخه غروب د دوی دی.

فائده: تخصيص د مغاربو چي يې وكړی په ذكر سره له دې سببه چي غروب د دوی زوال د اثر د دوی دی چي قوي دليل دی پر امكان د دوی او پر حدوث د دوی او پر دې چي يو مؤثر خالق سته چي هغه زوال نه لري، له هم دې سببه ابراهيم خليل الرحمن عليه السلام ختل او لوېدل د ستورو او د سپوږمی او لمر دليل وګرځاوه چي دا د معبوديت لائق نه دي، وقال لا احب الآفلين، او عطاء بن ابی رباح" وايي چي مراد له مواقع څخه منازل د ستورو دي او ځايونه د حركاتو د دوی دي، او يا له دې سببه يې تخصيص وكړی چي دا وخت د بيداری دی د متجهدينو يعني لصلوة التهجد او د هغو كسانو دی چي زاری او خواستونه و خدای عزوجل ته كوي، او د وخت د نزول د رحمت او رضوان د ارحم الراحمين دی، وفي البخاري ومسلم عن ابی هريرة رضي الله عنه مرفوعًا ينزل ربنا كل ليلة الى سماء الدنيا (هذا من المتشابهات الحديثية) حين يبقى الثلث الآخير من الليل فيقول او خدای عزوجل وايي چي څوک چي ماته خواست وكړي او زه يې قبول كړم او څوک دی چي زما څخه سوال وكړم زه يې مسؤل وركړم او څوک دی چي زما څخه بخښنه وغواړي فاغفرله.

وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ۝

او دا قسم دی ("انه لقسم" دا جمله معترضه ده بين القسم وجوابه) كه تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په و پوهېږئ، دا بيا جمله معترضه ده په مابين كي د موصوف چي قسم دى او د صفت چي عظيم دى، په دې سبب لوى قسم دى چي مقسم به چي په مواقع النجوم كي دلالت دى پر لوى قدرت د خداى او پر كمال حكمت د خداى دى او لوى رحمت د خداى لكه د مخه عنقريب چي بيان يې تېر سو.

إِنَّهُۥ لَقُرْءَانٌ كَرِيمٌ

په تحقيق دغه يعني مايتلوه محمد ﷺ "لقرآن" يعني د خداى له خوا نازل دى ده له ځانه نه دى جوړ كړى لكه كفارو د مكې چي به ويل "كريم" اى مكرم لانه كلام الله عزوجل وفضل كلامه تعالى على سائر الكلام كفضل الله تعالى على خلقه، رواه الترمذي، يا معنى د كريم داده چي كثير الخير والنفع دى، ولې قرآن مبارك مشتمل دى پر مهماتو د علومو شرعيه وُ چي په هغو كي اصلاح د معاد او د معاش بيان سوې ده يا معنى داده حسن مرضي په خپل جنس كي چي نور كتب الهيه دي المنزلة على الانبياء السابقين عليهم السلام كفضل رسول الله ﷺ.

فِى كِتَٰبٍ مَّكْنُونٍ ۝ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلْمُطَهَّرُونَ ۝

"مكنون" اى محفوظ چي مراد ځني لوح محفوظ دى، چي نه يې مسح كوي مگر نه پاک كرده شده كسان، ضمير راجع دى و قرآن ته والمعنى لايمس القرآن الا المطهرون من الاحداث فيكون الاخبار بمعنى النهي، والمراد بالقرآن المصحف.

سوال: مصحف خو په زمانه كي د نزول د دې ايت وجود ته نه وُ راغلى كما لايخفى؟

ځواب: دا مجاز دى په اعتبار د مايؤل اليه يعني چي په اخير كي مصحف ځني جوړ سي او دا اخبار بالغيب دى.

پوه سه: چي اجماع پر دې منعقده ده چي نه دى روا مس د مصحف جنب او نفساء او حائض والمحدث ته، البته محدث تلاوت د قرآن چي بعض سورتونه يې په ياد وي بېله مس كولاى سي، او جنب، نفساء او حائض هغه هم نسي كولاى.

درويش وايي: چي روح المعاني وايي چي كتاب مكنون وصف آخر دى د قرآن اى كائن في كتاب محفوظ من غير الملائكة المقربين عليهم السلام ولايطلع عليه من سواهم، فالمراد به اللوح المحفوظ كما روى عن ربيع بن انس وغيره انتهى،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مظهري" دا خبره په سختئ سره رد کړې ده او دليل يې هم پر ويلی دی، فارجع اليه، او عبد بن حميد" او ابن جرير" د عکرمه" څخه روايت کړی دی چي له مکنون څخه تورات او انجيل مراد دي، وحکی ذالک في البحر وروسته بحر والا ويلي دي چي دا شرف د قرآن مذکور دی په تورات او انجيل کي، فالمعنى على هذا الاستشهاد بالكتب المنزلة انتهى.

تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ۝

څلورم صفت دی د قرآن والتنزيل مصدر په معنی د منزل دی کالخلق بمعنی المخلوق وهو مجاز شائع في العربية.

أَفَبِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ ۝

همزه لپاره د انکار د وقوع دی لا انکار الواقع والفاء للعطف على مقدر ای اتعرضون فبهذا الحديث، والمراد به القرآن الكريم الذي ذكرت نعوته الجليلة چي بايد دده تعظيم سوی وای او اکرام يې سوی وای.

فائده: حديث يې وباله لان فيه حوادث الامور يعني نوي کارونه پکښي کېږي من الامور الشرعية كما في كشف الاسرار "انتم" تاسي ای اهل مکه "مدهنون" الادهان والتدهين بمعنى واحد يعني غوړه مالي چي په عربي کي مدارات وترک الجد (چي کوشش نه پکښي کوي) والمعنى متهاونين مستحقرين له قال ابن عباس" يكذبون، قال البغوي" من الادهان وهو الجرى في الظاهر على خلاف الباطن ثم قيل للكاذب مدهن.

وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ ۝

او تاسي يا اهل مکه گرځوئ شکر د رزق (بتقدير المضاف ليصح المعنى، رزق په اصل کي مصدر دی سمی به المرزوق والمراد به نعمة القرآن) په تحقيق تاسي تکذيب د دې نعمة القرآن کوئ، الحسن" ددې ايت په متعلق کي وايي خسر عبد لايكون حظه من القرآن الا التكذيب، وقال جماعة من المفسرين و تجعلون شكركم انكم تكذبون كذا اخرج احمد والترمذي عن علي رضي الله عنه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ۝

حرف تحضيض دی، وبالفارسية پس چرا "اذا بلغت" چي ورسيږي.

پوه سه: چي ضمير مرفوع يعني چي فاعل د بلغت راجع و غير مذكور ته لفظا لانه معلوم حكما يقينًا چي راجع ونفس تـه دی ای نفس احد كم پـه وخت كـي د زكندن "الحلقوم" بعض مفسرين وايي چي حلقوم مجری د طعام ده چي پـه پښتو يې سره غاړه بولي، او نورو مفسرينو دا خبره رد كړې ده چي مجری الطعام بلعوم بولي او حلقوم مجری د تنفس ده چي په پښتو يې كرنكه بولي.

وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ۝

او تاسي ای هغه كسانو چي مرگي حالـه سئ (چي په عربي يې محتضر بولي) نو په دغه وخت كي د زكندن گورئ او وينئ چي پر دغه سختئ، او بيقراری، په وتلو كي د روح، او دا ستاسي چي قريب مو دی يا پلار يا زوی يا ورور وغيرهم هيڅ مرسته او كومك مو نه ور رسيږي.

پوه سه: چي جمله د وانتم آه حال ده له فاعل څخه د بلغت.

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ ۝

قـال البيـضاوي معنـاه نعلـم لان القـرب مـن اسـباب العلـم "اليـه" ای الـی المحتضر "منكم" يعني اقـارب المحتضـر، قـال البغـوي" ای بـالعلم والقـدرة والرؤية وقيل ان رسلنا لقبض روحه اقرب منكم.

درويش وايي: چي ټولـه مفسرين ورتـه تفسيرونـه كوي لكـه روح المعاني، روح البيان، البيضاوي، قرطبي وغيرهم الا المظهري "فانـه فسر ذالـک القرب بكونـه غير متكيف يعني چي كيفيت يې نه دی معلوم، نو رد كـړي وه دا قـرب تـه چي مجهول الحال دی والله اعلم.

"ولكن لاتبصرون" لكن تاسي نه وينئ قربي اليه بالعلم والقدرة منكم او يا لاتبصرون قرب رسلنا لقبض روحه اليه منكم.

فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ ۝

ای فهلا دا تاكيد دی د حرف تحضيض سابق "غير مدينين" ای غير مجرمين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(مجرم يعني كافران نه واى) غير محاسبين بالبعث يوم القيامة (او ستاسي سره حساب نه كېداى په ورځ د قيامت ولي تاسي د بعث بعد الموت څخه منكر ياست) او يا معنى داده چي تاسي مملوک د خداى عزوجل نه واى او تحت الحكم د خداى ج نه واى (مشتق دى من دانه اذا اذله و استعبده)

تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝

تاسي به دا نفس د محتضر راګرځولي واى خپل ځاى ته يعني چي نه به مره كېدلاى "ان كنتم صادقين" اى فيما زعمتم شرط دى مستغن عن الجواب بما سبق وهو في المعنى تاكيد للشرط السابق، والحاصل چي كه تاسي صادق واى په هغه قول كي غير مدينين او په تذكيب د آياتو د خداى ج، نو ولي تاسي نه سئ راګرځولاى نفس د محتضر خپل ځاى ته اذا بلغت الحلقوم وانتم حينئذ تنظرون، نو دا معلومه سوه چي تاسي مغلوب د حكم د خداى عزوجل ياست، موت او حيات د هيڅ چا په قدرت كي نه دى بېله خدايه.

درويش وايي: چي د متوفى عند الموت بيان چي وپاى ته ورسېدى او س شروع د بيان د حال د متوفى بعد الموت او رجوع ده و حال ته د هغو درو ډلو چي په اول كي د سورة ذكر سوي وي.

فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ۝

نو كه چېري ؤ (اى المتوفى چي له ماقبل څخه وفهمېدى) د مقربين څخه چي د مخه په عنوان د سابقون كي يې راوړى ؤ دلته يې په اشرف د صنف تعبير ځني وكړى اى المقربين.

فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ۝

"روح" مبتدا ده خبر يې محذوف دى اى الجار والمجرور اى فله روح لكن خبر به يې مقدم وي لان روح نكرة، او بعض مفسرين وايي چي روح خبر د مبتداء محذوف دى اى فجزاءه روح وعلى كل تقدير معنى د روح استراحة ده والفاء واقعة في جواب اما "وريحان" بعض مفسرين وايي چي ريحان معنى رزق حسن طيب كذا قال مجاهد وسعيد بن جبير ومقاتل، او بعض وايي چي مراد ځني ګل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ریحان دی چي خلگ يې بويوي، او ابوبکرؒ وايي چي روح نجات دی له اوره څخه او ريحان دخول د دار القرار جنت دی، او ابو العاليةؒ وايي چي يو له مقربين څخه د دنيا نه وځي ای بالموت حتی چي ملائکه ريحان د جنت ورته راوړي او دی يې بوی کړي بيا يې روح قبض کړي ''وجنت نعيم'' او جنت دی چي ځای د نعمتو دی مما لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر.

وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ۝

او که چېري وُ المتوفی د اصحاب څخه د يمين وي.

درويش وايي: چي په اجمال د اصحاب اليمين مونږ بيان کړی دی مع الاختلاف.

فائده: اصحاب اليمين دوهم د اصحاب د اصناف ثلثهٔ دی، له دوی څخه يې په عنوان سابق تعبير وکړی لانه لم يذکر لهم فيما سبق وصف ينبئ عن شانهم سواه کما للفريقين الآخيرين.

فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ۝

نو سلام دي وي تالره (ای عليک) د اخوانو د خوا چي په اصحاب اليمين کي درسره شريکان دي يعني هغه پر تا سلام وايي، او البغويؒ وايي سلام منهم يا محمد (ﷺ) چي ته د دوی غم مه کوه لانهم في امن من عذاب الله او ته به و وينې په دوی کي ماتحب من السلامة او ته به راضي سې، او فراءؒ وايي سلام لک يا محمد (ﷺ) انهم من اصحاب اليمين، او يا صاحب اليمين ته ملکي وايي سلام عليک انک من اصحاب اليمين.

وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ۝

او که چېري وُ (ای المتوفی) له مکذبينو څخه ای بالقرآن والرسول ﷺ ''الضآلين'' چي ګمراهان وه د لاري څخه د هدايت الى الايمان.

پوه سه: چي دا اصحاب الشمال والمشئمة دي، دريم قسم د اقسامو ثلثهٔ څخه لکن دلته يې تعبير د دوی په اعمالو سره وکړی تنبيهًا على ان الموجب للعذاب الآتي اعمالهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٩٣﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿٩٤﴾

د ايشولو اوبو ځخه د جهنم والنزل مايعد للضيف عبر به تهكما بهم، او ادخال دی و عظیم اور ته.

اِنَّ هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٩٥﴾

دا چي ذکر سول په احوالو کي د محتضرينو "لهو حق اليقين" ای حق الخبر اليقين فهو من قبيل اضافة الموصوف الى الصفة، روح البيان.

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٩٦﴾

بعض مفسرين وايي چي ذکر جزء دی مراد ځني کل دی ای فصلّ يعني لمونځ کوه په امر د خدای عزوجل، او يا مراد دا دی تنزيه د خدای عزوجل کوه په ذکر د داسي الفاظو سره چي لائق د عظمت سره د خدای عزوجل به وي او نزه ربک فلفظ الاسم مفهم زائد دی.

فائده: کلمه د فا، چي په اخير کي يې راوړه لپاره د تنزيه د اسم د خدای ياد خدای عزوجل د مالايليق بشانه مما ينسبه الکفرة اليه من الشريک و الولد وغيرهما فان حقية د مامر په دې سورة کي مما يوجب تنزيهه تعالى مما ينسبه الکفرة اليه تعالى عن ذالک علواً کبيراً، واخرج الامام احمد وابو داؤد وابن ماجة وابن حبان والحاکم وغيرهم رحمهم الله عن عقبة بن عامر الجهني رضي الله عنه قال نزلت على رسول الله ﷺ باسم ربک العظيم قال ﷺ اجعلوها في رکوعکم يعني سبحان ربي العظيم ولما نزلت سبحان سبح اسم ربک الاعلى قال ﷺ اجعلوها في سجودکم يعني سبحان ربی الاعلى، عن ابن مسعود رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول من قرء سورة الواقعة کل ليلة لم يصبه الفاقة (ای المسکنة) ابداً، رواه البغوي رحمه الله في مسنده.

درويش وايي: چي تفسير د سورة الواقعة د ماپښين په وخت کي د صفر الخير پر ١٧ تاريخ سنه (١٤٣٣) هجري قمري پای ته ورسېدی، ولله الحمد و المنة والصلوة والسلام على سيد البرية وآله وصحبه البررة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الحديد مدنية وهي تسع وعشرون آية واربع ركوعات بسم الله الرحمن الرحيم

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

پوه سه: چي تسبيح على المشهور پاکي د خداى عزوجل بيانول دي قولاً واعتقاداً وعملاً د هر هغه حال او صفت څخه چي لائق د جناب سره د رب ﷻ نه وي لکه شريک خداى ﷻ ته ويل په وجوب الوجود کي لکه ثنويه چي عالم لره دوه خدايان واجب الوجود وايي چي يو يې فائده مند شيان پيدا کوي لکه غنم، وريجي، پسونه او نور خوراکي شيان، دوى دې خداى ته يزدان وايي، او بل خداى ضررمند شيان او حيوانات پيدا کوي لکه لړوان، ځوزان وغيرها دوى هغه ته اهرمن وايي، کذبوا لعنهم الله وهو مذهب المجوس، او په استحقاق د عبادة کي لکه مشرکان چي وايي او نسبة الولد اليه الى غير ذالک کما بين في القرآن العزيز والآحاديث النبوية وکتب العقائد لاهل السنة والجماعة.

فائده جليله: شروع کړې ده خداى عزوجل په سورة الحديد يعني هذه السورة وسورة الحشر وسورة الصّف، له دې سببه چي ماضي اسبق ده د دوو زمانو د ثم بالمستقبل في سورة الجمعة والتغابن ثم بالامر في سورة الاعلى يعني سبح اسم ربک الاعلى الى اخيرها لپاره د استيعاب د دې کلمة من جميع جهاتها، نو په دې کي خداى عزوجل خپلو بندګانو ته تعليم ددې وکړې چي ستاسي سره دې استمرار د تسبيح په ټولو ازمنؤ کي والاوقات موجود وي لعدم ترجيح البعض على البعض، او په حديث صحيح کي راغلي دي چي روايت يې بخاري او مسلم کړې دى چي افضل الکلام اربع سبحان الله، والحمد لله، ولآ اله الا الله، والله اکبر، لايضرک بما يهن بدئت.

"ما في السموٰات والارض" هغه شيان چي په اسمانو کي دي او په مځکه کي دي چي شامل ذوى العقول وغيرهم ته دي لان کلمة ما عامة في اصطلاح القران العزيز نحو لله ما في السموٰات والارض، او نحاتو هم تصريح کړې ده چي من خاص دى په اولوا العلم پوري او ما عام دى نحو والسماء وما بناها الى اخير الآية، وقيل المراد ما يصح منه التسبيح يعني القولي من الانس والجن والملائکة، وقيل المراد من التسبيح من الجمادات ونحوها التسبيح الحالي يعني دلالة د حال د دوى من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الامكان والحدوث على تنزه صانعها عن السوء، والحق عند الصوفية ان شيئا من الموجودات خالي نه دي له يوې نوع څخه د حيوة مع الله، كريمه: وان من شيئ الا يسبح بحمده ولكن لاتفقهون تسبيحهم، نو له دې تسبيح څخه تسبيح قولي مراد ده لان التسبيح الحالي يعرفه كل احد، كريمه: وان منها لما يهبط من خشية الله الاية وجه الاستدلال انه ليس بين الخشية من الله والتسبيح القولي فرق فافهم.

"وهو العزيز الحكيم" خداى غالب دى چي د ما اراده يې څوک مانع نشي كيداى او په هر شي او فعل كي حكمت لري.

بوه سه: چي دا جمله حاليه ده چي دليل د تسبيح ويلو د هر شي ده كه څه هم جماد وي.

لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ

بوه سه: چي ملك السموات والارض مبتداء ده او له يې خبر مقدم دى، تقديم يې لپاره د حصر دى د ملك السموات والارض څخه وما فيهما من الموجودات التي لايعلمها الا الله الخبير العليم په خداى كي، ومعنى الاية خداى لره دى تصرف من كل الوجوه يعني من حيث الايجاد والاعدام وسائر التصرفات مما نعلم ومالم نعلم "يحيي ويميت" اى يفعل الاحياء والاماتة.

فائده: دا جمله مستأنفه ده چي بيان د بعض احكامو د ملك د خداى كوي يا خبر د مبتداء محذوفي دى اى هو يحيي ويميت، مظهري" وايي چي دا جمله حال ده له ضمير مجرور څخه د له، علامه بغدادي په روح المعاني كي دا خبره رد كړي ده حيث قال وجعله حالاً من الضمير المجرور في له يوهم تقييد اختصاص الملك بهذا الحال، انتهى فتدبر والله اعلم.

وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ

او خداى عزوجل پر هر شي د احياء والاماتة وغيرهما تام القدرة دى.

بوه سه: چي قدير صيغه د مبالغې ده ولهذا فسره جميع المفسرين بتام القدرة.

هُوَ ٱلْأَوَّلُ وَٱلْءَاخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلْبَاطِنُ

خداى عزوجل د مخه دى تر ټولو موجوداتو، فهو سبحانه موجود تر هر شي د مخه حتى الزمان لانه جل وعلا پيدا كوونكى د ټولو موجوداتو دى، "والآخر" او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باقي دی تر فناء د ټولو ممکناتو یا حقیقة (یعني ظاهراً فاني سي لکه انس او جن او حیوانات چي تول مړه سي) یا نظراً و ذات ته د دوی قطع نظر د خدای د ابقاء څخه دوی فانیة دي، لان جمیع الموجودات الممکنة مع قطع النظر عن علتها فانیة ولي چي ذوات د دوی مقتضي د وجود نه دي، نو ځکه ابو علي سینا وایي الممکن في حد ذاته لیس (ای معدوم) وهو عن علیة، ایس (ای موجود)

سوال: بعض ممکنات خو نه فاني کېږي لکه جنت او دوزخ او هغه څوک چي په دې دوو ځایو کي وي لکه چي د دې بیان په آیاتو او احادیثو کي مثبت راغلي دي؟

ځواب: فناء حقیقي که نه لري کمامر لکن فناء نظر و ذات ته د دوی له دوی څخه نه جلا کېږي کذا في روح المعاني "والظاهر" خدای بالا دی تر هر شي په ظهور کي څوک چي عقل لري، ولي چي منشاء د ظهور وجود دی ولا ظهور للمعدوم.... بیت:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ...... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

پوښتنه: که خدای پاک دومره ظاهر وایي باید هر سړي په سترګو لیدلای؟

ځواب: دا قصور په ظهور کي د رب جل وعلا نه دی بلکي قصور د سترګو د دنیا والو دی ځکه چي په جنت کي چي د دنیا والو د سترګو قصور دفع سي په قدرت د رب جل وعلا لیدل د خدای عزوجل ثابت بالادلة المتواترة دی، مثال د دې دا دی چي په موجوده زمانه کي لمر اظهر د محسوساتو دی لکن شوپرک چي په عربي یې خفاش بولي نسي ورته کتلای لقصور بصره..... بیت:

الشمس شمس وان لم یرها عین الفریر .....والعسل عسل وان لم یجد طعمه فاه المریر

(۱) یعني چي پر لمر یې سترګي برېښي لکه خفاش (۲) یعني عسل خو خواږه دي که څه هم په خوله د مریر کي یعني صفراوي ته یې خوږ والی نه معلومېږي)

"والباطن" او پټ دی خدای عزوجل په حقیقت کي ای کنه ذاته حتی عجز عن ادراک کنه ذاته اولوا الابصار من النبین والصدیقین والاخیار.

البغوي وایي چي یو چا له عمر ﷺ څخه د دې ایت په باره کي پوښتنه وکړه، فقال عمر ﷺ معناها ان علمه بالاول کعلمه بالاخیر، وعلمه بالظاهر (ای للناس) کعلمه بالباطن (ای بما في صدور الناس) والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

او خداى په ظاهر او خفي پر دواړو كامل علم لري.

درويش وايي: چه خوش گفته سعدى شيرازى چي مخاطب يې خداى ﷻ دى:

اى برتر از قياس و گمان و وهم
و از هر چه گفته اند شنيديم و خوانده ايم
مجلس تمام گشت و به پايان رسيد عمر
ما هم چنان در اول وصف تو مانده ايم

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ

اى في مقدار ستة ايام الذي في علم الله سبحانه اذ لا يوم ولا ليلة وقت خلق السموات والارض، اول يې يوم الاحد وه او اخير يې يوم الجمعة وه.

پوه سه: چي مراد له ايام څخه د دنيا ايام دي او هغه څوک چي مقدار د ايام د اخرة دى چي ورځ يې خمسون الف سنة ده فليس بصحيح.

درويش وايي: چي اكثره مفسرين وايي چي لفظ استوى له متشابهاتو څخه دى نو اسلم وجه يې داده چي تفويض د علم يې و خداى ته وكړى والايمان بما اراد الله، او دا مذهب دى د سلف صالحينو او متأخرين يې تأويل كوي بان المراد بالاستواء القصد المصمم، يا په معنى د استولى ده اى غلب على خلق العرش، والله اعلم بمراده في كتابه.

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِى الْاَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَآءِ

خداى عزوجل خبر دى په هغه شيانو چي په مځكه كي داخلېږي من الماء، او تخمونه د نباتاتو يا اموات في القبور يا د فاتن د مځكي چي خزاني يې بولي، او په هغه شيانو چي له مځكي څخه راوزي (لكه كښتونه والمعادن و الاموات يوم القيامة او بخارات د مځكي الى غير ذالك) او چي له اسمانه نازلېږي لكه بارانونه او ملائكه والاحكام الهية و البركات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۝

او چي اسمان ته پورته کيږي (من ارواح المؤمنين وقت الموت يا ملائکه واعمال العباد) "وهو معکم" بالنصر والعون، او المراد المعية الغير المتکيفة "اينما کنتم" هر ځای چي تاسي ياست، ولي چي نسبت د امکنة و خدای ته برابر دی، او خدای ستاسي په عملو خبر دی يعني فتجازيکم يوم القيامة ان خيراً فخير وان شراً فشر.

لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ۝

پوښتنه: دا ايت خو د مخه تېر سو نو په اعاده کي يې څه فائده ده؟

ځواب: فائده يې تاکيد د ماسبق دی او تمهيد دی لقوله سبحانه چي مشعر دی په اعاده بعد الموت.

"والی الله ترجع الامور" يعني الی الله خاصةً لا الی غيره سبحانه لا استقلالاً ولا اشتراکاً.

فائده: الحسن او ابن اسحق او الاعرج دا لفظ ترجع بفتح التاء مبني للفاعل وايي من رجع رجوعًا، او جمهور د قاريانو يې ترجع بضم التاء مبني للمفعول وايي چي مشتق من رجع رجعًا، حاصل د دواړو صيغو يو دی وهو اختصاص به سبحانه من غير اشتراک کما مر.

يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝

داخلوي خدای عزوجل ساعات د شپې په ورځ کي يعني ورځ اوږده کوي لکه په دوبي کي، او داخلوي ساعات د ورځي په شپه کي لکه په ژمي کي.

او خدای ښه خبر دی په هغه شي چي صدور يعني په زړو کي د خلکو وي، امام جلال الدين السيوطي په جمع الجوامع کي د علي ﷺ څخه يې روايت کړی دی په باره کي د دعاء لقضاء الحوائج چي دعاء کونکي دي د اول څخه د سورة الحديد تر دې آيت پوري وهو عليم بذات الصدور، او درې ايته دي له اخير څخه د سورة الحشر دي هم ووايي وروسته دي ووايي يا من کذالک وليس غيره احد کذالک اقضی حاجتي کذالک (ويذکر حاجته)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ

خطاب عام دی و ټولو کافرانو ته "بالله" ایمان راوړي پر هغه خدای چې تاسي په سورة الحدید کي صفات دده واورېدل "ورسوله" یعني محمد ﷺ ولي چي ایمان پر خدای اعتبار نه لري بېله ایمانه پر رسول یعني په هره زمانه کي "وانفقوا" تاسي مصرف وکړئ یعني في سبیل الله "مما" اصل یې من ما ؤ نون یې په میم کي مدغم کړی او من لپاره د تبعیض دی ای بعض اموالکم "جعلناکم" ګرځولي یاست موږ "مستخلفین فیه" د فیه ضمیر و ما ته راجع دی، ددې کلمې معنی یا دا ده چي خدای تاسي خلفاء ګرځولي یاست في التصرف فیها سره ددې چي هغه مال مخلوق د خدای دی او مملوک هم د خدای دی، او یا یې معنی داده چي تاسي یې خلیفه ګان د من قبلکم ګرځولي یاست (یعني ستاسي به بیا نور خلیفه ګان وي)

فائده: په دې عنوان ذکر کولو کي یعني مستخلفین باعثه کول دي د خلکو پر انفاق باندي، او پر ځان دي انفاق في سبیل الله سپک وګرځوي.

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ اَجْرٌ كَبِيْرٌ ﴿۷﴾

نو هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی (پر وحدانیت د خدای او پر رسالت د رسول) او انفاق في سبیل الله یې هم کړی وي هغه لره ثواب او اجر دی لوی، روح المعاني وایي چي په دې ایت کي څو مبالغې دي (۱) جعل الجملة اسمية، ظاهره خو دا وه چي جمله فعلیه یې راوړې وای په جواب کي د امر بان یقال مثلاً آمنوا بالله ورسوله وانفقوا تعطوا اجراً کبیراً (۲) ذکر د ایمان او انفاق یې مکرر راوړی داسي یې نه وویل فمن یفعل ذالک فله اجر کبیر (۳) اجر یې نکره راوړی لپاره د تفخیم (۴) وصف الاجر بالکبیر، وفي الحدیث الصحیح یقول ابن آدم مالي مالي وهل لک من مالک الا ما اکلت فافنیت او لبست فابلیت او تصدقت فامضیت، یو اعرابي ته چا وویل دا اوښان د چا دي؟ ده ورته وویل د خدای دي عندي، قال الشاعر العربي:

وما المال والاهلون الا ودائع ..... ولابد یوماً ان ترد الودائع

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ۚ وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ لِتُؤْمِنُوْا بِرَبِّكُمْ

بوه سه: چي جمله د لایؤمنون حال ده من الضمير في لکم والعامل فيه معنى د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مالکم دی یعني الفعل المفهوم منه ای اي شیئ ثبت لکم وحصل لکم غیر مؤمنین بالله والاستفهام لنفي وانکار سبب عدم الایمان.

''والرسول یدعوکم لتؤمنوا'' او حال دادی چي رسول یعني محمد ﷺ تاسي ته دعوت درکوي چي تاسي ایمان راوړئ پر رب ستاسي، فالجملة حال من فاعل لتؤمنوا، والحاصل ای عذر لکم في ترک الایمان والحال ان الرسول دعوت درکوي تاسي ته وایمان ته، او حجج بینات او معجزات ورسره دي، او ایات قرآنیه من عند الله هم ورسره موجود دي.

وَقَدْ أَخَذَ مِيثَاقَكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨﴾

او حال دادی چي خدای له تاسي څخه ټینګه وعده اخستې ده بالایمان قبل ذالک، بعض مفسرین وایي حین اخرجکم من ظهر آدم ﷺ وقال الست بربکم قالوا بلی شهدنا علی انفسنا الی اخیر الآیة، او بعض مفسران وایي چي له میثاق څخه مراد هغه وعده ده چي په لسان د انبیا علیهم السلام ستاسي څخه اخستل سوې ده، وفیما سبق من الکتب المنزلة (یعني اذا جائکم رسول مصدق لما معکم لتؤمنن به ولتنصرنه) الآیة.

درویش وایي: چي دا وعده په تورات کي له یهودیانو څخه او په انجیل کي له نصارٰی ؤ څخه اخستل سوې وه وهذا الوعد یصدق علی محمد ﷺ لکن لعنهم الله کتموه حسدًا وعنادًا وخوفًا علی ریاستهم علی العوام.

''ان کنتم مؤمنین'' که تاسي یاست مؤمنان پر اخذ المیثاق کذا في عین المعاني، وفي فتح الرحمن ان دمتم (که تاسي دوام وکړئ) علی ما بدأتم به (چي ابتداءً هغه کار کړی دی) او الواحدي وایي ان کنتم مؤمنین په دلیل عقلي او نقلي فقد بان وظهر لکم علی یدي محمد ﷺ، او بعض مفسران وایي ان کنتم مؤمنین بموسٰی وعیسٰی علیهما السلام فآمنوا بمحمد ﷺ، ولي چي تورات او انجیل دواړو په نبوت سره د علیه الصلوة والسلام وصیت کړی دی، وقیل غیر ذالک.

هُوَ الَّذِي يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ

الله هغه ذات دی چي نازل کړي يې دي پر خپل بنده یعني محمد ﷺ ''بینات'' ای القرآن او غیر ذالک من المعجزات الباهرة ''لیخرجکم'' چي تاسي وباسي له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاریکو څخه د جهل او د انواع د کفر (من المجوسية والدهرية واليهودية والنصرانية وغيرها، چونکه انواع د کفر ډېر دي نو ځکه ظلمات يې جمع راوړی) و رڼا ته د ایمان وهو دين محمد ﷺ فقط، نور ټوله اديان منسوخه سو، لـه دې سببه يې نور مفرد راوړی.

پوه سه: چي مراد د ظلمة او نور څخه معنوي دي چي صفت د قلب دی لا الحسي.

﴿وَإِنَّ اللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ۝﴾

او په تحقيق خدای عزوجل پر تاسي هر آئينه ډېر مهربان دی (نو رؤف صيغه د مبالغې ده او رحيم يې تاكيد دی) ووجه ذالک ان الله قد ارسل اليكم رسولاً وانزل الله عليه القرآن او احكام د دين د اسلام من الحلال والحرام يې تاسي ته بيان كړه او د تېرو سوو امتو قصې يې په قرآن کي ستاسي لپاره تاسي ته وكړې الى غير ذالک من الوحي الغير المتلو يعني الاحاديث النبويه ﷺ.

﴿وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾

څه فائده ده تاسي ته په عدم انفاق (استفهام لپاره د انكار دی، اى لا فائدة لكم في عدم الانفاق) په لاره کي د خدای یعني هغه انفاق چي سبب د قرب ګرځي تاسي لره، نو دا ايت ټولو اقسامو لره د اتفاق شامل دی.

"ولله ميراث السموات والارض" الواو للحال، او حال دا دی چي خدای لره دي ټوله د اموالو ستاسي يعني تاسي به په مرګ ځئ او ميراث به مو خدای ته پاتېږي ولا يبقى لاحد مال.

سوال: ميراث د مړي خو د قريبانو د مړي دی فما معنى هذه الآية؟

ځواب: هغه ميراث د اقرباؤ خو په حكم د خدای دی فكان الله ورثه ماتركه الميث، والحاصل چي حال دغسي دی، نو انفاق في سبيل الله اولى او افضل دی، ولي چي عوض يې اخرت ته پاتېږي وجمع الاموال وتركه للورثة لاينفعم اصلاً.

بيت: ... تو باخود ببر نوشتهٔ خويشتن .... كه شفقت نيايد ز فرزند وزن

ترمذي په خپل سند روايت كړی دی د ام الامة سيدتنا عائشة چي په ورځ د لوی اختر عليه الصلوٰة والسلام پسه حلال كړی او تقسيم د غوښو يعني مساكينو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته او یو څه کور ته راګرځول یې عائشهؓ ته وسپاره، علیه الصلوة والسلام چې بیرته راغلی پوښتنه یې وکړه د تقسیم او د کور د غوښو عائشهؓ ورته ووېل چې یو ولی پاته سو نوري ټولې غوښې ولاړې، علیه الصلوة والسلام ورته ووېل چې یو ولی ولاړی نوري ټولې غوښې پاته سوې، یعني لیوم القیامة ثوابها. وروی البخاري والنسائي عن ابن مسعودؓ چې رسول اللهﷺ له خلګو څخه پوښتنه وکړه چې چا ته مال د وارث احب دی تر خپل مال، قالوا ما منا احد الا ماله احب الیه من مال وارثه، علیه الصلوة والسلام ورته ووېل چې مال د سړي هغه چې د مخه واستاوه یعني في سبیل الله یې مصرف کړي او مال د وارث چې پرېږي یې نو وارث ته.

لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ

(ای فتح مکة في قول اکثر المفسرین وقال الشعبيؒ هو صلح الحدیبیة کما مر تفصیلها) "وقاتل" (ای قبله) نه دی سره برابر په مرتبه کې د قرب الی الله عزوجل هغه کسان د تاسي مؤمنانو څخه هغه څوک چې انفاق د مال یې کړی وي ای في سبیل الله د مخه تر فتح مکة یا تر صلح د الحدیبیة (یعني د هغو کسانو سره چې انفاق یې بعد الفتح کړی وي او قتال یې هم بعد الفتح کړی وي)

أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ

ای الذین انفقوا وقاتلوا قبل ذالک "اعظم درجة" ای ثوابًا وقربًا الی الله "من بعد" ای بعد الفتح "وقاتلوا" ای بعد الفتح، البغويؒ په معالم التنزیل کي وایي روی محمد بن الفضل عن الکلبي چې دا ایت په شان کې د ابوبکرؓ نازل سو دی فانه اول من اسلم واول من انفق في سبیل الله.

پوهه: چې ظاهر د دې ایت (یعني صیغې د جمعي پکښې راغلي دي) دلالت کوي پر فضیلت د سابقینو اولینو من المهاجرین والانصارؓ علی من آمن بعد الفتح وانفق په دغه وخت کې، او مفهوم د دې ایت دلالت کوي پر افضلیت د ابوبکرؓ علی سائر الصحابةؓ وافضلیة الصحابةؓ علی سائر المؤمنین دلیل یې دادی چې علت د دې فضل سبقت دی و اسلام او انفاق او جهاد لاعلاء کلمة الله دی کما یدل علیه الحدیث المشهور عن رسول اللهﷺ من سن (یعني في الاسلام)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها (الى يوم القيامة) من غير ان ينقص من اجورهم شيئ (اى اجور العارفين بعد الواضعين للطريقة الحسنة) هيڅ شى الى اخير الحديث. او اجماع د علماء د امت پر دې ده چې ابوبکرؓ اول سړى دى چې ايمان يې راوړى دى واظهر اسلامه عند اشراف قريش و اول من انفق الاموال العظام في سبيل الله او برداشت کړي يې دي شدائد د کفارو پر ځان، په حديث کې د ابو هريرةﷺ چې روايت يې کړى دى الترمذي چې رسول اللهﷺ وويل مالاحد عندنا يده الا وقد كافيناه (نسته هيڅ چا لره زموږ په نيز يو نعمت مگر نه موږ يې عوض ورکړى دى) ما خلا ابى بكر (ماسوى له ابوبکر څخه) فان له عندنا يد يكافيه الله يوم القيامة (يعني د ابوبکرؓ زموږ په نيز نعمت سته چې ما يې عوض نه دى ورکړى، خداىؑ به يې عوض ورکوي په ورځ د قيامت) وما نفعني مال احد ما نفعني مال ابى ابكرؓ، عن ابى الزبير عن ابيه قال كان لابى بكرؓ حين اسلم اربعون الف درهمًا انفق كلها على رسول الله وفي سبيل الله. رواه ابو عمرو. وروى ابو عمرو في الاستيعاب چې ابوبکرؓ ازاد کړه اووه مريان چې ايمان به يې راوړى ؤ او مالکانو به دوى ته سخت ضرب او کوب ورکاوه، ابوبکرؓ به د مالک څخه رانيول ازاد به يې کړل، منهم بلالﷺ وعامر بن فهيرةﷺ او پنځه نور، او ابو اسحاقؒ وايي چې ابوبکرؓ په قريشو کې (يعني قبل اسلامه) يو مقبول شخصيت ؤ او نرم مزاج سړى ؤ ده به هغو کسانو ته چې ده به باور پر درلودى دعوت ورکاوه الى الايمان بالله ورسوله، نو دده په دعوت سره عثمان بن عفانؓ چې رئيس د قوم د بني عبد الشمس ؤ او الزبير بن العوامؓ چې رئيس د قوم د بني اسد ؤ او سعد بن ابى وقاصؓ او عبد الرحمن چې دواړه رئيسان د قوم د بني زهرة وه، او طلحة بن عبد اللهؓ چې رئيس د قوم د بني تميم ؤ، نو دا کسان په يوه وار ابوبکرؓ وعليه الصلوة والسلام ته راوستل او بيعت پر اسلام يې د عليه الصلوة والسلام سره وکړى.

درويش وايي: چې د دې رئيسانو په ايمان راوړلو سره شوکت د قبائلو د قريشو ډېر کمزورى سو.

مسئله: الشيخ ابو الحسن الاشعريؒ وايي چې تفضيل د ابوبکرؓ پر ټولو نورو صحابهؓ قطعي دى، مظهري وايي قد اجمع عليه السلف آه، ومن مناقبة ثباته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

على الايمان في قصة المعراج (۲) او ده به جواب ورکاوه چي د معراج نبوي قصه به یې درواغ بللې (۳) ثم هجرته مع رسول اللهﷺ (۴) وترک عیاله واطفاله في مكة وكان رفیقه في الغار (۵) وكمال حزنه وقت وفاتهﷺ (۶) او خطبه یې وویل او خلکو ته یې د تسکین او ارام دادګېرنه ورکړه (۷) او ده خطبه وویل چي صحابه ؓ دی په اجماع خلیفة المسلمین وټاکی (۸) او بعض کسان چي وروسته د علیه الصلوة والسلام تر وفات مرتد سوه د هغو سره یې سخت جنګ وکړی (۹) او عراق او شام ته یې لښکرونه واستول چي هغه دوه ولایته یې فتح کړه الی غیرها من مناقبه العالیة او اخیر د مناقبو یې دا ؤ چي خلافت یې و عمر بن الخطابؓ ته وسپاره په خپل ژوند کي چي مریض ؤ.

وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ

"وکلا" التنوین عوض من المضاف الیه ای کل واحد من الفریقین لا الاولین فقط، روح المعاني "وعد الله الحسنٰی" یعني المثوبة الحسنٰی یعني ښه ثواب چي جنت دی کما روی عن مجاهد وقتادة لکن احتمال ددې هم سته چي مراد دي عام تر جنت وي چي نصر پر اعداء الله والغنیمة دی.

پوه سه: چي ابن عامر او عبد الوارث کل په رفع سره وایي نو ظاهره دا ده چي کل مبتداء ده والجملة بعده خبره او عائد و مبتداء محذوف ته دی ای وعده.

سوال: کل خو نکرة دی هو څرنګه یې ابتدائیت صحیح دی؟

ځواب: قد مر آنفًا ان تنوینه عوض من المضاف الیه فافهم.

سوال: نحات د بصرة حذف د عائد له خبر څخه د مبتداء روا نه بولي ویقولون لایجوز الا في الشعر لان الشعر مکان الضرورة البته په جمله کي د صفت یې روا بولي؟

ځواب: د قرائة د کل په رفع پر دوی دلیل دی چي روا دی لانه لا یمکن جعل الجملة خبرًا الا بحذف العائد.

وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝

یعني پر ظاهر ستاسي او پر باطن ستاسي نو مطابق د هغه سره به تاسي ته جزاء درکوي، نو دا ایت هم وعد او هم وعید دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَنْ ذَا الَّذِىْ يُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗۤ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿١١﴾

څوک دی هغه سړی چي خدای ته قرض ورکړي، د ایت معنی یا دا ده یقرض عباد الله بحذف المضاف وفيه حث للاغنياء على اعطاء القرض للمحتاجين من عباد الله حيث عبر سبحانه وتعالى قرضهم قرضًا عليه تعالى، یا معنی دا ده چي انفاق في سبيل الله يې وکړی په امید ددې چي ماته به خدای عزوجل عوض راکړي. نو دا نفاق في سبيل الله نو دا نفاق خدای عزوجل پر ځان وبالی مجازًا ليدل على التزام الجزاء "قرضًا حسنًا" يعني په کامل اخلاص سره او ښه د اموالو او په ښه جهاتو کي "فيضاعفه له" يعني دوه چنده عوض به ورکړي من عشرة الى سبعمائة ضعف الى ما شاء الله تعالى "وله اجر كريم" دا جمله حال ده من الضمير المنصوب في يضاعفه يعني دا اجر چي د اضعاف هم ورسره دی پر ښه اجر دی في نفسه ينبغي ان يتنافس فيه المتنافسون.

يَوْمَ تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ

پوه سه: چي اظهر او مطرد نصب د يوم په اذکر مقدر سره دی په دې کي تفخيم دی او تعظيم دی د ورځي، او رؤية بصري دی او مخاطب په "ترى" سره كل من يتأتى منه الرؤية، يا سيد المخاطبين ﷺ "يسعى نورهم" اى نور التوحيد والطاعات، دا نور د دوی ورسره پر صراط بلکه اينما كانوا او دا نور دليل دی د دوی و جنت ته.

فائده: دا نور مختلف دی په سبب د اعمالو او طاعاتو د دوی يعني په مسافت او تېزوالي کي.

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ

په دمخه خوا کي د دوی او پر راسته خوا د دوی، بعض مفسرين وايي چي مراد تولو جوانب د دوی دي فعبر عن الكل بالجزء اخرج ابن ابى شيبة وابن جرير وابن المنذر وابن ابى حاتم والحاكم وصححه. وابن مردوية عن ابن مسعود رضي الله عنه انه قال چي دوی ته يعني مؤمنين او مؤمنات ته على قدر اعمالهم چي دوی پر پل صراط تېرېږي د بعض نور لکه جبل د بعض نور لکه د خورما درخته وادناهم نورًا من نوره على ابهامه يطفئ مرة ويقد اخرى (چي يو وار مړ سي او بيا بل سي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ددې حديث ظاهر پر دې دلالت کوي چي دا نور فقط پر صراط ورسره وي، لكن الحق ان النور كان قبل ذالک ويستمر معهم اذا على مروا على الصراط كما مر من قبل.

فائده: تخصيص ددې دوو جهتو چي يې وكړى لان السعداء اى المؤمنين والمؤمنات يؤتون صحائف اعمالهم (عمل نامې ددوى) د دغو دوو جهتو څخه كما ان الاشقياء يعني الكفار دوى ته وركول كېږي عمل نامې د دوى په چپه لاس يا د شاه له خوا څخه.

بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ

زېرى كوم پر تاسي د جنتو، قائل ددې قول ملكي دي كما هو الاظهر. بهېږي لاندي تر درختو د جنت او تر بنگلو د دوى څلو ويالي (اوبه، شيدې، عسل او شراب) تاسي به ابد الاباد ياست په دغو جنتو كي بلا موت ولا هرم ولا غم ولا حزن، دغه نور او بشرٰى بالجنة المخلدة، دا كاميابي ده لويه.

پوه سه: چي اليوم ظرف دى د بشركم.

يَوْمَ يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ

هغه ورځ چي وايي به منافقان او منافقات و هغو كسانو ته چي په دنيا كي يې د زړه له اخلاصه ايمان راوړى ؤ، موږ ته انتظار وكړئ چي موږ درپسي درورسېږو چي موږ استفاده ستاسي څخه وكړو يعني ستاسي په نور كي موږ هم روان سو، ولم يكن للمنافقين نور يوم القيامة لانه لم يكن لهم نور الايمان الخالص.

پوښتنه: دا سوال د انظرونا يوازي منافقان ولي كوي نور كافران يې ولي نه كوي؟

ځواب: منافقانو خو په دنيا كي ځانونه نفاقاً نه د مؤمنانو د جماعت څخه بلل.

قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا

وبه ويل سي (په روايت كي د ابن عباسؓ دا قائلين مؤمنان دي او په روايت د مقاتلؒ دا قائلين ملكي دي) تاسي تر شا ولاړ سئ (ابن عباسؓ وايي اى من حيث جئتم من الظلمة او الى المكان الذي قسم فيه النور كما صح عن ابى امامةؓ) دوى طلب د نور وكړي، وقيل ارجعوا الى الدنيا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي دا امر د تعجيز دی.

پوښتنه: مؤمنان يا ملکي ولي دا ورته وايي او سره ددئ چي مؤمنان يا ملکي خو په دیٔ پوهيږي چي دا کار نه کيدونکی دی؟

ځواب: مقاتل" وايي وهذا استهزاء بهم لکه دوی يعني منافقانو به په دنيا کي په مؤمنانو سره پسخند واهه حيث قالوا آمنا وماهم بمؤمنين، او په دنيا کي به چي د دوی رئيسانو يعني مجاهر کافرانو به دوی ته وويل چي تاسي ولي د مسلمانانو سره په لمونځو وغيره کي ګډون کوئ دوی به ورته ويل انما نستهزء بهم، کريمه: الله يستهزء بهم يعني حين يقال لهم ارجعوا وراءکم الآية، ابو امامة" وايي چي دوی ته چي دا وويل سي ارجعوا وراءکم نو دوی ولاړ سي و هغه ځای ته چي تقسيم د نور پکښې دی هيڅ شی د نور نه کړي پيدا بيرته چي دوی رجوع و مؤمنانو ته کوي په منځ کي حجاب پيدا سي کما يأتي في الآية الآتية، نو دا جزاء د خدای" ده دوی ته چي په دنيا کي د مؤمنانو سره دوی کاوه، کريمه: يخادعون الله وهو خادعهم، وقد مر تفصيله في تفسير سورة البقرة.

فَضُرِبَ بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌؕ

"فضرب بينهم" ای بين المؤمنين والمنافقين "بسور" يو دېوال بين شق الجنة وشق النار (بعض علماء وايي چي دا سور بين الجنة واهل النار چي پر هغو اهل اعراف چي اهل جنت هم ويني او اهل النار هم ويني، کريمه: وعلی الاعراف رجال الآية) هغه دروازه لري (يدخل فيه المؤمنون)

بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُؕ

(ای باطن او الباب) "فيه الرحمة" لانه يلی الجنة "والظاهره" ای خارج السور "من قبله" ای من جهته الظاهرة العذاب لانه يلی النار.

درویش وايي: چي البغوي" وايي په روايت د ابن عمر" چي دغه سور چي په قرآن کي خدای" ذکر کړی دی بسور له باب هو سور بيت المقدس، الشرقي باطنه فيه المسجد وظاهره من قبله العذاب، يوه شبله ده چي وادي جهنم يې بولي، وقال ابن شريح" وکان کعب يقول مثل ذالک، وقال ابن عطية" هو بعيد جداً ورد عليه صاحب روح البيان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي د دې سور په باره کي اقوال مختلفه دي نو زه نه غوارم چي متعلمین د تفسیر په تشویش کي واچوم. روح المعاني او روح البیان یې علمي تحقیق کړی دی، روح المعاني په اخیر کي وایي چي په باره کي د سور د بیت المقدس احادیث وارده صحیح سي فلا بد من الایمان به لعدم خروج من دائرة الامکان انتهی، فقیر وایي: چي الله اعلم بمراده في کتابه.

یُنَادُونَهُمْ أَلَمْ نَكُن مَّعَكُمْ

نارې وهي منافقین و مؤمنانو ته چي سور د دوی تر مابین حائل وګرځي (او دوی د ظلمت په ځاه کي پاته سوه) آیا موږ ستاسي سره نه ؤ په دنیا کي نصلي ونصوم معکم.

قَالُوا بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ الْأَمَانِيُّ

مسلمانان ورته وایي چي هو هغه خو واست یعني في الظاهر، لکن تاسي په فتنه کي یعني په هلاک کي اچولي خپل ځانونه بالنفاق والکفر باطنًا او شهوات او نور معاصي مو پر کار اچولي وه چي هغه همه وهمه فتنې وې "وتربصتم" او تاسي انتظار کاوه چي پر مؤمنانو د زمانې حوادث مسلط سي، اویا بمحمد ﷺ د موت حادثه راسي فنستریح منه "وغرتکم الاماني" او تاسي غولولي واست امانیو، جمع د امنیة یعني بې ځایه امید من نزول الدوائر علی محمد ﷺ والمؤمنین.

حَتَّىٰ جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ وَغَرَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿١٤﴾

تر هغه وخته پوري چي امر د خدای پر تاسي راغلی یعني الموت. او تاسي خطایستلي واست پر امهال د خدای شیطان، یا د دنیا جاه و جلال، شیطان به دوی ته په وسوسه اطمنان ورکاوه بان الله کریم لایعذبکم، یا به یې ورته ویل لابعث ولانشور.

فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنكُمْ فِدْيَةٌ وَلَا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ

نن ورځ یعني د قیامت په ورځ ستاسي څخه نه غوښتل کېږي بدل او عوض د نفاق او کفر ستاسي.

پوښتنه: فاعل د لایؤخذ خو فدیه دی او هغه مؤنث دی نو ولي یؤخذ په مذکر صیغه ذکر سو؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: اول خو فدیه مؤنث غیر حقیقي دی، په نحو کې قانون دی چې مؤنث غیر حقیقي تذکیر او تانیث دواړه روا دی، او بل جواب دا دی چې د فعل او فاعل تر مابین فصل موجود دی یعني په منکم سره چې په دې سبب هم تذکیر او تانیث دواړه په فعل مسند کې روا دي "ولا من الذین کفروا" او نه فدیه غوښتل کېږي د کافرانو څخه یعني جهارًا وعلانیة.

مَأْوٰىكُمُ النَّارُ هِيَ مَوْلٰىكُمْ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ۝

او ستاسي ټولو ځای د قرار اور دی، دا اور چې دی ستاسي بادار دی تهکمانه یعني د پسخنده دا ورته وویل سي یا معنی داده اولی تاسي لره اور دی لوجود سببه فیکم، او بد ځای دی د ورتلو یعني النار وهي المخصوص بالذم المحذوف دی، ابن ابی شیبة په خپل کتاب کې د ابن ابی حاتم څخه او هغه د مقاتل بن حبان څخه روایت کړی دی په اصحابو کې د علیه الصلوة والسلام خندا او مسخرې بعض اوقات نمایان سوې، فنزلت.

اَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ

آیا نه دی رسېدلی وخت وهغو کسانو ته چې ایمان یې راوړی وي.

پوهه: چې یاذن مشتق د آن څخه دی چې معنی یې وخت دی "ان تخشع" چې وېرېږي او نرم سي او عجز وکړي زړونه د دوی لاجل ذکر الله یعني القرآن، او یا د ذکر څخه مراد ذکر لساني او قلبي دی چې هغه سبب د خشوع د زړو دی.

درویش وایي: چې دا توجیه ظاهره ده من عطف قوله تعالی "وما نزل من الحق" ولې چې د ما انزل څخه خو یقینًا قرآن مراد دی.

سوال: پر اوله ترجمه د ذکر الله چې مراد ځني قرآن سي عطف د شي پر ځان نه لازمېږي او که څرنګه؟

ځواب: عطف د شي پر ځان په تغایر د عنوان روا دی بالاتفاق یعني قرآن مبارک هم ذکر الله دی په اعتبار د افادهٔ د خشوع او امتثال لاوامره والانتهاء عن مناهیه او هم ما نزل من الحق دی، البغوي وایي چې عبدالله بن مسعود رض وویل ما کان بین اسلامنا وبین ما بیننا الله بهذه الآیة الا اربع سنین، او ابن عباس رض وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دا عتاب الهی په دې ايت کې (۱۳) کاله تر نزول د قرآن وروسته ؤ، په فضائلو کي ددې آيت عبدالله بن المبارک رحمه الله وايي چي زه د ځوانی په وخت کي په يو باغ کي روان وم او يو انډيوال هم راسره ؤ فاكلنا و شربنا (ډوډی مو وخوړل او شراب مو وڅښل) وكنت مولعًا (زه حريص وم) يضرب العود (پر وهلو د رباب) نو مي راواخستي رباب د شپې چي وه يې وهم فنطق العود په ځای کي د غزلو دا ايت ووايه الم يأذن للذين امنوا الخ. رباب مي پر مځکه مات کړی او ټوله هغه کارونه چي زه يې له خدايه مشغولولم توبه مي ځني وکښل. سعدي رح ميگويد:

سر از جيب غفلت بر آور كنون ..... كه فردا نماند بحسرت نگون
كنون بايد اى خفته بيدار بود ..... چو مرگ اندر آرد زخوابت چه سود
زهجران طفلى كه درخاك رفت ..... چه نالى كه پاك آمد وپاک رفت
تو پاک امدى بر حذر باش وپاک ..... كه ننگست ناپاک رفتن بخاک

يو بل شاعر خپل ځان ته نصيحت کوي بلکې هر چاته

ياد دارى زروز زادن تو ..... خلق خندان بودند وتو گريان
همچنان زى كه روز مردن تو ..... خلق گريان باشند وتو خندان

(يعني چي پيدا سوې مور او پلار او نورو اقرباؤ دي خندل چي خدای ج زوی راکړی، او تا ژړل چي د مور ځخه دي پيوند په چاره پرې سو، نو ته داسي ژوند وکړه چي په ورځ د مرگ ستا خلک ژاړي يعني ستا مور، پلار او اقرباء چي ځوان زوی مي وفات سو، او ته خاندې يعني خوشحاله يې ولي ملک الملک درته ويلي وي، يا ايتها النفس المطمئنة ارجعى الى ربک راضية مرضية.

وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ

"ولايكونوا" اى الذين آمنوا، منصوب دی محلاً عطف دی پر تخشع واقع تر ان لاندي دی، لکه هغه کسان چي دوی ته کتاب ورکړه سوی ؤ د مخه يعني اليهود والنصارى.

پوه سه: چي قبل مبني بر ضمه دی جبرًا عن حذف المضاف اليه دی قبلکم کما بين في النحو "فطال عليهم الامد" معطوف دی اوتوا، نو اوږده سوه زمانه پر دوی يعني د دوی او نبيانو تر منځ، يا مراد دادی چي اوږده سوه زمانه د عمر د دوی په کفر او گنهو کي او هغه بيره چي دوی ته د تورات او انجيل د خوا وه له زړو ځخه يې ووتل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُونَ ﴿۱۶﴾

نو سخت سوه زړونه د دوی (والقسوة غلظ القلب چي د متابعت د شهواتو پيدا کېږي فهي کالحجارة او اشد قسوة) او ډېر د دوی له دين څخه خارج او مافي کتابهم يې پرې اينبي دي بالکلية د ډېر قسوة له کبله.

اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ

پوه سئ چي خدای عزوجل ژوندی کوي مځکه په نباتاتو سره وروسته تر مرګ د دوی يعني چي نباتات يې په سبب د ژمي قطع سوي وه.

فائده: دا يو مثال خدای پاک وواېي چي احياء د قلوبو قاسيه ؤ داسي ده لکه چي مړه مځکه په باران سره ژوندی کېږي، نو زړونه په ذکر او تلاوت سره ژوندي کېږي او لاحياء الاموات يوم القيامة ترغيبًا الخشوع وترک القسوة.

قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷﴾

په تحقيق موږ بيان کړه آيات قرآنيه لپاره د دې چي ستاسي کمال ته د عقل ورسېږي نو تاسي به فوز پيدا کړئ پر سعادت د دنيا او آخرت کي.

اِنَّ الْمُصَّدِّقِيْنَ وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

پوه سه: چي ابن کثير" او ابو بکر" له عاصم" څخه په روايت په تخفيف د صاد يې واېي په دواړو لفظو کي چي مشتق د تصديق څخه دی يعني المؤمنين والمؤمنات، او جمهور قراء يې په تشديد د صاد واېي چي تا يې په صاد کي مدغمه کړې ده چي معنی يې صدقه ورکونکي نر او ښځه ده، يعني چي خدای ته قرض ورکړي قرض حسن يعني په طيب النفس والاخلاص، عطف دی پر معنی د فعل په ماقبل کي لان المعنی هنالک الذين صدقوا او تصدقوا.

فائده: د قرض حسن پر تصدق د دې سببه دی چي معتبر په تصديق کي اخلاص دی يعني دون النفاق او دغه رنګه معتبر په تصدق کي اخلاص دی يعني دون الرياء والسمعة.

يُضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾

خدای به مضاعف ثواب ورکړي دوی ته بعشرة الامثال الی سبعمائة الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماشاء الله، او دوی لره به ثواب دی یعني زائد پر تضعیف الاجر، ولعل هو رؤیته تعالی في الجنة.

پوه سه: چي په ضمیر کي د هم تغلیب دی د مذکر پر مؤنث فافهم.

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيْقُوْنَ

او هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی پر خدای ؑ (بالتوحید) او پر ټولو رسولانو د خدای ؑ، هم دغه کسان دي (هم ضمیر فصل دی للحصر) مبالغ دي في الصدق کي یا په تصدیق کي بجمیع ماجاء به الله في القرآن ورسوله ﷺ.

فائده: ددې ایت څخه دا معلومه سوه چي روا دی اطلاق د صدیق پر هر مؤمن باندي نو ځکه مجاهد وایي کل من آمن بالله ورسوله فهو صدیق، کذا قال عمرو بن میمون ؒ، او الصدیق تر دې خاص معنی هم سته وهو من اکتسب کمالات النبوة بالوارثة والتبعیة او هم دغه خاص معنی مراد ده في قوله تعالی فاؤلئک مع الذین انعم الله علیهم من النبیّن والصدیقین والشهداء والصالحین.

وَالشُّهَدَآءُ عِنْدَ رَبِّهِمْ لَهُمْ اَجْرُهُمْ وَنُوْرُهُمْ

یا شاهدان دي د انبیاء سابقین پر امتو د هغو چي هغه امتو نه له تبلیغ څخه د انبیاء منکر سي "عند ربهم" وهو قول ابن عباس ؓ وجماعة، وقال مقاتل بن سلیمان ؒ هم الذین استشهدوا في سبیل الله یعني في الجهاد مع الکفرة "لهم اجرهم ونورهم" ای الثواب الموعود والنور الموعود لهم من جانب الله.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ

او هغه کسان چي کافران وي او تکذیب د ایاتو زموږ کوي یعني القرآن دغه کسان دي مصاحبان د دوږخ یعني خالدین فیها فان الصحبة تدل علی الملازمة في عرف العربیة کما قالوا في اصحاب رسول الله ﷺ الملازمین له.

اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّزِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ

پوه سئ چي ژوند د دنیا، مراد له ژوند څخه د دنیا هغه شیان دي چي د خلکو رغبت ورته کیږي من الاموال والاولاد والجاه والجلال، یعني چي توصل نه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کبري و منافع ته د آخرت کالطاعات والذکر والتسبیح والتهلیل الی غیر ذالک "لعب" ساتېری دی.

یوه سه: چي لعب سره د ما عطف علیه خبر د الحیوة الدنیا دی، والمعنی لا فائدة فیها، ولي چي نفع یې لږه ده نظرًا الی مایفید في الاخرة سریعة الزوال ولذالک سمي لعبًا لکه کوچنیان چي په خاوروکي سات تېروي "ولهو" اللهو ما یمنع الناس عن امر مهم من امور الآخرة "وزینة" یو ښائست دی کالملبوسات الفاخرة والمراکب لکه په اوسنی زمانه کي قسم قسم لوړ قیمته موټران او بنګلې لوړي لوړي.

"وتفاخر بینکم" او یو پر بل فخر کول په موجوده شیانو کي چي په نېز د خدای عزوجل په هیڅ نه ارزي لانها فانیة.

وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ كَمَثَلِ غَيْثٍ أَعْجَبَ الْكُفَّارَ

او زیاتوب په اموالو او اولادو کي یعني یو پر بل مباهات کول دي (یعني الفخر).

یوه سه: چي جمله د انما الحیوة الدنیا الخ قائم مقام د مفعول د اعلموا ده.

بازیچه ایست طفل فریب این متاع دهر
بی عقل مرد آنکه بدو مبتلا شود

وفي الحدیث الصحیح مالي وللدنیا انما مثلي ومثل الدنیا کمثل راکب قام في ظل شجرة في یوم صائف (د دوبي ورځ) ثم راح وترکها (ماپښین ځني راهي سو درخته یې پرېښوول)

جهان ای پسر ملک جاوید نیست...... زدنیا وفاداری امید نیست

قال علي لعمار رضي الله عنه: غم مه کوه پر دنیا یعني چي دنیا نه لرم، ولي چي دنیا شپږ شیان دي: مطعوم، مشروب، ملبوس، مشموم، (د بوید وشی) و مرکوب (د سپرتیا شی) ومنکوح (ماینه ده) فاکبر طعام الدنیا العسل، وهو ریقة ذبابة (تاري دي د مچ مچی) واکبر شرابها الماء، ویتسوي فیه جمیع الحیوانات، واکبر الملبوس الدیباج (ورېښم دي) وهو نسج دودة (ودل دي د چنجیانو) چي دودة القزیې په عربي بولي، واکبر المشموم المسک وهو دم ظبیة (وینه د هوسی ده) واکبر المرکوب (یعني في سابق الزمان) الفرس وعلیها یقتل الرجال، واکبر المنکوح النساء، وهو مبال في مبال (یو د بولو ځای د نر دی بل د بولو ځای د ښځي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی یعني في حالة الجماع "کمثل غیث" په شان د باران "غیث" بل خبر دی د مبتداء سابقي یعني الحیوة الدنیا.

بوه سه: چي کمثل یا په محل کي د رفع دی چي خبر د مبتداء محذوفي دی ای هي ای الامور المذکورة یا په محل کي د نصب دی حال دی له ضمیر څخه د في لعب.

سوال: لعب خو اسم جامد دی نو ضمیر څرنګه پکښې دی؟

ځواب: په لعب کي معنی د وصفیت سته ای کائن في لعب، روح البیان.

فائده: غیث هغه باران ته وایي چي محتاج الیه وي چي استغاثه خلګ کوي د نه اورېدو په سبب د جدب (خشک سالی) عند قلة الماء في العیون (په چینو کي) والبحار (په رودو کي) والقنوات (په کاریزو کي) والآبار (په څاهانو کي) فالغیث المطر النافع بخلا المطر فانه یعم النافع والضار "اعجب الکفار" په قاموس کي وایي چي کافر زارع (کښته ګر ته وایي) لان معنی الکفر الستر والزارع یستر البذر (تخم) په ځمکه کي او کفار مبالغه د کافر په معنی د زارع، او هم په دې معنی کافر مصطلح ته کافر وایي ولي دی هم حق په باطل سره پټوي، والکافر قبر ته هم وایي لانه یستر المیت، کما جاء في الحدیث اهل الکفور اهل القبور، او شپې ته هم کافر وایي لانه یستر الاشیاء بظلمته، او مظهري د مفسرینو څخه مخالفه معنی د کفار کړې ده، یعني کفار یې جمع د کافر بللې ده بالمعنی المصطلح فارجع الیه، په هر حال دا تمثیل دی د امور د دنیا في سرعة زوالها

نَبَاتُهٗ ثُمَّ یَهِیۡجُ فَتَرٰىهُ مُصۡفَرًّا ثُمَّ یَکُوۡنُ حُطٰمًا ؕ وَ فِی الۡاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِیۡدٌ ۙ

نو نبات د هغه غیث چي ښه ښه کښتونه یې راشنه کړه "ثم یهیج" وروسته بیا وچ سي دا کښت سرسبز چي وخت یې پوره سي "مصفرا" ژړ ووېي ته وینې (ای مخاطب غیر معینه) بیا وروسته یې مات کړي چي لوی یې کړي، کذا في القاموس، او په قیامت کي سخت عذاب دی یعني کافرانو لره چي عمرونه د دنیا په لهو او لعب وغیرهما کي تېر کړی ؤ، او د آخرت لپاره یې هیڅ کار نه ؤ کړی چي د آخرت د کار رئیس اعظم الایمان بالله ورسوله وکتابه دی.

وَّ مَغۡفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَ رِضۡوَانٌ ؕ وَ مَا الۡحَیٰوةُ الدُّنۡیَاۤ اِلَّا مَتَاعُ الۡغُرُوۡرِ ۝

او بخښنه د ګنهو له جانبه څخه د خدای عزوجل او رضا ده د خدای، ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی له دار الغرور څخه ده وکړه او د دار الخلود لپاره یې سرمایه برابره کړي
يعني الايمان والطاعات والاذكار وغيرها، او نه دی ژوند د دنيا مګر سبب د
غوليدو د شيطان دی يعني د هغه چا لپاره چې د دنيا په ژوند کې يې طلب د آخرت
نه وي کړی كالكفرة الفجرة، واما المؤمنون فحيوة الدنيا لهم بلاغ الى ماهو خير
منها وهو جنت النعيم دار الخلود.

سَابِقُوٓا اِلٰى مَغْفِرَةٍ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ
سبقت وکړئ.

درویش وايي: چې لفظ "سابقوا" مستعار دی له مسابقې څخه د خلکو یو تر
بل په اسپ دواني کې، یا د سیکلانو په چلولو کې الى غير ذالک من المسابقات
المروجة في الازمان والرجال، والمعنى سارعوا و بادروا "الى مغفرة" ولويې
بخښنې ته د خدای (فالتنوين والتنكير للتعظيم) "من ربكم" اى كائنة من ربكم
يعني واسبابو ته د عظيم مغفرة بالاستغفار والتسبيح والتهليل وسائر الاعمال
الصالحة القلبية من الخشوع والخوف والرجاء والاعمال بالدنية كالصلوة
المفروضة والسنن والنوافل والمالية كالزكوة المفروضة وصلة الرحم واعطاء
اليتامى والفقراء وغير ذالک "وجنة" او جنت (اسم جنس دی) او پسور د هغه
جنت لکه پسور د اوو اسمانو او د اوو مځکو دی چې تول له سره متصل کړل سي.
واذا كان العرض كذالک فطولها اكثر منه كما هو المعتاد كذا قال السدي يعني
ان اللام في السماء والارض للاستغراق.

اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ

چې آراسته او جوړ سوی دغه جنت لپاره د هغه کسانو (يعني المؤمنين
والمؤمنات) چې ایمان یې راوړی وي پر خدای يعني بالتوحيد وسائر صفات
الجلال والجمال، او پر رسولانو د خدای يعني پر تولو لا كاليهود حيث آمنوا
بموسىٰ فقط لا بعيسى ولا بمحمد ﷺ وكالنصارى حيث آمنوا بعيسىٰ فقط لا
بموسىٰ ولا بمحمد عليهم السلام.

فوائد هذه الآية: له دې څخه دا معلومه سوه چې جنتونه اوس هم مخلوق دي
بقرينة صيغة الماضي اعني اعدت وان الايمان وحده يعني بالله ورسوله كاف في

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

استحقاقها وان الايمان بالله لايفيد مالم يؤمن برسله وهذا ثابت باجماع اهل السنة والجماعة.

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ

دغه موعود فضل د رب جل وعلا دی (يعني واجب پر خدای نه دی كما هو المذهب المعتزلة) وركوي يې هغه چاته چې اراده يې ورته وسي.

پوه سه: چې معتزله وايي چې ثواب د مطيع او عذاب د عاصي پر خدای واجب دي، خذلهم الله

پوه سه: چې د اهل السنة په نيز دخول د جنت په صرف فضل د خدای دی او درجات يې په عملو پوري اړه لري، كما روى هناد في الزهد عن ابن مسعود تجوزون الصراط بقدرة الله وتدخلون الجنة برحمة الله وتقيمون في المنازل باعمالكم.

وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝

او خدای عزوجل د لوی فضل څښتن دی.

مصرع: باكريمان كارها دشوار نيست

چو روی بخدمت نهی بر زمين ..... خدا را ثنا گوی وخود را مبين

اميدی كه داری بفضل خدا است ..... كه بر سعی خود تكيه كرده خطا است

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِى الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ

نه رسيږي يو مصيبت په مځكه كي (چې باران نه وي د كښت او د كرهنې امكانات كم وي) او نه ستاسي په ځانو كي (لكه مريضي يا موت الاحباب، صفت دی د مصيبة) مگر نه چې په كتاب كي ای مكتوب في كتاب وهو اللوح المحفوظ.

مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝

د مخه تر دې چې موږ يې خلق كوو د هغه مصيبت (ضمير مؤنث راجع يا مصيبت ته دی يا ارض ته يا انفس ته كذا قال المظهري، والظاهر الارجاع الى المصيبة فيشمل ما في الارض وما في الارض فافهم) په تحقيق دا نوشته د ټولو شيانو من العاهات والآفات وغير ذالك پر خدای اسانه ده، كريمه انما امره اذا اراد شيئا ان يقول له كن فيكون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ اٰتٰىكُمْ ؕ

ددې لپاره دا نوشته په لوح محفوظ کې ده چې تاسي غمجن نه سئ پر هغه شي چې ستاسي څخه فوت سو (یعني نه دروړسېد یعني من نعیم الدنیا) او خوشحالي ونه کړئ په هغه شي چې تاسي ته درکړه سو من نعیم الدنیا.

پوښتنه: غم کول پر فائت او خوشحالي کول پر نعمتو د دنیا خو طبعي کار دی نو په نوشته د لوح محفوظ به دا غم او خوشحالي چې ضدین دي څرنګه به دفع سي؟

ځواب: د سړي چې دا تصدیق چې دا غم او ښاري ټولي مقدر دي من الله عزوجل او په هغو کې تغییر او تبدیل نسي کېدای نو غم في الجملة ورته اسانه کېږي او خوشحالي نسبت کمېږي لان العواري ای الامانات لایأسوا بعدمها ولایفرح لوجودها ارباب العقول کما لایخفی.

وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ۙ

او د خدای ؂ نه دي خوښ چې خیال او تکبر کوي په نعمتو د دنیا "فخور" چې فخر کوي پر خلکو، عکرمه ؒ وایي لیس احد الا یفرح (یعني بالنعمة) ویحزن (یعني بعدمها) ولکن اجعلوا الفرح شکرًا، والحزن صبرًا، د جعفر الصادق ؒ څخه روایت دی یا ابن آدم مالک تأسف علی مفقود ولا یرده الیک الفوت، ومالک تفرح بموجود ولا یترکه في یدک الموت.

الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ

"الذین الخ" بدل دی له مختال څخه، ولي هغه سړی چې په مال سره خیال او تکبر په مال سره کوي خامخا بخل کوي په مال سره چې خیال او تکبر یې پر ځای پاته سي او خلک هم په بخل سره امر کوي تاچې ملګري یې ډېر سي.

وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝

که څاه مخ واړوی ای یعرض عن الانفاق في سبیل الله په تحقیق خدای ؂ غني دی دده له انفاق څخه، ولي چې خدای ؂ دده له اعراض څخه بې پرواه دی (لانه لایضره خدای ؂ ته یې ضرر نه رسېږي دده په اعراض، او دغه خدای ؂ ته فائده نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسېږي دده په شکر پر نعمت د خدای " "الحمید" فعیل په معنی د مفعول دی یعني خدای عزوجل محمود في ذاته دی حمده وشکره اولا.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ

موږ را استولي رسولان زموږ چي ملکي دي وانبياء علیهم السلام او د هغو په واسطه وامتو ته د هغو "بالبینات" په دلائلو او معجزاتو سره، او موږ نازل کړي دي سره د هغو رسولانو سره کتاب.

درويش وايي: چي په کتابو کي د عقائدو وايي چي رسول هغه چا ته وايي چي کتاب پر نازل سوی وي او نبي عام دی که کتاب پر نازل وي او که په کتاب سابق سره عامل او حاکم وي.

پوښتنه: په احاديثو شريفه وُ سره ثابته ده چي رسولان (۳۱۳) دي او کتابونه يو سل او څلور دي، فکيف يصح اشتراط الکتاب في الرسول؟

ځواب: بعض کتابونه دي مکرر نازل سوي وي کما جاء في الحديث ان سورة الفاتحة نزلت مرتين وان قال البيضاوي ان الاصح انها مکية يعني فقط، او يا دي په بعض کتابونو څه زيادت د احکامو سوی وي يا دي نسخ د بعض احکامو سوی وي وان کانت الزيادة او النسخ جزويا فهذا الاعتبار صار کانه کتاب آخر فافهم والله اعلم.

پوهه: چي حکمت په انزال د کتابو جلا کول دي د حق له باطل څخه او حلال له حرام څخه او عمل صحيح له فاسد څخه.

پوهه: چي ميزان خو ترازو ته وايي بعض مفسران وايي چي مراد دلته عدل دی لان الميزان اللغوي آلة العدل، او مقاتل بن سليمان" وايي چي مراد هو الميزان اللغوي دی، والمراد بانزاله انزال الامر باستعماله تا چي تسويه د حقوقو وسي او بعض مفسرين" وايي چي جبرئيل علیه السلام ترازو و نوح علیه السلام ته راوړي، وقال مر قومک يسوی به الحقوق الدائرة بينهم والله اعلم

لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ

"ليقوم الناس بالقسط" تا چي خلک پر انصاف او عدل باندي قائم اوسي، ولايظلم بعضهم بعضا په هره معنی چي ميزان واخلئ، او موږ نازله کړي ده او سپنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(كما في حديث المرفوع عن ابن عمرؓ چي خدای څلور بركاته له اسمانو څخه نازل كړي دي: الحديد، والنار، والملح والماء نو پر دې تقدير انزال پر خپل معنى حقيقي دى، او بعض محققين وايي چي معنى د انزلنا الحديد انشأنا واحدثنا موږ پيدا كړې اوسپنه په خپلو معادنو كي او دوى ته مي ښوولي دي فوائد د اوسپنې يا په وحي سره كما قال الله في شان داوٗدؑ وعلمناه صنعة لبوس لكن الآية، يعني د زغرې چي ستاسو پخوانى د جنګ قميص وُ، او په الهام سره في قلوب بعض الناس ثم وثم الى ان بلغت فوائد الحديد الى ما نراها في الزمان الحاضر "فيه بأس" په اوسپنه كي جنګ دى (يعني آلات د جنګ دي، ولي چي په ټولو آلاتو كي د جنګ اوسپنه لويه برخه لري "شديد" سخت جنګ چي توپونه كلاشنكوفونه حتى جنګي طيارې او جنګي آلات اوسپنه يې معظم جزء دى.

وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾

او فائدې د خلكو چي تبر، تېشه، كلنګ، بېلچه، سندان، آره وغيرها له اوسپنې څخه جوړېږي "وليعلم الله" عطف دى پر محذوف اى لتقاتلوا في سبيل الله (په دغو آلاتو كي چي د اوسپنې څخه جوړېږي) وليعلم الله چي خداى پاک په علم امتيازي سره معلوم كي والا فان الله يعلم الله جميع الاشياء بالعلم الاذلي.

"من ينصره ورسله" څوک مرسته او كومک كوي د خداىٴ (اى دينه تعالى) او د رسولانو د خداى "بالغيب" يعني په غيب سره چي خداىٴ يې نه دى ليدلى (حال من الضمير في ينصره) په تحقيق خداىٴ قوي دى يعني په خپل قدرت سره د هر چا هلاک چي وغواړي كولاى يې سي، او خداىٴ غالب دى چي مانع د مشيت دده څوک نسي كېدلاى.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَاهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا النُّبُوَّةَ وَالْكِتَابَ

لام موطئه د قسم محذوف دى په تحقيق موږ رسولان كړ څولي دي نوحؑ او ابراهيمؑ، بيان او تفسير دى لما سبق من قوله تعالى ولقد ارسلنا رسلنا آه.

فائده: دا دوه رسولان چي يې خاص كړه په ذكر سره لفضلهما وكثرة ذريتهما كما يدل عليه مابعد هذه الآية "وجعلنا في ذريتهما النبوة والكتاب" په اولادو كي د دوى نبوت او كتاب (مراد ځني جنس كتاب دى) يعني سبب د تفصيل دا دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي موږ ګرځولې په اولادو کي د دواړو نبوت او کتاب، چنانچه څلور کتابونه تورات د موسیٰؑ او انجيل د عيسیٰؑ او زبور د داؤدؑ او فرقان د محمد ﷺ انزلت في ذرية ابراهيم وهو من ذرية نوح علیه السلام، په مدارک کي راغلي دي چي مراد له کتاب څخه کتابت بالقلم دی کما روی عن ابن عباسؓ.

فَمِنْهُم مُّهْتَدٍ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ۝

بعض له دوی څخه ای من الذرية او من المرسل اليهم كما يدل عليهم الارسال "مهتد" ای من الذرية، او ډېر له ذرية څخه د دوی فاسقان دي يعني کافران.

ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلَىٰ آثَارِهِم بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنجِيلَ

ای آثار نوح و ابراهيم ومن ارسل اليهم ولايجوز ارجاع الضمير الى الذرية لان الرسل المقفى بهم كانوا من ذريتهما "رسلنا" زموږ رسولان "وقفينا" موږ وروسته راواستاوه تر ټولو رسولانو وروسته قبل محمد ﷺ.

پوه سه: چي عيسیٰ ﷺ اخير نبي د بني اسرائيلو د نبيانو دی، وروسته زمانه د فترت د رسولانو وه تخمينًا شپږ سوه کاله حتی ارسل الله محمدًا ﷺ من العرب خاتم النبيين "وآتيناه الانجيل" موږ ورکړی ده ته کتاب په نامه د انجيل.

وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً

موږ وګرځاوه په زړو کي د هغو کسانو چي د عيسیٰؑ متابعت يې کاوه "رأفة" محبت او نرمي "ورحمة" مهرباني پر خپلو ورونو نصاری ؤ بلکې پر مؤمنانو د امت د عليه الصلوة والسلام کما کان انموذج تلک الرحمة، رحمة النجاشي چي په دين نصاریٰ ؤ پر مهاجرينو د مؤمنانو چي دده په مملکت کي مهاجر وه چي مشر يې جعفر بن ابی طالب ﷺ ؤ، کريمه: لتجدن اقربهم مودة للذين آمنوا الذين قالوا انا نصاریٰ، کريمه: في حال المؤمنين رحماء بينهم.

درويش وايي: چي حال د يهودانو قسوة القلب دی يعني چي هيڅ رحمة پر مؤمنانو نه لري.

وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا

پوه سه: چي رهبانية مبالغة ده په عبادت او په رياضة کي! و د خلکو سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

گڼ ون نه کول، او شهوات تولد پرېښول حتى المباحة فيها كالاكل د ورځي (يعني روژه به یې وه) والنوم بالليل والنكاح وغيرها، منسوب دی و رهبان ته چي پر وزن د فعلان من رهب الى شيئ اى رغب وخشي كخشيان من حشي معطوف دی پر رأفة اى جعلنا في قلوبهم رهبانية "ابتدعوها" چي دوی اختراع کړې وُ دا رهبانيت من قبل انفسهم صفت د رهبانية دی.

سوال: چي په اعتبار د عطف د رهبانية پر رأفة خو دا معنی ورکوي وجعلنا في قلوبهم رهبانية، نو ابتداع به د جعل سره د خدای منافي نه وي؟

ځواب: نسبت و خدای ته خو په اعتبار د خلق د خدای په زړو کي د دوی ميل الى الرهبانية حاصل دا چي خدای خالق د رهبانية دی او دوی یې کاسبان دي كما هو المذهب عندنا في جميع افعال العباد.

مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ

درويش وايي: چي که تفسير د آية داسي وکړل سي ما كتبنا شيئًا من خصال الرهبانية پر دوی مگر طلب د رضوان الله نو استثناء متصل ده، ولي طلب د رضوان الله خو په خصال کي د رهبانية داخل دی، او روح البيان وايي چي استثناء منقطع ده لعدم دخول ابتغاء مرضات الله في الرهبانية، ولي چي رهبانية خو د دوی مبتدع کار وُ، فالمعنى ولكن كتبنا عليهم طلب مرضات الله "فما رعوها" دوی رعايت د مرعات د الله و نه کړی يعني ټولو على طريق سلب العموم، دا يې معنی نه ده چي هيڅ چا له دوی څخه مراعات د رهبانية نه دی کړی على طريق السلب الكلي په بل تعبير عموم السلب دی "حق رعايتها" حق يعني كامل مراعات د رهبانية چي دوی پر لازم کړی وُ بلکي بعض هغه مراعات یې پرېښو يعني رياء او سمعه یې په گډه کړه او ميل یې و دنيا ته وُ، يا عيسیٰ ابن الله بلل يا ثالث ثلاثة خدای یې بولی واخيرها الكفر بمحمد ﷺ مع شهادة الانجيل بنبوته وغيرها من القبائح.

فائده: معنى السلب الكلي يا عموم السلب په پښتو دا ده چي فلانی کار هيڅ چا نه دی کړی، د معنى سلب العموم سره منافي نه ده چي ټولو دا کار نه دی کړی، او د سلب جزي سره منافي ده اى السلب الكلي. فتدبر هداک الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۷﴾

نو موږ ورکړی هغه کسانو ته چې ایمان یې راوړی وي یعني ایمانًا صحیحًا او مراعات د حقوقو د رهبانیة یې په اتم وجه سره کړی وي حتی آمنوا بمحمد ﷺ کما وصی بها عیسی ؑ "منهم" دا ددې دلې څخه د رهبانیانو "اجرهم" ثواب موعود د دوی پر کمال مراعات د رهبانیت چې دوی پر ځان لازم کړی وُ، او ډېر د دوی فاسقان دي یعني خارج د اتباع څخه د عیسیٰ ؑ دی چې قائل بالتثلیث دی او یا باتخاذ الله الولد والصاحبة او یا په دین کې د بادشاهانو فاسقانو داخل سوه، د انس ؓ څخه روایت دی قال النبي ﷺ لکل امة رهبانیة ورهبانیة امتي الجهاد في سبیل الله دی وفي روایة عن ابن مسعود ؓ في حدیث طویل قال رسول الله ﷺ رهبانیة امتي الهجرة والجهاد والصلوة والصوم والحج والعمرة الی اخیر الحدیث.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ

ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی (بالرسل المتقدمة) لکه اصحاب د نجاشي چې نصاری وه او ایمان پر عیسیٰ ؑ وُ، د خدای څخه وبېرېږئ او ایمان راوړئ د هغه پر رسول (یعني محمد ﷺ) باندي "یؤتکم" مجزوم جواب د امر دی وکذا مابعده (یعني ویجعل) تاسي ته به خدای درکړي "کفلین" دوې برخي "من رحمته" د خدای له رحمت څخه یعني له ثواب څخه چې یو پر ایمان پر نبي سابق وه او بله برخه پر ایمان بمحمد ﷺ ده.

پوه سه: چې مخاطب که نصاری د نجران وي نو دوې برخي د ثواب یوه یې د ایمان پر عیسیٰ ؑ او پر انجیل ده او بله برخه یې پر ایمان بمحمد ﷺ والقرآن، او البغوي ؒ وایي چې اکثره مفسرین پر دې دي چې دا خطاب و اهل الکتابین (ای التوراة والانجیل) من الیهود والنصاری، فمعنی الآیة یا ایها الذین آمنوا برسوله محمد ﷺ یؤتیکم کفلین من رحمته یعني اجرین، یعني کفل علی الایمان بموسیٰ وکتابه وعیسیٰ وکتابه وکفل علی الایمان بمحمد ﷺ.

وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾

او تاسي لره به وګرځوي خدای یو نور چې تاسي به تګ پکښي کړئ یعني په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځ د قيامت لکه په دمخه آيتو کي چي ذکر سوه، کريمه: يسعى نورهم بين ايديهم وبايمانهم فهو الضياء الذي تمشون به على الصراط الى ان تصلوا الى الجنة، وعن ابن عباسؓ ان النور هو القرآن وقال مجاهدؒ هو الهدي اي يجعل لكم سبيلاً واضحًا في الدين چي تاسي به لار پيدا کړئ الى جناب القدس وجنات الفردوس "ويغفر لكم" او خدایٰ به در وبخښي ما سبق من ذنوبكم، او خدایٰ بخښونکی دی يعني د ګنهو او علاوه پر هغه مهربان دی پر بندګانو.

پوه سه: چي ابن جرير له قتادهؒ څخه روايت کوي قال بلغنا انه لما نزلت يؤتكم كفلين من رحمته حسد اهل الكتاب المسلمين عليها.

درويش وايي: چي دا روايت چي قتادهؒ په بلغنا سره راوړی دی او مبلغ يې نه دی معلوم کړی منافي دی د ما ذکرنا سره چي سابق آيتونه په مؤمنينو کي د اهل کتاب نازل سوي دي يعني يؤتكم كفلين من رحمته، او د قتادهؒ له روايت څخه خو صراحةً دا فهميږي چي سابق آيتونه په مؤمنانو کي د غير اهل کتاب نازل سوي دي والله اعلم، فقير خپل دمخه بيان موافق د روح البيان سره ښيي.

لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتٰبِ أَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ

پوه سه: چي روح البيان وايي چي لا زائد دی کما في قوله تعالى لابليس (ما منعك ان لا تسجد) که لا زائده نه سي په دې ايت کي نو خو مضمون يې داسي کيږي چي ابليسه ته څه شي منع کړې د عدم سجدې څخه، منع د عدم سجدې څخه خو سجده ده وهو خلاف الواقع. ويدل على زيادة لا في هذه الآية قرائة ليعلم وقرائة لكي يعلم، فالمعنى ههنا على تقدير زيادة لا تا چي پوه سي هغه اهل الكتاب چي ايمان يې نه وي راوړی پر عليه الصلوٰة والسلام كما مر في قوله تعالى: اتقوا الله وآمنوا برسوله الخ.

پوه سه: چي ان مخفف د مثقل څخه دی واسمها الذي هو ضمير الشان دی محذوف دی، والجملة بعده منصوب محلاً على انها مفعول يعلم ده، وحاصل معنى الآية ليعلمون (اى اهل الكتاب الذين لم يؤمنوا برسوله) چي دوی قدرت نه لري پر يو شي له فضل څخه د خدایٰ من الكفلين من الاجر والنور ومغفرة الذنوب ولي چي دوی يې شرط نه دی پر ځای کړی وهو الايمان برسوله محمد ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَأَنَّ الْفَضْلَ بِيَدِ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ

او په دې هم پوه سئ چې فضل په قدرت کې د خدای عزوجل دی (دا جمله عطف ده علی ان یقدرون) ورکوي هغه چا ته چې د خدای ورته اراده سي، او خدای د لوی فضل مالک او څښتن دی ..... ابیات:

فیض کرم رسانده از شرق تا بغرب ..... خوان نعم نهاده ازقات تا بقات

هستند بهرمند بیش و کم از نوال تو ..... دارند نیک وبد بعطاء تو اعتراف

درویش وایي: چې دا احتمال هم مفسرانو تجویز کړی دی چې امر په تقوی او په ایمان دی غیر اهل اکتابو ته وي، یعني المؤمنین برسوله فالمعنی اتقوا الله واثبتوا علی ایمانکم برسول اللهﷺ یؤتیکم ما وعد الله من آمن من اهل الکتاب من الکفلین من الاجر، في قوله تعالی اؤلئک یؤتون اجرهم مرتین چې معنی د کفلین وه او تر هغو مو نه کموي.

پوښتنه: مؤمنان د اهل کتاب خو پر دوو نبیانو ایمان راوړی وُ نو نور مؤمنان څرنګه د دوی سره برابر کېدای سي؟

ځواب: دا نور مؤمنان خو هم دوه ایمانه لري یعني لایفرقون بین احد من رسله نو پر دې تقدیر هغه چې په یو روایت کې راغلي دي چې مؤمنانو د اهل الکتابین به فخر کاوه پر نورو مؤمنانو چې موږ ته اجر مرتین راکړه کېږي وادعوا الفضل عنهم، نو دا ایت د مؤمنانو د غیر د اهل الکتابین نازل سو کما مر، نو هغه افختار دفعه سو، په صحیح حدیث کې راغلي دي چې رسول اللهﷺ به تلاوت کاوه د مسبحاتو سورتو د شپې د مخه تر خوب او دا به یې ویل چې په دغو سورتو کې یو ایت سته چې افضل دی تر زر ایته، والمسبحات هي هذه السور سورة الحدید، سورة الحشر، سورة الصف، سورة الجمعة و سورة التغابن.

پوښتنه: رسول کریمﷺ هغه معین نه کړی او پټ یې وساتی؟

ځواب: د دې لپاره چې امتیان کوشش وکړي د ټولو سورتو، لکه چې په ورځ کې د جمعې ساعت د اجابت د دعاء پټ ساتل سوی دی او داغه رنګه لیلة القدر، شیخ سعدي قدس سره وایي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چو هر گوشهٔ تیر نیاز افگنی ..... امید است که ناگه صید زنی

همه سنگها پاس دار ای پسر ..... که لعل از میانش نباشد بدر

غم جمله خور درهوای یکی ..... مراعات صد کن برای یکی

درویش وايي: الحمد لله والصلوة والسلام على رسوله واصحابه چي د تفسير څخه د (۲۷) جزء د قرآن عزيز په توفيق د الله عزوجل په ورځ د يکشنبي ساعت يوه بجه تخميناً د ماپښين وخت په اخيره ورځ کي د صفر الخير سنه (۱۴۳۳) هـ ق پای ته ورسېدی، د اته ويشتم جزء تفسير به ان شاء الله تعالى ژر شروع سي.

مصرع: ما نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل

الهی عبدک العاصي اتاکا .... مقر بالذنوب وقد دعاکا

فان ترحم فانت لذالک اهل .... وان تطرد فمن ترحم سواکا

که ثناء د خدای وايمه شرمېږم
کي نه وايمه د خدای څخه بېرېږم

نعمتونه د خدای پاک پر ماعاصي
دومره ډېر دي چي په حساب يې نه رسېږم

هر نعمت چي زما د شانه وي لائق
خدای راکړی دی ماته زه پوهېږم

ددې دومره نعمتو شکر په خوله زما
نه کېدونکی دی او نه زه پسي رسېږم

د ثناء ويل نعمت هم د خدای پاک دی
پر ثناء ثناء ويل د چا طاقت دی

دا زما دا جزوي ثناء دي خدای منظور کړي
د کريم په لوی دربار کي مقبول کړي

مصرع: باکريمان کارها دشوار نيست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء الثامن والعشرون

قد سمع الله ٢٨

تفسير الروحي حنفي

حضرت مولانا شفيع الله الروحي

الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتجويد

كاسي رود كوئته بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

سورة المجادلة مدنية وهي اثنتان وعشرون اية وثلث ركوعات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

پوهه: چي دا سورة سورة المجادلة بولي بفتح الدال وكسرها، او دوهم يې مشهور دی او سورة قد سمع الله يې هم بولي، او په مصحف کي د ابي ﷺ سورة الظهار وېل سوی دی او دا سورة په روايت سره د ابن عباس رض سيد المفسرين او د ابن الزبير ﷺ مدني دی، وهو المشهور في المصاحف وقيل غير ذالک.

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ

په تحقيق واورېدی خدای، کلام د هغې ښځي "تجادلک" ای تراجعک الکلام په شان کي د مېړه چي هغه دې ته لفظ د ظهار استعمال کړی وُ چي په جاهليت کي طلاق بائن وُ د ابد لپاره، يعني داسي يې ورته وويل: اَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ اُمِّيْ.

فائده: ددې ښځي نوم خوله بنت ثعلبة وُ او د مېړه نوم يې اوس بن الصامت وُ او دا ښځه يعني خوله ډېره ښائسته ښځه وه، ددې مېړه يې له دې څخه خواهش د مېړه او مابېني تر مابېن د کار يعني جماع کړی وُ، دې منع ورته کړې وه، نو مېړه يې ورته وويل انت علي کظهر امي، مېړه يې پر خپله خبره دستي پښېمانه سوی وُ خوله ته يې وويل: ما ظنک الا قد حرمت علي (ستا څه ګمان دی چي ته پر ما حرامه سوې) ماېنې يې ورته وويل: والله ما ذاک طلاق (دا خو طلاق نه دی) نو خوله و عليه الصلوة والسلام ته ورغله چي عائشې ﷺ دده مبارک سر وربربولی، فقالت يا رسول الله ان زوجي اوس بن الصامت تزوجني وانا شابة (زه خو ځوانه وم) مالداره وم او قريبان مي هم درلوده، نو زما مېړه زما څخه مال وخوړی او زما ځواني يې هم تېره کړه او زما قريبان سره متفرق سوه او زه سپين سرې سوم، زما مېړه ما ته د ظهار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لفظ استعمال کړی او دستي پښېمانه سو، نو اوس بیرته یو داسي لار سته چي ما و دی بیرته سره کورا و کهول سو، یعنی لکه پخوا چي وُ؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل حرمت علیه، فقالت اشکوا الی الله فاقتي و وحدتي، زه شکایت کوم خدای ته، تعني سوال کوم چي زه فقیره سوم او یوازي سوم. قد طالت صحبتي (زما او دده تر منځ ډېر صحبت وُ) او زما نس دده د عیال ځای وُ مراد یې جماع وه، فقال رسول اللهﷺ ما اراک الا حرمت علیه ومالم اومر في شانک بشيئ (زه نه یم امر سوی ستا په باره کي په یو شي) بیا به دې علیه الصلوة والسلام ته وویل یا رسول اللهﷺ اشکوا الیک فاقتي وشرة حالي وان لي صبية، زه کوچني عیالونه لرم که یې زه مېړه ته وسپارم یعني زما او دده تر مابین جدا والی راسي زما عیال "ضاعوا" ضائع کېږي ولي چي نر خو د کوچنیانو تربیه نسي کولای، او که یې د ځان سره وساتم "جاعوا" وږي کېږي، ولي چي زه مال نه لرم چي په دوی یې مصرف کړم، او هر وار چي به علیه الصلوة والسلام دې ته وویل ما اظن الا حرمت علیه دې به سر د اسمان و خوا ته پورته کړی او داسي به یې ویل اللهم اني اشکوا الیک زه تا ته شکایت کوم یعنی خواست کوم، اللهم فانزل علی لسان نبیک، تعني زما په باره کي وحي نازلي کړې چي زه بیرته د مېړه سره یو ځای سم.

بوه سه: چي دا اول ظهار وُ په اسلام کي، نو عائشهؓ چي د علیه الصلوة والسلام د سر مبارک هغه بل طرفته د پرېولو لپاره ولاړه سوه، خوله ورته وویل چي انظر في شاني جعلني فداک یا رسول الله، فقالت عائشهؓ یعنی خوله ته اقصري حدیثک ومجادلتک، بس کړه خپلي خبري او مجادله، اما ترین وجه رسول اللهﷺ ته نه ګوري مخ ته د علیه الصلوة والسلام، ولي پر علیه الصلوة والسلام چي به وحي نازلېدلې رنګ به یې نهایت تغیر سو لکه سړی چي څوک خپه کړي. فلما قضی الوحي چي وحي پای ته ورسېدلې، دا ایتونه نازل سوه.

وَاللّٰهُ يَسْمَعُ تَحَاوُرَكُمَا ۚ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ بَصِيْرٌ ①

او الله اوري خبري ستاسي یو د بل سره (یعني هغه جریان د خبرو چي د علیه الصلوة والسلام او د خوله تر مابین به جاري وې کما مر بیانه) په تحقیق خدای اورېدونکی او لیدونکی دی بالاحوال یعني عالم بالمسموعات والمبصرات.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي مشکل د خوله په ډېر تضرع د دې و خدای ته حل سو.

چون فرود آید بلا بی دافعی ..... جز تضرع نبود دیگر دافعی
یا من یری مافي الضمیر ویسمع ..... انت المعد لکل ما یتوقع
یا من یرجی للشدائد کلها ..... یا من الیه المشتکی والمفزع
مالي سوی قرعی لبابک حیلة ..... ولئن رددت فای باب اقرع
حاشا للطفک ان تقنط عاصیًا ..... الفضل اجزل والمواهب اوسع

درویش وایي: چي په تاریخ کي د عمر بن الخطاب رضی الله عنه راغلي دي چي دی یو وخت په زمانه کي دده د خلافت پر خره سپور ؤ او خلک هم ورسره وه، یوې سپین سري ښځي دی ودراوه ډېره زمانه او داسي یې ورته وویل چي ته څو زمانه عمیرًا بلل کېدلې یعني په تصغیر سره بیا په عمر مسمٰی سوې، بیا په امیر المؤمنین سره ملقب سوې، فاتق الله یا عمر فانه من ایقن الموت خاف الفوت ومن ایقن الحساب خاف العذاب، عمر رضی الله عنه ورته ولاړ ؤ او ددې خبرو ته یې غوږ نیولی ؤ، یو چا عمر رضی الله عنه ته وویل یا امیر المؤمنین ته ولې ولاړ یې دې سپین سري ښځي ته هذا الوقوف الطویل، عمر رضی الله عنه ورته وویل والله لو حبستني که زه دې راګرځولی وای له اول څخه د ورځي تر اخیره پوري د ورځي زه به له خره څخه نه وای کښته سوی مګر نه لپاره د فرضي لمانځه، اتدرون من هذه العجوز؟ تاسي خبر یاست چي دا سپین سرې څوک ده؟ هي خولة بنت ثعلب لقد سمع الله قولها من فوق سبع سمٰوات (یعني هغه د مخه ایت کي تېره سوه) ایسمع رب العالمین قولها ولا یسمعه عمر.

پوښتنه: له دې خبري څخه د عمر رضی الله عنه خدای عزوجل لره جهت نه ثابتېږي؟

ځواب: لا لانه تعالی هو العالي والمتعال.

فائده: علماء وایي من اکبر الذنوب ان یقول الرجل لاخیه (ای المؤمن) اتق الله فیقول في جوابه علیک نفسک (ته خپل ځان بنه کړه) انت تأمرني بهذا، دلیل ددې خبري دادی لانه اذا ذکر اسم الله یعني اتق الله یلزم التعظیم له سواء صدر من مسلم او کافر، علماء وایي چي اعلم الناس لا یستغني عن تنبیه وایقاظ.

بگوی آنچه دانی سخن سود مند ..... وگر هیچ کس را نیاید پسند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ

هغه خلک چې ظهار وکړي يو ستاسي څخه (يعني المؤمنين) د خپلو مايېنو څخه.

پوه سه: چې د "منكم" فائده داده چې ظهار د اهل ذمه نه دی صحيح، وبه قال ابو حنيفة ومالک خلافًا للشافعي، او د "نسائهم" په قيد بسره دا معلومه سوه چې د مينځي سره ظهار نسته که مالک يې وطي کوي که نه، وهو المذهب الحنفية.

پوه سه: چې ظهار دې ته وايي چې سړی و مايېنې ته ووايي: انت علي كظهر امي وكان ذالک طلاقًا في الجاهلية مثبتًا للحرمة الابدية. شرع شريفي دا لفظ نقل کړی و حرمت ته چې منتهي په کفاره سره ګرځي.

درويش وايي: چې متعارف خو دغه لفظ و چې ذکر سو لکن فقهاؤ په دې لفظ پوري ملحق ګرځولی چې سړی تشبيه د مايېنې وکړي په هغه جزء پوري د مور چې نظر او کتل يې و هغه جزء ته د مور نه وي روا لکه چې مايېنې ته ووايي چې ته پر ما داسي يې لکه ورون د مور يا لکه فرج د مور.

"ماهن امهٰتهم" دوی يعني دغه مايېنې ميندي د دوی حقيقةً نه ګرځي حتی چې دا زوجات و دوی ته حرامي سي ابدًا لکه ميندي.

اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓئِيْ وَلَدْنَهُمْ ۭ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ وَزُوْرًا ۭ

نه دي ميندي د دوی مګر هغه ښځي چې دوی يې زېږولي وي، او دوی هر آئينه وايي نا روا في الشرع د خبري، ولي چې شرع شريفي انکار پر کړی دی "و زورًا" او دروغ.

سوال: زور خو دروغو ته وايي چې صيغه له قسم څخه د خبر دی او ظهار خو انشاء د تحريم ده لايحتمل الصدق والكذب؟

ځواب: ظهار که څه هم انشاء د تحريم دی لکن په اصل کي اخبار و لزعم اهل الجاهلية چې دا لفظ حرمت ابديه دی.

وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ۝

په تحقيق خدای عفو کونکی دی او بخښونکی دی لقولکم المذکور او لمطلق المعاصي چې سړی توبه ځني وکاږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ

او هغه کسان چي ظهار وکړي د ماينو سره خپل وروسته عود او رجوع وکړي و هغه خبري ته چي ده ويلي وه (يعني لفظ د ظهار د مايني سره) يعني پښېمانه سي.

پوه سه: چي دا ترجمه د ايت لفظي وه، او دا بيان دی د حکم د ظهار بعد بيان كونه منكرًا من القول و زورًا.

پوه سه: چي موصول (يعني الذين مبتداء ده و تحرير رقبة يعني قوله تعالى "فتحرير رقبة" ازادول د مريبي دي، دا بله مبتداء ده او خبر يې محذوف دی ای عليهم (دا خبر مقدر دی) تحرير رقبة. يا فاعل د فعل مقدر دی يعني فيلزمهم تحرير آه، او يا خبر د مبتداء مقدر دی ای فالواجب عليهم (تحرير) پر دري سره تقديرو جمله خبر د موصول ده (يعني الذين)

پوښتنه: پر خبر يې ولي فاء داخله کړه؟

ځواب: لتضمن المبتداء معنى الشرط، او کلمه د ما (ای لما قالوا) موصولة يا مصدرية ده، او لام (يعني په لما قالوا) کي متعلق دی په يعودون پوري.

فائده: عود لما قالوا على المشهور عند الحنفية" العزم على الوطي كانه حمل العود على التدارک مجازًا، فالمعنى والذين يقولون ذالک القول المنكر ثم يتداركونه بنقضه (يعني دا خپل قول منكر ماتوي په قصد سره د وطي) د مايني سره.

درويش وايي: چي دا معنى د عود موافقه ده د ماقاله رئيس المفسرين عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما چي العود الندم (پښېماني) ای ندموا په سبب د ما قالوا من الظهار المنكر و ارادوا التحليل يعني بيرته د مايني حل د وطي يعني الحالة الاصلية قبل الظهار.

پوه سه: چي د ظهار په رقبة كافرة او مسلمة ذكر او انثى صغيرة او كبيرة سره برابر دي عند الحنفية" ولي په ايت کي رقبه مطلق راغلې ده.

مسئله: پر مظاهر حرام دی دواعي د وطي لکه مچه او مسه کول تر کفاري پوري، دليل يې دا دی چي دواعي د وطي باعث و نه ګرځي د حرام چي وطي دي قبل الكفارة.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ

ضمیر د مثنی راجع دی و مظاهر او دده و ماینې ته.

پوه سه: چي مراد له تماس څخه جماع ده.

فائده: له دې ایت څخه دا معلومه سوه چي کفاره شرط د حل د جماع ده، او دا هم معلومه سوه چي ظهار یوجب الحرمة "ذالکم" ای الحکم بالکفارة قبل التماس "توعظون به" تاسي ته نصیحت کول کیږي په دغه حکم سره (لزیل به الحرمة الثابتة بالظهار، او یا د دې لپاره چي بیا د ظهار لفظ نه وواییي) او اللّٰه ﷻ په عملو ستاسي خبر دی (که ما مصدریه سي او که موصوله سي نو عائد یې موصول ته محذوف دی، والتقدیر بما تعملونه)

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا

که چا رقبه نه کړه پیدا یعني مریی یا مینځه نه وه لکه زموږ په اوسنی زمانه کي یا یې قیمت د رانیولو نه درلودی، یا دده روپۍ چي رقبه یې په رانیولې وای مشغول په پور سره وې یعني د خلکو پورونه پر باندي وه یا و ما عنده من النقود ته محتاج و لنفقة عیاله عند ابی حنیفة والشافعي واحمد "خلافاً لمالک" دی وایي چي که یې قیمت د رانیولو د رقبي درلودی حتماً به رقبه ازادوي او شغل بالدین ونفقة العیال دی اعتبار نه ورکوي، ودلیله والجواب عنه مذکور في کتب الفقه "فصیام شهرین" یعني پر ده لازمي دي روژې دوې میاشتي.

مسئله: د فرضي روژې میاشت ناحسابه ده، ولي هغه د خدای عزوجل علحده فرض ده نو له کفارو څخه د ظهار نه دریږي، او د کوچني اختر یا د لوی اختر ورځي او د ایام التشریق روژې هم ناحسابه دي، ولي چي دده ورځو روژې منهي عنها دي، نو د وجوب کامل چي روژې د ظهار دي غاره نه وزي.

"متتابعین" پرله پسې، که یې تتابع ونه کړه که په عذر وي او که بې عذره وي بیرته به یې له سره راګرځوي اجماعًا من المذاهب "من قبل ان یتماسا" یعني د مخه تر جماعو به دا روژې نسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا

نو که یې طاقت نه درلودی د دوو میاشتو روژو (یا په سبب د ناجوړی یا په سبب د کبر سن، یا له دې څخه بېرېدی چي ناجوړی به سم یا یې جماع ته تلوار ژ) نو طعام به ورکوي شپېتو مسکینانو ته یعني اغنیاء په دې کفاره کي د ظهار اعتبار نه لري، قال العلماءؒ المسکین من لاشیئ له، او له شیئ څخه مراد مایکفیه وعیاله و اسکنه الفقر (یعني یوې خوا او بلې خوا ته سفر نسي کولای)

مسئله: که یې یوه مسکین ته شپېته ورځي فدیه ورکړه روا ده او که یې په یوه ورځ یوه مسکین ته په دفعاتو ورکړه لایجوز.

پوه سه: چي په نېز د امام اعظمؒ فدیه د کفارې یوه مسکین ته نصف صاع من بر او صاع من تمر او شعیر ده.

پوه سه: چي د احنافو په نېز د تملیک او اباحة فرق نسته یعني دواړه روا دي مثلاً که یې شپېته کسه مېلمانه کړه غرمه او ماښام په ماړه نس په ډوډۍ د غنمو وغیره یا یې دوه ماښامه او دوې غرمې که څه هم هغه مقدار د نصف صاع ته نه ورسېږي، لکن په مېلمستیا کي نان خورش یعني چي ډوډۍ په پوري کوي لازم دی ولي چي د نان خورش سره پوره شبع راځي، لکن دا شرط لازمي دی چي دا شپېته کسه مسکینان د غرمې او د ماښام سره یو وي، که مظاهر داسي وکړه چي شپېته کسه یې د غرمې له خوا ماړه کړه او ماښام یې نور شپېته کسه ماړه کړه نه دی روا، بلکي یو قسم به بیرته راګرځوي فافهم.

درویش وایي: چي ټولي مسئلې د کفارة الظهار د فقهي په کتابو کي مطالعه کړه، زه ان شاء الله داسي مفسر نه یم چي له تفسیر څخه د فقهي شریفي کتاب جوړ کړم یعني چي بیان د مذاهبو اربعهؒ او ددې دلائل او جوابات ټول په لیکني درج کړم لکه د بعض مفسرینو چي دا عادت دی.

پوښتنه: خدای عزوجل د اطعام سره قبل ان یتماسا نه کړی ذکر سبب یې څه دی؟

ځواب: په روژو چي په مابین کي د روژو جماع وکړي استیناف غواړي او په مابین کي د اطعام المساکین چي جماع وکړي استیناف از سر نو نه غواړي لان الله تعالی لم یذکر في کتابه قید قبل یتماسا، هذا عند ابی حنیفةؒ لکن ګناه کار دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او نور اهل مذهب دا مطلق يعني الاطعام محمول پر مقيد بولي، يعني الصوم والاعتاق يعني چي اطعام به هم قبل المسس وي.

مسئله: كه مظاهر جماع وكړي قبل الكفارة بشيئ استغفر الله لوقوعه في الحرام او كفاره دي وروسته وركړي ليحصل له حل الجماع بعد ذالك ويرتفع الحرمة الثابتة بالظهار ولايجب عليه بالجماع قبل الكفارة كفارة اخرى، او بعض علماء وايي چي دوې كفارې به وركوي. والحق ما اختاره الجمهور وابو حنيفة ولي چي په حديث كي د سلمة بن صخر چي جماع قبل الكفارة كړې وه رسول الله ﷺ دي امر كړى په يوه كفاره سره (يعني مع الاستغفار كمامر) وحديث ابن عباس رضي الله عنهما مثل ذالك، وروى الترمذي وابن ماجه حديث سلمة بن صخر مثل مامر.

ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ

دغه رنګه "ذالك" منصوب دى په فعل مقدر سره اى بينا تلك الاحكام، يا ذالك مبتداء ده خبر يې محذوف دى اى ذالك واقع فافهم.

پوه سه: چي ايمان بالله چي يې ذكر كړى مراد څني شرائع د خداى دي كما في قوله تعالى انا الله لايضيع ايمانكم اى صلواتكم يعني الى القبلة المنسوخة، والمعنى هـ لتعملوا بشرائع الاسلام او پرېږدئ ما كنتم عليه في الجاهلية مثلاً چي ظهار حرمت ابدي دى "تلك" اى الكفارات منهيات د خداى دي چي مكلف منع كوي له اتيان څخه د محرماتو كالظهار وغيره.

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝

او د كافرانو لپاره (چي احكام د خداى نه قبلوي ولايمتنعون عن المحرمات او تجاوز كوي تر حدود د خداى) عذاب دى درد وركونكى يعني عذاب النار المؤبدة.

درويش وايي: چي كه مراد له كافر څخه هغه سړى وي چي منكر له احكامو څخه د خداى وي نو اية پر ظاهر حمل كېږي يعني عذاب النار المؤبدة كمامر، او كه مراد له كافر څخه غير العامل باحكام الله من غير انكار عنها، نو اطلاق د كافر پر ده تغليظاً دى يعني اطلاق د كفر لپاره د تاكيد د واجباتو د خداى دى لتاكيد العمل بها لا انه كافر حقيقة كما زعمه الخوارج چي مرتكب د كبائرو ګنهو كافر دى، نو د هغه عذاب اليم ترجمه په عذاب النار المؤبدة كوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په بعض اسلامي ممالکو کې په نامه د قانون يو څو مسائل دوی وضع کړي دي، نو ددې حکم څه دی؟

ځواب: دا قوانين که خلاف الشرع او قرآن نه وي صرف ددې لپاره دي چې د خارجي مملکتو سره بايد موږ څه چارچلند وکړو او يا د بجلي او کارد نفع اخستلو لپاره موږ څونه ماليه له دوی څخه وغواړو يا د فوج تعليم و تربيه موږ څرنګه وکړو، او فوج چې د مملکت ساتندويان دي عند الضرورة څو مره تنخوا د بيت المال څخه ورکړو الی غير ذالک من الامور السياسية، فلا جرح فيه لانها وضعها اهل والعقد من المشاورين او نور قوانين چې خلاف القرآن والشرع وي د هغو په باره کې روح المعاني ډېر طويل بحث کړی دی او قاضي بيضاوي هم د هغو قوانينو بيان کړی دی فارجع الی روح المعاني والبيضاوي.

معذرت: ته ايوبي يې ولې بيان او تفصيل نه کوې؟

ځواب: ما اجمالاً اشاره ورته وکړه بقولي يعني و نور قوانين چې خلاف القرآن والشرع وي، نو عاقل سړي لره اشاره کافي ده او د تفصيل کتاب مې هم در وښووی لکن چونکه تفسير د فقير بناء په اختصار د مهما امکن دی له دې سببه د ټولو هغو مسئلو نقل او تفصيل چې يفضي الی التطويل الممل لپاره د مطالعه کونکو د تفسير ايوبي. اللهم اهدنا واهد جميع المسلمين الی صراط مستقيم والی احکام القرآن الکريم والشرع المبين.

اِنَّ الَّذِيۡنَ يُحَآدُّوۡنَ اللّٰهَ وَرَسُوۡلَهٗ كُبِتُوۡا

په تحقيق هغه کسان چې عداوت کوي د خدای او د رسول سره د خدای او مخالفت کوي من امرهما يعني يضعون حدوداً ای الامر والنهي غير حدود الله ورسوله "کبتوا" په قاموس کې وايي کبته بکبته صرعه واخزاه وصرفه کسره، قتادة وايي رسوا به سي او ابن زيد وايي، او بعض مفسرين وايي چې کبت پر مخې غورځول دي، په تفسير بحر مواج کې وايي نازل سوی دی دا ايت په کفارو کې د قريشو وهذا اشارة الی ما کان يوم الخندق چې د احزاب غزا يې هم بولي، وقيل الی ما کان يوم بدر.

پوه سه: چې دا بشارت دی مؤمنانو ته بالنصر علی الکفار ، وفيه معجزة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَقَدْ أَنزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ

كما كبت الذين من قبلهم من كفار الامم الماضية چي هغو به هم لكه كفار د قريشو عداوت د خداى عزوجل او د رسولانو عليهم السلام سره كاوه، او په تحقيق موږ نازل كړي دي صاف او واضح ايات ''وقد انزلنا آه'' جمله حال ده د كبتوا له ضمير څخه، يعني والحال انا انزلنا ايات واضحات چي دلالت يې پر صدق د رسولانو كاوه.

وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿۵﴾

''وللكافرين'' او د كافرانو (منكرانو) يعني په هغو اياتو سره وبكل مايجب الايمان به عذاب دى اهانت وركونكى چي د دوى عزت او كبر له سره څخه وباسي.

درويش وايي: چي حال د فرعون الجبار مع ايات موسىٰ او حال د نمرود الظلام د ابرهيم عليه السلام او حال د لوط عليه السلام د قوم وغيرهم تاسي يې مفصلي قصې په قرآن كريم كي اورېدلي دي.

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا

منصوب دى ظرف مستقر دى ضمير راجع دى و كافرانو ته يعني دا عذاب هغه ورځ دى دوى له چي خداى دوى بعث او ژوندي كړي بعد الموت وهو يوم القيامة او يا يوم منصوب دى په اذكر مقدر سره ''جميعًا'' تاكيد دى د ضمير منصوب الراجع الى الكفار ''فينبئهم بما عملوا'' خداى دوى خبر كړي په عملو د دوى په دنيا كي كلمه د ما موصوله ده والعائد الى الموصول محذوف اى بما عملوها.

فائده: دا خبرول د دوى به په مجمع عظيم كي د قيامت لپاره د تفظيع (رسوايي د دوى) او تخفيف د دوى دى على رؤس الاشهاد.

أَحْصَاهُ اللَّهُ وَنَسُوهُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿۶﴾

احاطه كړي ده خداى په ما عملوا سره (اى علمًا) ''ونسوه'' او دوى به هېر كړي وي ما عملوا په سبب د نهايت كثرت، يا په سبب د سپكوالي د دوى په عملو سره يعني سپك يې بلل نو حساب يې ورته كاوه دا عادت دى د خلكو چي لوى امر په خزانه كي د قوت حافظه ساتي او سپك شيان د حفظ څخه لېري ساتي ويدل عليه التجربة، او خداى پاك شاهد دى پر هر شي علمًا لايعذب عنه علمه شيء.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حاكم زحكم دم نزند گر گواه نيست ... حاكم كه خود گواه بود قصه مشكلست

فينبغي للعاقل ان يحضر ذنوبه او پروڑاري او خداى ته توبه وكاږي والتعجيل في التوبة والندم امر محتوم.

توبه بكن امروز تو هرگز نگو فردا كنم

شايد بميري صبحدم فردا نيابي درشمر

من كتاب تحفه نصائح آورده شد.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

(اى المخاطب خصوصًا الكفار الاستفهام للانكار ونفي النفي اثبات اى تعلم فالرؤية علمية) په تحقيق خداى خبر دى په هغه شيانو چي په اسمانو كي دي. من الملائكة الكرام التي لايعلم تعدادها الا الله والشمس والقمر والكواكب التي لايحصيها الا الله او چي په مځكه كي دي على ظاهرها من الحيوانات والنباتات وغير ذالک وفي باطنها من المعادن والكنوز والموتى وغير ذالک.

مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ

"مايكون" كان تامة دى اى مايوجد ويقع.

پوه سه: چي نجوىٰ اسم مصدر دى كذا في القاموس ما خوذ من النجوة وهي ما ارتفع من الارض، ولي چي پټ شيان له مځكي څخه لوړ دي صرف په اذهانو كي دي لاتيسر لكل احد ان يطلع عليها كلمه د ما نافيه ده، والمعنى ههنا مايقع من تناجى ثلثة نفر، پښتو نه پيدا كيږي پټي خبري د درو كسانو "الا هو رابعهم" مگر نه خداى څلورم دى يعني په علم سره "ولا خمسة آه" نه پنځه نجوىٰ سره كوي مگر نه خداى يې شپږم دى اى علمًا كمامر.

پوه سه: چي دا استثناء مفرغ ده حال ده من ثلثة يعني في حال من الاحوال الا حال كون الله څلورم د دوى يعني دغه درې كسه چي پټي خبري سره كوي دوى سره خبر دي خداى عزوجل هم په خبر دى.

برو از خلق يک ذره پوشيده نيست ... كه پيدا وپنهان بنزدش يكيست

حسين النوري قدس سره وايي الا هو رابعهم علمًا وحكمًا لا ذاتًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي صوفیه کرام ؒ د دې معیة څخه د خدای ؒ تعبیر په معیت غیر متکفیة سره کوي وفي هذه المعیة نصح عظیم قال النصر آبادي من شهد وعلم معیة الحق معه زجره من کل معصیة وارتکاب کل محذور.

نکته: پوښتنه: تخصیص د دغو دوو عددو چي دواړه هم فرد دي یعني تاک دي؟

ځواب: بعض وایي چي په سبب د خصوص د واقعې لان الآیة نزلت في المنافقین د هغو نجوی په باره کي د تخریب د اسلام او په باره کي د علیه الصلوة والسلام ګاهي به یې درې کسه سره کښېنسته نجوی بې سره کوله ګاهي به پنځه.

سوال: منافقان خو ډېر وه نو دومره اقل نجوی سره کوله؟

ځواب: هو ډېر نجوی وه لکن د افشاء څخه د راز بیدېدله، بعض مفسران وایي چي تخصیص د عدد وتریې په دې وکړی لان الله وتر یحب الوتر او درې او لد اوتارو دي چي مشوره پکښې کېدای سي، ولي چي په مشوره کي غالبًا اختلاف راځي، نو دوه کسه چي سره مخالف سي دریم سړی به د یوه د رائې تائید وکړي، فالمجموع ثلثة، او یا به متنازعین جماعت وي ادنی د جماعت څلور دي یو بې تر مابین اصلاح کونکی وي نو مجموع پنځه سوه.

فائده: بعض قراء تکون په تاء فوقانیة سره وایي فاعل یې نجوی بولي من زائد بولي، نو نجوی خو مؤنث دی او چي څوک په یاء تحتانیة یې وایي زمخشري وایي چي د نجوی تانیث غیر حقیقي دی او من هم فاصل دی فیجوز التذکیر فیه.

وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ

او نه هم کم له دغه څخه ای اقل عددًا منه کالاثنین، او نه ډېر تر پنځه لکه شپږ وما فوقها ''الاهو'' ای الله عزوجل ورسره دی بالعلم او معیة غیر متکیفة ''این ما کانوا'' یعني که لېري وي او که نژدې یعني و خلګو ته، ولي چي د خدای ؒ په سبب قرب مکاني نه دی حتی یتفاوت بالقرب والبعد.

ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

بیا به خبر کړي خدای ؒ دوی د دوی په عملو په ورځ د قیامت، په تحقیق خدای جل سلطانه په هر شي ښه خبر دی ''علیم'' صیغه د مبالغې، ده چي معیت د رب ﷻ په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علم سره هر څېري چې وي په بل تعبير معيت بلا كيف چې سړى ملكه وګرځي هغه
به يې د ټولو ګنهو مانع ګرځي ان شاء الله تعالى په دې باب كې يوه قصه صحيحه
ده، فاروق اعظم الخليفة الثاني لرسول الله ﷺ يعني ابن الخطاب ؓ چې د ده په
دوره كې د خلافت قبل شرب جام الشهادة يو پسه په كارو ؤ نو د باندې تر ښار د
مدينې منورې ووتى هورې يوه رمه د پسو ګرځېدله شپانه ورسره ؤ، شپانه ته يې
وويل چې يو پسه پر ما خرڅ كړه، شپانه ورته وويل چې زه مريى يم پسونه زما د
مالک دي د خرڅولو اجازه يې نه ده راكړې، عمر ؓ امتحانًا ورته وويل چې پر ما
يو پسه خرڅ كړه، نو كه مالک در ته ووايي چې دا فلانى پسه ولې كم دى؟ ته ورته
ووايې چې هغه لېوه راڅخه يوړى، شپانه ورته وويل فاين الله؟ خداى به څېري وي
يعني خداى خو په خبر دى، دا معنى د هغه ايت هو معكم اينما كانوا، عمر ؓ ته
دا لفظ د شپانه ډېر خوند وركړى چې را نيول د پسه يې صرف نظر كړه ورغلى و
مالک ته د پسو او د مريي يعني شپانه، ورته وه يې ويل چې دا ستا ټوله رمه د پسو
سره د مريي شپانه پر ما خرڅ كړه، خير په هر مبلغ چې تراضي د عمر ؓ او د مالک
د پسو سره وسوه پسونه او مريى يې پر خرڅ كړه، نو مريى يې راوغوښتى او ورته
وه يې ويل چې ته پر ما آزاد يې يعني حُر يې او دا رمه پسونه هم ستا دي او يوه
مينځه عمر ؓ د رلوده هغه يې ازاده كړه او شپانه ته يې په نكاح وركړه، وروسته
چې به په هر ځاى كې عمر ؓ دى وليدى دا به يې ورته ويل فاين الله، دا وه يوه
قصه چې د سابق ايت په تائيد تاسي واورېدل، فصدق الله وهو معهم اينما كانوا،
اللهم ارزقنا معيتک معنا اينما كنا برحمتک آمين.

اخرج ابن ابى حاتم عن مقاتل بن حبان ؒ ده وويل چې په منځ كې د رسول الله ﷺ
او د مدينې د يهودانو صلح او قرار داد ؤ يعني چې تاسي به زما د ښمنانو يعني
الكفار چې زه جنګ ورسره كوم نه به د دوى سره كومک كوئ ته زما سره، نو
يهودانو به داسي چم كاوه چې يو سړى به له اصحابو څخه د رسول الله ﷺ تېرېدې
دوى به پټې پټې خبرې سره كولې د مسلمان به دا خيال سو چې په ما كې خبرې
سره كوي يعني چې ما مړ كړي يا يو بل مكروه را ورسوي، البغوي ؒ دغه روايت
راوړى دى لكن دا يې ورسره زياته كړې ده چې مؤمنانو چې به دوى وليدل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پټې خبرې به يې کولې دا بې ګمان سو چې موږ پر دوی ګمان نه کوو مګر دا دې چې وقد بلغتهم من اخواننا چې دوی ته رسېدلي الذين خرجوا في السرايا (پوه سه: چې سرايا جمع د سرية ده، او سريه هغه کوچني لښکر ته وايي چې (۲۰۰) يا (۳۰۰) نهايت (۴۰۰) کسه وي، عليه الصلوة والسلام به يو قومندان ورو تاکی يوې ناحيې ته به يې و جنګ ته واستول، مأخوذ دی د سر څخه يعني په پټه چې منافقان په خبر نه سي تا چې هغه ناحيه ته د تيارسئ حال وانه ستوي) بقتل (چې وژل سوي دي) او هزيمة (يا شکست او ماتي وررسېدلې ده) فيقع ذالک في قلوبهم (يعني د مسلمانانو په زړو کې به دا شک پيدا سو يعني کمامر عنقريب) فيحزنهم (نو مسلمانان به غمجن سوه) چونکه دا عمل د منافقانو طول پيدا کړی نو يې شکايت و عليه الصلوة والسلام ته وکړی، نو عليه الصلوة والسلام منافقان منع کړه له دې کار څخه خو دوی نه منع کېدل. قال الله تعالى.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ

ته نه وينې (يا محمد ﷺ) چې دوی منع کړه سوي وه له نجوى څخه "ثم يعودون" مضارع ده په معنى د ماضي يعني عادوا عطف پر نهوا.

لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ

"لما نهوا عنه" يعني منع نه سوه له نجوى څخه "يتناجون بالاثم آه" دا جمله عطف ده پر يعودون، مراد له اثم څخه ګناه ده يعني ګناه ده عند الله، او مراد له عدوان څخه تجاوز دی پر مؤمنانو يعني يو د بله به يې وصيت سره کاوه چې د عليه الصلوة والسلام په قول عمل مه کوئ يا معنى دا ده چې نفس نجوى هم معصية الرسول وه ولي عليه الصلوة والسلام خو دوی منع کړي وه له نجوى څخه. روايت کړی دی البزار واحمد بسند جيد عن ابن عمر ؓ ان اليهود قالوا الرسول الله ﷺ سام عليكم يعني په بهانه د سلام عليكم بيا به يې په خپلو کې سره ويل لولا يعذبنا الله بما نقول، موږ ته ولي خدای ؒ عذاب نه راکوي په دغه لفظ سره چې سام عليكم (چې معنى يې ده مرګ پر تا) د دوی غرض دا ؤ چې که دی رسول وای خو بايد موږ ته خدای ؒ عذاب راکړی وای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ

چي دوی راسي تا ته تحية در کوي يعني سلام دراچوي په هغو الفاظو يعني السام عليكم او دوی به و عليه الصلوة والسلام ته په خيال دا ورکول چي مونږ سلام عليكم درته وويل، په دي الفاظو د دوی خوستا تحيه خدای نه ده کړي بلکي ستا د تحية لپاره خدای عزوجل سلام عليكم يا السلام عليكم ښوولی دی، نو مؤمنانو ته قال الله تعالى وسلام على المرسلين.

پوښتنه: عليه الصلوة والسلام دا د دوی په غلط سلام پوهېدی؟

ځواب: نعم بدليل ما روی في الحديث الصحيح چي يو يهودي چي داسي وويل سام عليک عائشة رضي الله عنها په وپوهېدل نو دي داسي ورته وويل سام عليک واللعنة عليه السلام ورته وويل عليک بالرفق نرمي کوه عائشه رضي الله عنها ورته وويل چي تا نه واورېدل د دوی خبره، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ما عليكم بدون الواو زما ښېرا پر دوی قبلېږي د دوی ښېرا پر ما نه قبلېږي.

درويش وايي: چي ما وويل بدون الواو چي د سلام په جواب وعليكم لوی تحقيق لري يعني واو د وعليكم پر څه شي عطف دی، که څوک ګمان کوي چي عطف دی پر السلام عليكم نو دا سوال پر واردېږي چي عطف د کلام د يوه قائل پر کلام د بل قائل نه دی روا الا في الدمج کما في شرح الجامي حيث يمدج کلامه بکلام الكافية فلا يرد ما يتوهم، بلکي واو د وعليكم السلام عطف دی پر محذوف، والتقدير علي وعليكم السلام، وبهذا ظهر ان عليه الصلوة والسلام قال في جوابهم عليكم بدون الواو، فالمعنى هلاک دی پر تاسي ځکه په عين المعاني کي وايي چي رد د عليه الصلوة والسلام پر يهودانو په واو سره خطاء انتهى، ووجه ذالک يظهر مما قلنا في جواب السلام الصحيح وعليكم السلام بالعطف فافهم فانه سانح عزيز.

وَيَقُولُونَ فِىٓ أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُ

يا يې په زړو کي دا ورو ګرځي يا يو د بله سره وايي اذا خرجوا من عند رسول الله ﷺ تكذيبًا له في دعوى النبوة، ولي موږ ته عذاب نه راکوي خدای په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قول چي مونږ ده ته وايو يعني سام عليک مرگ پر تا، غرض د دوی خپشانو دا ؤ
چي دی يعني رسول اللهﷺ نبي نه دی ولي که نبي وای نو نبي خو د خدای دوست
وي نو ده ته پر بد ويلو به خدای مونږ ته عذاب راکړی وای.

حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ الْمَصِيرُ

کافي دی دوی لره جهنم چي دوی ورداخلېږي په ورځ د قيامت، يصلونها حال
دی من ضمير حسبهم يعني د دې قول قبيح چي تاسي و عليه الصلوة والسلام ته وايه
تاسي ته به پر هغه عذاب د جهنم درکړي چي د دنيا تر عذابو عذاب د دوږخ بد ترين
دی لکه چي خدای وايي "فبئس" بد ځای د ورتگ دی، مخصوص بالذم يې
محذوف دی ای جهنم، له ابن عمرﷺ څخه روايت دی اذا سلم عليكم اليهود فانما
يقول احدهم السام عليكم فقل و عليک (قد مر ان الواو سهو) متفق عليه فافهم.

پوښتنه: تا په حواله د عين المعاني وويل چي په جواب کي د يهودانو واو
راوړه خطاء ده خو سره د واوه دا دی په متفق عليه حديث کي راغلي دي؟

جواب: دا واو په جواب کي د سلام د يهودانو راغلی دی مشاكلة للسلام الصحيح
يعني چي په مابين کي د مسلمانانو وي يا لفظ د واو مقحم، وهو كثير في القرآن.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

مقاتل وايي: يا ايها الذين آمنوا بالسنتهم (په صرف خولو او ژبو دون
قلوبهم) وهم المنافقون، او عطاء الخراساني وايي: يريد الذين آمنوا بزعمهم.

درويش وايي: چي والمآل واحد لکن روح البيان دا خطاب و مخلص
مسلمانانو ته بولي حيث قال بالسنتهم وقلوبهم.

مصرع: ببين تفاوت راه هست از كجا بكجا

إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

معنی د دې عبارت د مخه تېره سوه.

وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ

او مجلس کوي په برسره باداء الفرائض والطاعات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا ایت تائید د تفسیر د روح البیان کوي ولي بر او تقوی په منافقانو کي له کومه سته چي دوی یو وبل ته وصیت سره وکړي في النجوی لکه مظهري چي په نقل د مقاتل ؒ څخه تفسیر په کړی ؤ.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹﴾

"والتقوی" ای الاحتراز عن معصیة الرسول د مظهري خپل تفسیر په یاد دی، نو د لفظ "بر" په تفسیر تر اداء الفرائض وروسته یي دا هم ویلي دي وما یتضمن خیر المؤمنین فتدبر لکن مصرع لن یصلح العطار ما افسده الدهر.

اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

یعني هغه نجوی پر غیض د مؤمنانو وه او د دوی پر حزن به وه لکه د منافقانو نجوی کمامر "من الشیطان" ولي چي شیطان دوی یعني منافقان باعثه کوي پر ورته نجوی "لیحزن الذین آمنوا" یعني یزین الشیطان لهم ای المنافقین، دغه نجوی چي په غم کي واچوي مسلمانان، ولي د مسلمانانو به دا هم گمان کېدی چي دا نجوی زموږ په ضرر کي دوی کوي.

وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۰﴾

او نه ده دا نجوی یا شیطان ضرر رسونکي و مؤمنانو ته هیڅ شی ای شیئ من الضرر، مگر نه په قضاء او مشیت د خدای ؐ لانه الخالق للنفع والضرر.

"وعلی الله" تقدیم د جار او مجرور لپاره د حصر دی یعني خاص پر خدای ؐ توکل وکړئ یعني تفویض د ټولو امورو او احوالو خپل دي و خدای ؐ ته وکړي او له خدایه دي ساتنه غواړي او باک دي نه کوي په تناجي د منافقانو ولي چي خدای عزوجل دوی ساتي د شر او د ضرر څخه د دوی د تناجي.

فائده: کلمه د فا، دلته جواب ده د اما محذوفه، والتقدیر واما علی الله فلیتوکل المؤمنون ولا یبالو بنجواهم، روی البغوي ؒ بسنده عن ابن عمر ؓ قال قال رسول الله ﷺ اذا کنتم ثلثة فلا یتناجی الاثنان دون الثالث فانه یحزنه یعني خو ابدی کېږي ده خیال دا کېږي چي په ما کي پټي خبري سره کوي، او چي خلک ډېر وي بیا د دوو کسو په تناجي کي پروا نسته چنانچه په حدیث کي د ابن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسعود رضی الله عنه مرفوعًا الی رسول الله ﷺ حتی یختلطوا بالناس. قال البغوي قال مقاتل بن حبان رحمه الله چي رسول الله ﷺ احترام کاوه د بدر د غازیانو من المهاجرین والانصار رضی الله عنهم فجاء ناس منهم (یو څو کسه د بدریانو) و مجلس ته د رسول الله ﷺ د تبلیغ او وعظ دا اوریدو لپاره خلک د مخه راغلي وه ځایونه یې نیولي وه یعني قریب و علیه الصلوة والسلام ته ځای نه ؤ، نو دوی السلام علیکم و علیه الصلوة والسلام ته وو ایه او مخامخ ورته ودریدل، بیا دوی السلام علیکم ناستو خلکو ته وو ایه په امید د دې چي څه سره نژدې سي او موږ ته ځای راکړي، خو هغو جواب د سلام ورته وو ایه لکن ځای یې ورنه کړی دوی یې هغسي پر ښپول ولي چي د ناستي ځای نه سو پیدا، نو دا د دوی ولاړه پر علیه الصلوة والسلام سخته پر یوتل، نو علیه الصلوة والسلام په ناستو خلکو څو کسانو ته وویل قم یا فلان وانت یا فلان یعني هر څو چي بدریان وه هغونه نفر یې له مجلس څخه ولاړ کړل، نو بدریان ﷺ په هغو ځایو کي کښېنستل، او پر هغو کسانو چي علیه الصلوة والسلام له خپله ځایه ولاړ کړي وه ډېره سخته پر پر یوتل حتی نبي ﷺ د دوی په مخانو کي کراهت د ولاړولو محسوس کړی، فانزل الله تعالی هذه الآیة.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی چي وویل سي تاسي ته چي فراخي جوړه کړئ د ناستي په ځایو کي یعني سره نژدې سئ او ورله تبول کښېنئ تاچي مجلس فراخه سي نور خلک هم پکښې ځای سي، او ابن ابی حاتم رحمه الله داسي روایت کړی دی چي ورځ د جمعې وه.

درويش وايي: چي د دې معنی دا نه ده چي علیه الصلوة والسلام پر منبر د خطبې وویل له دې سببه چي د خطبې ویلو په وخت کي خو سلام او جواب او خبري ممنوع دي بلکې مراد دا دی چي ورځ د جمعې وه د غسي د علیه الصلوة والسلام سره خلک ناست وه او علیه الصلوة والسلام خبري ورته کولې چي بدریان رضی الله عنهم راغله او دا موضوع پېښه سوه.

درويش وايي: چي قرائة د عاصم رحمه الله په صیغه د جمع دی نو مراد مطلق مجالس او مجلس د رسول الله ﷺ په دخول اولی پکښې داخل دی، نور قاریان یې المجلس په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صیغه د مفرد وايي، او مراد له هغه څخه هم يا مطلق مجلس دی بجعل اللام للجنس يا لام لپاره د عهد دی يعني مجلس د رسول اللهﷺ كما يدل شان نزول الآية، وقد مر فان الصحابة رضوان الله عليهم كانوا يتنافسون على القرب من رسول اللهﷺ والتنافس الرغبة او حرص يې کاوه پر اوريدلو د خبرو د عليه الصلوة والسلام.

فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ

پوه سه: چي "فافسحوا" مجزوم دی جواب د امر دی، يعني فراخي به خدای جوړه کړي پر تاسي فيما تريدون الوسعة من الدار والرزق والصدر او فراخي به درکړي په جنت کي، "البغوي" په سند سره وايي د عبد الله بن عمرؓ چي رسول اللهﷺ وويل چي يو سړی دي بل سړی نه ولا ړوي له خپل ځايه څخه يعني چي هغه پکښې ناست وي او دی پکښې کښېني لكن وايي دي تفسحوا و توسعوا، فراخي جوړه کړئ يعني نژدې نژدې سره کښېنئ چي ځای فراخه سي، او په روايت کي د "الشافعي" له جابر بن عبد اللهؓ څخه داسي راغلي دي ان النبيﷺ لا يقيمن احدكم اخاه يوم الجمعة ولكن ليقل افسحوا فراخي جوړه کړئ.

وَإِذَا قِيلَ انْشُزُوا فَانْشُزُوا يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ

او چي وويل سي تاسي ته چي ولاړ سئ له خپلو ځايو څخه يعني تاسي يو وار ولاړ سئ چي ځای فراخه سي بيرته به کښېنئ، وقال البغوي" قال عكرمة والضحاك" چي بعض کسان چي اذان به وسو د جماعت د لمانځه څخه به يې ځان دروند اچاوه يعني على الفور به مسجد ته نه تله، فانزل الله تعالى هذه الآية فالمعنى اذا نودي للصلوة نو ولاړ يږئ و لمانځه ته، وقال مجاهد" واكثر المفسرين" چي د ايت معنى داده چي تاسي ته وويل سي چي ولاړ سئ و لمانځه ته يا جهاد ته يا د يو خير کار چي وي ولاړ يږئ ځان مه اچوئ "يرفع الله" جواب د امر دی يعني فانشزوا، پورته کوي خدای هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي يعني کومک ورسره کوي او په ذکر حسن سره يې خلک يادوي او د خلکو په زړو کي هيبت ورا چوي الى غير ذالک من عطايا الله دا خو په دنيا او په اخرت کي ځای ورکوي په لوړو ځايو کي (چي غرف يې بولي) په جنتو کي.

سوال: جواب د امر خو مجزوم وي دلته خو په کسره دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: له جهت څخه د القتاء د دوو ساکنانو چي يو عين بل لام مدغمه د الله د لفظ عين ته کسره لان الساکن اذا حرک حرک بالکسر کما في کتب علم الصرف.

وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ

او هغو کسانو ته چي خدای علم ورکړی وي له مسلمانانو څخه "درجات" پورته کوي ولوړو درجو ته کثيرة جليلة، روح المعاني وايي چي عطف د والذين اوتوا العلم آه، عطف دی خاص پر عام تعظيمًا لهم بعدهم کانهم جبس آخر، ولذا اعيد الموصول يعني الذين في النظم الکريم. احاديث شريفه في فضائل العلماء بالعلوم الشرعية اخرج الترمذي وابو داؤد والدارمي عن ابی الدرا ﷺ او مرفوعًا فضل العالم على العابد (چي علم يې نه وي عبادت يې ډېر وي تر عالم) کفضل القمر ليلة البدر على سائر الکواکب، واخرج الدارمي عن عمر بن کثير عن الحسن قال قال رسول الله ﷺ من جائه الموت وهو يطلب العلم ليحي به الاسلام (که پر چا راغلی مرګ او دی په طلب د علم بوخت ؤ چي اسلام په ژوندی کړي يعني العلوم الشرعية کالتفاسير والاحاديث والفقه وغير ذالک) نو دده او نبيانو يوه درجه فرق دی يعني درجة النبوة وعنه عليه الصلوة والسلام يشفع يوم القيامة ثلثة ای ثلثة فرق الانبياء ثم العلماء ثم الشهداء. نو علماؤ ته د انبياء او شهداء تر مابين درجه خدای ورکړي ده بشهادة الصادق المصدوق ﷺ، وعن ابن عباس چي خدای پاک و سليمان ته اختيار ورکړی چي علم غواړې او که سلطنت او که مال غواړې؟ فاختار سليمان العلم فاعطاه الملک والمال تبعًا.

درويش وايي: چي دلائل پر فضل د علم او د علماؤ کما في روح المعاني اکثر من يحصى (چي شمېر دې وکړل سي) روح المعاني وايي چي ډېر د اميد حديث عندي في فضلهم ما رواه الامام ابو حنيفة په مسند کي د ابن مسعود په روايت قال قال رسول الله ﷺ چي سره جمع به کړي خدای عزوجل علماء په ورځ د قيامت فيقول اني لم اجعل حکمتي في قلوبکم الا وانا اريد بکم الخير (خدای ورته وايي ما ستاسي په زړو کي خپل حکمت يعني علم الشريعة نه ؤ ايښی مګر دې لپاره چي زما وتاسي ته اراده د خير وه اذهبوا الى الجنة، فقد غفرت لکم ما کان منکم، يعني من الذنوب والمعاصي وفي حديث جرير ان العلماء ورثة الانبياء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وان الانبياء لم يورثوا دينارًا ولا درهمًا ورثوا العلم فمن اخذه اخذه بحظ وافر (اى كامل) رواه احمد وارباب السنن الاربعة وعن كثير بن قيس قال قال عليه الصلوة والسلام فضل العالم على العابد كفضلي على ادناكم، رواه الترمذي. وفي حديث ابى امامة الباهلي رض عن عبد الله بن عمرو رض ان رسول الله ﷺ مر بمجلسين في مسجده فقال كلاهما على خير (پر ښه كار دي) واحدهما افضل من صاحبه، اما هؤلاء (واشار الى العابدين الداعين الى الله) فيدعون الله (خداى ته خواستونه كري) فان شاء اعطاهم وان شاء منعهم، واما هؤلاء (اى العلماء) فيتعلمون الفقه والعلم ويعلمون الجاهل بالاحكام فهم افضل وانما بعثت معلمًا (ښوونكى د علم او دين) ثم جلس فيهم، رواه الدارمي.

قال الحسن رح قرء ابن مسعود رض هذه الآية (يعني والذين اوتوا العلم درجات) فقال ايها الناس افهموا هذه الآية لترغبكم في العلم فان الله يرفع المؤمن العالم فوق الذي لايعلم (يعني وان كان عابدًا) درجات، روح المعاني وايي واستدل بهذه الآية غير واحد من العلماء على تقديم العالم ولو كان باهيًا (د يو قوم نوم دى) شابًا على الجاهل ولو كان هاشميًا شيخًا وهو بناء على ماتقدم من معنى الآية لدلالتها على فضل العالم على غيره من المؤمنين وان الله تعالى يرفعه يوم القيامة عليه (اى على غيره من المؤمنين) ويجعل منزلته (اى العالم) فوق منزلته (اى غير العالم من المؤمنين) فينبغي محل العالم في مجالس الدنيا فوق محل الجاهلين وان كانوا وزراء او امراء في امور الدنيا.

درويش وايي: چي د دې ايت په معنى كي روح المعاني نوري ډېري اوږدې خبري كړي دي لكن... بيت:

تاطبع شريفت نه پذيرد ملالتى .... آن به كه نامه را بدعاء مختصر كنم

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ⑪

خداى عزوجل چي تاسي يې عمل كوئ ښه خبر دى يعني كمًا وكيفًا يعني فيجازيكم عليها في يوم يقوم الناس لرب العالمين، صدق الله العظيم، شان الآية اخرج ابن ابى حاتم من طريق علي بن ابى طلحة عن ابن عباس رض چي مسلمانانو به ډېري ډېري مسئلې د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتلې چي پر عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام به ډېر مشقت ؤ د تپوسونو په جواب ورکولو کي. نو د خدای عزوجل دا اراده سوه چي پر خپل نبي او رسول باندي د سوالونو بار سپک کړي، فانزل الله تعالی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُوْلَ

ای هغه کسانو چي ایمان مو راوړی دی چي تاسي اراده د مناجات یعني د پوښتنو د مسئلو وکړئ د رسول ﷺ سره.

فَقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً

نو تاسي د مخه کوئ تر نجوی صدقه (یعني للفقراء لا لاخذ رسول الله ﷺ تلک الصدقة لنفسه المطهرة من دنس الصدقات)

پوه سه: چي په دې امر بالصدقة کي تعظیم شان رسول الله ﷺ ونفع للفقراء، وتمییز بین المخلص والمنافق ومحب الدنیا ومحب الآخرة وبین السخي والبخیل.

فائده: په دې ایت کي اصل ترکیب په هغه چا کي استعمال کېدی چي هغه لره لاسونه وای، نو په دې ایت کي اول استعارة مکنیة ده بتشبیه النجوی بالانسان او اثبات د یدین استعارة تخییلیة ده او د بین په لفظ استعارة ترشیحیة ده ومعناه قبل، البغوي" وایي مقاتل بن حبان" وایي نزلت هذه الآیة د اغنیاء په باره کي چي دوی به راغله طویل مناجات به یې د علیه الصلوة والسلام سره شروع کړی او پر فقراؤ به غالب وه یعني فقراؤ ته به یې د مناجات فرصت نه ورکاوه حتی کره رسول الله ﷺ طول جلوسهم ومناجاتهم، ابن ابی حاتم" له ابن عباس" څخه روایت کړی دی چي دا ایت چي نازل سو صبر کثیر من الناس د مناجات او سوالو څخه ولي هغه کسان چي مسکینان وه فلم یجدوا شیئًا یتصدقون قبل النجوی او هغه کسان چي اهل غناء وه هغو بخل بالصدقة مختار کړی فاشتد ذالک علی اصحاب رسول الله ﷺ ثم نزلت الرخصة کما سیأتي، په دې کي اختلاف دی چي دا امر لپاره د وجوب ؤ او که د ندب، دا امر لس ورځي دوام وکړی بیا منسوخ سو، مجاهد" وایي چي خلک چي نهي سوه له مناجات څخه د رسول الله ﷺ حتی یتصدقوا فلم یناجیه الا علي ؓ، وکان علي ؓ ویل به یې چي په قرآن مبارک کي یو ایت دی لم یعمل بها احد قبلي ولا یعمل بها احد بعدي ما یو دینار درلودی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په لس درهمه مي بدل کړی، نو ما چي به پوښتني څني کولې يو درهم به مي خيرات کړی، نو په دې دوران کي ما له ده څخه د لسو مسئلو پوښتنه وکړه ده مبارک به جواب راکړی (۱) ما الوفا قال التوحيد وشهادة ان لا اله الا الله (۲) قلت ما الفساد قال الكفر بالله والشرك (۳) ما الحق قال الاسلام والقرآن (۴) قلت ما الحيلة؟ قال ترك الحيلة (۵) قلت ما علیّ قال طاعة الله ورسوله (۶) قلت كيف ادعوا (زه څرنګه دعا، يا عبادت وکړم) قال بالصدق واليقين (۷) قلت ماذا اسئل (د څه شي سوال کوم) قال العافية (۸) ما اصنع لنجاة نفسي؟ قال كل حلالاً وقل صدقا (رښتيا وايه) (۹) قلت وما السرور (خوشحالي په څه شي کي ده) قال الجنة (۱۰) قلت ما الراحة قال لقاء الله عزوجل. علي ﷺ وايي فلما فرغت عنها نزلت نسخها، كذا في تفسير المدارك.

ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

دغه تصدق خير دی تاسي لره من حب المال، او پاکونکی دی د ګنهو ستاسي، نو که مو صدقه نه درلوده په سبب د مسکنت، نو په تحقيق خدای بخښونکی دی او مهربان دی، چي اجازه يې و فقراؤ ته ورکړه د مناجات بېله تصدق.

پوه سه: چي دا ايت مخصص دی د ماسبق من عموم الحكم اى الامر بالتصدق لكل من يناجي رسول الله ﷺ، روح البيان وايي چي له دې څخه دا معلومه سوه چي حكم اول يعني الامر بالتصدق لپاره د وجوب ؤ، والله اعلم.

ءَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَاكُمْ صَدَقَاتٍ ۚ

آيا تاسي بېرېدلاست (استفهام لپاره د تقرير دی يعني خفتم الفقر، يا معنی دا ده چي بېرېدلاست له تقديم څخه د صدقه لما يعدكم الشيطان من الفقر) "ان تقدموا" بتقدير من اى من ان تقدموا، د مخه تر نجوٰی ستاسي صدقات، توجيه: جمع يعني صدقات دا ده ي مخاطب په دغه ايت سره ډېر دي، قال علي ﷺ كما روى الترمذي فخفف الله عنهم بهذه الآية.

فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ

نو چي تاسي تقدم د صدقاتو ونه کړی (يا د فقر په سبب يا د بخل په سبب) او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای تاسي ته بخښنه وکړه يعني تاسي ته يې عذاب درنه کړی، يا معنی داده چې خدای رجوع وکړه له صدقاتو څخه ستاسي او تخفيف يې درسره وکړی بنسخ الصدقة ورخص ان لا تفعلوا.

بوه سه: چي مراد له توبې څخه حقيقت توبه نه ده (ای الرجوع عن الذنب) لانه لم يقع عنهم التقصير في هذا الحكم بان وقع منهم المناجات منهم مع رسول اللهﷺ بدون تقدم الصدقة، د توبة په لفظ سره اشاره ودې ته ده چې دا اشفاق د دوی ګناه وه تجاوز الله عنه، كذا في روح البيان، مقاتل بن حبان وايي چې دا نسخ لس شپې و او الكلبي وايي چې يو ساعت د ورځي و انتهى وبذا نادرًا جدًا.

فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُۥ

نو قائم كړي لمونځ (يعني فرضي پنځه لمونځونه كوئ يعني تكاسل مه پكښې كوئ، پر خپلو اوقاتو سره د شرائطو يې كوئ او د ادابو من الخشوع وطمانية الاركان كما هو معنى اقامة الصلوة بالاجماع "واتوا الزكوة" او زكوة د اموالو وركوئ مصارفو ته د زكوة، او اطاعت د خدای او د رسول د خدای كوئ يعني په ټولو اوامرو او نواهي كي او دوام پر وكړئ.

وَاللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ۝

او الله عزوجل خبردار دی په هغه څه چي تاسي يې كوئ، كلمه د ما يا مصدريه ده ای بعملكم يا موصوله ده عائد يې محذوف دی ای بما تعملونه كمامر مرارًا في امثال هذا، لپاره ددې چي خدای پاک به تاسي ته جزاء دركوي په ورځ كي د اخرت ان كان خيرًا فخيره وان كان شرًا فشر.

بوه سه: چي معنی ددې عبارت كه و عمل دده خير، نو جزاء يې هم خير ده يعني ثواب په ورځ د اخرت، نو كلمه د ان شرطيه ده، او په كان كي ضمير راجع و عمل ته دی هغه اسم دی او خبر يې خيرًا دی، او خير په رفع سره خبر د مبتداء محذوفي دی ای فجزائه خير وهو الجنة، دا جمله يا جزاء د ان شرطيه ده، وعلى هذا فقس الجملة الثانية.

درويش وايي: چي چونكه دا عبارت په تفاسيرو كي استعمال يې ډېر شائع و نو ځكه يې ما ترجمه مفصله ددې عبارت وكړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِم

آیا ته نه ګورې و هغو کسانو او قوم ته چې د خدای غضب پر دوی نازل دی.

پوه سه: چې استفهام لپاره د انکار دی داخل دی پر نفي او نفي د نفي اثبات دی او مخاطب رسول الله ﷺ دی و الرؤية علمية، نو معنی یې دا ده چې ته علم نه لرې بلکې لرې یې. او مراد د الذين څخه منافقین دي، یعني عبدالله بن نبتل و اصحابه، او مراد له قوم څخه غضب الله عليهم څخه یهودان دي، نو دې منافقینو تولى یعني دوستي شروع کړې وه د یهودانو سره چې اسرار د رسول الله ﷺ به یې و یهودانو ته رسول.

مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ

نه دي منافقان ستاسي مسلمانانو څخه یعنې په دین او دوستي کې، او نه د یهودانو سره دي یعني ظاهرًا و باطنًا، ولې ظاهرًا خو ستاسي سره دي، او دوی یعني منافقان قسم اخلي (عطف دی پر تولوا) پر دروغو (یعني پر دعوی د اسلام چې موږ ستاسي له ډلې څخه یو یعني مسلمانان یو) ''وهم یعلمون'' او دوی پوهېږي، حال دی له فاعل څخه د یحلفون، یعني قسم په داسي حال کې اخلي چې دوی په ځانو خبر دي چې موږ دروغ وایو یعني داسي نه دی لکه یو څوک چې قسم و اخلي په خطاء کې په ګمان د دې چې زه صادق یم بلکې د دوی قسم په قصده پر دروغو دی، السدي او مقاتل وایي نزلت في عبدالله بن نبتل یا عبد الله بن ابي بن سلول چې دی به د علیه الصلوة والسلام سره کېښېنستی بیا به یې د علیه الصلوة والسلام خبري یهودانو ته رسولې، په حدیث مبارک کې چې مروي دی له ابن عباس رضي الله عنه څخه چې علیه الصلوة والسلام په یوه حجره کې د خپلو حجرو ناست ؤ نو یې وویل چې اوس به راسي رجل قلبه قلب جبار وینظر بعین شیطان فدخل عبدالله بن نبتل او د دې سړي سترګې شنې وې، فقال له رسول الله ﷺ چې پر څه شي ته او ستا ملګري ماته بښکنځل کوئ؟ فحلف بالله ما فعل، فقال علیه الصلوة والسلام بل فعلت عبدالله بن نبتل ورغلی ملګري یې هم راوستل فحلفوا بالله چې موږ بښکنځل تا ته نه دي کړي، فنزلت هذه الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا إِنَّهُمْ سَاءَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۵﴾

آراسته کړي دي خداې ډ دوی لپاره يوه نوع عظيم د عذاب، په تحقيق بد دي ماكانوا يعملون يعني في الماضي واصروا دوی دوام کوي په مستقبل کي هم پر هغو بدو عملو.

اتَّخَذُوا أَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

دوی (يعني منافقانو) ګرځولي دي خپل ايمانونه سپر (دا جمله مستأنفه ده په جواب کي د هغه چا چي دوی ولي دا کارونه کول، نو خداې پاک د دوی د ايمانو كاذبه ؤ وجه دا بيان کړې ده چي دوی دا ايمان كاذبه سپر او وقايه ګرځولي دي د خپلو وينو او اموالو لپاره)

فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿۱۶﴾

نو دوی يعني منافقانو منع کوله خلګ د دوی د امنيت په ترځ کي د لاري څخه د خداې يعني له ايمان او طاعت څخه، نو دوی لره (يعني منافقانو لره) عذاب دی اهانت او سپکاوی ورکونکی، دا وعيد ثاني دی دوی ته په بل وصف سره، يعني په دمخه کي يې په عذاب شديد سره موصوف کړی او دلته په مهين سره، او يا دا بل وعيد دی فوق عذابهم الاول لكفرهم، والثاني لصدهم الناس عن سبيل الله، او بعض مفسرين وايي چي اول عذاب القبر دی والثاني عذاب يوم القيامة دی ويؤيد التوجيه الثاني قوله تعالى في موضع آخر من القرآن، قال الله في ذمهم بما فعلوا.

لَّن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَالُهُمْ وَلَا أَوْلَادُهُم مِّنَ اللَّهِ شَيْئًا

يعني يوم القيامة نسي دفع کولای له دوی څخه مالونه او اولادونه د دوی هيڅ شی يعني عذاب.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿۱۷﴾

دوی دي خاوندان د اور او ملګري د دوږخ دي، دوی به په هغه اور کي همېشه وي.

يوه سه: چي ضمير مؤنث راجع دی اور ته چي لفظ د نار مؤنث سماعي دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ

هغه ورځ چې دوی بعث کړي الله عزوجل يعني په ورځ د قيامت يې ژوندي کړي، نو دوی به قسمونه اخلي و خدای ته (يعني يقولون ربنا ماکنا کافرين) لکه دوی چې به قسم تاسي ته اخستی (يعني في الدنيا انهم منکم)

وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ۭ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ۝

او دوی ګمان کوي په دې قسمو کي په ورځ د قيامت و خدای ته چې دوی به يو شی حيله پيدا کړي د نجات له عذاب څخه د خدای، د دوی زعم فاسد دادی چې پر خدای کمل علمه به زموږ ايمان کاذبه رواج پيدا کړی لکه په دنيا کي چې زموږ ايمان کاذبه رواج درلودی په دفع کي د عذاب د قتل وغيره پر مؤمنانو کمام ''الا انهم آه'' خبر اوسه ايها المخاطب چې دوی دي درواغ ويونکي.

يوه سه: چې لفظ د يوم ظرف دی لقوله ولهم عذاب مهين.

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ۭ

جمله مستأنفه ده يعني غلبه کړې ده پر دوی باندي شيطان او د دوی څخه يې هېر کړی دی ذکر د خدای، يعني لايخافون عذاب الله او دوی يې د هغه څه څخه غافل کړي دي چې خدای به موږ ته جزاء راکړي او له دې څخه يې غافل کړحولي دي چې خدای د دوی په پټو حالاتو خبر دی. او شيطان دوی ته شهوات د دنيايي امورو من الاطعمة الشهية والملابس الفاخرة والمساکن العالية والمراکب الغالية القيمة کما في زماننا الموجود، نو دغه کسان دي لښکرونه او اتباع د شيطان اللعين.

يوه سه: چې حزب په لغت کي هغه فريق ته وايي چې پر يوه مذهب سره متفق وي مثلاً اهل السنة والجماعة کثرهم الله، والمعتزلة، والروافض، والخوارج وغيرهم من الفرق الزائغة من خذلهم الله.

اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝

آګاه او خبر اوسه چې حزب الشيطان دوی دي په لوی تاوان کي، ولي چې بدل يې کړی جنة النعيم بالعذاب الاليم المؤبدة، کما ورد في الحديث الطويل عن ابی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هريرة رضي الله عنه مرفوعًا الى الرسول الكريم ﷺ ان الكافر في القبر يفرج (يو سوري ور كول كيږي) و طرف ته د جنت، دى ترهغه سوري وګوري و ښو درختو او ميوو وغيرها ته، ملک ورته وايي چي له دې ځخه خداى ته محروم کړ ځولى يې په سبب د کفر ستا ثم يفرج له فرجة الى النار فينظر اليها فيقال له هذا مقعدک (اى ابدًا) او ابن ماجه له ابو هريرة رضي الله عنه ځخه داسي روايت کړى دى قال قال رسول الله ﷺ مامنکم من احد (که مسلمان وي او که کافر) الا له منزلان منزل في الجنة و منزل في النار فاذا فات (يعني احدکم چي کافر وي) فدخل النار ورث اهل الجنة منزله في الجنة فذالک هو المراد بقوله تعالى اولئک هم الوارثون (اولئک اشاره و مؤمنانو ته ده)

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾

په تحقيق هغه کسان چي عداوت کوي د خداى او د رسول سره د خداى او مخالفت کوي له امر ځخه د خداى او رسول او تر حدودو د خداى تيرى کوي (اى المنهيات بارتکابها) دغه کسان دي په ډله کي د هغو کسانو چي ذليل تر د خلق الله في الاولين و الآخرين لا ترى اذل منهم، نو چونکه عزت د خداى عزوجل غير متناهي وُ، نو د مخاصم دده په ذلت الى غير النهاية.

كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ۚ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾

"کتب الله" استيناف دى وارد لتعليل کونهم في الاولين. والمعنى اثبت الله وقضى في اللوح المحفوظ "لاغلبن انا ورسلي" چي حتمًا غالب کيږم زه او زما رسول.

بوه سه: چي لاغلبن جواب د قسم محذوف دى، زجاج وايي چي غلبه د رسولانو پر دوه قسمه ده، يوه غلبه په حرب کي ده چي د دوى سره يې کوي يعني په جنګ کي، او چي جنګ نه وي مغلوبه کوي يې په حجت سره.

"ان الله قوي" په تحقيق خداى قوي دى په قدرت سره على من يخالفه "عزيز" لا يغلبه احد من کان کما جرب ذالک في جبابرة الدنيا کفرعون، وشداد، وبخت نصر، ونمرود وغيرهم.

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

ته نسې پيدا کولاى، والخطاب للنبي ﷺ او کل من يصلح للخطاب، يو قوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يؤمنون چي ايمان يې وي پر خداى او پر ورځ د آخرت دا جمله صفت د قومًا ده چي دوى موادات او محبت او دوستي كوله د يهودانو سره او ځانونه يې مسلمانان بلل.

پوه سه: چي تجدن كه معتدي و دوو مفعولين ته وي نو قومًا يې مفعول اول دى او يوآدون يې مفعول ثاني دى او كه متعدي و مفعول واحد ته وي نو يوآدون يا حال يا صفت دى له قومًا څخه.

فائده: تجد چي په معنى د تعلم سي نو متعدي دوه مفعول ته دى او كه په معنى د مصادفت سي نو متعدي و يوه مفعول ته دى فتدبر.

پوه سه: چي د دې ايت حاصل دا دى چي ايمان د مؤمن فاسد يږي په موالات د كافرانو وان المؤمن لايوالي محبت نه كوي وان كان قريبه مثلاً لكه په افغانستان كي چي امرا د دولت دوستي كلي لري د امريكايانو سره په دور حاضر كي يعني (۱۴۳۳) هجري قمري، كه څه هم امريكايان د دوى هم نسب نه دي، واخرج ابن المنذر عن ابن جريج قال حدثنا چي ابو قحافة چي د ابوبكر پلار وُ سب (بنكنځل يې وكړه) و رسول الله ﷺ ته ابوبكر پر مخ په چپلاخه وواهه چي ابو قحافه غځار سو چا دا قصه و عليه الصلوة والسلام ته وكړه عليه الصلوة والسلام و ابوبكر ته وويل افعلت يا ابابكر؟ نو ابوبكر ورته وويل چي كه توره را سره واى لضربته، فنزلت هذه الآية.

وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ

او ابن ابى حاتم له ابن سودة څخه روايت كړى دى چي هغه وويل چي دا آيت په ابى عبيدة بن الجراح كي نازل سوى دى چي ده خپل پلار په غزاء كي د بدر قتل كړى چي د كفارو قريشو په ډله كي وُ، او الطبراني او الحاكم په مستدرك كي داسي ليكلي دي چي د ابو عبيدة پلار په ورځ د بدر ډېر كوشش كاوه چي خپل زوى ابو عبيدة مړ كړى لكن ابو عبيدة به ځان ساتى يعني پر پلار يې حمله نه كول لكن پلار دى نه پرېښو قتل كاوه يې، نو ابو عبيدة هم حمله پر وكړه قتل يې كړى فنزلت هذه الآية "او ابناءهم" لكه د ابوبكر پلار چي په ورځ كي د بدر ميدان ته د جنګ راووتى نو ابوبكر و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي ماته اجازه راكړه اكن في الرحلة الاولى يعني د خپل پلار سره و جنګ ته اول سرى سم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي ور ووځم، فقال له رسول اللهﷺ فتعناه بنفسک یا ابابکرؓ" او اخوانهم" یا یې ورونه وي لکه مصعب بن عمیرؓ چي خپل ورور عبید بن عمیر په ورځ د احد قتل کړی "او عشیرته" یا د قبیلي سړی وي لکه عمرؓ چي خپل ماما العاص بن هشام بن المغیرة قتل کړی یوم بدر، او علي او حمزة او عبیدةﷺ چي په ورځ د بدر یې عتبة و شیبة ابنی ربیعة و الولید بن عتبة قتل کړه.

أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ

یعني دغه کسان چي د کافرانو سره موادات نه درلودی خدای" کتب (ای ثبت محکم کړی ؤ) په زړو کي د دوی تصدیق بالله و رسوله چي هیڅ د شک ځای په زړو کي د دوی نه ؤ "وایدهم بروح منه" د دوی تائید یې کړی په روح سره د جانب د خدای" ای بنور من عند الله، السديؒ وایي یعني الایمان، الربیع وایي بالقرآن وحججه وقیل برحمة منه، وقیل ایدهم بجبرئیلؑ الذي یسمی بالروح الآمین وقیل بنصره (درویش وایي: والکل صحیح)

وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا

دوی به داخل کړي یعني په ورځ د قیامت و جنتو ته، چي بهیږي به لاندي تر درختو د هغو ویالې (یعني ځلور: اوبه، شیدې، عسل او شراب) "خالدین فیها" چي دوی به همېشه پکښې وي، دا حال مقدره په اصطلاح بولي.

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ

خدای" به راضي وي له دوی څخه او دوی به راضي وي د خدای" څخه په ورکولو سره د ثواب موعود بهم في الدنیا وفي القرآن وعلی لسان رسولهﷺ.

درویش وایي: چي مذکوره نعمتونه د اخرت د ټولو اصل او منبع رضا د رب" ده.

أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿۲۲﴾

دغه کسان جند او لښکر او انصار د دین د خدای" دي چي دوی متابعت کوي د اوامرو د خدای او اجتناب کوي د منهیاتو څخه د خدای". آګاه ووسه چي حزب د خدای" فلاح یافته بندګان دي بخیر الدنیا والآخرة والآمنون من کل بلیة.

اللهم اجعلنا منهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بضاعت نه آورده ام الا امید .... خدایا ز عفوم مکن نا امید

چهار چیز آورده ام شاها که در گنج تو نیست
عاجزی و مسکینی، فقر و گناه آورده ام

الهی عبدک العاصي اتاکا .... مقر بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذالک اهل .... وان تطرد فمن ترحم سواکا

درویش محمد عبید الله الایوبي سامحه الباري وایي: الحمد لله والمنة والصلوة والسلام علی سید البریة وآله وصحبه البررة چي د ماپښین په وخت دریجې ورځ د پنجشنبې ۱۳ ربیع الاول، زه په فضل او توفیق د خپل خدای ﷻ له تفسیر څخه د سورة المجادلة فارغ سوم وروسته ان شاء الله العزیز تفسیر د سورة الحشر شروع کېږي، اللهم سهل ولا تعسر وتممه بالخیر والصحة والعافیة واجعله خیرًا باقیًا لعبدک العاصي الی یوم القیامة وما ذالک علی الله بعزیز.

مصرع: ما نیز حاضر میشوم تفسیر قرآن در بغل

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْحَشْرِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ اَرْبَعٌ وَّعِشْرُوْنَ اٰيَةً وَّثَلٰثُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

روى البخاري ومسلم عن سعيد بن جبير رحمه الله قال قلت لابن عباس رضي الله عنهما سورة الحشر قال قل سورة النضير، ابن حجر رحمه الله وايي چي ابن عباس رضي الله عنه چي د سورة حشر له تسمیه څخه منع وکړه او داسي يې وويل: قل سورة النضير سبب يې دا دى چي څوک توهم ونه کړي چي مراد له حشر څخه به حشر د يوم القيامة وي، وانما المراد ههنا حشر بني النضير واخراجهم من ديارهم، انتهى قول ابن حجر رحمه الله.

درويش وايي: چي په اكثره تفاسيرو او مصاحف مطبوعه وُ كي دا سورة په نامه د سورة الحشر يادېږي كه څه هم د بني نضير د يهودانو په باره كي نازل سوى دى، كما روى البخاري ومسلم عن ابن عباس رضي الله عنه كما مر.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱﴾

تسبيح وايي خداى لره هغه شيان چي په اسمانو كي دي من ذوى العقول كالملائكة وغيرهم من الشمس والقمر والنجوم وغير ذالك (لان كلمة ما عامة لهما على التحقيق كما في شرح الجامي على الكافية) او هغه شيان چي په ځمكه كي دي من ذوى العقول كالانس والجن او غيرهم من النباتات والحيوانات والاشجار والاحجار وغيرها.

درويش وايي: چي علماء د ظاهر وايي چي مراد له تسبيح څخه د غير ذوى العقول تسبيح حالي دى يعني حال د دوى من الامكان والحدوث يدل على ان لها موجد واجب الوجود قادر على الخلق قدرة تامة وعالم باحوال جميع مخلوقاته علمًا تامًا ومنزه عن صفات الخلق وهذا هو التسبيح، لكن علماء د باطن وايي چي مراد ځني تسبيح قولي دى، ويدل عليه قوله تعالى: وان من شيئ الا يسبح بحمده ولكن لا تفقهون تسبيحهم، دوى وايي چي په تسبيح حالي خو هر سړى پوهېږي په تسبيح قولي نه پوهېږي هر څوک، او په احاديث صحيحه وُ كي دا راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام به ويل چي هغه ډبره زه اوس هم پېژنم چي زه به غار حرا ته تلم دي به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راته ويل السلام عليكم آه، وايضًا تسبيح الحصٰى في يد ابو جهل په هغه وخت كي چي ابو جهل امتحان د عليه الصلوة والسلام كاوه چي زما په لاس كي څه شی دی؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ښوونه خويږ اسانه ده كه هغه ستا د لاس شيانو كلمه وويل ته يې وايې؟ ابو جهل ورته وويل چي دا به اعجب وي، سنګريزو لا اله الا الله محمد رسول الله وويل ابو جهل هغه وغور ځولې او وه يې ويل چي دې حصاؤ سحر ښكاره كړی، نو كلمه د ويلو او تسبيح ويلو څه فرق دی، وايضًا په خيبر كي چي يوې يهوديه ښځي د پسه غوښي پخ كړي وې او زهر يې پكښې اچولي وه خصوصًا د ولي په غوښو كي چي د رسول الله ﷺ ډيري خوښې وې د مهمانی په توګه يې و عليه الصلوة والسلام او صحاب كرامو ؓ ته راوړلي وې، نو عليه الصلوة والسلام يوه يا دوې ګولې او اصحابو ؓ څو ګولې ځني وخوړلې عليه الصلوة والسلام پر خوړونكو ږغ وكړی ارفعوا ايديكم، ولي چي په غوښو زهر ګډ سوي دي، نو هغه يهوديه يې راوغوښتل او ورته وه يې ويل چي تا په دې غوښو زهر ګډ كړي دي؟ هغې ورته وويل چي چا درته وويل د عليه الصلوة والسلام په لاس كي ولی ؤ ويل دغه ولي راته وويل. ښځي ورته وويل نعم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ولي دي زهر په ګډول؟ هغې ورته وويل چي په دې سبب مي په ګډ كړه چي كه نبي ؤ صدقًا نو خو زهر ضرر نه ور رسوي او كه نبي نه ؤ له غمه به يې خلاص سو، ثم لم يعاقبها هغې ښځي ته يې عذاب ورنه كړی.

درويش وايي: چي د ولي د اخبار او د تسبيح ويلو څه فرق دی، هذا هو المرام من نقل هذه القصة.

پوښتنه: دې ولي عليه الصلوة والسلام د مخه تر خوړلو نه خبراوه چي په ما كي زهر دي؟

ځواب: لپاره د دې چي د عليه الصلوة والسلام عند انقضاء الاجل شهادت په نصيب سي يعني د زهرو له غلبې څخه، ويدل عليه چي رسول كريم ﷺ هر كال چي به هغه وخت راغلی تاثير د زهرو به ښكاره سو د دوو ورو په مابين كي به وينې كښلې چي په دې سبب به د زهرو تاثير كم سو، اخيرًا چي عليه الصلوة والسلام ناجوړی سو په مرض موت سره عائشې ؓ ته يې وويل چي لا زالت اكلة خيبر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعاودني وهذا اوان ان يقطع ابهري او كما قال، دا وخت دی چي زما د زړه رګ به راپرې کړي وکان کذالک انا لله وانا اليه راجعون.

له ابن مسعود ﷺ څخه روايت دی چي موږ پر کاسه د ډوډۍ د عليه الصلوة والسلام سره ناست ؤ تسبيح د کاسې موږ اورېدلې.

درويش وايي: چي امثال هذه الآحاديث كثيرة في كتب الصحاح الستة مسطورة وفي ما ذكرناه كفاية لاصل المرام چي مراد له تسبيح څخه د ما في السموٰات والارض تسبيح قولي مراد ده عند اهل الله و اولياء الله الكرام.

"وهو العزيز الحكيم" او خدای غالب دی يفعل ما يشاء وليس له مانع من فعل مايشاء او په هر کار کي حکمت لي يعرفها الناس ام لم يعرفونها. ولا سبيل الى معرفت حكمته تعالى الا الوحي او الالهام الصحيح.

درويش وايي: چي اوس د بني النظير د جلا وطنۍ قصه شروع کېږي او په دې قصه به موږ واورو عظيم قدرت د خدای او اثبات د رسالت د عليه الصلوة والسلام سره د تفصيله ان شاء الله تعالى.

هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ

خدای عزوجل هغه ذات مقتدر دی چي وه يې ايستل هغه کسان چي کفر يې کاوه له اهل کتابو څخه (دا بيان د موصول دی يعني الذين كفروا) چي مراد ځني قوم نضير دی چي اولاد د هارون اخي موسٰی ؤ "من ديارهم" د خپلو کورو څخه چي په مدينه کي وه، ابن اسحاق" وايي چي اجلاء د بني النضير" هغه وخت عليه الصلوة والسلام وکړه چي له غزاء څخه د احد راوګرځېدی، او فتح د بني قريضه ؤ يې هغه وخت وکړه چي د احزابو له غزاء څخه راستون سو چي مابين د دې دوو فتحو دوه کاله زمانه وه، راويان د تاريخ وايي چي سبب د اخراج د بني النضير دا ؤ چي النبي ﷺ غزاء د بدر وکړ او پر مشرکينو د مکې يې غلبه پيدا کړه بنوا النضير په خپلو کي دا سره وويل چي دا هغه نبي دی چي موږ يې نعت په تورات کي ليدلی دی چي د دې سرې بيرغ تر شا نه راځي، نو دوی سره وويل چي راځئ صلح ورسره وکړو، نو صلح يې پر دې سره وکړه چي بني النضير ورته وويل چي نه موږ ستا سره جنګ کوو او نه په صف کي د هغو کسانو چي ستا سره جنګ کوي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

د رېږو، فقبل رسول اللهﷺ دا خبره یې ومنل او معاهده یې سره وکړه، وروسته چې غزاء د احد علیه الصلوٰة والسلام وکړه او مسلمانانو شکست وخوړی او ویا (۷۰) کسه یې شهیدان د لاسه ورکړه.

فائده: جنګ د احد د مشرکانو د مکې په مشری د ابو سفیان مابین ته راغلی ؤ، بني النضیر ته شک پیدا سو او اظهار د عداوت د علیه الصلوٰة والسلام یې مختاره کړی، او عهد یې مات کړی، او د دوی مشر کعب بن الاشرف سره د څلوېښتو (۴۰) یهودانو مکې مکرمې ته ولاړه او د ابو سفیان پر کور او د هغه د قوم قریشو مېلمانه سوه. ابو سفیان د یهودانو مشر کعب بن الاشرف ته وویل چې زموږ دین خیر دی چې موږ خدمت د بیت الله الشریف کوو او د حجاجو سره کومک او اوبه د زمزم ورکوو او د حج په موسم کې د بې وزلو حاجیانو سره کومک کوو، او که د محمدﷺ دین خیر دی چې قتل و قتال پر کار اچولی دی او ښځې او کوچنیان په غلامۍ بیایي او خپل د پلار او نیکه وطن یې پرېښو، کعب بن الاشرف ورته وویل چې ستاسي دین خیر دی، بیا ابو سفیان ورته وویل چې موږ په تاسي باور نه لرو ولې چې تاسي خو اهل کتاب یاست او محمد (ﷺ) هم اهل کتاب دی نه بایده چې تاسي او ده موږ ته یوه دسیسه نه وي جوړه کړې تر څو چې تاسي زموږ خدایانو ته سجده و نه کړئ، دوی یعني کعب بن الاشرف او دده سره ورسره څلوېښتو (۴۰) کسانو و بتانو ته سجده وکړه.

درویش وایي: چې و ګوری و ضدیت او عداوت ته د یهودانو د علیه الصلوٰة والسلام او دده د دین سره، ولې چې دوی خو اهل کتاب تورات وه او سجده و بت ته خو په تورات کې هم شرک ؤ، نو قرارداد او معاهده یې پر دې وکړه چې زموږ او ستاسي خبره به یوه وي و محمد (ﷺ) ته، وروسته څلوېښت کسان د یهودانو او څلوېښت کسان د ابو سفیان تر پردو لاندې د کعبة الله دا میثاق سره وکړی، جبرئیلﷺ راغلی ټوله ماجری د کعب الاشرف او د ابو سفیان یې و علیه الصلوٰة والسلام ته بیان کړه ثم رجع کعب بن الاشرف واصحابه الی المدینة وامر علیه الصلوٰة والسلام بقتل کعب بن الاشرف فقتله محمد بن مسلمة او ددې قتل مفصله قصه په تفسیر کې د سورة آل عمران في تفسیر قوله تعالی: لَتُبْلَوُنَّ فِيْ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا اَذًى كَثِيْرًا تېره سوې ده.

درويش وايي: چي تاريخ د اسلام د يهودانو د مدينې د شاوخوا دېر خيانتونه بيان کړي دي چي له جملې څخه د هغو يو خيانت دا ؤ چي دوی و عليه الصلوة والسلام ته خبر ور استولی ؤ چي ته له مدينې څخه سره د دېرشو اصحابو رض راووزه او موږ به هم سره د دېرشو احبارو يعني علماؤ د دوی درووزو بحث به سره وکړو که تا زموږ احبارو ته قناعت ورکړی او دوی ايمان راوړی موږ هم ټول يهودان ايمان راوړو او په داسي ځای کي به موږ او تاسي يو ځای کېږو چي زموږ او ستاسي تر مابين يې مسافت يو وي، عليه الصلوة والسلام د دوی دا پېش نهاد ومنی، سهار چي عليه الصلوة والسلام سره د دېرشو اصحابو رض راووتی في براز من الارض يعني صحرا او بيابان ته يهودان يو بل ته سره وويل چي موږ به دده پر قتل څرنګه کامياب سو چي دده سره دېرش کسه ورسره وي او هريو هم خپل ځان پر ده قربانوي، نو يو سړی به ور واستوو چي دا شپېته کسه به څرنګه خبري سره واوري نو ښه داده چي ته د درو کسو اصحابو سره راسه موږ به درې کسه احبار درسو، دغو درو کسو احبارو که ستا نبوت ومانه موږ يې هم منو، نو د دوی دا خبره هم عليه الصلوة والسلام ومنله نو عليه الصلوة والسلام درې کسه اصحاب رض د ځان ملګري کړه يهودان هم درې کسه راووتل لکن د هريوه سره خنجر موجود ؤ قرار داد يې داسي کړی ؤ چي هر ځای سره يو ځای سوو هر سړی زموږ چي په خنجرو دوی ووهي چي په دې ضمن کي به عليه الصلوة والسلام هم قتل سي، يوه ښځه وه د بني النضير څخه چي ورور يې مسلمان ؤ له انصارو څخه، دې ښځي ورور خبر کړی په غدر د يهودانو. نو ورور د هغې ښځي په دېر تلوار دمخه تر ملاقات د يهودانو سره د دوی د غدر قصه ورته وکړه، فرجع رسول اللهﷺ الی المدينة، روی هذه القصة البيهقي و ابو داؤد و عبد الرزاق باسانيد صحيحة، ومن خياتهم ان النبيﷺ چي ورغلی بني النضير ته چي کومک يې ځني غوښتی په ديت کي د دوو کسانو چي عمرو بن امية الضمري وژلي وه في منصرفه من بير معونة. نو بني النضير دا قصد کړی ؤ چي دی به يو ځای کښېنوؤ د لوړي خوا به لويه ډبره پر راشوه کړو يعني د قلعې د دېوال څخه، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جبرئيل و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي ژر ولاړ سه د بره د ربانديږ راشوه كوي عليه الصلوة والسلام چي ولاړ سو دوی د بره را ايله كړه پر مځكه و موښته، ذكر ابن حميد عن عكرمة ان الله سبحانه وتعالى لما اخبر نبيه بذالک يعني د ډبري په راغورځولو سره ورجع نبي اللهﷺ الى المدينة، نو يهودانو ته كنانه بن صوريا وويل هل تدرون لم قام محمد دوی ورته وويل لا والله ما ندري وما تدري انت، قسم په خدای دی چي نه مونږ خبر يو او نه ته چي محمد ولي ولاړ سو كنانه بن صوريا ورته وويل بلى والتورات زما دي قسم وي په تورات چي زه خبريم چي خدای و ده ته خبر وركړی بما قصدتم من القاء الحجر عليه، ابن صوريا ورته وويل چي ځانونه مه خطا باسئ او هلاک ته يې مه واقع كوئ، والله انه لرسول الله وما قام الا انه اخبره الله بما قصدتم من الغدر وانه لآخير الانبياء او تاسي په خوا گمان داؤ چي آخير الانبياء به له اولاد څخه د هارون دی فجعله الله حيث شاء اى من العرب او ابن صوريا ورته وويل چي كتاب زمونږ تورات چي تغير او تبديل چا نه ؤ پكښي كړی د نبي اخير الزمان په باب كي داسي نوشته وه مولده بمكة وان دار هجرته يثرب (اى المدينة) ده ورته زياته كړه چي صفت د نبي اخير الزمان يو حرف له تورات څخه مخالف نه دی، غرض يې دا ؤ چي ايمان پر راوړی، خير خو دوی ايمان راوړلو ته غاړه نه ايښوول. فلما دخل النبيﷺ المدينة ارسل الى محمد بن مسلمة هغه چي راغلى عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ولاړ سه يهودانو ته د بني النضير وو وايه چي زه رسول اللهﷺ را استولى يم تاسو ته ان اخرجوا من بلدي (چي تاسي ووزئ زما له ښار څخه) واجلت عشرة ايام (بيا كه څوک ستاسي څخه وليدل سو) ضربت عنقه بالسيف فمكثوا اياما يتجهزون (يو څو ورځي دوی وځنډېدل چي خپل كار و باريې برابر وی) بعض رواة وايي چي پنځلس ورځي دوی محاصره وه او بعض راويان وايي چي شپږ شپې دوی محاصره وه، او بعض رواة وايي چي قريبًا من عشرين ليلة دوی تر محاصرې لاندي وه او سيدتنا عائشة وايي چي پنځه ويشت (۲۵) ورځي محاصره وه او دوی د محاصرې په وخت كي خوني په خپلو لاسو نړولې (يعني چي مسلمانانو ته پاته نه سي) او مسلمانانو هم د دوی خوني ورنړولې (چي د دوی غيض او غم ډېر سي) حتى وقع الصلح ونزلت بنوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النضير على ان لهم حمل بعير (د يوه اوښ بار مو ور راسره وړو) فخرجوا حملوا النساء والذرية او چي پر اوښ جانيده من الاعدة دوى چي ووتل عليه الصلوة والسلام او اصحاب رض دده ورداخل سوه پنځوس زغري او پنځوس بيضه (د سر خول) يې په جنګ کي به يې پر سر کاوه او دري سوه څلوېښت (۳۴۰) توري يې ونيولې، وخرج بنو النضير من المدينة.

درويش وايي: چي قصه د حشر د بني النضير مي په ډېر اختصار سره وکړه، ورنه که ډېر تفصيل مي ورکولاى ډېري ورقي به يې توري په بر کي نيولي واى، فذالک قوله تعالى هو الذي اخرج الذين كفروا من اهل الكتاب من ديارهم.

لِاَوَّلِ الْحَشْرِ

متعلق دى په اخرج پوري او لام په معنى د وقت دى كما في قولهم كتبته لعشر خلون ومآلها الى معنى في الظرفية.

يوه سه: چي معنى د اول الحشر دا ده ان هذا اول حشرهم الى الشام اى اول ما حشروا و اخرجوا كرهًا په زوره په اوليت كي اشاره ودې ته ده انهم لم يصبهم جلاء قبل اى كرهًا حتى چي بخت نصر حين اجلى اليهود دوى يې يعني بني النضير يې نه كړه جلا وطنه، ولي چي دوى د هغو يهودو څخه نه وه چي بخت نصر جلا وطنه كړه او راتګ د دوى له شام څخه و جزيرة العرب ته په اختيار سوي وه او وتل يې په اجبار سره وه. او يا معنى د اول الحشر دا ده چي بني النضير محسوبين له اهل كتابو څخه چي له جيري څخه د شام وشړل سول، او بعض مفسرين وايي چي د اول الحشر معنى دا ده چي عمر رض په خپل خلافت دوى و ايستل له خيبر څخه و شام ته، وقيل ان هذا اول حشرهم من المدينة واخير حشرهم يوم القيامة لان المحشر يكون بالشام والله اعلم بمراده في كتابه.

درويش وايي: وفي تفسير اول الحشر اقوال ضعيفه ذكرها العلامة البغدادي في روح المعاني مع الاشارة الى ضعفها وذكرها المظهري بدون الاشارة الى الضعف ... مصرع: وللناس فيما يعشقون مذهب.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مَا ظَنَنْتُمْ اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ

ستاسي ګمان نه ؤ ايها المؤمنون "ان يخرجوا" لشدة بأسهم (دوی سخت وه په جنګ کي او محکمي قلاوي يې درلودې او عدد يې هم ډېر ؤ او اسباب د جنګ يې هم درلوده او په داسي ذلت او سپکاوي به دوی شړل کېږي له وطنه ځکه "وظنوا" يعني بني النضير، روح البيان وايي ظنًا قويًا هو بمرتبة اليقين، ولي چي دا وروسته خبره د دوی يعني انهم آه بېله ظن قوي چي نژدې و يقين ته نه وي نه پيدا کېږي.

پوه سه: چي وظنوا عطف دی پر ما ظننتم باندي چي مانع به وګرځي محکمه قلاوي د دوی من الله يعني من عذاب الله وسلطانه.

پوه سه: چي حصونهم مبتداء ده مانعتهم خبر مقدم دی والجملة خبر ان.

پوښتنه: مناسب د ماظننتم چي معطوف عليه دی چي جمله فعليه وه داسي جمله وه وظنوا ان لايخرجوا نو په نظم جليل کي د قرآن يې ولي تغيير ورکړی الی تراه في النظم الجليل؟

ځواب: تغيير چي يې ورکړی لپاره د اشعار بتفاوت مافي الظنين ای ظن المؤمنين وظنهم بان حصونهم مانعتهم آه، وان ظنهم قارب اليقين، نو منار دا ده چي داسي عبارت راوړه سي چي دلالت وکړي پر غايت وثوق د دوی بماهم فيه نو ځکه يې په مانعتهم کي و حصونهم کي خبر پر مبتداء د مخه کړی ومدار الدلالة التقديم لما فيه من الاختصاص فکانه قيل لاحصن امنع من حصنهم چي په دې سبب مو په چاپاک نه کوو چي پر موږ دي حمله وکړي لانهم في عزة ومنعة في اعتقادهم الفاسدة.

درويش وايي: چي دا جواب د پوښتني چي تاسي واورېدی روح المعاني او روح البيان او تفسير مظهري او تفسير بيضاوي او تفسير قرطبي په مختلفو عباراتو سره راوړی دی، مآل الکل واحد فافهم.

فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ق

ای امر الله وعذابه چي دوی يې مجبور کړه و جلا وطنی ته چونکه حقيقت اتيان پر خدای محال ؤ نو ددې سببه مفسرين تېولو په امر الله آه کوي، له داسي جانبه ځکه چي د دوی ګمان نه کېدی، مظهري "داسي ترجمه کړې ده حيث القی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في قلوبهم، انتهى، وهو ليس بشيئ لانه سيئاتي صراحةً في قوله تعالى وقذف آه، او روح البيان او روح المعاني يې داسي ترجمه کړې ده وهو قتل کعب بن الاشرف رئيس هم په پټه على يد اخيه رضاعًا محمد بن مسلمة ورجل آخر.

درويش وايي: چي مفصله قصه د قتل د کعب بن الاشرف د پره اوږده ده چي په تفسير کي د مخه تېره سوې هم ده.

سوال: د کعب بن الاشرف په وژنه سره دوی ته تاوان ورسېدی؟

ځواب: روح البيان او روح المعاني دواړه وايي چي دې قتل د دوی قوة قلبي کم کړی او شوکت (دبدبه) يې کمه کړه د دوی لانه کان رئيسهم او امن او ارام د دوی د زړو يې سلب کړی وقذف في قلوبهم الرعب کما قال عزوجل.

وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ

وايي چاوه په زړو کي د دوی رعب (بېره) اى قذف الله عزوجل في قلوبهم آه.

فائده: دا روايت دی د السدي او بي صالح. او ابن جريج وايي چي مراد له قتل ځخه په دې ايت کي قتل د کعب بن الاشرف دی.

درويش وايي: چي قصه د کعب بن الاشرف تاسي د تفسير ايوبي په پنځم جلد سورة آل عمران، د (٢٣٨) صفحې ځخه بيا تر (٢٤٦) پوري په مفصله توګه مطالعه کولای سئ.

يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ

دوی نړولې خپلي خوني په خپلو لاسو، ددې لپاره چي مؤمنانو ته زموږ ابادي خوني پاته نه سي. او په لاسو د مؤمنانو لزيادة غيظ اليهود اعني بني النضير، او بعض مفسرين وايي چي بني النضير چي په خپلو لاسو خوني نړولې ددې لپاره چي بعض عمارتي لرګي يا دروازې يا نور مرغوب فيها شيان ورسره يوسي، او مؤمنانو چي د دباندي له خوا ونړولې ددې لپاره چي پر يهودانو دوی ورداخل سي، او که يې جنګ کاوه داشره د ميدان جنګ به د مؤمنانو فراخه سي او پر دوی به تنګه سي.

فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ ۝

پس عبرت او پند واخلئ د يهودانو بني النضير له حال ځخه چي تاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفصيلاً واوريدی ای خاوندانو (اولي جمع ده مفرد لفظ نه لري) او ابصار جمع د بصيرة ده په معنی د عقل او ادراک، د پند اخستلو معنی داده چي تاسي کفر او فسوق او د رسول د خدای خبره نه منل مه کوئ لکه بني النضير چي وکړی لئلا ينزل بكم مثل ما نزل بهم من العذاب... بيت

چو بر گشته بختی درافتاد به بند..... از و نیک بختان بگیرند پند

جهان ای پسر ملک جاوید نیست..... ز دنیا وفاداری امید نیست

وَلَوْلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمُ ٱلْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا

که چېري حکم نه وای کړی او په لوح محفوظ کي نه وای جلا و اخراج د خپلو ديارو څخه (يعني پر نبي النضير مع هذا الزلة الفضيعة) دوی ته به يې عذاب ورکړی وای په دنيا کي بالقتل والسبي كما فعل الله ببني قريظة كما سيأتي وعذاب بني قريضة في سنه (٥) من الهجرة، وقيل بالقتل كمشركي مكة في بدر.

وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ﴿٣﴾

او دوی لره عذاب دی د اور يعني يوم القيامة يعني ان نجوا من عذاب الدنيا فرضًا لاينجون من عذاب النار في الآخرة.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۖ

دغه عذاب چي دوی يعني بني النضير ورسره مخامخ سوه او هغه عذاب چي په ورځ د قيامت به دوی ته ورکول کېږي "بانهم" ای بسبب انهم يعني بني النضير چي دوی مخالفت وکړي د خدای له امر څخه او د رسول د خدای له امر څخه وهو الايمان بالله ورسوله.

وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٤﴾

او څوک چي عداوت او مخالفت وکړي له خدای څخه يعني له امر څخه د خدای او د رسول په تحقيق خدای سخت دی عذاب ده يعني دوی ته به سخت عذاب ورکوي په دنيا کي بالاجلاء من الديار بكمال الذل والاهانة، او په اخرت کي مغلول الايدي ير مور في نار البوار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شان نزول د وروسته ايت: محمد بن يوسف الصالحي" وايي چي رسول كريم ﷺ امر وكړى په هغه وخت كي چي بني النضير خپلي قلاوي د خپلو ځانو لپاره سنګر د جنګ وګرځاوه او غشي ويشتل يې له قلاوُ څخه كاوه چي د دوى د باغو د خورماوُ درختي ربېي او اوروراچوي پر دې كار يې مسلط كړى ابو ليلى المازني" او عبدالله بن سلام"، نو ابو ليلى" به د عجوة خورما وو درختي قطع كولې (چي بهترينه خورما ده په نوع كي د خورماوُ) او عبدالله بن سلام" يقطع اللون (يعني نور اقسام د خورما چي عرب يې لون بولي) فقيل لهما في ذالک چا ورته وويل چي تاسي ولي يو داسي او بل د غسي كوئ، فقال ابو ليلى" العجوة احرق لقلوبهم (يعني په قطع د عجوة د دوى زړونه بنه كبابيږي) وقال عبدالله بن سلام" چي زه په دې يقين لرم چي دا باغونه د دوى موږ ته په غنيمت پاتېږي، نو بنه دى چي عجوه موږ ته پاته سي، د بني النضير ښځو چي له قلاوُ څخه يې دا قطع ليدل، شق الجيوب (ګرېوانونه يې پر ځانو څيرل) وضرب الخدود (او خپل مخونه او بارخوګان يې په چپلاخو وهل) او ناري د واويلا بې وهلې، نو سلام بن مشكم وحيي بن اخطب (چي دواړه مشران د بني النضير وه) چي درخته د عجوة چي اول په مځكه كي نهال كښېنول سي دېر كاله بعد د خورک خورما كوي، او مسلمانان يې قطع كوي، نو حيي بن اخطب وعليه الصلوة والسلام ته سړى راواستاوه چي ته خلک له فساد څخه منع كوې فلم تقطع النخل، او د بعض مسلمانانو په زړو كي دا وسوسه ورپيدا سوه چي دا به فساد وي وبېرېدل، او د بعض په زړو كي به دا خيال ورپيدا سو چي كاشكي مو نه قطع كولاى ولي چي دا باغونه د خورما د بني النضير ژر دى چي موږ ته به په غنيمت پاته سي، فانزل الله تعالى، انتهى قول محمد بن يوسف الصالحي".

مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ

تاسي نه قطع كوئ لينة درختي د خورما.

پوه سه: چي لينة پر وزن د فعلة دى مشتق د لون څخه دى او جمع يې الوان راځي كذا ذكر في الصحاح، البغوي" وايي چي د اهل لغت اختلاف دى په معنى كي د لينة، بعض اهل لغت وايي چي ټولي درختي د خورما لينة بولي ما خلا د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عجوة وهو قول عكرمة وقتادة ورواية عن ابن عباس قال كان النبي ﷺ يقطع نخلهم الا العجوة يعني يأمر بقطع ماسوى العجوة.

درويش وايي: چي دا خلاف د قول د صالحي دى، او اهل مدينه هم ماسوى ته د عجوة من التمرة الوان وايي چي مفرد يې لين او لينة دى، وقال مجاهد وعطية چي لينة ټولو درختو ته د خورما وايي بدون الاستثناء، وقيل غير ذالك.

اعراب: كلمه د ما شرطيه ده محلاً منصوب ده په قطعتم سره او من لينة بيان د ما دى او تركتموها الخ پر عطف يعني پر قطعتم، او قوله تعالى فبأذن جزاء د ما شرطيه ده.

فائده: يوه درخته د خورما ثمن يې د يوه مريي وُ په عربو كي بلكې يوه درخته د خورما تر مريي پر گرانه وه.

مقوله: قدر زر زرگر شناسد وقدر گوهر گوهري

او علماء وايي چي خورما عمه ده د انسانانو، ولي آدم ﷺ چي له ختو څخه جوړ كړل سو څه ختي ځني پاته سوې هغه يې تخم د خورما وگرځاوه بقدرته تعالى گويا خورما د آدم ﷺ خور ده او د انسانانو عمه ده.

أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ ۝

او يا تاسي پرې ايښي وي پر خپلو ريښو يعني تعرض مو نه وي ورته كړى (بشيئ من القطع والحرق) په اجازه سره د خداى عزوجل يعني قطع او ترك يې دواړه په اجازه او امر د خداى دي على لسان رسوله ﷺ ليس في ذالك اثم لكه حيي بن اخطب دا كار فساد باله، يا د بعض مسلمانانو په وهم كي ورتېره سوې وه كما مر تفصيله في قول الصالحي.

"ويجزي الفاسقين" چي خداى ذليل كړي په دغه اذن په قطع فاسقان چي بني النضير وه، روح المعاني وايي چي كلمه د لام يعني مجموع جمله علت ده متعلق په مقدر پوري او هغه مقدر عطف دى پر مقدر آخر باندي، تقديره ليجز المؤمنين وليجزى الفاسقين، ومن ههنا قال ابو حنيفة چي امام (يعني سلطان) د مسلمانانو چي محاصره كړي يوه قلعه د كافرانو جاز له ان تقطع اشجارهم ويفسد زروعهم (يعني د دوى كښتونه وهدم بيوتهم او نړول د دوى د خونو) په سونگ وغيره سره، او كمال الدين الهمام شارح د هدايه چي سره سره د عظيم فقاهته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محدث جليل دی او صاحب د نقض او ابرام دی وايي چي دا هدم او حرق وغيره هلته روا دی چي غالب ظن د امام او مسلمانانو دا وي چي دا قلعه موږ نه سو فتح کولای بېله مذکوره کارو، او که یې ظن غالب دا وُ چي دوی یعني کفار مغلوب کېږي او فتح لابد منه ده، کره ذالک بیا مذکوره کارونه مکروه دي لانه افساد في غير محل الحاجة او ددې کارو مدح وايي خو په سبب د ضرورت او حاجت انتهى بحاصله.

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ

پوه سه: چي دا بيان د حکم دی د ما اخذ من بني النضير بعد بيان ما جعل بهم من العذاب العاجل والاجل، او تېوله قصه چي د مخه تېره سوه من تخريب ديارهم وقطع اشجارهم والفيئ الرجوع الى حالة محمودة والمعنى ما رجع على رسوله د بني النضير د اموالو.

مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ

یعني چي تاسي نه دي ځغلولي د مال د بني النضير پر دلاسه کولو باندي نه اسان او نه اوښان، یعني د دوی سره مو جنګ نه دی کړی حتى چي ماحصل منهم غنيمت وګڼل سي.

وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

لکن خدای ج مسلط کوي رسولان خپل (چي دلته محمد ﷺ دی) پر هغه چي د خدای ج ورته اراده سي لکه په دې ځای کي چي په زړو د بني النضير رعب ور واچاوه چي بېله جنګه فراره سوه مالونه، باغونه، او سرايونه یې پرېښول، او خدای ج پر هر شي چي مشيت ورته وکړي تام القدرة دی.

پوه سه: چي بخاري او مسلم و ابو داؤد والترمذي والنسائي او نورو د عمر بن الخطاب رض څخه روايت کړی دی چي هغه مالونه چي د بني النضير څخه تر لاسه سوي وه بېله ايجاف د آسانو يا اوښانو کانت لرسول الله ﷺ خاصةً چي عليه الصلوٰة والسلام به د خپل کور نفقه څني اخسته د يوه کال او مابقى به یې پر سلاح د جنګ لپاره مصرفول عدة في سبيل الله، او الضحاک رح وايي کانت تلک الاموال لرسول الله ﷺ خاصة لکن عليه الصلوٰة والسلام دا مالونه پر مهاجرينو تقسيم کړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولم يعط الانصار شيئًا الا لثلثة نفر منهم لفقرهم چي هغه مسكينان وه وذكر اسمائهم العلامة البغدادي في روح المعاني.

درويش وايي: چي د الضحاك روايت مخالف دی له روايت څخه د بخاري، مسلم، ابو داؤد او ترمذي عن عمر بن الخطاب كمامر آنفًا والله اعلم.

وايضًا روى البخاري ومسلم چي په روايت كي د عمر بن الخطاب يوه ورځ دده حاجب چي نوم يې يرفاء ؤ عمر ته راغلی فقال هل لک في عثمان و عبد الرحمن والزبير وسعد ﷺ چي دوی اجازه غواړي قال نعم، هو را دي سي نو هغه ورغله يو كړی وروسته بيا يرفاء راغلی عمر ته يې وويل هل لک في عباس و علي چي دوی هم اجازه غواړي قال نعم را دي سي، فلما دخلا قال عباس يا امير المؤمنين اقض بيني وبين هذا يعني علي.

فائده: د دوی مقصد دا ؤ چي علي د فاطمې حق غوښتی په ميراث كي د پلار او عباس د عصوبت حق غوښتی په ميراث كي د رسول الله ﷺ.

سوال: د بني النضير څو مره مالونه وه چي د عليه الصلوة والسلام تر وفات وروسته دوی دعوې پكښي كولې؟

ځواب: د بني النضير خو باغونه د خورما پاته سول او د كښت ځمكي چي هر كال به يې حاصل د ډېرو روپو كاوه، اوس بيرته د قصې پر خوا، نو دې نورو حضراتو چي دمخه راغلي وه يعني عثمان وغيره هغو هم ورته وويل يا امير المؤمنين اقض بينهما وارح احدهما من الآخر، نو عمر وويل تاسي يو وار صبر وكړئ وانشد كم الله (زه قسم دركوم تاسي ته يعني عثمان او ملګري د هغه) الذي باذنه تقوم السماء والارض هل تعلمون ان رسول الله ﷺ قال لا نورث (صيغه د متكلم مع الغير يعني د ټولو انبياؤ څخه ميراث چاته نه پاتېږي) ما تركناه صدقه عمر وويل يريد بذالک نفسه (كه يې څه هم صيغه د متكلم مع الغير ويلې ده اشارة الى ان حكم الانبياء عليهم السلام په ميراث نه وړلو كي يو دي) لكن مراد يې خپل ځان ؤ، بيا عمر مخ را واړوی پر عباس او علي او ورته وه يې ويل انشد كم الله هل تعلمون ان قال رسول الله ﷺ ذالک؟ قالا نعم، بيا عمر ورته وويل چي زه به د دې تفصيل تاسي ته وكړم، ان الله قد خص رسول الله ﷺ في هذا الفيئ يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په غنيمت کي د بني النضير، لم يعطيه احداً غيره فقال وما فاء الله على رسوله منهم فما اوجفتم الى قوله قدير، فكانت هذه خالصة لرسول الله ﷺ ثم قال عمرؓ الله ما اختارها دونكم ولا استأسرها عليكم (يعني يوازي يې پر ځان نه ختمول چي تاسي ته يې نه درکول) فقد اعطاكموها وقسمها فيكم.

سوال: د مخه تېره سوه چي له اموالو څخه به عليه الصلوة والسلام به يو کال نفقه واخستل او باقي به يې عدة في سبيل الله وګرځول، او دلته عمرؓ قد اعطاكموها وقسمها فيكم وويل، نو ددې دوو خبرو به منافات نه وي؟

ځواب: يا منافات يې نسته ولي چي ګاهي ګاهي به يې دوی ته په قدر الحاجة د دوی ورکاوه وليس ان كل ذالک المال قسم رسول الله ﷺ عليهم، عمرؓ وويل چي دا باقي مال پاته سو دا خو د رسول الله ﷺ د ژوند حال وُ چي عليه الصلوة والسلام وفات سو فقال ابوبكرؓ يعني چي دی خليفة الرسول الله ﷺ وټاکل سو يعني باتفاق آراء الصحابةؓ انا ولي رسول الله ﷺ (يعني جاى نشين) نو ابوبكرؓ هغه باقي مال په خپله قبضه کي واخستی فعمل فيه بما عمل رسول الله ﷺ والله يعلم انه (اى ابابكرؓ) فيه (اى في العمل بما عمل رسول الله ﷺ) لصادق بار راشد ثم توفى الله ابابكرؓ نو ما وويل انا ولي ولي رسول الله ﷺ و ولي ابى بكرؓ. نو ما دا مال قبض کړی ځو د امارت خپل چي ماهم هغه دول عمل کاوه لکه رسول الله ﷺ چي کاوه او ابوبكرؓ چي کاوه والله يعلم اني فيه بار راشد تابع للحق، بيا عباس او علي ؓ مخ راوړوی چي يو وخت خبره دا وه چي تاسي دوه په اتفاق واست وه يعني چي دا مال موږ ته وسپاره چي موږ يې تصرف وکړو فقلت لكما ان رسول الله ﷺ لانورث ماتركناه صدقة، بيا ما فکر وواهه چي دا مال د دوی په لاس ورکړه وقلت ان شئتما دفعته اليكما (که ستاسي خوښه وي زه به دا مال تاسي ته درکړم) على ان عليكما عهد الله وميثاقه (پر تاسي وعده د خدایؑ ده او ميثاق دی د خدایؑ چي تاسي به عمل کوئ په دې مال کي لکه رسول الله ﷺ چي کاوه او ابوبكرؓ چي کاوه يا ما چي کاوه، منذ وليت (چي زه خليفه سوم) والا فلا تكلماني (که هغسي نسئ کولای زما سره په دې باب کي خبري مه کوئ) نو تاسي وويل ادفعه الينا بالشرط المذكور نو ما تصرف د هغه مال تاسي ته وسپاری، افتلتمسان قضاء غير ذالک (آيا تاسي غواړئ زما څخه غير ذالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني چې تمليگا يې موږ ته راکړه) فو الله الذي تقوم باذنه السماء والارض لا اقضی فيه بقضاء غير ذالک حتى تقوم الساعة، او که چېرې تاسې عاجز ياست د هغه د ول تصرف څخه، نو هغه مال بيرته ماته وسپارئ، اکفيکما عمله، انتهى الحديث الطويل في قصة مال بني النضير وقول عمر رضي الله عنه لعلي ولعباس رضي الله عنهما.

مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى

درویش وايي: چې ددې په حاصل يو ازې علامه بغدادي پوه سوى دى چې دى په روح المعاني کې وايي بيان لحکم ما آفاء الله على رسوله ﷺ من قرى الکفار على العموم بعد بيان حکم ما آفاء الله من بني النضير کما ذکره القاضي ابو يوسف رحمه الله في کتاب الخراج عن محمد بن اسحاق عن الزهري عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه، نو روح المعاني وايي دا جمله جواب دى د سوال مقدر چې ناشئ د ماقبل څخه دى فکان قائلا يقول قد علمنا حکم ما آفاء الله تعالى من بني النضير فما حکم ما آفاء الله من غيرهم فقيل ما آفاء الله على رسوله من اهل القرى آه ولم يعطف على ما تقدم ولې چې حکم مستأنف دى.

ترجمه: هغه چې خداى ﷻ يې غنيمت کړي پر خپل رسول له قرى ؤ څخه د کفارو (يعني غير بني النضير ولې د هغو حکم خو معلوم سو).

فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِى الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِۙ

پوهسه: چې ابتداء يې په نامه د خداى ﷻ وکړه لپاره د تبرک و اضافة المال الى نفسه لشرفه دا مراد نه دى چې يو سهم د خداى ﷻ ده فان الدنيا والآخرة کلها لله وهو قول الحسن وقتادة وعطاء وابراهيم والشعبي وعامة الفقهاء وعامة المفسرين وهو الصواب وقيل يصرف سهم الله على عمارة الکعبة والمساجد وهذا تقيد لا قرينة عليه بلکې پر دې تقدير سهام شپږ ګرځي وهو خلاف المعروف من السلف چې مصارف پنځه دي، وسهم الرسول ﷺ کان له في حياته ﷺ بالاجماع وهو خمس الخمس وهو ﷺ کان ينفق منه على نفسه وعياله ولبعض زوجاته ويصرف الباقي في مصالح المسلمين، او په نيز د حنفيانو رحمهم الله چې دى مبارک وفات سو حصه يې ساقطه سوه، دليل يې دا دى چې د خلفاء راشدين رضي الله عنهم اتفاق ؤ على ذالک وهم امناء الله تعالى على دينه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي د خلفاء راشدين څخه مراد ابوبکر عمر عثمان عليﷺ دی يعني چي هغو برخه د عليه الصلوة والسلام وروسته تر وفات د عليه الصلوة والسلام چا ته نه ده ورکړه او دوی امينان د خدای ؒ وه پر دين باندي، ونقل عن الشافعي انه يصرف للخليفة بعده ثم وثم ومنهم لذي القربى وسهم لليتامى وسهم للمساكين وسهم لابن السبيل، نو دا پنځه سهم سوه د خمس والمراد من ذی القربى قرابة النبيﷺ والمراد به بنو هاشم وبنو المطلب دی ولي نبيﷺ وضع السهم يعني د ذوی القربى فيهما په دغو دوو قومونو کي، قال جبير بن مطعم چي عليه الصلوة والسلام سهم د ذوی القربى وبني هاشم ته ورکړی جبير بن مطعم وايي چي زه و عثمانؓ ورغلو و عليه الصلوة والسلام ته مونږ ورته وويل يا رسول الله ان هؤلاء بني هاشم لاتنكر لفضلهم لمكانک يعني چي ته د بني هاشم څخه يې ارئيت هؤلاء اخواننا من بني عبد المطلب اعطيتهم وترکنا وانما قرابتهم وقرابتنا واحدة يعني في النسب فقال رسول اللهﷺ انما بنو هاشم وبنو المطلب شيئ واحد هذا وشبک بين اصابعه، رواه الشافعي، او په روايت کي د نسائي انا وبنوا المطلب لانفرق في الجاهلية والاسلام واما نحن وهم شيئ واحد وشبک بين اصابعه.

پوه سه: چي مراد د يتمٰى چي جمع د يتيم ده واليتيم من لا اب له.

فائده: يتيم د انسانو من لا اب له ومن اليحوانات ما لا ام له ومن الدرر والجواهر ما لا مثل له کالدرة اليتيمة في الصدف، او له مساکينو څخه مراد هغه څوک دي چي لا نصاب له فاضلاً من الحاجات الضرورية، وقيل من لانفقة له زائدة على يوم وليلة وقل وندر جود ده اليوم کما لايخفى او مراد د ابن السبيل څخه مسافر دی چي د خپل مال څخه لېري وي يعني وان غنيًا.

كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةً بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ ط

په کلمه کي تعليل دی للقسمة وضمير يکون راجع دی الى الفيئ ای ما آفا الله يعني دا تقسيم چي خدای عزوجل پر مصارفو مذکوره ؤ کړی، ددې لپاره چي ما افاء الله دولت او شتمني ونه ګرځي په مابين کي اغنياء ستاسي لکه په زمانه کي د جاهليت چي څه غنيمت به پيدا سو اغنياؤ به په خپل مابين کي سره ويشی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا

او كوم شي چي تاسو ته پيغمبر دركړي، نو هغه واخلئ او طمع د مازاد مه كوئ بناء على الحرص على ماطابت نفسه، او چي رسول ﷺ مو نهي كړي لكه غلول يعني غلا په غنيمت كي وغيره، نو د هغه څخه ځانونه منع كړئ يعني مخالفت د رسول الله ﷺ څخه مه كوئ لانه ﷺ امين الله في الارض.

پوهه: چي دا جمله معترضه ده ددې لپاره خداى ذكر كړه چي څوك دي طمع نه كوي له رسول الله ﷺ څخه د هغه شي چي دى راضي نه وي.

فائده: دا آيت كه څه هم نازل دى په فيئ كي لكن حكم يې عام دى في كل ما امر به النبي ﷺ او نهى عنه يعني نورو اوامرو او منهياتو ته د رسول الله ﷺ شامل دى.

آن كس كه شد متابع امر تو قد نجا .... وآنكه خلاف راى تو ورزيد قد هلك

د مثال په توګه له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى لعن الله الواشمات (چي ښځه خالونه ايږدي پر تندي يا پر لاس باندي (يعني د حسن لپاره) والمستوشمات (يا طلب د بلي ښځي څخه د وشم او خالو كوي) والمتمصمات الحسن (چي بعض مره او كوچني وېښتان د مخه كاږي لپاره د ښائست چي په پښتو يې نخ بولي چي د تار په ذريعه پخوانيو ښځو كاوه او په اوسني زمانه كي خپل كاسبان لري چي د ښځي مخ ور ښوى كوي لكه هنداره "والمتفلجات" هغه ښځي چي غاښونه يې تېروېږ وي يا غوښونه تر مابين فرجه نه لري يو د بل سره متصل وي، نو داسي غاشونه خوند نه كوي، نو په پخوا زمانو كي به دوى په سوهان سره دا غاښونه سمول او په اوسني زمانه كي خپل كاسبان لري چي په آلات جديده ؤ سره دا كار كوي، ځرنګه چي ښځه ورته ووايي اصلاح كوي يې، ابن مسعود رضي الله عنه زياته كړه "المغيرات خلق الله" دا د ابن مسعود رضي الله عنه حديث چي يوې ښځي ته د بني اسد ورسېدى چي ام يعقوب يې بلل هغه راغله ابن مسعود رضي الله عنه ته يې وويل چي ماته ورسېده چي تا لعنت ويلى دى پر كيت و كيت ښځو باندي، ابن مسعود رضي الله عنه ورته وويل ما لي لا العن من لعن عليه رسول الله ﷺ وهو في كتابه (چي څه سبب دى ماله چي زه به لعنت نه وايم پر هغه چا چي پر هغه لعنت رسول الله ﷺ ويلى وي او هغه په كتاب الله كي هم موجود وي) ام يعقوب ورته وويل ما خو كتاب الله مابين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اللوحين اى ما بين الوقايتين ويلى دى فما وجدت فيه ما تقول، ما خو دا ستا د لعنت ويلو ځاى نه دى پکښې پيدا کړى، ابن مسعودؓ ورته وويل که دي ويلى دى نو دي هغه پکښې پيدا کړى دى يعني نه يې په پوهېدلې، ابن مسعودؓ ورته وويل چي دا ايت تا په قرآن کي نه دى لوستى "ما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم فانتهوا) قالت بلى، هو دا ايت مي ليدلى او ويلى دى، ابن مسعودؓ ورته وويل چي لعنت پر دغو ښځو خو رسول اللهﷺ ويلى دى وقد قال الله تعالى وما ينطق عن الهوى ان هو الا وحي يوحى، انتهى حديث ابن مسعودؓ بزيادة.

وَاتَّقُوا اللَّهَ ۖ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ ۝٧

او له خداىٔ څخه وبېرېږئ (في مخالفة رسوله، دا جمله معترضه ده) په تحقيق خداىٔ سخت عذاب ورکونکى دى يعني لمن خالف.

درويش وايي: چي په دې ايت دليل پر دې باندي ان كل ما امر به النبيﷺ فهو امر من الله، علماء قاطبة دا وايي چي اتباع الرسول په فرائضو عينيه ؤ كي فرض عين ده پر امت (لكه پنځه لمونځونه روژه وغيرهما او فرض كفايي په فروض كفائيه ؤ كي لكه د جنازې لمونځ وغيره و واجب في الواجبات لكه صدقة الفطر ونحوه وسنة في السنن لكه د لمانځه د جمعې د مخه سنت او وروسته سنت يا پن نورو لمونځونو كي سنت قبلي وبعدي، نو كه مونږ پر دې علم درلودى چي عليه الصلوة والسلام دا كار پر كومه وجه كاوه كما امر امثلتها نو مونږ به يې هم پر هغه وجه كوو، او كه نهٔ خبر چي دا فعل پر كومه وجه عليه الصلوة والسلام كاوه فلنا فعله على ادنى منازل افعاله وهو الاباحة لكه په حديث صحيح كي چي راغلي دي چي يوه سپين سرې ښځه و عليه الصلوة والسلام ته راغله چي ت ما ته دعاء وكړه چي ما ته خداىٔ جنت راكړي عليه الصلوة والسلام ورته وويل (يعني د مسخرې پر ډول) چي سپين سرې خداىٔ جنت ته نه پرېږدي، ښځه په بغارو سوه عليه الصلوة والسلام خلكو ته وويل چي دې ته وواياست انا انشأهن انشاء الى اخير الآية، يعني چي په دغه سپين سر دي خداىٔ جنت ته نه پرېږدي بلكې ځوانه به يې يعني د درود پرش (٣٢) كالو مثلاً، مطلب دا دى چي ورته مسخره جائز او مباح ده، او په بل حديث كي راغلي دي چي يو سړى و عليه الصلوة والسلام ته راغلى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي زما کور ليرې دی ما ته يو اوښ راکړه چي کور ته ځان پر ورسوم، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي که د اوښي زوی غواړې درکوم يې (د هغه خيال دا سو چي جونګی راکوي) نو هغه ورته وويل چي د اوښي زوی زما څه په درد خوري، وروسته عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي لوی اوښان خو هم د اوښي زامن دي، داسي مسخره مباح او جائز ده، والله اعلم.

لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ

پوه سه: چي لفظ د "للفقراء" بدل دی د القربٰی څخه وما عطف عليه څخه لا من الله والرسول والا يلزم دخول الرسول في الفقراء او سره د دې چي رسول ته فقير نه ويل کېږي لانه يوهم منه الذلة لان الفقر ليس مدح.

سوال: په حديث شريف کي راغلي دي چي الفقر فخري؟

ځواب: روح المعاني وايي لا اصل لهذا الحديث، واذا لم يصح تسمية الرسول فقيرًا فلان لايصح تسميته تعالی فقيرًا بالطريق الاولی.

ترجمه: او د فقراؤ او مهاجرينو لپاره هغه کسان چي دوی ايستل کړه سوي د خپلو کورو څخه (چي په مکه کي يې درلوده "الذين" صفت دی د الفقراء) او د خپلو مالو څخه چي په مکه کي يې دکانونه، تجارتونه درلوده يعني کفارو د مکې دوی مجبور کړه و فرار ته په سبب د کمال اذار چي دوی ته يې رساوه چي دا مهاجرين سل (۱۰۰) نفره وه او مشرکانو يې پر مالو قبضه وکړه فخرجوا منها او دا کسان که څه هم له مکې څخه ووتل اما اختيارًا حبًا لله ورسوله واختاروا الهجرة علی ما کانوا عليه من الاموال والدور والتجارة وصح عن النبي ﷺ انه کان يستفتح (شروع يې کول د صدقاتو) بصعاليک المهاجرين (جمع د صعلوک ده په معنی د فقير يعني بفقراء المهاجرين) وقال عليه الصلوة والسلام يا معشر صعاليک المهاجرين ابشروا بالنور التام يوم القيامة تدخلون الجنة قبل الاغنياء بنصف يوم (يعني په نيمه ورځ کي) يعني د ورځو د آخرت چي مقدار يې زر (۱۰۰۰) کاله او نيمه ورځ يې پنځه سوه (۵۰۰) کاله ده.

يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

دا جمله حال ده له فقراء مهاجرينو څخه، والمعنی: حال کونهم طالبين منه تعالی رزقًا في الدنيا (وهو معنی د فضلاً ده) ومرضاته تعالی في الآخرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي خدای پاک د دوی توصیف وکړی په هغه وصف سره چي دوی مستحق دي فيئ چي هغه اخراج دی د دوی من ديارهم بمكة واموالهم، بيا يې تعظيم د شان د دوی وکړی بقوله يبتغون من العالي چي طلب دی د رزق په دنيا کي الى الاعلى اى قوله تعالى ورضوانا فان رضوان الله اكبر من عطايا الدنيا "وينصرون الله ورسوله" عطف دی على يتبعون، نو دا حال مقدره دی.

پوه سه: چي حال مقدره هغه ته وايي چي وروسته راتلونکی وي نحو قوله تعالى في حق الكفار يوم القيامة يدخلون النار خالدين فيها ابدًا، نو خالدين حال مقدره دی ولي چي خلود في النار خو تر دخول النار وروسته دی په دې ايت کي هم ينصرون تر هجرت د دوی وروسته دی. اى ناوين نصرة الله ورسوله في الهجرة که څه هم د دوی د دخول په وخت کي مدينې ته کومه غزاء نه وه موجوده.

أُولَٰئِكَ هُمُ الصَّادِقُونَ ۝

دغه مهاجرين (چي احوال يې ذکر سول) هم دوی محکمه دي په صدق کي.

پوه سه: چي مبتداء او خبر يې دواړه معرفه راوړه او ضمير فصل يې هم راوړی لپاره د تاکيد د صدق د دوی، روافض خذلهم الله وايي چي دغه کسان يعني المهاجرين المذكورين حالهم منافقان وه په ادعا کي د ايمان، نو دوی کافران دي ولي چي دوی يعني الروافض منکر دي له دغه ايت څخه.

پوښتنه: په دمخه ايت کي ذکر سول په بيان کي د مهاجرينو "واموالهم" نو چي دوی مالونه درلوده، په دمخه ايت کي يې ولي دوی فقراء وبلل؟

ځواب: فقهاء وايي چي کفار مکه مالکان د اموالو د مهاجرينو وګرځېدل چي مهاجرينو په مکه کي پرېښول که سرايونه وه او که تجارتي مالونه. دا ايت يې دليل دی، ولي فقير هغه چا ته ويل کېږي چي لا شيئ له ملګا، او هغه څوک چي مالک د مال وي مګر دده لاس خپل مالته رسېږي هغه ته فقير نه وايي بلکې هغه ته ابن السبيل وايي، له دې سببه امام بو حنيفة او مالک وايي چي کفار چي پر اموالو د مسلمانانو غلبه وکړي هغه کافران يې مالکان ګرځي چي په خپل دار يعني د کفارو په دار کي وي لکه دلته اموال د مهاجرين په مکه کي پاته سول چي دار د کافرانو د مکې و هغه مالونه د مکې والو مشرکانو مال او ملک سوه، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البغوي په شرح السنة کي د امية بن خالد څخه روايت کړی دی عن النبي ﷺ چي رسول الله ﷺ به طلب د فتح کاوه په بعض غزواتو کي بصعاليک المهاجرين (په فقراؤ سره د مهاجرينو يعني په برکت د فقراؤ) چي هغه سي فقراء به اوس په نړی کي زما په گمان وجود نه لري، ډيري به يې په نس پوري تړلي وې چي ملا مي سمه سي د لوږي له سببه، او چي ژمی به سو يخ به ؤ په ځمکه کي به يې يوه کنده جوړه کړه داغه يې تلتک او نالي وه، ومع ذالک يحبون القتل في سبيل الله.

اخرج ابن المنذر عن يزيد بن الاصم ان الانصار (يعني اهل المدينة المنورة الاوس والخزرج) قالوا يا رسول الله اقسم اموالنا (يعني النخيل واراضي الزرع بيننا وبين اخواننا نصفين) قال لا يعني تقسيم يې نه کوم تاسي مؤنت او کارونه د خپلو باغو او ځمکو پر خپل غاړه واخلئ يعني مهاجرين خو د باغو او ځمکو په کاروبار عادت نه دي، وتقاسمونهم في الثمرة (او مهاجرين درسره شريک کړئ په مېوه کي، والارض ارضکم قالوا رضينا يا رسول الله. فانزل هذه الآية فيهم.

وَالَّذِينَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْإِيمَانَ

او هغه کسان چي مبائة يعني ځای د قرار دار الهجرة او په ايمان کي محکم وي (وهم الانصار ﷺ)

پوه سه: چي خدای عزوجل مشابه کړی ايمان بالمقر (يعني په ځای پوري د قرار) لدوام ثباتهم عليه (ای ثبات الانصار على الايمان) او ايمان ته تبوء يعني ځای د قرار ثابت کي على طريق الاستعارة التخيلية، او بعض مفسرين وايي چي تبوء و دار الهجرة ودار الايمان بحذف المضاف من الثاني ای الايمان واللام في الايمان عوض عن المضاف اليه.

پوښتنه: مدينه منوره ولي دار الايمان بولي؟

ځواب: مدنيه ځای د اظهار د ايمان و گرځېدل په ټوله نړی کي بالغزوات مع الكفار في عصر النبي ﷺ وفي عصر الخلفاء الراشدين ﷺ من بعدهم، نو څکه په حديث کي د جابر بن سمرة ﷺ راغلي دي چي رسول الله ﷺ وويل چي خدای مسمی کړه المدينة طابة راغلی دی يعني پاک ځای من حيث الدين والدنيا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ أُوْتُوْا

دمخه تر هجرت د مهاجرينو دوی محبت لري يعني الانصار د هغو کسانو سره چي هجرت دوی ته راوکړي.

درويش وايي: چي حاجة دلته په معنی د محتاج اليه دی قال العلامة البغدادي" وهو استعمال شائع کما يقال خذ منه (ای من فلان) حاجته ای ماتحتاج اليه واعطاه (ای الی فلان) من ماله حاجته ای مايحتاج اليه "فما اتوا" يعني چي مهاجرينو ته به ورکړه سو من الفيئ وغيره، والحاصل چي نفوس د انصارو به مائل نه وه هغه شي ته چي مهاجرينو ته به ورکړه سو، او طمع به يې هم نه کول و هغه شي ته که به څه هم دوی ورته محتاج وه هغه شي ته، او کلمه د من په مما کي تبعيضي ده، اويا کلمه د من بياني ده والکلام علی حذف المضاف ای طلب ما اتوا، وفيه فائدة جليلة کانهم (ای الانصار) لم يتصوروا ان ذالک الشيئ محتاج اليه دی، او بعض مفسرين وايي چي مراد له حاجة څخه هغه شی دی چي حاجت سړی پر باعثه کوي من الطلب والحسد او غصه چي غيظ يې په عربي بولي په حديث شريف کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ چي اموال د بني النضير په قبضه کړه او دوی يې فراره کړه نو د دوی مالونه يې صرف پر مهاجرينو وويشل انصارو ته يې شی ورنه کړی، مګر دړو کسانو ته چي ډېر مسکينان وه فطابت انفس الانصار ﷺ بذالک يعني ښه سوه چي دا اموال يې مهاجرينو ته ورکړه.

درويش وايي: چي محمد بن يوسف الصالحي" په سبيل الرشاد کي وايي چي عليه الصلوة والسلام چي عمرو بن عوف د مسجد قباء په سيمه کي يې کورؤ مديني منورې ته يې تشريف راووړی، نو مهاجرين د مکي مکرمي هم ټوله مديني منورې ته راستانه سوه، نو انصارو ﷺ د زړه له اخلاصه څخه دوی ته يعني مهاجرينو ته رغبت وکړی حتی چي انصارو قرعه اندازي سره وکړه فما نزل احد من المهاجرين" علی احد من الانصار الا بالقرعة بينهم. نو انصارو" دوی ته سرايونه ورکړه او خپل مالونه من النخيل وغيرها د دوی سره شريک کړه جزاهم الله خيرًا، نو څه وخت چي رسول الله ﷺ غنيمت د بني النضير ترلاسه کړی نو ثابت بن قيس بن شماس" چي يو مشر سړی ؤ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انصارو را وه يې غوښتي فقال ادع لي قومک هغه ورته وويل الخزرج؟ (چې د ثابت شخصي قوم ؤ) يا رسول اللهﷺ، قال الانصار كلهم، نو ثابت د اوس او د خزرج قبيلي دواړي جمع کړي، نو رسول اللهﷺ خبري شروع کړي او لېي حمد او ثناء د خداى عزوجل وويل بما هو اهله، بيا يې ذکر د انصارو او د دوى د ښې همکارۍ او مرستي د مهاجرينو سره بيان کړې چې مهاجرينو ته يې په خپلو کورو کې ځاى ورکړى او خپل اموال يې تر دوى قربان کړل او تر خپلو ځانو يې مقدم کړه، بيا رسول اللهﷺ ووېل كه ستاسي خوښه وي زه به د بنو النضير غنيمت ستاسي او د مهاجرينو تر منځ تقسيم کړى لکن مهاجرينو به کما کان سکنى به يې ستاسي په سر ايو کې وي وامو الكم، او كه ستاسي خوښه وي زه به غنيمت و مهاجرينو ته ورکړم مهاجرينو به ستاسي له کورو څخه ووزي او ستاسي د مالو څخه به دست بردار ه سي. فتكلم سعد بن عبادهؓ وسعد بن معاذؓ اعطاهما الله خيرا و ثوابا، نو دې دوو نامورو کسانو وويل: يا رسول اللهﷺ چې تاسي مالونه د بني النضير پر مهاجرينو فقط تقسيم کړه و يکونوا في دورنا كما كانوا، او ټولو انصارو جزاهم الله خيرا نارې کړې رضينا وسلمنا يا رسول اللهﷺ (يعني بما قال سعد بن عبادهؓ وسعد بن معاذؓ) فقال رسول اللهﷺ اللهم ارحم الانصار، فقسم رسول اللهﷺ ما افاء الله واعطى المهاجرين ولم يعط احدا من الانصارؓ شيئا الا ثلثة او اثنين (شک من الراوي) چې هغه له انصارو څخه وه لکن ډېر مسکينان او محتاجه وه چې يو سهل بن حنيفؓ و او بل ابو دجانهؓ او سعد بن معاذؓ ته يې توره د سيف بن ابى الحقيق (چې يو يهودي ؤ) چې يوه ډېره نامداره توره وه ورکړه، انتهى قول الصالحيؒ والله اعلم بالصواب في كل باب.

وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ

او دوى يعني الانصارؓ د مخه کول مهاجرينؓ په خپلو اموالو او کورو سره (حتى تر دې اندازې پورې چې يو انصاريؓ به دوې ماينې درلودې يوې ته به يې طلاق ورکړى چې عده به يې تېره سوه مهاجر ته به يې په نکاح ورکړه) "على انفسهم" يعني تر خپلو ځانو يې پر مهاجرينو پېرزوينه درلوده، او که څه هم د انصاروؓ و هغه شي ته چې مهاجر ته به يې ورکړى حاجت به يې درلودى. بخاري له ابو هريرهؓ څخه روايت کړى دى چې يو سړى و رسول اللهﷺ ته راغلى او داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې ورته وويل اصابني الجهد يعني وږى يم، نو عليه الصلوة والسلام وخپلو ټولو ازواجو مطهرات ته څوک واستاوه چې په کوم کور کې ډوډۍ يا د خوړک شى شته؟ د ټولو څخه منفي جواب ورته راغلى، بيا عليه الصلوة والسلام وويل الا رجل يضيفه يرحمه الله (نشته داسې څوک چې دا وږى مېلمه کړي خداى دې رحم پرو کړي) يو سړى له انصارو څخه ولاړ سو چې زما مېلمه دى، نو انصاري هغه سړى کور ته بوتلى مابينې ته يې وويل چې دا سړى مېلمه د عليه الصلوة والسلام دى هيڅ شى مه ځني ذخيره کوه، مابينې يې ورته وويل چې په کور کې دومره خواړه سته چې د کوچنيانو بس سي، تعني زما او ستا لا نه ورسره بسېږي، مېړه يې ورته وويل چې د ډوډۍ وخت چې نژدې سي کوچنيان بيده کړه ته راسه څراغ مړ کړه (يعني په بهانه ددې چې تيل يې خلاص سوه) او ما او تا به د مېلمه سره پر کاسه کښېنو له کاسې څخه به لاس وهو (چې د مېلمه دا خيال سي چې دوى هم ډوډۍ راسره خوري) مګر ما او تا به نه شپه ځان وږى پرېږدو او د عليه الصلوة والسلام مېلمه به ښه موړ کړو، مابينې يې هم دغسې وکړه، نو هغه انصاري يعني چې د عليه الصلوة والسلام مېلمه يې کورته بوتلى ؤ او ښه يې موړ کړى ؤ او ده او دده آل و عيال ټوله په وږي نس يې شپه تېره کړې وه عليه الصلوة والسلام ورته وويل قد ضحک الله من فلان و فلانة.

درويش وايي: چې حقيقت د ضحک خو پر خداى عزوجل محال دى کما هو ظاهر لکن چونکه ضحک د سرور او رضى څخه پيدا کېږي، نو دلته ذکر د مسبب دى چې ضحک دى مراد ځني سبب دى اى الرضى، فالمعنى لقد رضى تعالى من فلا و فلانة فيما فعلا بضيف رسول الله ﷺ. فنزل و يؤثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة.

پوښتنه: خبره خو په انصارو او مهاجرينو کې وه دا سړى خو د عليه الصلوة والسلام مېلمه ؤ؟

ځواب: يمكن انيكون هذا الضيف ايضًا من المهاجرين.

فائده: په يوه روايت کې د دغه حديث راغلي دي چې مهمان د عليه الصلوة والسلام چې يې کور ته بوتلى ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه ؤ، او واحدي سند د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حديث ابن عمرؓ ته رسولی دی چي يو سري د پسه سر را استولی ؤ (غالبًا پوخ به ؤ) هغه سړي وويل چي اخي (يعني في الدين) فلان وعياله الى هذا (اى رأس الشاة) احوج منا اليه فبعثه اليهم ثم وثم حتى تداولها سبعة ابيات حتى رجع الى البيت الاول، فنزلت هذه الآية ويؤثرون آه.

سوال: شان نزول د آيت خو به يو واى؟

ځواب: لابعد انيكون نزول هذه الآية بعد كل من الواقعات المذكورة، وروى البخاري عن انس بن مالكؓ چي رسول اللهﷺ انصارؓ را وغوښتل چي دوی ته د بحرين مځکي ور ووېشي (يعني هغه وخت چي بحرين فتح سو) انصاروؓ وويل لا الا ان تقطع لاخواننا المهاجرين مثلنا، يعني مونږ دا مځکي نه غواړو چي مهاجرينو ته هم مثلنا مځکي ور نه کړل سي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل فاصبروا حتى تلقوني على الحوض يعني في القيامة فانه سيصيبكم اثرة بعدي، انصاروؓ ته عليه الصلوة والسلام وويل چي نور صبر مه کوئ تر هغه وخته چي زما سره ملاقي کېږي يعني په ورځ د قيامت فانه سيصيبكم اثره بعدي (اى بعد وفاتي)

پوښتنه: عليه الصلوة والسلام ولي انصارؓ په صبر کولو سره امر کړه؟

ځواب: عليه الصلوة والسلام ته په وحي غير متلو سره دا معلومه وه چي يو وخت وروسته تر وفات زما به پر انصاروؓ داسي حال راسي چي مهاجرينؓ په خپل مابين مرستي او کومکونه سره کوي او د انصاروؓ په حالاتو کي به فکر نه وهي.

فدايى دوست نکرديم عمر و مال دريغ .... که کار عشق زما اين قدر نمى آيد

ابو يزيد البسطامي قدس سره وايي چي زه ملامت کړم او پر ما غالب سو يعني په خبرو کي يو ځوان د اهل بلخ هغه ځوان ماته وويل ما الزهد عندكم (يعني بې پرواهي له دنيا څخه او محبت د خداى عزوجل سره) بسطاميؒ وايي ما ورته وويل: اذا وجدنا اكلنا واذا فقدنا صبرنا (که د خوړک شى را ورسېدى خورو يې او که نه را ورسېدى صبر کوو) ځوان راته وويل هذا فعل كلاب بلخ (دا خو د بلخ د سپو کار دى يعني که څوک ورته ډوډۍ ور واچوي خوري يې که يې نه ور واچوي صبر يې کړی وي يعني پر ډوډۍ خوړونکو حمله نه کوي.

درويش وايي: چي: ايثار په باره کي د حذيفة العدوي خبر واوري، دى وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي زه د ير موک په غذاء کي چي ډېر مړي او تپيان پکښې وسوه گرځېدم د خپل اکا په زوی پسي يوه مشکوله اوبه راسره وې په دې نيت که نفس پکښې ؤ اوبه بې په خوله کي ورتوی کړم، نو ناببره پر پېښ سوم تپي ؤ سخت او د خبرو نه ؤ، ما ورته وويل اوبه درکړم ده په سر اشاره راته وکړه چي هو، ما ده ته اوبه ورکولې نږدې بل سخت تپي پروت ؤ د آه آه ناري يې وهلې، نو زما د اکا زوی ما ته اشاره وکړه چي اوبه د هغه تپي په خوله کي ور واچوه ما چي هغه ته اوبه وروړې د هغه ارخ ته بل سخت تپي پروت ؤ د آه آه ناري يې وهلې، نو دې بل تپي اشاره راته وکړه چي هغه تپي ته يې وروړه زه چي هغه ته ورتلم هغه وفات سو، دويم تپي ته چي نوم يې هشام بن العاص ؤ راتلم هغه وفات سوی ؤ چي ابن العم ته را رسېدم هغه هم وفات سوی ؤ، اوبه ما ته پاته سوې دری سره تپيان د ايثار له کبله تږي مړه سوه.

درويش وايي: چي تاريخ قديم خبري کوي په گډه بې سره واورو چي په قديم زمانه د بادشاه او ده د وزير تر مابين په دې موضوع کي اختلاف پيدا سو، فقال الملک چي علماء احسن حالاً دي او اصلح قلباً دي من الفقراء والزهاد، وقال الوزير بخلاف ذالک وزير ورته وويل چي موږ بې امتحان وکړو د دوارو ډلو في امرين. نو يو سړی يې واستاوه په څو زرو دراهمو سره د مدرسې و علماؤ ته هغه سړي ته يې وويل چي ته ورسه ملايانو ته د مدرسې ووايه چي زه بادشاه را استولی يم او ډېر دراهم يې هم راکړي دي، او سلطان امر کړی چي په دوی کي چي افضل په علم کي ؤ هغه ته يې ورکړه نو په تاسي کي کوم يو افضل او اکمل په علم کي دی فقال واحد انا وقال الآخر کذب انا افضل من الکل واکمل في العلم وهکذا دعوی د افضليت وکړه په علم کي، نو مرسل بالنقود ورته وويل چي افضل ما ته نه سو معلوم او يوه ته يې نقود ور نه کړه، نو هغه سړی ملک او وزير ته راغلی او ماجرای يې ورته بيان کړه، ثم ارسل الملک والوزير تلک النقود الی الفقراء والزهاد، هغو ته چي رسول وويل چي په تاسي کي احوج او ډېر فقير کوم يو دی، يوه به وويل فلانی دی زه نه يم احوج هغه بل به وويل چي ته ډېر محتاج او نقير يې هغه به ورته وويل فلانی دی وهکذا الی اخير، رسول روپی بېرته را واخستلې چي په تاسي کي فقير نه سو رامعلوم، بيا يې د رسول په لاس توره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکړه چې وره ملایانو ته د مدرسې وو وایه چې ملا چې په علم اکمل وي ملک ماته ویلي دي چې د هغه سر په دغه توره سره پرې کړه رایې وړه، نو ستاسي رئیس في العلم کوم یو دی. یوه ملا ورته وویل چې زه خو څند ان عالم نه یم فلانی دی وهکذا الی الآخیر، بیا یې رسول واستاوه فقراؤ ته هغو ته یې وویل چې ملک زه امر کړی یم چې هریو چې په تاسي کې ډېر محتاج او فقیرؤ د هغه سر په توره پرې کړم، یوه ورته وویل چې زه یم بل ورته وویل چې زه یم یا زه یم وهکذا الی الاخیر فجاء الرسول وذکر للملک والوزیر احوال الفقراء والزهاد، نو وزیر پر بادشاه غالب سو په اختلاف کې د دوی دوو تر منځ.

درویش وایي: چې فقراء او زهاد زموږ د زماني علی عکس الفقراء المذکورین في جمیع الممالک والبلاد فافهم.

وَمَنۡ يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ

او څوک چې وساتل سي د بخل او حرص څخه د نفس یعني مخالفت د نفس کوي په هغه شي کې چې پر نفس غالبه وي من حب المال وبغض الانفاق، صاحب قاموس ترجمه د شح په بخل او حرص سره کړې ده، او صحاح والا وایي چې شح مجموع حرص او بخل ته وایي، او البغوي" وایي چې علماؤ فرق کړی دی د شح او بخل، دا روایت یې دلیل ګرځولی دی چې یو سړی و عبدالله بن مسعودرضؓ ته وویل اني اخاف ان اکون هلکت قال وما ذاک (څه سبب دی چې ته پر ځان بېرېږې چې هلاک سوم) قالؓ سمع الله یقول ومن یوق شح نفسه، وانا رجل شحیح لایکاد یخرج شیئ من یدي (یعني د خدای پاک څخه زه اورم ومن شح نفسه، او زه بخیل یم قریب نه ده چې و دي وزي زما د لاسه څخه یو شی چې چا ته یې ورکړم) قال عبداللهؓ چې دا خو شح نه دی چې په دې ایت کې ذکر سوی دی، بلکې شح دا دی ان تاکل مال اخیک (یعني بالاخوة الاسلامي) ظلمًا، ده ورته زیاته کړه چې تا چې وویل هغه ته بخل وایي وبئس الشیئ البخل (یعني بخل خو هم بد شی دی وان لم یکن شحًا) وقال عمرؓ لیس الشح ان یمنع الرجل ماله (یعني چا ته یې نه ورکوي) انما الشح ان تطمع الرجل الی مالیس له، وقال سعید بن جبیرؓ الشح هو اخذ الحرام ومنع الزکوة، وقیل الشح الحرص الشدید الذي چې سړی باعث کوي پر ارتکاب د حرام (لکه غلا، زنی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغيرهما) وعن جابر بن عبد الله ان رسول الله ﷺ اتق الظلم فان الظلم ظلمات يوم القيامة واتقوا الشح فان الشح اهلک من کان قبلکم حملهم (ای الشح) ان يسفكوا دمائهم واستحلوا محارمهم، رواه مسلم واحمد وروى البغوي والنسائي عن ابي هريرة انه سمع رسول الله ﷺ يقول لايجتمع غبار في سبيل الله و دخان جهنم في جوف عبد ولايجتمع الشح والايمان في قلب عبد ابداً.

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝٩

نو دغه کسان دي چي دوی فلاح او خلاصون پیدا کونکي دي له اور ځخه د جهنم.

وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ

او هغه چي راغلي دي وروسته تر مهاجرينو او انصار ﷺ جميعًا، مراد ځني هغه کسان دي د اصحابو کرامو ځخه چي وروسته تر فتح د مکې يې ايمان راوړی وي او دغه رنګه نور مؤمنان چي په ايمان مشرفه سوي وي الى يوم القيامة.

يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ

دوی وايي ("يقولون" حال دی له فاعل ځخه د جاؤا) ای زموږ ربه موږ ته بخښنه وکړه، او زموږ وروڼو ته ("اخواننا" ای في الدين) چي تر موږ د مخه يې سبقت کړی و ايمان ته. ولي چي سابقين الى الايمان حق لري پر وروسته مؤمنانو چي دعاء ورته وکړي، ولي چي وروستني مؤمنان د سابقينو په لارښوونه و ايمان ته يې لار پيدا کړه لکه سابقينو چي ايمان ته لار پيدا کړه بتوسط النبي ﷺ.

وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ۝١٠

او ته مه ګرځوې زموږ په زړو کي حسد او بغض د هغو خلکو لپاره چا چي ايمان راوړی دی (چي عبارت د مهاجرينو او له انصارو ﷺ ځخه دي) يا ربنا ته رؤف يې يعني غايت مهربانه (صيغه د مبالغې ده ففيه تنزل من الاعلى الى ما دونه ای رحيم) او بعض مفسرين وايي چي رحيم تاکيد دی د رؤف، والله اعلم.

تنبيه: د هر چا په زړه کي غل او حسد وي د يوه سره د صحابه کرامو من المهاجرين والانصار ولم يترحم على جميعهم فهو ليس بداخل في هذه الآية وقد روى عن النبي ﷺ بطرق صحيحة الله الله (يعني وبيرېږئ له خدای ځخه) في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصحابي لاتجعلهم غرضًا (نښان يې مه ګرځوئ د غيبت او بد ګويي يعني لکه فرق ضاله چې پر ابوبکرؓ او عمرؓ باندي چې بد وايي) او غاصبان د حق د خلافت د عليؓ يې بولي وايضًا قد صح عن النبي ﷺ اَصْحَابِيْ كَالنُّجُوْمِ بِاَيِّهِمُ اقْتَدَيْتُمُ اهْتَدَيْتُمْ ابن ابی ليلى وايي الناس على ثلثة يعني درې قسمه دي (۱) الفقراء المهاجرينؓ (۲) والذين تبوّا الدار والايمان (۳) والذين جاؤا من بعد هم يقولون اغفرلنا ولاخواننا الذين سبقونا بالايمان الخ، نو ته غاية كوشش كوه چې خارج له دغو منازلو څخه نه سې، لكه فرق ضالة من الشيعة والروافض والخوارج.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا

ته نه ګورې يا محمد (ﷺ) يا هر مخاطب چې په وروستنيو حالاتو علم ولرې (جمله مستأنفه لپاره د بيان ده د حال د منافقانو او د كفارو، والاستفهام للتعجب اى تعجب السامعين لاحوالهم والرؤية علمية، وانما عبر بالرؤية لظهوره مثل المرئي بالعين) و هغو كسانو ته چې نفاق يې وكړى، چې عبد الله بن ابى بن سلول واصحابه دي.

پوهسه: چې دا ايت حكايت د هغو خبرو دى چې په مابين كې د منافقانو او د كفارو سره جاري وې من الاقوال الكاذبة والاحوال الفاسدة بعد بيان احوال المؤمنين على اختلاف طبقاتهم، ابن اسحاق او ابن المنذر وابو نعيم عن ابن عباسؓ وايي چې دا ايت نازل دى په يو جماعت كې د بني عوف چې عبد الله بن ابى بن سلول هم د هغې قبيلې ؤ او وديعة بن مالك بن سويد و داعس چې دوى تپولو سرې واستاوه وبني النضير ته بما سيئاتي في الايات يعني يقولون آه.

يَقُوْلُوْنَ لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

چې وايي خپلو ورڼو ته (يعني په كفر كې او په صداقت كې او په موالات كې) هغو خلكو ته چې كفر يې كړى وي يعني علانية، د اهل كتاب څخه يعني بني النضير او بني قريضة ته يعني رئيس المنافقين و بني النضير ته دوه كسه ور واستول چې د خپلو كورو ونه وزئ زما سره دوه زره كسه را سره دي يد خلون معكم في حصنكم (چې هغه به ستاسي په قلا كې د جنګ لپاره د مسلمانانو په مقابل كې ... باش وي)

لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا

يعني من ديارکم بالمدينة که تاسي له کورو څخه مسلمانانو ايستلاست، نو موږ هم درسره فراره کېږو، موږ د چا په خوله نه کوو ستاسي سره د کومک په جنګ کي د مسلمانانو د هيڅ چا او هيڅ کله د محمد ﷺ والمؤمنون متابعت نه کوو.

وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ

که تاسي وژل کېداست په لاسو د محمد ﷺ والمؤمنون نو موږ به کومک درسره کوو په جنګ کي د دوی سره، او خدای عزوجل شاهدي اداء کوي ("والله يشهد" حال دی له فاعل څخه د يقولون) په تحقيق دوی ای المنافقين دروغ وايي.

سوال: په نحو کي وايي چي ان څلور ځايه مکسور ويل کېږي چي وايي:

ان را درچهار جا مکسور خوان ..... بعد علم وبعد ظن درميان
چون درآيد درخبر او لام نيز ..... دائماً مکسور خواني ای عزيز

نو دلته کوم سبب موجود دی؟

ځواب: په خبر کي چي لکاذبون لام راغلی دی.

پوه سه: چي جمله د انهم لکاذبون منصوب محلاً ده په تقدير د قول والتقدير والله يشهد ويقول انهم لکاذبون، بلکې تقدير د قول ضرورت هم نسته ولي يشهد متضمن معنی لره د قول دی.

فائده: دا د وروستني ايت بيان د کذب د دوی دی.

لَئِنْ أُخْرِجُوا لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِنْ قُوتِلُوا لَا يَنْصُرُونَهُمْ

که دوی وه ايستل سي ای اليهود يعني بني النضير، منافقين د دوی سره نه وزي، او که دوی يعني بني النضير وژل کېږي دوی يعني منافقين کومک نه ورسره کوي.

پوه سه: چي جمله د "لايخرجون معهم" جواب د قسم ده چي کلمه د لام لپاره د قسم محذوف ده يعني لفظاً او جواب د شرط ده معنیً، وعلى هذا فقس قوله "ولئن قوتلوا آه".

درويش وايي: چي اهل تفسير وايي چي په دې کي معجزه د رسول کريم ﷺ ده

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ولې چې په مستقبل کې دغسې پېښه سوه چې بني نضير فراره کړه سوه منافقان د مدينې نه سوه ورسره فرار، او دغه رنګه منافقانو د مدينې د بني قريضه سره ورته وعده کړې وه مګر بني قريضه ووژل سول د مسلمانانو په لاس منافقانو يعني عبدالله بن ابي بن سلول واصحابه کومک نه ورسره وکړی کما سيئاتي.

وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۲﴾

بالفرض والتقدير که منافقانو کومک ورسره کړی وای، هر آئينه شا به يې ګرځولې وای يعني شکست به يې خوړلی وای، بيا وروسته تر شکست د چا د خوا کومک نه ورسره وکړه سي، يعني د کفار اليهود سره.

لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ

اى اشد مرهوبية يعني رهبة مصدر مبنى للمفعول دی، ولې چې مخاطبين خو مؤمنان دي هغه خو مرهوب منهم دي لا راهبين.

ترجمه: تاسي اى مؤمنانو سخت ياست په بېرېدو کې د منافقانو ستاسي څخه په زړو کې د دوی تر بېري له خدای څخه، ولې ستاسي د بېري له سببه يې اظهار د ايمان وکړی او په زړو کې يې د خدای له بېري ايمان نسته بلکې پر هغه يهوديت پاته دي.

پوښتنه: ستاسي څخه د بېري معنی څه ده چې اشد چې اسم تفضيل دی پکښې استعمال يې کړی، ولې قانون نحوي دا دی چې په مفضل عليه کې به معنی د نفس پيدا وي نحو زيد اعلم من عمرو يعني نفس علم په عمرو کې هم سته لکن زيد په علم کې تر بالا دی او سره د دې په زړو کې د دوی خو هيڅ بېره د خدای نه وه لکونهم کافرين في قلوبهم؟

ځواب: دوی به اظهار د دې کاوه چې موږ له خدای څخه په زړو کې بېرېږو.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾

دغه چې بېره د دوی ستاسي څخه اشد ده تر بېري د خدای څخه په سبب د دې ده چې دوی يو قوم دی په هيڅ شي نه پوهېږي (فالمفعول به محذوف) يعني که دوی عقل درلودای نو عظمت د خدای عزوجل به يې پېژندلی وای او دا به هم ورته معلوم وای چې ضار او نافع خدای دی، نو به دوی يعني منافقانو داسي نه کولای چې تر خدای به له تاسي مؤمنانو څخه ډېر بېرېدلای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَاءِ جُدُرٍ

دوی يعني منافقان او كافران لكه بني النضير ستاسي سره جنګ نسي كولای په اتفاق سره، ولي خدای ئي په زړو كي رعب وراچولی دی كما مر، مګر نه په داسي قريو كي چي محفوظ وي (يعني شاوخوا خندق لري يعني مخامخ جنګ نسي درسره كولای) يا دېوالونه د دننه له خوا څخه لكه چي بني النضير اول وهلت كي د محاصرې د مؤمنانو داغسي كوله چي د داخله څخه د قلاوُ بې تيراندازي كوله ''جدر'' جمع د جدار ده.

بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ

صبر او شجاعت د وی پر جنګ په خپل منځ كي (يعني مقابلة الكفار بعضهم لبعض) سخت دی، يعني دا بېره د دوی ستاسي مؤمنانو څخه په سبب د جبن (بزدلي) د دوی نه ده يا ضعف د دوی په جنګ كي نه ده بلكې ستاسي په مقابل كي خدای عزوجل رعب په زړو كي د دوی پيدا كړی چي دا معجزه ده د رسول كريم ﷺ، او اظهار د خپلي خدايي كوي.... مقوله:

الشجاع يجبن والعزيز يزل اذا حارب الله ورسوله.

تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ

ته ګمان كوې پر دوی باندي يا محمد (ﷺ) چي دوی ټوله متفق دي پر جنګ ستاسي د مسلمانانو سره، او زړونه د دوی پراګنده دي (''شتی'' جمع د شتيت ده يعني پراګنده او مختلف، په سبب د القاء الرعب في قلوبهم، ولي چي په حالت كي د شدة الخوف زړه پر يوه قرار نه پاتېږي، يعني ګاهي د جنګ اراده وكړي نظر و منافع دنيويه وُ ته او ګاهي د فرار اراده وكړي په سبب د غلبه د خوف او رعب منكم) ''ذالک'' دا تشتت د زړو د دوی په سبب ددې دی چي دوی داسي قوم دی چي عقل او فهم نه لري، او حق او باطل نه سره پېژني، او په دې كي فكر نه وهي چي دا رعب چي پر موږ غالبه سوی دی په سبب د نفاق او كفر زموږ دی، نو به يې ايمان راوړی وای او په صف كي د مسلمانانو به دريدلي وای، او رعب او خوف به يې له زړو څخه وتلی وای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَمَثَلِ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا

خبر د مبتداء محذوف دی ای مثل وحال هؤلاء بني النضير كمثل و حال د هغو كسانو چي تر دوی د مخه وه تيردي ودوی ته يعني بني النضير، مجاهد وايي چي مراد د من قبلهم ځخه كفار د مكې دي په ورځ د بدر چي اوويا كسه ځای پر ځای ووژل سول چي په دې وژل سوو كسانو كي فرعون هذه الامة ابو جهل هم داخل ؤ او اوويا كسان يې په حصارت ونيول سول، او سره ددې چي د عليه الصلوة والسلام ملګري (۳۱۳) وه او مشركين د مكې (۹۵۰) كسه وه، او نور په تېښته ولاړه، او ابن عباس وايي چي مراد ځني بني قينقاع دي من اليهود چي له قوم ځخه د عبدالله بن سلام وه او حلفاء د عبدالله بن ابی بن سلول وه لعنة الله عليه واصحابه او د بن الصامت وغيرهما وه وكانوا اشجع اليهود او كسب يې زرګري وه.

ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ

چي دوی وڅکی يعني دوی ته ورسېدی عذاب د حال د دوی يعني عاقبتهم من عداوة رسول الله ﷺ ودين الله، تاريخ اسلامي وايي چي عليه الصلوة والسلام چي مهاجر و مدينې ته راغلی قرار داد يعني صلح يې د يهودانو ټولو سره وكړه او خط يې نوشته كړی او هر قوم يې د خپلو حلفاؤ سره پرېښول او د عليه الصلوة والسلام او د يهودانو تر مابين امان اعلان سو او عليه الصلوة والسلام پر دوی بعض شرطونه كېښېښول، يو شرط يې دا ؤ چي كه زموږ د نورو كافرانو سره جنګ و تاسي به د هغو سره كومک نه كوئ، نو چي ورځ د بدر راغله، نو اول چي نقض عهد يې وكړی يهودانو د بني قينقاع وكړی او په ښكاره بغض او حسد د للنبي ﷺ، نو په دې دوران كي چي دوی پر نقض العهد داده وه يوه ښځه له عربو ځخه چي دې شيدې د خپلو مېږو او بزو راوړې او د بني قينقاع په بازار كي يې خرڅولې نو شيدې چي يې خرڅي كړې يو زرګر ته لپاره د زېور راتيولو د بني قينقاع ورغله هغه زرګر دې ته وويل چي ته مخ لځ كړه دې مخ نه لځاوه، نو زرګر ددې پر پوړني د شا د خوا چي دا يې په ځان نه كړه پوه په ځوزانو پوري بند كړی دا چي ولاړه سوه پوړنی ځني شوه سو او مخ يې ښكاره سو او عورت يې ښكاره سو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو دوی پر خندل نو ښځي لویه بغاره وکړه یو سړی د مسلمانانو ور وغورځېدی زرګری یې قتل کړی وکان یهودیًا، نو یهودان ورولاړ سوه هغه مسلمان یې قتل کړی ونبذوا العهد، نو ناره وکړه قریبانو د مسلم مقتول پر مسلمانانو چي یهودان وژنئ، نو د مسلمانانو او د بني قنقاع تر منځ د قتل و قتال لمبې بلې سوې، وانزل الله هذه الآية واما تخافن من قوم خیانة فانبذ الیهم علی سواء، فسار الیهم رسول الله ﷺ ددې مذکوره آیت په هدایت بیرغ د اسلام یې حمزة بن عبد المطلب ته ورکړی او پر مدینه منوره یې نائب ابو لبابة رض پرېښو، بني قنقاع په خپلو قلاؤ ننوتل نو علیه الصلوة والسلام تر ډېري سختي محاصرې لاندي دوی راوستل پنځلس (۱۵) ورځي او شپې، نو د دوی په زړو کي خدای عزوجل ډېر سخت رعب پیدا کړی، نو دوی وویل چي زموږ ټول اموال د مسلمانانو دي یوازي دي موږ ته زموږ ښځي او عیال په لاس راکړل سي، نو علیه الصلوة والسلام دا خبره ومنل او قتل یې نه کړه او امر یې کړه چي له مدینې څخه دي ووزي، درې ورځي وروسته دوی ووتل او ازرعات ته ولاړه، تاریخ دا واقعه د شنبې په ورځ د شوال په میاشت کي سنه (۲ هـ) چي د علیه الصلوة والسلام شل (۲۰) میاشتي د هجرت تېري سوي وې، او د دوی په کورو کي ډېره سلاح او آلات د زرګری پیدا سوه او علیه الصلوة والسلام خمس څني واخستی او څلور خمس یې پر اصحابو وویشل، او په سورة المائدة کي هم دا قصه ذکر کړل سوې ده.

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾

دوی لره دی عذاب درد ورکونکی، یعني دوزخ.

كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ

دوی د شیطان په مثال دي (یعني منافقین عبد الله بن ابی بن سلول واشباهه في اغترار الیهود چي دوی به باعثه کول یهودان پر جنګ د علیه الصلوة والسلام او د مؤمنانو "کمثل الشیطان" خبر د مبتداء محذوفي دی) کله چي شیطان وویل انسان ته چي کافر سه، چي هغه به کافر سو شیطان به ورته وویل زه بېزاره یم له تا څخه.

درویش وایي: چي پر تقدیر مذکور له شیطان څخه مراد عبد الله بن ابی بن سلول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي او له انسان څخه مراد جنس دی چې يهودان د بني النضير وه، او د کفر څخه مراد جنګ د عليه الصلوٰة والسلام سره دی چې بني النضير يې په جنګ اخته کړه عبد الله بن ابی و اصحابه څني بېزاره سوه يعني بني النضير يې خالي لاس پرېښوول، لکن داسي شان نزول د وروسته ايت سره سمون نه خوري يعني اني اخاف رب العالمين ولي ابن ابی خو دا خبره نه وه کړې و بني النضير ته، والجمهور على ما قال العلامة البغدادي رح چې مراد له انسان څخه جنس انسان دی او جنس شيطان دی، نو د شيطان بېزاري په ورځ د قيامت ده وهو الاوفق بظاهر قوله تعالى اني اخاف رب العالمين، ولي دا وينا شيطان کوي په ورځ د قيامت او بعض مفسرين وايي چې مراد له شيطان څخه ابليس دی چې په صورت د انسان يې و ابو جهل عليهما اللعنة ته وويل او لاس يې په لاس کي د ابو جهل ورکړی يعني په غزاء کي د بدر او ابليس داسي ورته وويل لا غالب لكم اليوم من الناس واني جار لكم (زه ستاسي سره ملګری يم) چې جنګ جوړ سو او ملائکي نازلي سوې او شيطان وليدلې، نو لاس يې د ابو جهل د لاسه څخه کش کړی او داسي يې ورته وويل زه بېزاره يم له تاسي څخه اني ارى ما لا ترون (زه وينم هغه څه چې تاسي يې نه وينئ يعني الملائكة) اني اخاف رب العالمين، يعني چې ملکي په امر د خدای پر ما حمله ونه کړي.

سوال: مظهري رح وايي چې بېره د خدای ج په شيطان کي خو نسته، نو څرنګه شيطان ورته وويل اني اخاف رب العالمين؟

ځواب: شيطان چې ملکي وليدلې لکه د مخه چې تېره سوه اني ارى ما لا ترون طبعًا وبېرېدی له قتل څخه په دنيا کي فافهم.

حکاية: درويش وايي: چې البغوي رح وايي روى عطاء وغيره عن ابن عباس رض چې يو راهب ؤ (راهب د نصارىٰ غټ صوفي ته وايي) چې نوم يې برصيصا ؤ په زمانه کي د فترة (هغه زمانه چې د عيسىٰ عليه السلام او د رسول الله ﷺ په ميانځ کي وه) چې دا صوفي عبادت کاوه په صومعه کي (يعني خلوت خانه) او ويا کاله لم يعص الله طرف عين (يو چشم زدن) پر ابليس دا اغواء سخته سوه هيڅ حيله يې نه سوای ورته کولای، نو يوه ورځ يې مردة الشياطين يعني سخت دريزه د خپل اولاد سره راجمع کړه نو يې ورته وويل چې په تاسي کي داسي څوک نسته چې د برصيصا کار ورو کړي، د شيطان په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اولاد کې يو په نامه د الابيض ؤ چې هغه به د اولياء الله الکاملين او د انبياء د اغوا لپاره ؤ، دا هغه شيطان ؤ چې عليه الصلوة و السلام ته په صورت کې د جبرئيل راغلی ؤ چې وسوسه ورو اچوي په دې وخت کې جبرئيل راغلی په وزريې وواهه د هند په پای کې يې وغورځاوه، نو دې الابيض د برصيصا د اغوا ضمانت پر غاړه واخستی نو ځان يې په صورت د رهبانو مابين د سرو خرايه و صومعه ته د برصيصا راغلی ورناره يې کړه يا برصيصا، هغه يې نه ورته کاوه، د برصيصا دا عادت ؤ چې لس ورځې به يې متصل لمونځ کاوه او په لس ورځې يې روژه ماتول، نو الابيض چې دا وليده چې برصيصا خو جواب نه ورکوي نو د برصيصا تر صومعې لاندې يې عبادت شروع کړې برصيصا چې به هر وخت وکتل تر صومعې لاندې به يې الابيض پر لمانځه وليدی په ښه هيئت کې من هيئة الرهبان، نو برصيصا چې دده حال وليدی نو پښېمانه سو چې تا ولې دده ته اجازه نه کړه ور اخير برصيصا ورناره کړه چې تا ماته د مخه ناره وکړه زه په عبادت مشغول وم چې جواب مې درته کړی، نو اوس زه درته وايم چې ستا څه کار ؤ، الابيض ورته وويل چې زما دا کار ؤ چې ستا سره په صومعه کې عبادت وکړم او ستا د عبادت اداب به زده کړم او ستا له علم څخه به استفاده وکړم، او دواړه به پر عبادت د خدای سره جمع يو ته به ماته دعاء کوې زه به تاته، برصيصا ورته وويل: اني لفي شغل عنک فان کنت مؤمنًا فان الله سيجعل لک فيما ادعوا للمؤمنين نصيبًا ان استجاب لي (ترجمه برصيصا ورته وويل چې زه مشغول په عبادت سره يم د تا څخه يعني ستا سره ملاقات نه کوم که ته مؤمن يې نو په هغه دعاء کې چې زه يې مؤمنانو ته کوم تاته به هم خدای برخه پکښې درکړي که زما دعاء قبوله سوه) بيا برصيصا څلوېښت ورځې پر خپل لمانځه ودرېدی و ترک الابيض، نو الابيض دده تر صومعه لاندې پر لمانځه ودرېدی نو برصيصا څلوېښت ورځې نه ورته کتل څلوېښت ورځې وروسته چې يې ورته وکتل الابيض پر لمانځه ولاړ ؤ برصيصا چې دده دا ډېر اجتهاد په عبادت کې وليدی بيا يې ورته وويل چې ستا څه کار دی الابيض ورپورته سو يو کال يې عبادت ورسره وکړی، لکن الابيض په څلوېښت ورځې کې يو وار روژه ماتول او پر لمانځه به تر څلوېښت ورځې بالاړ ؤ او ګاهې به يې اتيا ورځو ته ورساوه، برصيصا چې د الابيض عبادت وليدی خپل عبادت ډېر کم ورته معلوم سو، کال چې تېر سو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الابیض ودہ تہ وویل چي ماته رخصت راکړه زه در څخه ځم زما بل ملګری چي هغه اشد اجتهاداً تر هغه چي تا زما څخه ولیدی الابیض ورته وویل چي موږ ته ستا لوی اجتهاد خلګو را رسولی ؤ لکن ته هغو نه نه یې، نو برصیصا ته د الابیض جلا والی ډېر سخت پرېوتی په سبب د هغه چي برصیصا دده شدة اجتهاد په عبادت کي ولیدی لکن د الابیض ومفارقت ته سر ګرم ؤ مګر دا یې برصیصا ته وویل چي زما څو دعاګاني زده دي چي هغه تا له خیر دي تر دې عبادت ستا چي په هغو دعاؤ کي خدای شفا ورکوي مریضانو ته او چي د جنیاتو مرض یې وي یعني پیرانان یې نسي هغه هم په جوړېږي، برصیصا ورته وویل چي دا منصب خو زما خوښ نه دی ولي زه په خپل ځان اخته یم یعني په عبادت د خدای که خلګ په دې خبر سي ما له خپل عبادت څخه باسي، خو الابیض په ده بخت ؤ چي زده خو یې کړه بیا یې پرچا مه کوه، خو خیر هغه دعا هر څه چي وه الابیض و برصیصا ته وروښوول، نو الابیض و ابلیس ته ورغلی فقال والله اهلکت الرجل، وروسته الابیض یو سړي ته ورغلی خپه یې کړی و قریبانو ته د هغه سړي ورغلی په صورت د یو طبیب نو قریبانو ته د هغه یې وویل چي دا ستاسي د قریب علاج به زه دروښیم هغو ورته وویل نعم، ده ورته وویل چي پر دې سړي یو قوي جن مسلط دی ابیض ورته وویل چي زما خو په طاقت نه ده پوره مقابله د جن سره د قریب ستاسي لکن سړی به دروښیم چي برصیصا دی چي د هغه اسم اعظم زده دی چي په هغه سره څوک خواست وکړي و خدای ته خواست یې قبلېږي، نو هغو یه دا سړی برصیصا ته وروستی هغه چي په هغو کلماتو چي الابیض وروښوولي وې دم پر وکړی هغه سړی به جوړ سو، خو د الابیض دا کار ؤ دا سړی خپه کړه هغه سړی خپه کړ داو بیرته به یې حواله پر برصیصا ورکوله او برصیصا چي به دم پر وکړی هغه سړی به جوړ سو واشتهر ذالک في الناس ثم وثم، اخیر الامر الابیض ورغلی یوې ښائسته پیغلي ته من بنات الملوک بني اسرائیل چي هغې پیغلي درې وروڼه درلوده چي پلار یې بادشاه ؤ د بني اسرائیلو چي هغه مړ سوی ؤ او پر ځای یې خپل ورور خلیفه کړی ؤ چي د پیغلي او د وروڼه یې اکا ؤ، نو الابیض ورغلی دا جاریه یې ډېره سخته خپه کړه او بیا په صورت د یو طبیب ورغلی او وروڼه د نجلۍ یې وویل چي نجلۍ خو پیریان لري زما خو څه له طاقته نه ده پوره ولي چي ددې جن پر ما غښتلی دی ورېولئ برصیصا ته حتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي هغه دم پرو کړي جوړه به يې کور ته راولي چي هوري يې پېراتان ونسي، د نجلۍ ورونو ورته وويل چي كيف ينجينا الى هذا وهو اعظم شانا من هذا (يعني چي برصيصا به زموږ خبره قبوله کړي هغه د لوی شان زاهد سړی دی) الابيض ورته وويل چي دده تر صومعه لاندي نژدې يوه صومعه خپل د ځان لپاره جوړه کړئ چي برصيصا يې ويني نو که برصيصا قبوله کړه او دم يې وکړی خو فبها ونعمت، او که يې نه کړه قبوله مانبام يا د ورځي تاسي ځني راځئ و برصيصا ته ووايا ست هي امانة عندك فاحتسب بها د جنلۍ. ورونو چي څو زمانه وروسته برصيصا ته مراجعه وکړه هغه انکار وکړی، نو دوی هم صومعې ته د برصیصا نژدې صومعه د خپل خور لپاره جوړه کړه چي برصيصا ليدله، نو دی چي له عبادت څخه فارغ سو پيغله او ددې جمال يې وليدل، نو دده په زړه کي لويه خبره ورو ګرځېدل يعني که دا وار پېرانانو ونيول دا خو په ځان نه پوهېږي ورځې به زنې به ورسره کوې، نو ابيض ورغلی پيغله يې خپه کړه برصيصا نژدې ورغلی دم يې پرو کړی نجلۍ ښه سوه، او س نو برصيصا د نژدې څخه د نجلۍ ښائست وليدی او پر عاشق سو، خير دی بيرته خپل صومعې ته راغلی او پر لمانځه ودرېدی، بيا شيطان ورته راغلی نجلۍ يې ښه خپه کړه حتی چي پرتوګ يې ځني وکښې نو شيطان د برصيصا په زړه کي دا وروا چول چي ورسره زنې ورسره وکړه بيا به توبه وکاږې "والله تعالى غفار الذنوب والخطايا" خير شيطان وار په وار وسوسه ورزياتوله حتی چي وطي يې په ماړه نس ورسره وکړې، نو د برصيصا دا عادت وګرځېدی چي دا ښځه به پېرانانو ونيول ده به وطي ورسره کولې حتی چي حمل يې واخستی او حمل يې برصيصا ته ښکاره سو، بيا شيطان وسوسه ورواچول ويحک يا برصيصا ځان دي رسوا کړی، که د نجلۍ ورونه خبر سي تا به په قتل ورسوي، نو ښه دا ده چي مړه يې کړه بيا به توبه وکاږې او که يې ورڼه راغله ورته وبه وايم ذهب بها شيطانها زما په قدت نه وه ورسره پوره، حتی بل وار چي پېرانانو ونيول قتل يې کړه او په يو جانب کي د غره يې دفن کړه ده چي د شپې ښځول شيطان راغلی ددې د پرتاګه يوه پايڅه يې د قبر دباندي را ويستل يعني پايڅه تر خاورو دباندي وه، برصيصا بيرته خپل صومعه ته ولاړی پر لمانځه ودرېدی، نو هغه وُ چي د نجلۍ ورونه راغله د خور د پوښتنې لپاره، فقالوا يا برصيصا ما فعلت باختنا؟ ده ورته وويل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نجلۍ ته پیرۍ راغلی راځخه بویې تله زما د طاقته نه وه ورسره پوره، نو د هغو زړو ته ولو پدل ولاړه تپوله په غم اخته وه مانښام چې بیده سوه هغه مشر یې خوب ولیدی یعنی شیطان په خوب کې ورته راغلی چې ستا په خور خو برصیصا داسي او داسي کړي دي قصه د زنی او حمل او قتل او د دفن یې ټوله ورته وکړه وروړ چې یې راویښ سو د ځان سره یې وویل چې دا شیطاني خوب دی برصیصا و ګوره دا کارونه و ګوره چې دی به یې کوي نو دریم شپه پر له پسې یې دا خوب ولیدی هر وار به هغه پر حلم حمل کاوه چې شیطاني خوب دی، او بیا یې هغه میانه وروړ ته په خوب کې شیطان ورغلی او د خور او د برصیصا ټوله احوال یې ورته بیان کړی دریم شپه هغه پاک په و نه کړی یعنی پر حلم یعنی شیطاني خوب یې حمل کړی بیا شیطان و هغه کشر وروړ ته ورغلی دریم شپه او د خوب حال یې ټول ورته بیان کړی، دې کشر وروړ ورته وویل چې ما خو هم ورته خوب لیدلی دی، سهار بیا وړ روان سوه برصیصا ته یې وویل چې ما فعلت باختنا؟ تا زموږ په خور څه وکړه، برصیصا په غضب ورته وویل چې ما هغه بله ورځ چې تاسي راغلي واست نه مي درته وویل چې هغه خپل شیطان بو تله ګویا تاسي پر ما تهمت لګوئ، فقالوا والله ما نتهمک، قسم په خدای موږ پر تا تهمت نه وایو او ځني وشرمېدل ولاړه، نو شیطان په رنګ د سړي ورته راغلی ورته وېې ویل ویحکم چې ستاسي خور برصیصا وروسته تر زنی او حمل قتل کړې ده او بیا یې ښخه کړې ده في موضوع کذا او یوه پایڅه د دې تر خاورو دباندي ده، ورونه یې ور راهي سول، فرؤا اختهم کما رؤا في النوم یا ابیض پر رنګ د سړي ورته ویلي وه، نو ټوله ځوانان او درې وروڼه او نور ډېر خلک ورسره وه او کولنګان او تبران ورسره وه د برصیصا صومعه یې ونړول دی یې راکښته کړی لاسونه یې تر شا وروتړل او ملک ته یې ور وستوی، وروسته تر ضرب و کوب برصیصا پر خپل ټولو افعالو اقرار وکړی نو ملک امر وکړی چې دی دې په دار سي او قتل دې سي، نو چې دار ته یې پورته کاوه ابیض ځان ورښکاره کړی وقال یا برصیصا ما پېژنې؟ ده ورته وویل یا نه دې پېژنم، ابیض ورته وویل چې هغه اندیوال یم چې تا ته مې دعاوې دروښوولې، ابیض ورته وویل چې ستا خو دا ګمان وُ چې زه اعبد د بني اسرائیلو یم ته د خدای څخه نه شرمېدلې چې تا دا کارونه وکړه- نو شیطان ډېر پېغورونه ورکړه برصیصا ورته وویل چې اوس په یوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوی زما اطاعت وکړه زه به دې له قتل څخه خلاص کړم زه به داسي وکړم چي په خپلو دعاؤ سره به د حاضرينو خلکو پر سترګو پرده واچوم تا به څني پورته کړم، برصيصا ورته وويل چي هغه خصلت څه شی دی چي ته ما په خلاصوې؟ ابيض ورته وويل چي ما ته سجده وکړه، برصيصا ورته وويل چي کوم يې، نو فسجد له. فقال الابيض هذا الذي اردت منک صار عاقبة امرک الی ان کفرت بربک انا بريئ منک.

درويش وايي: چي روح المعاني دا قيصه د برصيصا مختصره راوړې ده په داسي عبارت سره اخرج احمد في الزهد، والبخاري في تاريخه، والبيهقي في شعب الايمان والحاکم وصححه وغيرهم عن علي ﷺ ان رجلاً کان يتعبد في صومعته وان امرئة کان لها ثلثة اخوة فعرض لها شيئ (ای اخذتها الجبن کمامر) فاتوا بها (ورونو و برصيصا ته راوستله د دم دعاء لپاره) نو د برصيصا په زړه کي شيطان ورواچول زنی يې ورسره وکړه او ښځي حمل واخستی بيا شيطان په زړه کي ورواچول چي رسوا کېږې قتل يې کړه، ولي که يې ورونه په دې خبر سوه ته رسوا کېږې نو يې مړه کړه او دفن يې کړه کمامر، نو ورونه يې راغله د خور په طلب پسي فبيناهم يمشون به (يعني ورونو د ښځي دی راهي کړی وُ چي حکومت ته يې په لاس ورکړي) نو شيطان ورته راغلی چي ووايه چي ما دا کار يعني زنی وکړه بيا يې قتل وتا ته ښائسته کړی وُ بيا شيطان ورته وويل چي ما ته سجده وکړه زه دي خلاصوم برصيصا هم سجده ورته وکړه، وقال انا بريئ منک، روح المعاني وايي چي د دې قصې بيان تر دې بيان يعني چي ما وکړی اکثر تفصيلاً علماؤ کړی دی.

درويش وايي: چي اکثر تفصيلاً هغهٔ چي د مخه تاسي واورېدی وهي من القصص المشهورة، فقير وايي چي قصه د برصيصا او د الابيض تو له روح البيان په فارسي ژباړه مفصله راوړې ده په اخير کي يې داسي بيتونه ويلي دي:

خيالات نادان خلوت نشين ..... بهم بر کند عاقبت کفر و دين
پی نيک مردان ببايد شتافت ..... که هر که اين سعادت طلب کرد ويافت
وليکن تو دنبال ديوی خسی ..... ندانم که در صالحان کی رسی
اگر دست بايد کز وبر خوری ..... نبايد که فرمان دشمن بری

او دا قصه حسين کاشفيؒ په تفسير حسيني کي چي فارسي معتبر کتاب دی راوړې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي ابن عطية وايي چي دا قصه ضعيفه ده بلکې دروا غ ده، زه عبيد الله حيران يم چي ابن عطيه تر بغوي او روح المعاني او روح البيان او مظهري او تفسير حسيني لوړ ځان بولي او که څرنګه. والله اعلم بالصواب في کل باب.

إِنِّيٓ أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾

زه بېرېږم له رب څخه د ټولو جهانو

فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيهَا ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٧﴾

نو سو عاقبت د دواړو (اى الانسان والشيطان) چي دواړه به په اور کي وي يعني جهنم، او همېشه په اور کي او دغه جزاء د ظالمانو اى الکافرين.

يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللهَ

اى هغه کسانو چي ايمان مو راوړى دى اى ايمانًا خالصًا من النفاق لکه ايمان د عبد الله ابن ابى بن سلول واصحابه "اتقوا الله" د خداى څخه وبېرېږئ يعني په هر کار کي چي تاسي يې کوئ يا يې پرېږدئ، او ځان وساتئ له عصيان څخه په طاعت سره او ځان و ساتئ له کفران څخه د نعمت د خداى په شکر سره او له نسيان څخه د خداى په ذکر سره.

وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ

او هر نفس ته کتل په کار دي چي څه عمل يې کړى دى د سبا ورځي لپاره، مراد له سبا څخه ورځ د قيامت ده.

پوښتنه: چي ورځ د قيامت يې سبا ورځ وبلل او سره ددې چي سبا ورځ په عرف کي هغه ورځي ته وايي چي شپه يې تر مابين تېره سي؟

ځواب: مبالغة في غاية قربه ولهذا قيل ما اقرب ما هو آت وما ابعد ما هو فات ومعنى چي هر سړى دي په عملو کي فکر وکړي که عمل صالح ؤ چي ده ته نجات ورکړي له اور څخه پر هغه عمل دى دوام وکړي او که يې عمل بد ؤ چي سبب د هلاک په ورځ کي د قيامت له هغه عمل څخه دي توبه وکاږي او د خداى څخه دي طلب د بخښني يعني استغفر الله واتوب اليه، په حديث شريف کي راغلي دي الدنيا يوم ولنا فيه صوم اى عن المحارم والمعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي بعض مفسرين وايي چي جمله "و اتقوا الله" تاکيد ده د اول اتقوا الله لپاره، او يا اول اتقوا الله لپاره د اداء د واجباتو دی، او دوهم اتقوا الله لپاره د ترک د محرماتو دی.

وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾

په تحقيق خدای خبر دی په عمل ستاسي، که کلمة د ما مصدريه وي، او که کلمه د ما موصوله وي نو عائد و ما ته محذوف دی ای بما تعملونه، په هر صورت دا ايت لکه وعيد پر معاصيو.

درويش وايي: چي ولنعم ما قال الشاعر في باب التقوى:

بقدر الکد تکتسب المعالي...... ومن طلب العلی سهر الليالی

تروم العز ثم تنام ليلاً...... يغوص البحر من طلب اللآلی

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ

تاسي مه کرځئ ايها المؤمنون لکه هغه کسان چي هېر کړی يې ؤ خدای (بحذف المضاف ای حقوقه، کما ورد وما قدروا الله حق قدره، بعض مفسرين وايي چي د موصول څخه منافقان او يهودان مراد دي بقرينة المقام، نو موصول لپاره د عهد دی، او بعض وايي چي له موصول څخه مراد جنس کافران دي، ولي چي دوی ټول په نسوا الله کي سره شريکان دي) "فأنساهم انفسهم" الفاء للسببية يعني په سبب د نسيان د دوی حقوق الله خدای له دوی څخه هېره کړه حظوظ انفسهم (بحذف المضاف) حتی لم يقدموا لها (خپلو ځانو) خيراً.

أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿١٩﴾

هم دغه کسان دي کامل فاسقان.

لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ

مراد له اصحاب النار څخه هغه کسان دي چي خدای عزوجل يې هېر کړی ؤ او خپل ځانونه يې سپک استعمال کړي وه فاستحقوا للنار المؤبدة (واصحاب الجنة) چي له خدايه بېرېدل او ځانونه يې په ايمان او اعمال صالحه سره ښائسته کړي وه فاستحقوا الجنة المؤبدة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: اصحاب النار يې ولي مقدم راوړه پر اصحاب الجنة؟

ځواب: لكثرة اصحاب النار في كل امة، او يا له دې سببه چي تنبيه پر دې وكړي چي سبب د عدم استواء اصحاب النار دي لا مقابليهم اى اصحاب الجنة.

اَصۡحٰبُ الۡجَنَّةِ هُمُ الۡفَآئِزُوۡنَ ﴿۲۰﴾

اصحاب د جنت دوى دي كامياب په نعيم مقيم سره چي په جنتو كي ابد الآباد موجود دي.

لَوۡ اَنۡزَلۡنَا هٰذَا الۡقُرۡاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيۡتَهٗ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنۡ خَشۡيَةِ اللّٰهِ ؕ

كه موږ نازل كړى واى دغه قرآن (اى العظيم الشان) عليكم ايها الناس پر غره باندي سره د كمال د صورت د غره په قوت كي.

پوه سه: چي دا يو تمثيل د عظمت د قرآن عزيز دى يعني كه په غره كي دا تميز موجود واى د ېيري د خداى مع صلابته چي زه به حق د خداى نه كړم پر ځاى په تعظيم كي د قرآن ټوټه ټوټه به سوي واى، او كافران پوهيږي د قرآن په معنى و مع ذالک يعرض عنه كانهم لم يسمعوا، نو د كفارو زړونه سخت دي تر غره.

درويش وايي: چي بعض مفسرين دا ايت پر ظاهر حمل كوي، دوى وايي چي غرونه كه څه هم جمادات دي عديم الشعور دي ظاهرًا لكن نسبت و خالق ته د دوى ذات شعور دى او ذات خشية دى، كريمه: وان منها (اى الاحجار) لما يهبط من خشية الله، او رسول اللهﷺ ويلي دي چي صحيح حديث دى چي يو غر و بل غره ته ور ناري كړي هل مر بک احد يذكر الله فان قال نعم استبشر الى اخير الحديث.

وَتِلۡكَ الۡاَمۡثَالُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُوۡنَ ﴿۲۱﴾

او دا مثالونه دي (اى الآيات القرآنية) نضربها اى نبينها خلكو ته مع فهمهم بمعانيها د دې لپاره چي دوى فكر پكښې وكړي او ايمان پر راوړي او عمل په آياتو د قرآن وكړي، په دې آيت كي تنبيه پر دې ده چي زړونه د كافرانو اشد قسوة دي من الاحجار، وفي الحديث الصحيح قال رسول اللهﷺ اعطوا اعينكم حظها من العبادة (ور كړئ و سترګو ته برخه د دوى په عبادت كي) قالوا ما حظها من العبادة يا رسول الله؟ قال انظر في القرآن مع التفكر في معانيه والاعتبار بقصصه وامثاله يعنى العبرة منها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: فقهاء وايي چې د يو سړي چې مثلاً يو سورت د قرآن ياد وي، نو چې به ياد يې ووايي افضله ده او که په قرآن مجيد کې يې وظيفه وکړي؟ نو دوی وايي چې په مصحف شريف کې افضله ده؛ ولې مصحف شريف چې په لاس کې يې وي د لاس عبادت دی حتی که سړی داسي وي چې د قرآن مبارک توري نسي ويلای او را اخلي يې ورته ګوري او ګوتې پر تورو تېروي خدای عزوجل ثواب د تلاوت ورکوي.

هُوَ اللّٰهُ الَّذِيْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿۲۲﴾

خدای عزوجل هغه ذات دی چې نسته معبود بالحق پرته ده چې عالم دی پر غيب يعني د خلګو څخه او حاضرو خلګو ته، ما معبود بالحق ووايه له دې سببه چې معبود بالباطل خو نهايت ډېر دي کاصنام المشرکين.

فائده: لفظ د الله موضوع دی لپاره د ذات د خدای عزوجل چې موصوف دی په صفاتو د جمال او جلال وهو الاسم الاعظم عند المحققين او په قرآن کريم کې يا په اسم ظاهر يا په ضمير سره (۲۳۶۰) واره ذکر سوی دی فمن دوام علی ذکره بالعدد المذکور رئ من عجائب التاثيرات فافهم فانه سر خفي لکن يجب الدوام عليه في کل يوم او ليلة فتدبر.

"هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ" خدای رحمت کونکی دی په دنيا کې پر مؤمن او کافر باعطاء الرزق والمال والاولاد وغير ذالک، او رحيم دی په آخرت کې يوازې پر مؤمنانو بالجنة ونعيمها وهذا معنی قولهم يا رحمن الدنيا ورحيم الآخرة ولهذا قال السعدي الشيرازي قدس سره:

اديم زمين سفره عام اوست .... بدين خوان يغما چه دشمن چه دوست
ای کريمی که از خزانه غيب .... دشمنان را وظيفه خور داری
دوستان را کجا کنی محروم .... تو که با دشمنان نظر داری

پوه سه: چې روح المعاني داسې ترجمه د مجموع رحمٰن رحيم کړې ده برحمة تليق بذاته سبحانه وتعالی، وروسته يې ويلي دي چې تاويلات که څه هم علماء اجلاء من الماتريدية والاشاعرة کړي دي لاتحتاج اليها کما حقق في التميز وغيره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هُوَ اللّٰهُ الَّذِي لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ

پوښتنه: دا عبارت خو دمخه عنقریب تیر سو، نو د تکرار سبب یې څه دی؟

ځواب: روح المعاني وایي کرره لابراز کمال الاعتناء بامر التوحید انتهی.

درویش وایي: چي بېله توحید ظاهري او باطني هیڅ عمل د خیر په کار نه دی.
یعني که توحید ظاهري نه وي لکه اعمال د مشرک چي کار ونه د خیر کوي مثلاً و فقیر او مسکین ته ډوډۍ یا نوره مرسته ورسره کوي په آخرت په ښه نه ورځي، لکه یو سړی چي په کامل خشوع او خضوع او تعدیل الارکان سره لمونځ وکړي لکن اودس یې نه وي په کار نه دی.

درویش وایي: چي قید د باطني ما ووایه عمل د خیر د مرائي یعني ریا کاره مي په خارج کړی.

حکایت: یو ریا کاره شیخ یا منافق ؤ چي مریدان یې هم درلوده، یو ډېر مالدار سړی په سبب ددې د ظاهري کار لیدلو څخه د هغه شیخ مرید سوی ؤ، نو رفته رفته رفت او آمد شروع سو، یوه ورځ مالدار مرید ورته وویل چي ننه شپه زما مېلمه یې سره د صاحب زاده یعني زوی، شیخ دعوت قبول کړی او سرمایه داره مرید ډېر فوق العادة خواړه په کور کي پر خپل کور والا باندي زېرمه کړي وه چي ننه شپه پیر صاحب زمونږ مېلمه دی باید ښه خواړه تیار کړئ، خیر ماښام چي پیر صاحب او زوی راغله او سترخوان هوار سو رقم رقم خواړه پر کنبېښول سوه، پیر صاحب یو څو ګولې د یو قسم خوړو څخه وخوړلې او داغه رنګه د بل قسم خوړو څخه یعني په محدود ډول یې وخوړلې، نو پیر صاحب تر شا سو ډوډۍ یې بس کړه، سرمایه دار مرید ورته وویل چي صاحب ډوډۍ دي ولي بس کړه؟ پیر صاحب ورته وویل چي ډېره ډوډۍ خوړل سړي ته ډېر خوب وروليي او د شپې زمونږ د وظائفو مانع ګرځي، هر څه ټینګار چي سرمایه داره مرید وکړی پیر صاحب انکار کاوه، او د پیر صاحب زوی په ماړه نس ډوډۍ وخوړل، سترخوان چي ټول سو مرید ورته وویل چي تیرګا به د ماخستن لمونځ موږ ته په دې مهمان خانه کي په جماعت راکوي، پیر صاحب دمخه سو جماعت پسي محدود نفر ودرېدل، سرمایه دار او د هغه مزدوران او د پیر صاحب زوی پسي ودرېدل، پیر صاحب په ډېره خشوع او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نهایت تعدیل الارکان لمونځ وکړی او یوازې دوه رکعته سنت یې وکړه وتریې و تهجد ته پریښول، خیر پیر صاحب د ځپل سرمایه دار مرید څخه رخصت واخستی دی او زوی یې کور ته راهي سوه، پیر صاحب چې کور ته ورغلی ماینې ته یې وویل چې سترخوان راواخله ډېر وږی یم. ماینې یې ورته وویل چې د مهمانی څخه څرنګه وږی راغلې هورې به دې ځان ښه موړ کړی وای، پیر صاحب پر ماینې منت وکړی چې څرنګه ناپوه یې، که ما هورې ځان موړ کړی وای د سرمایه داره مرید زما څخه عقیده اوښته چې دا څرنګه ښېتور پیر دی، خیر ماینې یې وچه ډوډۍ راواخستل، پیر صاحب د اوبو په کومک ځان تر پېزې په موړ کړی، زوی ورته ګوري، پیر صاحب چې له ډوډۍ څخه فارغه سو، زوې یې ورته وویل چې بابا لمونځ دې هم راوګرځوه، ولې تاخو کور داسي لمونځ نه کاوه لکه د سرمایه داره په کور کې چې دې وکړی، دا ؤ د ریاء کار بیان.

اَلْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ

"الملک" چې مالک د ټوله مخلوق دی خلقًا و ملکًا و عبیدًا "القدوس" چې پاک دی د هر عیب څخه البلیغ في النزاهة (په پاکۍ کې) عما لایلیق به تعالی "السلام" خاوند دی له هره عیبه په سلامتیا سره من کل نقص وآفة "المؤمن" قال ابن عباس رض الذي امن الناس من ظلمه (چې ښغمه کړې یې دې خلک له ظلم څخه) او امن من آمن به من العذاب فهو مشتق من الآمان ضد التخويف، وقیل المصدق لرسله بالمعجزات "المهیمن" چې شاهد دی بالعلم علی عباده في اعمالهم چې دې ته په عربې کې رقیب هم وایې، کذا قال ابن عباس رض ومجاهد وقتادة والسدي ومقاتل رح، وکذا قال في القاموس حیث قال چې مهیمن مشتق دی د همن څخه علی کذا اذا صار رقیبًا علیه حافظًا وکذا قال الخلیل النحوي وقال سعید بن المسیب والضحاک وابن کیسان هو اسم من اسماء الله تعالی في الکتب السماویة والله تعالی اعلم بتأویله.

درویش وایي: چې وهذا بعید جدًا لان لهذا الاسم الجلیل مادة في العربیة کمامر فلا اعتبار لرده الی الجهالة، وقال ابن زید معناه المصدق (یعني لرسله) بالمعجزات فهو راجع الی ماقیل قبل ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

"العزيز الجبار" غالب دی پر ما اراد ليس مانع لارادته او د الجبار ترجمه ابن عباس رض په العظيم سره کړې ده، وقال جبروت الله عظمته، نو پر دې تقدير اسم ذات دی، وقيل مشتق له جبر څخه په معنٰی د اصلاح لکه په دې محاوره کې جبرت العظم اذا اصلحت بعد الكسر چې په پښتو يې شکسته بند بولي، وفي الحديث معناه جابر العظيم الكسير، او السدي او مقاتل رح وايي چې د الجبار معنا دا ده چې مجبور کوي خلک پر ما اراد منهم، او بعض وايي چې معنا د الجبار القهار ده والله اعلم.

پوه سه: چې "المتكبر" له باب څخه د تفعل دی لپاره د مبالغة كما في خواص الابواب للشافية، و الكبر الكبرياء معناه الامتناع فمعناه الممتنع من كل مايوجب نقصًا او حاجة، وقيل ذو الكبرياء وهو الملك.

سُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴿٢٣﴾

مبراء او پاک دی خدای له هغه شيانو څخه چې څوک يې دده سره شريک بولي په ذات کې يا په صفاتو کې يا په عبادت کې.

هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ

خدای پيدا کونکی د مخلوقاتو دی على ما يقتضيه حكمه، كريمه: يخلقكم في بطون امهاتكم وخلقا من بعد خلق "البارئ" پيدا کونکی د اشياؤ دی بېله تفاوته څخه د اعضاء کې د هيڅ شي يعني له صورة څخه د انسانانو يا حيوانانو هر يو ته يې داسې اعضاء ورکړې دي چې دده بنيه سره مناب وي "المصور" قال البغوي رح المماثل للمخلوق بالعلامات التي يتميز بها بعضها عن بعض او صاحب الصحاح هم ورته معنی کړې ده، روح المعاني او مظهري وايي چې ما به الامتياز دوه قسمه دي يو محسوس دی چې خواص او عوام دواړه په پوهېږي ويدركه الانسان و كثير من الحيوانات كصورة الانسان والفرس والحمار بالمعاينة ومن هذا القسم الامتياز بين زيد وعمرو وغيرهما من افراد الانسان.

درويش وايي: چې په ټوله نړۍ کې څوک وګرځي دوه انسانان که څه هم من اب واحد وام واحدة وي بلا امتياز بوجه من الوجوه به نه کړې پيدا، وكذا افراد الفرس والحمار وغيرهما من الحيوانات، او بعض ما به الامتياز معقول چې خاص خلک په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهيږي كالصورة التي اختص به الانسان من العقل والادراک ومن العلم والجهل وغيرها، والى هذين الصورتين اشار الله تعالى بقوله خلقناكم ثم صورناكم، وقال خلقكم فاحسن صوركم وقال في اى صورة ما شاء ركبک الى غير ذالک.

"لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ" خداىٰ لره دي خاص ښه نومان (چي دا نومان نهه نيوي (۹۹) دي چي هر يو پر ښه معنىٰ دلالت كوي كما لايخفىٰ على من تفكر في معاني اسمائه عزوجل)

يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

تسبيح او تنزيه د خداى وايي له نقائصو څخه كالحدوث والشريک في الذات والصفات والعبادات.

درويش وايي: چي له تسبيح څخه د ټوله ما في السمٰوات والارض من ذوى العقول والجمادات چي تسبيح په قول ده او كه په حال ده او د علماء د ظاهر او اهل الله په منځ كي اختلاف په تفسير ايوبي كي مكرر تېر سوى دى فلا حاجة الى الاعادة.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۲۴﴾

ددې اسمين مباركين معنىٰ څو ځايه ذكر سوې ده. د معقل بن يسار ﷺ څخه روايت چي رسول الله ﷺ وويل چي كه څوک چي صباح سي درې واره داسي ووايي: اعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم، او وروسته درې ايته د اخير د سورة الحشر قرائت كړي وكل الله به سبعين الف ملک يصلون عليه (يعني دعاء ورته كوي) حتى يمسى چي ماښام كېږي فان مات في ذالک اليوم مات شهيدًا. او كه يې څوک د شپې ووايي هغه پر دغه قرار دى. رواه الترمذي.

درويش وايي: چي د تفسير څخه د سورة الحشر پر ځلور بجې د عصر په ورځ د چهار شنبې پر اته ويشت (۲۸) تخمينًا د ربيع الاول سنه (۱۴۳۳) هـ په خير او عافيت په توفيق د رب العزة فارغ سوم، ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله وصحبه البررة اجمعين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ المُمْتَحِنَةِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ثَلٰثَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

پوهه: چي مظهري وايي: سورة الممتحنة مكية دی، وهي ثلث عشرة آية وفيها ركوعان، او روح البيان وايي چي دا سورة مدنية دی، روح المعاني وايي واطلق ابن عباس وابن الزبير رضي الله عنهم القول بمدنيها، و ذكر بعضهم ان اولها نزل يوم فتح مكة فكونها مدنية اما من باب التغليب او مبني على ان المدني ما نزل بعد الهجرة ولو كان بمكة.

درويش وايي: چي دا قول د روح المعاني ښه محاكمه ده بين الفريقين، يعني بعض مفسرين يې مكي بولي لكه مظهري، او ځوک چي يې مدني بولي لكه روح البيان والله اعلم، ابن حجر وايي چي مشهوره په دې نامه كي فتح د حاء ده او بعض يې مكسور وايي. فعلى الاول صفة المرئة التي انزلت هذه السورة بسببها وعلى الثاني صفة د سورت دی لكه چي سورة البرائة ته چي سورة الفاتحة وايي وفي جمال القرآن نسمى ايضًا سورة الامتحان يې هم بولي.

درويش وايي: چي روايت كړی دی بغوي وغيره چي سارة مولاة ابي عمر بن صفي بن هاشم بن عبد المناف راغله د مكې ځخه و مدينې ته چي رسول الله ﷺ كارسازي يې كول لپاره د فتح د مكې. فقال رسول الله ﷺ ا مسلمة جئت (ايمان دی راوړی دی چي راغلې؟) قالت لا، قال مهاجرتا جئت (يا دي هجرت راكړی دی چي راغلې؟) قالت لا، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي نو د څه لپاره راغلې يې؟ دې ورته وويل چي تاسو زموږ اهل او قبيله او دوستان ياست، واحتجت حاجة شديدة فقدمت عليكم (نو تاسي ته راغلم چي تاسی پر ما مهرباني وكړئ او كالي او راحله راكړئ چي زه بېرته مكې ته ورسېږم) فقال اين انت من شبان مكة وكانت مغنية نائحة چېري ته له ځوانانو څخه د مكې يعني چي هغو خو ستا سره ډېري ځواني. كولې دا عليه الصلوة والسلام له دې جهته ورته وويل چي دې ښه غزلي ويلې او ښه اوازې وَ، او بل پر مړي بې ژړل چي نائحه يې بولي، دې ورته وويل چي زما څخه نه چا غزل غوښتې او نه نوحه، وروسته تر غزاء د بدر چي اوويا (٧٠) كسه مخور د اهل مكې پكښې ووژل سول او اوويا (٧٠) كسه يې بنديان كي ژوندي مدينې ته بوتله، نو عليه الصلوة والسلام بني المطلب او بني عبد المطلب ته په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تینګه وویل چي دې ښځي ته نفقه یعني نقود او کالي ورکړئ او مکې ته د رسېدو لپاره اوښ ور کړئ، هغو هم په دې کې پیمانه کومک ورسره وکړی، وروسته چي دا ښځه راهي کېدل مکې مکرمې ته حاطب بن ابی بلتعة و هغې ښځي ته یې وویل چي زما یو خط د مکې مشرانو ته رسوې، او حاطب و هغې ښځي ته لس دیناره ورکړه وکتب یعني د خط مضمون دا ؤ من ابن ابی بلتعة الی اهل مکة چي رسول اللهﷺ ستاسي سره د جنګ تیاري کوي یعني فتح د مکې خپل ځانونه تیار کړئ و جنګ ته، خیر ساره له مدینې څخه ووتل او د حاطب د جاسوسی خط ورسره ؤ، جبرئیلؑ راغلی رسول اللهﷺ ته یې د حاطب ټوله کارنامه یعني دده د خط و کفارو ته د مکې بیان کړه، نو علیه الصلوٰة والسلام، علي، عمار، زبیر، طلحة بن عبید الله، مقداد بن الاسود او مرثد الغنويؓ راوغوښتل او داسي یې ورته وویل چي پر آسانو سپاره سئ روضة خاخ (چي د یو ځای نوم دی بین مدینة والمکة) چي هورې یوه ښځه پر اوښ سپاره ده له هغې څخه کاغذ او مکتوب دی د حاطب بن ابی بلتعة و مشرکینو ته د مکې هغه خط څني واخلئ نور په دې کار مه لرئ، او که یې خط نه درکاوه فاضربوا عنقها، نو دا کسانؓ راهي سوه هر یو پر آس سپور ؤ حتی چي په هغه ځای کي چي علیه الصلوٰة والسلام ورښوولی ؤ ښځه یې لاندې کړه.

درویش وایي: وفیه معجزة لرسول اللهﷺ، نو دوی چي پسي ورسېده دوی هغې ښځي ته وویل چي راوباسه هغه کاغذ چي تا ته ابی بلتعة درکړی دی، دې ښځي قسم بالله ورته واخستی چي زما سره مکتوب د چا نسته، نو دوی ددې په کالو او غوټه کي وکتل هیڅ شی یې نه کړی پیدا، نو دوی اراده وکړه چي بېرته مدینې ته وګرځي، نو عليؓ وویل چي والله ما کذب رسول اللهﷺ، نو عليؓ توره راوکښل او ښځي ته یې وویل چي کاغذ راوکاږه یا به له تا څخه کالي کاږو او یا به دې سر په توره درېږې کوو، ښځي چي دا واورېده خوف یې په زړه کي پیدا سو، نو کاغذ یې د سر له کوڅیو څخه راوکښی چي د سر په وېښتانو کي یې پټ کړی ؤ (او په روایاتو کي راغلي دي چي د سروزني څخه یې راوکښ یعني د پرتوګ انښ سره یې یو ځای کړی ؤ، نو دوی ښځه خوشي کړه هیڅ یې نه ورته وویل ځکه چي رسول اللهﷺ داغسي ورته ویلي وه کمامر، نو خط چي یې ورته راوړی نو علیه الصلوٰة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حاطب بن ابی بلتعة را وغوښتی او ورته وه يې ويل چي دا مکتوب پېژنې؟ هغه ورته وويل نعم. فقال رسول اللهﷺ چي تاته څه باعث ؤ چي دا مکتوب دي کفارو ته د مکې ور واستاوه؟ قال حاطب ماکفرت منذ اسلمت وما غششتک (ما ستا سره خيانت نه دی کړی) منذ نصحتک (د هغه وخت څخه چي ما ستا سره بيعت کړی دی) ولا احببتهم منذ فارقتهم (او نه ما محبت کړی دی د کفارو سره د هغه وخته څخه چي له دوی څخه جلا سوم يعني في الدين) و لکن باعث د خط استولو دا دی چي هيڅ څوک د مهاجرينو څخه د مکې داسې نسته چي هغه دي په مکه قومي عزيزان نه لري چي هغه د کفارو د مکې د تجاوز څخه پر اقرباؤ د مهاجرينو نه منع کوي، وکنت غريبا فيهم (زه يو بې قومه سړی وم په مکه کي او زما اهل و عيال په مکه کي ؤ) نو زما په دې خط استولو کي مقصد دا ؤ چي اهل مکه به ما خپل همکار و بولي او زما پر اهل و عيال به تجاوز نه کوي، او زما دا ايمان ؤ چي خدای عزوجل پر اهل مکه باندي خپل عذاب نازلوي (يعني الفتح) وان کتابی لايغني عنهم من الله شيئا (چي زما خط و دوی ته فائده نه رسوي له عذاب څخه د خدای عزوجل (چي مراد ځني مغلوبيت دی) فصدقه رسول اللهﷺ (نو د ده د عذر تصديق عليه الصلوة والسلام وکړی) فقام عمر بن الخطابؓ دعني يا رسول الله اضرب عنق هذا المنافق (چي په توره سر ورکاټ کړم د دې منافق) فقال رسول اللهﷺ وما يدريک يا عمر لعل الله اطلع على اهل بدر فقال لهم اعملوا ما شئتم فقد غفرنا لکم (يعني حاطبؓ د غازيانو څخه د بدر دی، نو ته څه شي خبر کړې عمره چي شايد چي خدای دي په نظر د رحمت کتلي وي واهل بدر ته او دوی ته يې ويلي وي چي تاسي عمل کوئ ماشئتم ما تاسي ته بخښنه کړې ده ما فعلتم يعني بعد ذالک)

درويش وايي: چي په يوه روايت کي داسي راغلي دي: ففاضت عينا عمر، يعني د عمرؓ تر سترګو اوښکي را ايله سوې يعني و يې ژړل. فقال الله ورسوله أعلم، وفيه انزلت هذه السورة.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ

ای هغه کسانو چي ايمان مو راوړی دی تاسي مه ګرځوئ دښمنان زما او ستاسي دښمنان دوستان خپل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي لفظ د ''عدو'' که څه هم مفرد دی، لکن مراد ځني جنس دی نو ځکه يې ما ترجمه په جمع سره وکړه.

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ۚ يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ

تاسي اظهار د دوستی کوئ د دوی سره (مثلاً لکه چي حاطب دوی ته خط ور واستاوه کمامر) اول حال دا دی چي دوی کفر او انکار کوي په هغه شي چي تاسي ته راغلی دی (من الحق ای القرآن العزیز) دوی باسي رسول او تاسي له مکې څخه.

بوه سه: چي جمله د تلقون حال ده له فاعل څخه د لا تتخذوا یا صفت د اولیاء ده.

بوه سه: چي دا جمله ''یخرجون الرسول وایاکم'' حال ده له فاعل څخه د کفروا، یا استیناف دی لپاره د بیان د حال د دوی.

سوال: یخرجون خو مضارع ده یا لپاره د حال یا استقبال ده او سره ددې چي اخراج د رسول او مؤمنانو خو په ماضي کي ؤ؟

ځواب: مضارع لپاره د استحضار د قباحت ده د فعل د دوی یا لپاره د استحضار د حالت عجیبه د دوی.

پوښتنه: کفار د مکې خو رسول او مؤمنانو ته دا نه ویل چي تاسي ووزئ له مکې څخه بلکې منع کول یې، فکیف یصح نسبت الاخراج الی الکفار؟

ځواب: مراد له اخراج څخه باعث د اخراج او سبب د اخراج دی وهو الاذی للرسول والمؤمنین بالقول والفعل لا حقیقة الاخراج.

اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ۭ

''ان تؤمنوا'' ای بان تؤمنوا بتقدیر باء السببیة چي تاسي ایمان راوړی دی پر خدای چي رب ستاسي دی.

فائده: په دې عبارت قرآني کي تغلیب دی د مخاطب پر غائب ای الرسول والمؤمنین چي اسم ظاهر سره ذکر سوه، او التفات دی له تکلم څخه و غیبت ته حیث لم یقل بي لپاره د تنبیه پر دې چي موجب د ایمان ربوبیت او الوهیت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِي سَبِيلِي وَابْتِغَاءَ مَرْضَاتِي

که تاسي راوتلي یاست لپاره د جهاد (في سبیلي) زما په لار کي یعني دین الاسلام (وابتغاء مرضاتي) او لپاره د طلب د رضا ء زما (نو مرضات مصدر میمي دی)

پوه سه: چي جواب د شرط محذوف دی دل علیه لا تتخذوا والتقدیر ان کنتم الخ فلا تتخذوا هم آه.

تُسِرُّونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ

قال مقاتل" چي دا جمله بدل ده من تلقون الیهم څخه او مراد له مودة څخه نصیحت دی او یا دا جمله استیناف ده والمعنی چي هیڅ فائده نسته تاسي لره په پټولو کي د مؤدة د دوی سره او اخبار د علیه الصلوة والسلام او مؤمنانو دوي ته په پټه استولو کي.

وَأَنَا أَعْلَمُ بِمَا أَخْفَيْتُمْ وَمَا أَعْلَنْتُمْ

او خدای پاک وایي چي زه خبر یم په کامله وجه په هغو خبرو چي تاسي پټي رسوئ یا یې په ښکاره رسوئ دوی ته.

وَمَنْ يَفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ①

او څوک چي اظهار د مودة کوي د دوی سره.

پوه سه: چي سواء مصدر دی په معنی د مستوي او اضافت یې و سبیل ته اضافت دی و موصول ته ای السبیل المستوی ای طریق الهدی.

إِنْ يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَاءً

یعني که دوی تاسي ونیسي او پر تاسي غلبه پیدا کړي (في القاموس ثقفه کسمعه (یعني في الوزن والباب) صادفه (ورسره یو ځای سو) او اخذه او ظفر به او ادرکه (وهذا کلها یلیق ههنا) دوی ګرځي تاسي لره دښمنان (یعني لاینفعوکم القاء المؤدة الیکم چي تاسي کوله د دوی سره فائده یې وتاسي ته ونه کړه.

وَيَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوءِ وَوَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ ②

دوی چي تاسي دوستي ورسره کوله و بد غوښتو لاسونه وتاسي ته په داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شي سره چي تاسي به اچوي به غم كي په لاسو سره (كالقتل والضرب، او ژبي په بنكنځلو سره او په پيغورو دركولو سره) دوى به خوښه لري او تمنى به لري چي تاسي كافران واى (دا جمله بيان ده او دا د ماضي د دوى، يعني دوى به تر هر شي دمخه ستاسي كفر خوښوي)

لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ ۚ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ

تاسي ته هركز فائده نه رسوي قرابات ستاسي (دا تعميم دى) نه ستاسي اولاد (لفظ د اولاد نر او ښځي دواړو ته شامل دى او تر ارحامكم خاص دى) يعني هغه ارحام او اولاد چي دوى مشركان وي مثلاً و كنعان ته د خپل پلار نوح عليه السلام فائده نه رسيږي، او نه و آذر ته د خپل زوى ابراهيم عليه السلام فائده رسيږي. مفسرين وايي چي مراد هغه ارحام او اولاد دي چي تاسي د هغو لپاره موادة د مشركانو مختاره كړى ؤ لكه حاطب بن بلتعة چي مختاره كړى ؤ.

درويش وايي: وهذا اقق بالسياق لكن الاول اولى بعمومه

درويش وايي: چي د (يوم القيامة) په قيد سره رد دى د عذر د حاطب بن ابى بلتعة ونحو ذالک.

يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ۝٣

خداى جل جلاله به جلاوالى وكړي ستاسي تر منځ (يعني مؤمنان به جنت ته داخل كړي او مشركان به دوږخ ته، نو ولي تاسي دوستي او موالات كوى د مشركانو سره په دنيا كي چي په موجوده وخت كي حاطب بن بلتعه د مشركانو سره د مكې وصل كاوه كمامر، او يا معنى دا ده چي خداى جل جلاله به جلا كړي لشدة الهول والخوف، كريمه: يومئذ يفر المرء من اخيه وامه وابيه الى اخيره، كريمه: الاخلا، يومئذ اعداء الا المتقين (والله بما تعملون بصير) او خداى په ټولو عملو ستاسي خبر دى.

پوه سه: چي كلمه د ما يا مصدريه ده اى بعملكم، يا موصوله ده والعائد محذوف والتقدير بما تعملونه، وقد مر مرارًا فتذكر نو معنى د ايت او حاصل يې دا دى چي هر چا ته جزاء د ما عمل في الدنيا به وركړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ

په تحقيق تاسي لره سته ايها المؤمنون (اسوة) اى اقتداء (حسنة) ښه، په ابراهيم سره او هغه كسان چي دده سره دي، مراد د الذين څخه هغه كسان دي چي پر ابراهيم عليه السلام يې ايمان راوړى ؤ.

پوه سه: چي په نقل كي د قصه د ابراهيم عليه السلام تائيد دى پر مؤمنانو چي دوى بايد د كفارو سره موالات او دوستي ونه كړي لان الحب في الله والبغض في الله لويو اركانو څخه د ايمان دي.

فائده: حسنة اول صفت د اسوة دى او في ابراهيم يې صفت ثاني دى به تقدير د كائنة اى كائنة.

إِذْ قَالُوا۟ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ

كلمه د اذ ظرف دى او خبر د كان دى (هغه وخت چي وويل ابراهيم عليه السلام او مؤمنانو) خپل و قوم ته چي كافران وه، موږ بېزاره يو.

پوه سه: چي برءٰؤا جمع د بريئ ده لكه ظرفاء چي جمع د ظريف ده (منكم) له تاسي كافرانو څخه او د هغو شيانو څخه چي تاسي يې عبادت كوئ (يعني بتان) ماسوى د معبود بالحق.

پوه سه: چي كفر په حقيقت كي خو ضد د ايمان دى لكن دلته په معنى د تبرى دى يعني بېزاري دى.

وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا

او ظاهره ده زموږ او ستاسي تر منځ عداوة او بغض ترابده پوري.

حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ

تر هغه وخت پوري چي تاسي ايمان راوړى پر خداى يوازي يعني شركة الاصنام وغيرها به نه وي.

إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ

مگر نه دا خبره د ابراهيم و خپل پلار ته (چي نوم يې آذر ؤ) چي زه به طلب د بخښني كوم د خداى څخه ستا لپاره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي قتادهؒ وغيره وايي چي دا استثناء من قوله (اسوة حسنة) يعني په خبره کي ابراهيمؑ پلار کافر ته وکړه يعني لاستغفرن لک، اقتداء مه پسي کوی يعني کافر پلار وغيره ته دعاء د استغفار مه کوئ، او بيضاوي خبره د قتادة وغيره کړې ده يعني چي استثناء ده من قوله اسوة حسنة لکن مظهري دا خبره رد کړې ده، دی وايي چي اسوة خو نکرة دی دا نه ده معلومه چي مستثنی په اسوة حسنة کي داخله ده حتی چي استثناء متصل وګرځي او دا هم نه ده يقيني چي نه ده داخله حتی چي استثناء منقطع وګرځي، صاحب د تفسير بحر مواج وايي چي استثناء دلته د محذوف څخه ده تقديره واتبعوا اقوال ابراهيم (دا اقوال لفظ محذوف دی) الا قوله لابيه لاستغفرن لک آه.

درويش وايي: چي پر دې تقدير استثناء د قول ده يعني لاستغفرن لک من اقوال ابراهيم (چي محذوف دی) فالاستثناء متصل بلا ريبة.

فائده: په دې استثناء کي روح المعاني ډېري اوږدې خبري کړي دي لايناسب نقلها بالتفسير الايوبي لان مبناه على الاختصار مهما امکن دا دي هغه مرائي عالم کوي چي د بل کتاب يعني تفسير په ځان پوري تړي.

وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَيْءٍ

يعني ابراهيم (ؑ) چي پلار ته وويل چي لاستغفرن لک، وروسته يې دا خبره وکړه چي زما په طاقت کي نسته دفع د عذاب د خدای ﷻ له تاسي څخه هيڅ شی، يعني نور مي څه له وسه پوره نه دي يعني دفع عذاب الله عنک يعني که ته پر کفر مړ سې.

مسئلة: و کافر ته په ژوند کي د هغه دعاء د استغفار روا ده، په دې معنی نه چي سره د کفره دي تا خدای و بخښي، بلکې په دې معنی چي په تا کي دي خدای موجبات د استغفار پيدا کړي يعني الايمان ويدل عليه قوله وماکان استغفار ابراهيم لابيه الا موعدة وعدها اياه فلما تبين له، انه من اصحاب الجحيم (يعني مات على الکفر) تبرء منه (ځني بېزاره سو) يعني دعاء الاستغفار يې ده ته ترک کړه.

رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ۝

بوه سه: چي دا جمله په محل کي د نصب ده په تقدير د قول يعني ابراهيم و من معه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای رب زموږ پر تا توکل دی زموږ، دا قول متصل دی بما قبل الاستثناء ولې چې دا امر د خدای دی و مؤمنانو ته. تقدیره قولوا ربنا علیک توکلنا وترکنا موالات الکفار او د دوی څخه کومک غوښتل کمامر من حال حاطب بن بلتعه تفصیلاً.

"والیک المصیر" تقدیم د جار او مجرور پر عامل لپاره د اختصاص ده یعني خاص و تاته مو رجوع ده په ورځ د قیامت.

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا

("ربنا" نداء یعني اصل یې یاربنا ؤ مکرره کړه پر ربنا لپاره د تاکید او مناجات او استعطاف د خدای لاتجعلنا فتنة) یعني ځای د فتنة چې دوی رابانديٍ مسلط کړې نو موږ ته عذاب راکوې، نو دا به فتنه سې د دوی لپاره، ولې دوی به یقین وکړي که دغه مؤمنان پر حق دین وای نو ولې زموږ په لاس گرفتار کېده.

وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

او موږ ته و بخښې هغه گنهونه چې سبب د تسلیط د کافرانو وګرځېدی پر موږ، ته غالب یې مانع د مشیت دې نسته او په هر کار کې حکمت لرې، وروی عن علي رضي الله عنه شرف المرء بالعلم والادب لا بالاصل والنسب... بیت:

هنر بنمایی اگر داری نه گوهر .... گل از خار است ابراهیم زآذر

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ

کلمة اللام موطئة للقسم ای جواب القسم المحذوف او مخاطب په لکم سره مؤمنان د امت د علیه الصلوة والسلام دی، کریمه: بل نتبع ملة ابراهیم حنیفًا (فیهم) ای ابراهیم ومن آمن معه، یعني اقتداء ښه.

سوال: دا عبارت خو نژدې تېر سو، نو په تکرار کې یې څه فائده ده؟

ځواب: د تکریر فائده یې باعثه کول دي د مؤمنانو پر تاسي یعني اقتداء بابراهیم ولهذا اصدر بالقسم کمامر.

فائده: ابراهیم علیه السلام یو مقبول شخصیت ؤ حتی چې مشرکانو د مکې به هم ویل چې موږ پر ملة د ابراهیم یو او یهودانو به هم ویل او نصاری ؤ به هم دعوی د ابراهیمیت حتی چې خدای په بل ځای کې د قرآن دا بې ځایه دعوې د دوی رد کړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي، ماكان ابراهيم يهوديًا ولا نصرانيًا بل كان حنيفًا مسلمًا ولم يكن من المشركين.

پوه سه: چي دا عمومي دعاوي د ابراهيميت اثر د هغه دعاء د ابراهيم ده واجعل لي لسان صدق في العالمين (اى ذكرا حسنا)

لِّمَن كَانَ يَرْجُوا اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ

(يرجوا الله) اى لقايه وثوابه، او رجاء چي دلته به معنى د يقين ده او يقين لري پر راتگ د قيامت والثواب بالجنة والعقاب بالنار.

فائده: لمن كان بدل دى د من لكم څخه په دې ابدال سره اشاره وده ته ده چي ايمان د مؤمنانو يقتضي الاقتداء بابراهيم عليه السلام وتركه (اى الاقتداء به) يقتضي سوء العقيدة، ځکه وروسته خداى پاک داسي وويل.

وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ ۝

که څوک رو گرداني وکړي د ملة ابراهيم څخه چي ملة بر حق دى د ټولو انبياء عليهم السلام وروسته تر ده، په تحقيق خداى غني دى يعني محتاج نه دى د چا عبادت ته. بل عن كل شيئ بلکې منفعت د تاسي يعني اقتداء بالانبياء عليهم السلام فائدة راجع و اقتداء کونکي ته (الحميد) او محمود دى لاهل طاعته. قال البغوي خداى جل جلاله چي مؤمنان امر کړه په عداوت سره د کافرانو وعادى المؤمنون اقربائهم يعني الكافرين و اظهروا اى المؤمنون العداوة منهم والبرائة علم الله شدة وجد اى الهم بذالك اى بالعداوة و البرائة من اقاربهم الكافرين فانزل تسلية لهم اى للمؤمنين هذه الآية.

عَسَى اللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ الَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً

شايد چي خداى عزوجل پيدا کړي په مابين کي ستاسي ايها المؤمنون او په مابين د هغو کسانو چي تاسي عداوت ورسره کاوه له کفارو څخه محبت او دوستي دا وعده خداى پوره کړه فان هذه الآية نزلت قبل فتح مكة وبعد الفتح اسلم من كان بمكة من المشركين وصاروا اولياء المؤمنين او عداوت او برائت د دوى تر منځ قطع سو كان لم يكن من الامر الا من قتل يوم الفتح كالحويرث بن نفيل قتل كافرا وغيره.

پوښتنه: كلمة الذين عاديتم خو عام وه تقتضى مودة جميع الذين عاديتم او سره ددې چي د من عاديتم څخه ډېر کسان ووژل سو ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا قانون دی چي ګاهي عام ذکر سي مراد ځني خاص وي چنانچه ويل کيږي ما من عام الا وقد خص منه البعض (نسته داسي عام چي نه دي وي بعض الخاص له هغه ځنځه) او بل جواب دا دی چي ګاهي يو فعل مسند و تړوله قوم ته وي او سره ددې چي فاعل يې بعض وي لکه چي وايي: بنوا فلان قتلوا او قاتل يو وي، يا په دې قول کي د رب جليل په شان کي د قتل د اوښي د صالح ﷺ فكذبوه (اى صالح) فعقروها (اوښه يې قتل کړه) سره ددې چي قاتل د اوښي قدار بن سالف و من معه لا جميع قوم صالح.

سوال: قوله في الجواب الاول ما من عام الا وقد خص منه بعض، په دې عام کي نه جاري کيږي کل انسان ناطق (اى مدرک) نو به ګونګي سوال نه وارديږي، وکل حمار ناهق کي هم نه جاري کيږي؟

ځواب: دا قانون بناء پر عرف اکثر دی.

وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

او الله قادر دی (على ذالک اى القاء المودة او على كل شيئ) او خدای غفور او د لوی حلم ځښتن دی لما فرط من موالاتهم قبل النهي ولما بقى في قلوبهم ميل الرحم، بخاري په خپل سند د اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنهما ځنځه روايت کړی دی چي زما مور مديني ته راغله چي دا راغبه وه د اسلام ځنځه يعني مسلمانه نه وه، نو ما پوښتنه د نبي ﷺ ځنځه وکړه چي زه ددې سره وسيله رحمي وکړم؟ قال نعم، فانزل الله تعالى.

لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ

تاسي خدای نه منع کوي (يعني د وسيله رحمي او د قرابت پالني ځنځه) د هغو کسانو د قرابت پالني ځنځه چي ستاسي سره يې جنګ نه وي کړی په دين کي، او احمد او البزار والحاکم د عبد الله بن الزبير رضي الله عنه ځنځه روايت کړی دی چي راغله قتيلة بنت عبد العزى خپلي لور اسماء بنت ابى بكر په مدينه منوره کي او دا ښځه ابو بكر رضي الله عنه به جاهليت کي طلاقه کړې وه، نو دې قتيله ډيري هدايا د لور لپاره يعني اسماء بنت ابى بكر ته راوړي وې، نو لور يې منع وکړه له قبول ځنځه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هدايا ؤ ددې او دغه رنګه يې منع وکړه له ورتګ څخه د مور ددې و کور ته حتی چې اسماء ﷺ خپلي خور عائشې ﷺ څوک ور واستول چې ته د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه زما د مور په باره کې، نو علیه الصلوة والسلام دې ته ووېل یعني په وساطت د عائشې ﷺ چې هدایا قبولي کړه او مور دې کور ته پرېږده، فانزل الله تعالی لاینهاکم الله الی قوله تعالی.

وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ

او تاسي نه یاست ایستلي د خپلو کورو څخه چې مراد څني مشرکين د مکې دي يعني باعث د سبب ستاسي د وتلو نه ورګرځېدلي، د عنايت وجه داده چې کفارو د مکې خو دوی نه وه ويلي چې له مکې څخه ووزی لکن چونکه په ډکه پیمانه ازارونه يې مسلمانانو ته رسول چې مسلمانان يې و هجرت او جلا وطنی ته مجبوره کړل، نو ځکه نسبت د اخراج يې و کفارو ته وکړی.

اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا اِلَيْهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿۸﴾

چې تاسي احسان ورسره وکړئ قولاً په ښه راغلې سره وفعلاً به مهمان نوازی سره، قسط و عدل ته وايي یعني په نظر د عدالت ورته وګورئ یعني قریب يې و بولئ، د خدای پاک خوښ دي عدل کونکي خلک یعني که نر وي او که ښځي کما فیما نحن فیه.

پوه سه: چې ان تبرؤهم بدل اشتمال دی من الذین.

اِنَّمَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ قٰتَلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ

تاسي نه نهي کوي مګر هغه کسان چې ستاسي سره يې جنګ کاوه (وهم مشرکی مکة کما في بدر واحد) په دین کې د اسلام یعني په سبب د دین.

وَاَخْرَجُوْكُمْ مِّنْ دِيَارِكُمْ وَظٰهَرُوْا عَلٰٓى اِخْرَاجِكُمْ اَنْ تَوَلَّوْهُمْ

تاسي يې ایستلاست له کورو څخه یعني په مکه مکرمه کې وهم اهل مکة، او يو د بل سره به يې کومک کاوه ستاسي پر اخراج باندي، بعضو کوشش کاوه ستاسي پر اخراج باندي او بعضو به کومک کاوه د مجرمينو سره، چې تاسي موالات او دوستي ورسره کوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ان تولوهم بدل اشتمال دی له موصول څخه يعني انما ينهاكم سبحانه عن تتولوهم (چي محبت او دوستي ورسره کوی)

وَمَنۡ يَّتَوَلَّهُمۡ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝٩

نو دغه کسان چي موالات او دوستي کوي د ذکر سوو کسانو سره دوی دي ظالمان، کلمه د هم ضمير فصل دی لباره د حصر يا د ظالمون معنا داده چي پر خپلو ځانو ظلم کوي چي ځانونه و عذاب ته د خدای امادہ کوي، يا معنی چي ظلم په اصل کي ايښول د شي دي بې ځايه، دوی هم موالات بې ځايه کښېښو، ولي چي ځای د موالات مؤمنان وه دوی موالات د مشرکانو مختاره کړی.

فائده: دا ايت مفهوم مخالف نه لري چي له غير څخه د الذين قاتلوکم الخ د نورو کفارو سره موالات روا دی، ولي چي د اهل کفارو سره چي په وطن کي د مسلمانانو اوسېږي او جزيه ورکوي هم موالات نه دي روا لعموم قوله لا تتخذوا عدوي وعدوکم اولياء نو اهل ذمه خو هم د خدای او د مؤمنانو دښمنان دي وان لم يقاتلوهم، وقال الله تعالى لا تتخذوا اليهود و لا النصارى اولياء، دا هم عام دی يعني مثل د الذين قاتلوکم آه نه دی، ويقول رسول اللهﷺ المرء مع من احب (ای في القيامة) په حديث کي چي روايت يې بخاري او مسلم دواړو کړی دی راغلي دي چي په حديبيه کي چي په مابين کي د رسول اللهﷺ او د قريشو د مکې په نمائيندګی د سهيل بن عمرو صلح په مابين کي راغله، سهيل دا شرط ولګاوه چي که د مکې يو سړی زموږ له خوا که څه هم ستا پر دين وي درغلی او موږ سړی درواستوی هغه مؤمن به ته په لاس ورکوې وخل بيننا وبينه، فکره المسلمون ذالک الشرط، او سهيل بيله دي شرطه د صلحې څخه اباء وکړه او عليه الصلوة والسلام دا شرط ورسره ومنی او د صلح په کاغذ کي يې دا شرط نوشته کړی او په دې ترڅ کي ابو جندل چي د سهيل زوی وُ او مسلمان وُ سهيل ته يې رد کړی ولم ياتيه من الرجال المؤمنين الى المدينة الا ردهﷺ اليهم ای مشرکی مکة ته اذا طلبوه لکن د ښځو په باره کي يې هيڅ شی نه وويل سوه، وروسته مؤمنات مهاجرات راغلې په دې ترڅ کي ام کلثوم بنت عقبة بن ابی معيط را مهاجره سوه او عليه الصلوة والسلام ته راغله او دا په دغه وخت کي پېغله وه، نو اقرباء پسي راغله او عليه الصلوة والسلام ته يې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وویل چي دا مو ږ ته په قرار د صلح رد کړه، نو علیه الصلوة والسلام په لاس ور نه کړه لما انزل الله فیهن یعني د ښځو په باره کي هذه الآیات.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی چي تاسي ته راسي مؤمنات یعني ښځي هجرت کونکي له مکې څخه، نو تاسي امتحان څني واخلئ چي دوی په رشتیا سره لکه په خوله چي وایي چي موږ ایمان لرونکي یو په زړه کي یې هم ایمان سته چي ستاسي پر غالب الظن دا درځي چي مؤمنات دي او په خوله چي وایي په زړو کي یې هم هغه سته یعني الایمان والتصدیق.

فائده: درویش غالب الظن ووایه لان الایمان الحقیقي صفة القلب ولا یعلم بما في الصدور الا الله العلیم الخبیر بالبواطن کالظواهر.

فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ

که ستاسي علم پر راغلی یعني حتی الامکان چي مراد څني ظن غالب دی پر خلکو بطهور امارات الایمان القلبي کالصلوات الخمس وغیرها.

سوال: د علم تفسیر خو علماء داسي کړی دی اعتقاد جازم مطابق للواقع، نو ما یحصل بالامارات خو داسي نه دی، نو تعبیر په علم یې ولي څني وکړی؟

څواب: لپاره د تنبیه پر دې چي ظن غالب لکه علم دی في وجوب العمل به و وقع علیه الاجماع.

فائده في امتحان المهاجرات: اخرج ابن المنذر والطبراني في الکبیر وابن مردویة بسند حسن وجماعة عن ابن عباس رضي الله عنهما چي ده وویل په کیفیت کي د مهاجراتو ښځو چي یوه ښځه به چي علیه الصلوة والسلام ته مهاجره راغله، نو عمر رضي الله عنه د علیه الصلوة والسلام له خوا پر داسي قسم ورکولو مسلط و بالله ماخرجت رغبة لارض عن ارض (ستا دي قسم په خدای وي چي ته خو لپاره د رغبت و مدیني ته چي بنه معتدله هوا یې ده له مکې څخه چي هوا یې ډېره ګرمه ده نه یې راغلې) و بالله ما خرجت لبغض زوجک (ستا دي قسم په خدای وي چي تا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خو به په سبب د بغض د مېړه هجرت نه وي کړی) و بالله ما خرجت لا لتماس الدنيا (ستا دي قسم په خدای وي چي تا خو به هجرت لپاره د طلب د دنيا نه وي کړی، يعني چي انصار د مديني د مهاجرينو سره ډېري مرستي کوي) و بالله ما خرجت الا حبا لله ورسوله (ستا دي قسم په خدای وي چي ته بېله محبت د خدای او د رسول د خدای بل غرض په زړه کي نه لري)

"فلا ترجعو هن الى الكفار" مه ور استوئ دوی و کفارو ته (يعني د دوی مېړونه په مکه کي کافران دي دليل يې وروسته ايت دی)

لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّوْنَ لَهُنَّ

نه دوی مسلمات ښځي روا دي دوی کافرانو مړو ته (ولي چي د کافر او مسلماني ښځي نکاح سره قطع کېږي بمجرد الخروج من دار الحرب عند الامام الاعظم رحمه الله) او نه دوی يعني مړونه روا کېږي پخوانيو ماينو ته د دوی بتجديد النکاح لعدم جواز نکاح الکافر بالمسلمة.

مسئله: مذکور امتحان چي به دوی ورکړی په حديث کي د عائشه رضي الله عنها راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام دې ښځي هري يوې ته داسي قد بايعتک کلاما زما ستا سره بيعت دی صرف په خوله، عائشه رض وايي چي نه دی مس کړی لاس د عليه الصلوة والسلام لاس د ښځي په بيعت لک د نرو سره چي به عليه الصلوة والسلام بيعت کاوه.

وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا

تاسي ورکوئ (الضمير راجع الى الکفار او مراد ځني مړونه د دغو مهاجراتو مسلماتو ښځو دي) هغه مال چي دوی مصرف کړی دی پر دغو يعني المهر.

درويش وايي: چي په دې کي اختلاف دی چي په صلح کي د حديبيې يوازي رجال ياد سوي دي که عامه صلح وه رجال او نساء دواړه پکښې شامل وه، مظهری رح وايي چي صلح پر دواړو وه لکن چونکه رد د ښځو منع سو بقوله تعالى فلا ترجعوهن الى الکفار، نو هغه عام حکم منسوخ سو يعني د صلح نامه په دې ايت سره لعدم جواز نکاح المسلمة للکافر ابتداء وبقاء، نو حکم د رد هنوز خدای ج نازل کړی واتوهم

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اجورهم، قال البغوي" قال الزهري" ولو لا الهدنة (اى الصلح) والعهد بين رسول الله ﷺ وبين قريش يوم الحديبية لامسك (اى رسول الله ﷺ) ولم يروا الصداق (اى المهر ايضًا) او بعض مفسرين وايي چي صلح د حديبيې يوازي پر رجالو وه.

درويش وايي: چي د كتاب الصلح څخه داسي معلوميږي چي رد نر او ښځو دواړو ته شامل ؤ وهذا عبارت كتاب الصلح چي په حديث كي راغلي دي چي وروسته تر صلح عليه الصلوة والسلام امر كړی علي ﷺ چي كتاب الصلح نوشته كړه، حضرت علي ﷺ داسي نوشته كړه باسمك اللهم هذا ما صالح عليه محمد بن عبد الله و سهيل بن عمرو واصطلحها علي وضع الحرب عشر سنين تامن فيه الناس ويكف بعضهم عن بعض على ان من اتى محمد آمن قريش بغير اذن وليه رده عليه الى اخير كتاب، والمراد من نقل عبارت كتاب الصلح هو قوله على ان من اتى محمدًا الخ لان كلمة من عامة شاملة للرجال والنساء، والله اعلم.

درويش وايي: چي روح المعاني په دې ايت كي ډېر طويل بيان كړی دی او روح البيان وايي چي عقد د صلح د حديبيه يوازي پر رجال ؤ دون النساء لان النساء المسلمات لوردون الى ازواجهن الكافرون لا تستطيع دفع الزوج الكافر عن انفسهن لضعفهن، هغه بعض مفسرين چي ما د مخه ذكر كړه مراد څني صاحب د روح البيان ؤ.

پوښتنه: حضرت علي ﷺ ولي بسم الله الرحمن الرحيم نه نوشته كاوه؟

ځواب: حضرت علي ﷺ خو نوشته كړی لكن سهيل بن عمرو يې مانع سو او و يې ويل چي رحمن او رحيم موږ نه پېژنو، نو هغه سي نوشته كړه چي موږ به پخوا نوشته كاوه يعني باسمك اللهم لكن دې لفظ د شريعت سره منافات نه درلودی نو ځكه علي ﷺ بدل كړی يعني بسم الله يې پرېښول.

سوال: حضرت علي ﷺ ولي فقط نوشته كړه هذا ما صالح عليه محمد بن عبد الله، ولي يې داسي نه نوشته كول هذا ما صالح عليه رسول الله ﷺ؟

ځواب: د دغه عبارت مانع هم سهيل بن عمرو وګرځېدی او و يې ويل كه ته ما رسول الله پېژندلای نو ولي مي له مكې څخه منع كولې بلكې محمد بن عبد الله نوشته كړه، عليه الصلوة والسلام و سهيل ته وويل والله اني رسول الله واني محمد بن عبد الله، علي ﷺ ته يې وويل چي محمد بن عبد الله نوشته كړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبيه: د دې صلح څه فائده وه چې سره د درنو شرطو ذکر سوه او عليه الصلوة والسلام پر ځان برداشتول؟

ځواب: په دې لسو کلو کې چې آمد و رفت د مسلمانانو مکې ته او آمد و رفت د کافرانو و مدينې ته تاريخ وايي چې دومره کافران د قريشو مسلمانان سوه چې تر هجرت د مخه دومره کسان د قريشو په ايمان نه وه مشرف سوي، ولي چې مشافهة بې د عليه الصلوة والسلام سره خبري کولې د عليه الصلوة والسلام د مبارکې خولې خبرو به تاثير پر وکړی او ايمان به يې راوړی، وهذا هو سر في نزول سورة الفتح يعني انا فتحنا لک فتحًا مبينًا الى اخير السورة په وخت کې د رجوع د عليه الصلوة والسلام مدينې ته بعد الصلح په لاره کې نازل سو، فافهم هداک الله تعالی.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَنْ تَنْكِحُوهُنَّ

او ګناه نسته پر تاسي ايها المؤمنون چې تاسي د غه مهاجرات په نکاح کړی، لکه سبيعه چې مؤمنه مهاجره وه حضرت عمر رضي الله عنه په نکاح کړه او هغه د مخه د دې مېړه چې مسافر الاسلمي نومېدی ولور يې ورکړی، او د غه رنګه اميمه بنت بشر چې د حسان مانينه وه چې مهاجره سوه مدينې ته راغله سهيل بن ضيف په نکاح کړه او مېړه کافر ته يې د دې ولور ورکړی چې د هغې څخه يې عبد الله بن سهيل زوی راوړی.

پوښتنه: د دې ښځو چې هجرت به يې وکړی دستي بل مېړه ورته روا ؤ د سابق مېړه څخه عده تېرېدو ته ضرورت نه ؤ او که څرنګه؟

ځواب: په راوتلو سره د ښځې مؤمنه له دار الحرب څخه د دې او د مېړه تر مابين فرقت راغلی او عده تېرول په نېز د امام اعظم رحمه الله نسته خلافًا لصاحبيه ابو يوسف و محمد رحمهما الله.

إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ

چې تاسي ورکړئ مهرونه د دوی (د مهر شرط چې يې ولګاوه د دې لپاره چې هغه پيسې چې د دې کافر مېړه ته ورکړل سوي وې هغه په ځای کې د مهر د مېړه نه د رېږي.

پوه سه: چې مراد له ايتاء څخه د مهرو د دې ښځو چې مسلمانان يې په نکاح کوي ايتاء بالفعل ته د ه بل التزامها والتعهد بها (اى بالمهور) او (عصم) جمع د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عصمت ده وهي ما اعتصم به من عقد الموالات والنكاح وغيره.

روايت كړی دی ابن ابی منيع من طريق الكبي" عن ابي صالح عن ابن عباس رضي الله عنهما اسلم عمر بن الخطاب رضي الله عنه وهاجر الى المدينة وتاخرت زوجه في المشركين فانزل الله هذه الآية، او (كوافر) جمع د كافرة ده، والمراد نهى الله سبحانه وتعالى عن المقام (ای الثبات على نكاح المشركات) البغوي" وايي په روايت د ابو هريرة رضي الله عنه قال لما نزلت هذه الآية طلق عمر رضي الله عنه امرئتين بمكة مشركتين قرينة بنت ابی امية بن المغيرة فتزوجها بعده معاوية بن ابی سفيان، وهما (يعني مېرمن او ماينه) على شركهما في مكة، او اروى بنت ربيعه بن الحارث بن عبد المطلب ماينه د طلحة بن عبيد الله فهاجر طلحة رضي الله عنه او ماينه يې پر دين د قوم مشركه وه ففرق الاسلام بينهما ، فتزوجها في الاسلام خالد بن سعد بن العاص، او الشعبي" وايي چي زينب بنت رسول الله ماينه وه د ابی العاص بن امية اسلمت ولحقت بالنبي ﷺ او ابو العاص چي ددې مېړه ؤ په مكه كي مشرک پاته سو وروسته يې مېړه ابو العاص پسې راغلی مدينې ته او اسلام يې راوړی فردها عليه الصلوة والسلام ، يعني ابو العاص ته يې وسپارل.

وَسۡـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقۡتُمۡ وَلۡيَسۡـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقُوا۟ۚ

تاسي غوښتنای سئ ايها المسلمون (ما انفقتم) يعني مهر د هغې ښځي ستاسي چي مرتده سي او مشركانو ته ولاړه سي اذا منعوها ممن تزوجها منهم، او غوښتنای سي كافران من مهور ازواجهم المهاجرات (ما انفقوا) يعني ممن تزوجها منكم.

پوښتنه: واسئلوا امر دی وليسئلوا هم امر بالام دی، تا يې ترجمه د اول به تاسي غوښتنای سئ وكړه او ترجمه د دوهم دي داسي وكړه او غوښتنای سي كافران، دوې ترجمې خو اخبار دي يعني جمله خبريه دي سبب يې څه دی؟

ځواب: فقير يې ترجمه په لازم سره وكړه لپاره د يوې باريكي. فتدبر.

ذَٰلِكُمۡ حُكۡمُ ٱللَّهِ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡۖ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝١٠

دغه (ای جميع ما ذكر في الآية) حكم د خدای" دی چي حكم كوي په مابين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كي ستاسي يعني د مسلمانانو او د مشركانو، او خداى بنه خبر دى په مصالحو د بندګانو، هغه شى تاسي ته بيانوي چي ستاسي خير پکښې وي، او خداى پاک په هر كار او حكم كي حكمت لري.

وَإِن فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ

كه ستاسي څخه وتښتېدلې. مراد له شي څخه ماينه ده كما سيصرح به، ستاسي له مايڼو څخه و كفارو ته يعني مرتده سوه، تعبير د ښځي يې په شي سره وكړى لپاره د تحقير او يا د مبالغې په تعميم كي يعني هر څوک چي وي او يا يې معنا داده چي فوت سي ستاسي څخه يو شى له مهرو څخه د مايڼو ستاسي چي كفار چي ستاسي مرتده ماينه يې كړې ده نه يې وي در كړې تاسي ته ايها المؤمنون، ابن ابى حاطم د الحسن" څخه روايت كړى دى چي دا آيت نازل سوى دى په ام الحكم بنت ابى سفيان كي چي مرتده سوه يو سړي د بني ثقيف په نكاح كره، راوي وايي ولم ترتد امرئة غيرها من قريش.

پوه سه: چي البغوي" وايي: قال المفسرون معنى (فعاقبتم) غنمتم واصلبتم من الكفار، والعقبى هي الغنيمة، وقيل معناه ظفرتم وكان العاقبة لكم يعني الفتح وقيل معناه اجتمعتموهم في القتال بعقوبة حتى غنمتم.

درويش وايي: چي دا دې ټولو تفسيرو مآل يو دى، فرق يې داسي دى: دو جاى كنيد، بل وايي: دوه ځايه كره، بل وايي: دو حصه كرو، والصحيح مانقله البغوي" عن المفسرين.

فَعَاقَبْتُمْ فَآتُوا الَّذِينَ ذَهَبَتْ أَزْوَاجُهُم مِّثْلَ مَا أَنفَقُوا

يعنى مرتدات الى الكفار منكم من الغنائم التي صارت في ايديكم. يعني مثل د ما انفق المؤمنون چي د دوى مايڼې مرتدات تللي دي يعني مهور د هغو مايڼو د غه مؤمنانو ته وركړئ د غنيمت له اموالو څخه تاچي د دوى مهور لغوه نه سي.

درويش وايي: چي البغوي" له ابن عباس ﷺ څخه روايت كړى دى چي شپږ ښځي د مؤمناتو مهاجراتو د مشركانو سره ملحق سوې، البغوي" نوم په نوم راوړي او مظهري هم رانقل كړي دي او احكام د دوى يې بيان كړي دي ولا فائدة في نقلها الا لاطناب ان شئت فارجع الى تفسير المظهري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ⑪

او ويريږئ له خداى ځنې هغه خداى چي تاسي پر هغه ايمان راوړى دى، ولي چي ايمان پر خداى باعث دى پر ډېره په ترک کي د اوامرو د خداى او په اتيان کي د محرماتو د خداى ﷻ.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْئًا

اى نبي چي راسي تاته مؤمنات ښځي په داسي حال کي چي ستا سره بيعت کوي يعني على الايمان والاسلام، دا چي دوى به شريک نه ګرځوي د خداى سره هيڅ شى يعني بتان او نه ملکي الى غير ذالک.

پوه سه: چي (يا ايها النبى آه) حال دى د مؤمنات ځنې، کلمه د على متعلق ده په يبايعنک پوري.

وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ

او غلا به نه کوي (يعني نه د مېړه ځنې او نه د بل چا ځنې) او نه به زنى کوي او نه به وژني اولاد خپل (يعني پر عادت د جاهليت چي د دوى چي به لوڼي پيدا سوې ژوندى به يې په خاورو کي ښخولې) او راتګ به نه کوي په بهتان سره.

پوه سه: چي غيبت چي کبيره ګناه ده دې ته وايي چي هغه عيب چي په مسلمان کي وي په غياب کي د هغه يې خلګو ته بيانوى لنفرة الخلق منه کما هو المعتاد في الزمان الحاضر فى العلماء والطلباء اغلب من العوام، او بهتان ناحقه عيب په مسلمان پوري تړل او بيا خلګو ته بيانول وهذا اشد من الغيبة کما فسره الله تعالى.

يَفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ

چي دوى دا بهتان جوړوي (بين ايديهن وارجلهن) يعني هيڅ مصداق نه لري په واقع کي لکه غيبت چي د رلوى بلکې دوى له ځانو ځنې جوړ کړى وي.

درويش وايي: چي د (بين ايديهن وارجلهن) په معنى کي اختلاف دى، بعض محققان د علماء وايي معناه لا ياتين ببهتان من قبل انفسهن واليد والرجل کناية عن الذات، او په کشاف کي وايي کني بالبهتان المفترى بين يديها ورجليها عن الولد يعني چي دا ښځه خو ولد الزنى راوړي مګر کذبًا وايي چي دا زما د مېړه

زوی دی، وذالک لان الولد الذي في بطنها بين اليدين دی وفرجها بين الرجلين دی الذي تلد منه الولد.

درویش وايي: چي پر هر تقدير حمل د آيت پر ما ذکر هو الذي ذکره الاکثرون وروی ذالک عن ابن عباس رضي الله عنهما وقيل غير ذالک.

وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ

او ستا ښځه به عاصيان نافرماني نه کوي په معروف کي يعني د شريعت اسلام په لار کي چي اتيان د هغه کار دی چي ته يې امر کړې او پرهېز دی له بد کار ښځه چي ته يې ځني نهي کړې دوی، مجاهد وايي چي مراد له معروف ښځه دا دی چي ښځه دي خلوت نه کوي د نا محرمه سړي سره، او سعيد بن المسيب او کلبي او عبدالرحمن بن زيد رحمهم الله وايي چي مراد له معروف ښځه په زوره ژړل دي پر مړګ د قريب چي نوح يې بولي په عربي، يا د واويلا ناري وهي يا کالي پر ځان څيري عند المصيبة يا وېښتان شکوي يا مخ منګاچي کوي، او د نامحرم سره دي سفر نه کوي.

درویش وايي: چي مراد له محرم ښځه محرم ابدي دی، نو د ښځي د خور مېړه محرم نه دی، ولي دا ښځه چي مړه سي يا يې مېړه طلاقه کړي دده د خور سره ددې د مېړه نکاح روا ده، لکن خلک يعني تران خوښينه داسي بولي لکه محرمه په لڅ مخ د خوښيني سره ناست وي بلکې په سفر يې بيايي او ښځه هم د خور مېړه چي اخښی يې بولي لکه محرم داسي بولي يوازي په خونه کي بې حجابه ورسره ناسته وي، وروی مسلم عن ابی مالک الاشعري رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اربع من امتي (څلور خويه دي زما په امت کي) من امر الجاهلية لايتركونهن (چي دوی يې نه پرېږدي يعني بالاعتبار الاغلب) (۱) الفخر بالاحساب چي فخر په امور دنيويه کوي من کثرة المال والجاه والجلال او بنګلې وغيرها (۲) والطعن عيب وايي د بعضو خلګو پر نسب يعني فلانی جت دی فلانی استا کار دی فلانی مسلي دی، الی غير ذالک (۳) طلب د باران کوي په ستورو مثلاً نن فلانی ستوری دی باران کېږي (۴) النياحة: وقال ﷺ که نائحه توبه ونه کاږي د نوح ښځه نو به په دې يعني په ورځ د قيامت واغوستل سي پرتوګ د قطران او قميص د ګرګ د بدن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللهَ ۖ إِنَّ اللهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

نو بیعت ورسره وکړه او ضمان د ثواب ورکړه که چېري دوی وفا په مذکوره شرطو وکړه (فبايعهن) جزاء ده د اذا جائک آه يعني بعد اخذ الشروط المذكورة) او طلب د بخښني کوه له خدای څخه و دوی ته. په تحقيق خدای بخښونکی د ګنهو دي او مهربان دی سره د بخښنې يعني نور ثواب هم ورکوي، روى البخاري عن عائشة ﷺ كان النبي ﷺ يبايع النساء بالكلام بهذه الآية لايشركن بالله الآية، قالت ﷺ وما مست يد رسول اللهﷺ يد امرئة مګر لاس د خپلي کور والا يا د مينځې، البغوي روايت کړی دی.

درويش وايي: چي صحيح حديث چي روايت يې البغوي کړی دی چي يوه ښځه چي نوم يې اميمة بنت رقيقة ؤ دا وايي چې ما بيعت وکړی د رسول اللهﷺ سره نوري ښځي هم موجودي وې، نو ما ورته وويل يا رسول الله زموږ سره لاس په لاس بيعت وکړه (ددې قصد دا ؤ لکه د نورو سره چي بيعت کوي) عليه الصلوة والسلام راته وويل: اني لا اصافح النساء وانما قولي لامرئة كقولي لمائة امرئة.

درويش وايي: چي روح المعاني وايي چي مبايعة وقعت غير مرة په مکه کي مبايعت وروسته تر فتح د مکې او په مدينه کي هم واقع سوې دی و ممن بايعته رسول اللهﷺ هند بنت عتبة زوج ابی سفيان، چنانچه په حديث کي د اسماء بنت يزيد بن السكن راغلي دي كنت في النسوة المبايعات وكانت في النساء هند بنت عتبة متنكرة چي مخ يې پټ کړی ؤ، نو عليه الصلوة والسلام دوی ته وويل: فلما قال على ان لايشركن بالله شيئا هند ورته وويل كيف نطمع ان يقبل منا ما لم يقبله من الرجال؟ فلما قال ولايسرقن هند وويل ان ابا سفيان رجل شحيح يعني بخيل ؤ خامخا دده د مال بعض شيان ما غلا کړي دي، دې وويل چي زه نه پوهېږم چي هغه به ما ته روا وي او که څرنګه؟ ابو سفيان چي دلته حاضر ؤ: ما اصبت من شيئ فيما مضى يا تر دې وروسته هغه ټوله تاته حلال دي زما له خوا، عليه الصلوة والسلام وخندل او هند يې پېژندل چي د ابو سفيان مانينه ده، وقال وانک لهند بنت عتبة؟ قالت نعم موږ ته عفوه وکړه د هغو کارو چي ستا پر خلاف موږ دمخه کړي دي، قال عفا الله عنک، فقال ولا يزنين فقالت او تزنی الحرة، دې دا خبره پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غالب کول په وخت کې د جاهلیت چې زنا به مینځیانو کول یعني ان الحرة لا تزنی غالبًا وانما یزني في الغالب الاماء.

فائده: قید د غالب ددې لپاره وویل سو چې هغه زانیات چې پر کورو بې بیرغونه ولاړ وه د زنا لپاره هغه ټولې حرات وې. فقال ولا یقتلن اولادهن، هند ورته وویل: ربیناهم صغارًا و قتلهم کبارًا (موږ تربیه کړه کوچنیان تا مړه کړه لویان) دې اشاره وه دې ته وکړه چې ددې زوی حنظلة بن ابي سفیان چې په بدر کې قتل سوی وُ، نو عمر ﷺ دومره ډېر وخندل چې ستني ستخ غځار سو وتبسم رسول اللهﷺ، او په بل روایت کې راغلي دي چې هند وویل: قتلت الآباء وتوصینا في الاولاد (زموږ پلرونه دې را مړه کړه ته اوس وصیت د اولادو راته کوې) فضحک رسول اللهﷺ. فقال ولا یأتین ببهتان فقالت ان البهتان لامر قبیح لا یأمر الله الا بالرشد (په رشتیا سره) ومکارم الاخلاق، فقال لایعصینک في معروف فقالت والله ما جلسنا مجلسنا هذا وفي انفسنا ان نعصیک (موږ په دې مجلس کې نه یو کښېنستلي چې زموږ دي عصیان ستا غرض وي.

پوښتنه: رسول اللهﷺ د هند بنت عتبه زوج ابو سفیان سره څو مره ډېري خبري وکړې چې د بلي ښځي سره یې په لـسمه د دغو خبرو نه وکړې؟

ځواب: دا په اعتبار ددې چې ام حبیبهﷺ چې د هند لور وه د علیه الصلوة والسلام په نکاح کې وه، والله اعلم.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ

ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي دوستي او محبت مه کوئ د هغه قوم سره چې پر هغو د خدای غضب سوی دی، یعني الیهود کما یدل علیه ما اخرج ابن المنذر من طریق ابن اسحاق عن محمد عن عکرمة عن ابن عباس رضي الله عنهما قال کان عبد الله بن عمرو و زید بن الحارث یوادون رجالاً من یهود فانزل الله هذه الآیة، وکذا قال البغوي چې بعض خلک له فقراؤ څخه د مسلمانانو یخبرون الیهود اخبار المسلمین چې په دې ذریعه دوی یعني الفقراء په دوی پوري یعني الیهود ځانونه پیوندول چې د دوی د باغو مېوې وخوري فنهاهم الله عن ذالک، وقیل المراد به عامة الکفار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْاٰخِرَةِ

چي نا اميده دي د آخرت څخه (اى من ثواب الله في الآخرة)

يوه سه: چي كه مراد يهودان وي، نو دوى پر دې علم درلود چي محمد ﷺ نبي بر حق دى او مؤيد په معجزات كبيره ؤ سره دى او مكتوب دى په كتاب كي د دوى چي تورات دى او دوى سره د هغه انكار كاوه له رسالت څخه دده عنادًا او حسدًا چي شيطان د دوى په زړو كي اماني باطله ورواچولې مثلاً ستاسي ابا او اجداد خو نبيان دي تاسي چي هر څه وكړى هغه ستاسي شفاعت كوي په ورځ د قيامت، نو په دې سبب دوى نا اميده دي له نعمتو څخه د آخرت مع اعتقادهم بالآخرة ونعمائها فما اصبرهم على النار نعوذ بالله من ذالک، او كه مراد عام كفار سي فهم يئسوا من الآخرة لعدم ايمانهم بالغيب والثواب والعقاب.

كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿۱۳﴾

لكه مشركان چي نا اميده دي د من في القبور څخه چي دا اهل القبور به بيرته ژوندي كېږي.

يوه سه: چي كه مراد له قوم غضب الله عليهم په دمخه آيت كي عامة الكفار سي نو دلته د الكفار لفظ وضع د ظاهر په ځاى كي د مضمر ده للدلالة على ان الكفر يئسهم.

درويش وايي: چي په توفيق د خداى عزوجل له تفسير څخه د سورة الممتحنة پر يوه نيمه بجه د ورځي د يكشنبې يعني وقت آذان الظهر پر اتلس تخمينًا د ربيع الثاني د سنه (۱۴۳۳) هجري قمري فارغ سوم، فللّٰه الحمد والمنة وعلى رسوله الف الف السلام والتحية وعلى آله وصحبه الكملة البررة وعلى ازواجه امهات المؤمنين بالمحبة التامة.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الصَّفِّ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ اَرْبَعَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَفِيْهَا رُكُوْعَانِ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رب سهل على عبدک الذليل الفقير تفسير هذه السورة الجليل بالخير والعافية.

پوه سه: چي روح المعاني وايي چي دا سورة سورة عيسى ﷺ هم بولي، او سورة الحواريين يې هم بولي، وهو مدنية في قول جمهور المفسرين" ولا اعتبار لغير ذالک مما قيل فيه، او د اول قول قائلين عبدالله بن الزبير او عبدالله بن عباس او عكرمة ﷺ والحسن وقتادة ومجاهد ﷺ دي، ترمذي او الحاكم سره د تصحيح روايت كړى دى له عبدالله بن سلام ﷺ څخه چي يو څو نفره موږ له اصحابو څخه د رسول الله ﷺ سره كښېښستلو په خبرو كي مو وويل چي كه موږ پوهېدلاى چي كوم يو له اعمال صالحه څخه احب الى الله دى نو به موږ هغه عمل كولاى فانزل الله تعالى.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ①

تنزيه له هر عيب څخه وايي خداى عزوجل لره هغه شيان چي په آسمانو كي دي من الملائكة او هغه چي په مځكه كي دي من الثقلين يعني الانس والجن، او خداى پاک غالب دى د مشيت مانع يې څوک نسي كېدلاى او په هر كار كي حكمت لري عبث كار خداى عزوجل نه كوي.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ②

اى هغه كسانو ولي هغه خبري كوى چي فعل يې نه كوى يعني عمل نه په كوى، دا آيات عليه الصلوة والسلام موږ ته قرائت كړى حتى ختمها، او بغوي" قول د مفسرينو" داسي ذكر كړى دى چي قال المؤمنون لو علمنا احب الاعمال الى الله عزوجل لعملنا موږ به عمل په كولاى وبذلنا فيه اموالنا وانفسنا فانزل الله تعالى ان الله يحب الذين يقاتلون في سبيله صفًا يعني احب د اعمالو و خداى" ته جهاد في سبيل الله دى، نو خداى عزوجل په دوى ابتلاء وكړه د هغي خبري د دوى وبذلنا فيه انفسنا و اموالنا په ورځ كي د احد چي ولوا مدبرين يعني شكست يې وكړى د الرسول يدعوهم في اخراهم، فانزل الله تعالى لم تقولون ما لا تفعلون، او ابن جرير د ابى صالح" څخه روايت كړى دى چي صحابه كرامو ﷺ وويل لو كنا نعلم اى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاعمال افضل موږ به عمل په کړی وای، فنزلت یا ایها الذین آمنوا هل ادلکم علی تجارة تر پایه پورې چې په هغه ایت کې د نورو عملو سره جهاد في سبیل الله هم ذکر سوی دی فکرهوا الجهاد فنزلت یا ایها الذین آمنوا لم تقولون ما لا تفعلون.

درویش وایي: چې مظهری ؒ وروسته تر بسم الله الرحمن الرحیم متصل هغه د ترمذي او الحاکم قول راوړی دی چې عبد الله بن سلام ﷜ الخ کمامر، وروسته یې دا ویلي دي فانزل الله هذه الآیة سبح لله الآیة، نو پوښتنه داده چې د سبح لله آه د شان نزول سره چې مظهري ذکر کړی دی څه علاقه سته؟

ځواب: اصل مراد په روایت کې د ترمذي والحاکم خو اخیره حصه د ایت ده یا ایها الذین آمنوا لم تقولون آه، او سبح لله تمهید د وروسته ایت ده یعني لم تقولون آه لکه مصنفین چې په خپلو کتابو کې اول حمد او ثناء د خدای ؑ وایي وروسته په مطلب شروع کوي، لکن بیا هم صنیع د روح البیان او روح المعاني تر صنیع د مظهري اولی ده، ولې هغو صرف د سبح لله آه ترجمه کړې ده او د هغه آیت سره یې هغه شان نزول چې مظهري اولا راوړی ؤ یعني یا ایها الذین آمنوا لم تقولون الآیة ذکر کړی دی فتدبر وخذ ما صفی ودع ما کدر، او محمد بن کعب ؒ داسې روایت کړی دی چې خدای ؑ د شهداء د بدر په باره کې ثوابونه د دوی بیان کړه نو هغو کسانو چې په بدر کې نه وه حاضر سوي داسې ویل لئن لقینا بعده قتالاً لنفرغن فیه وسعنا (که په بل قتال سره موږ مخامخ سوو موږ به خپل طاقت پکښې وښندو، دوهم کال چې د احد غزاء راغله دوی شکست وکړی، نو خدای عزوجل دوی ته پیغور ورکړی یا ایها الذین لم تقولون ما لا تفعلون، والله اعلم.

كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ ۝

المقت اشد الغضب او مقتا منصوب دی علی التمییز من نسبة کبر الی فاعله وهو ان تقولوا، په دې کې دلیل پر دې دی چې د دوی دغه قول مقت دی خالص کبیر عند الله الذي یحقر دونه کل عظیم او په دې کې مبالغه په منع کې ان یقولوا کذبًا ما لا یفعلوه.

درویش وایي: چې حسین الکاشفي ؒ په تفسیر حسیني کې چې یو قدیم تفسیر دی په فارسي ژباړه داسې ویلي دي: ونزد بعض علماء این ایت عامست هر که سخن گوید ونکند درین عتاب الهی داخل است ویا ان علماء را نیز شامل است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كه خلق بعمل خير فرمايند وخود ترك ان خير را مى كنند، چنانچه شاعر ميگويد:

واعظان كه اين جلوه درمنبر و محراب ميكنند
چـون بخلوت ميروند آن كار ديگران ميكنند

او سعدي شيرازي قدس سره وايي:

از من بگوى عالم تفسير گوى را .... گردر عمل نكوشى نادان مفسرى
بار درخت عـلـم ندانم بجز عمل .... باعلم اگر عمل نكنى شاخ بى برى

اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ ۝

صفًا مصدر دى په معنى د مصطفين حال دى له فاعل څخه د يقاتلون يا حمل يې مبالغة دى مثل زيد عدل.

پوه سه: چي رص اتصال دى د بعض د بنا په بعض پوري او ښه يې سره محكمه كوي لكه بنايان چي يو د ېوال وهي خښتي يو په بلي دننه كوي نه د ېوال كږېږي نه نړېږي هر څومره چي يې پورته كوي بخلاف چي خښته پر خښته دى لكه بناء محكمه يعني يو د بل سره چي قرار نه كوي چي په منځ كي يې چاك پيدا سي.

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ

او (ياد كړه) كله چي موسىٰ خپل قوم ته وويل (چي بني اسرائيل وه) اى قومه ولي تاسي ماته ازار رسوئ په نافرماني سره زما له امر څخه او ناحقه بهتان راباندي وايا ست چي موسى چوره دى، دوى دا بهتان هغه وخت پر موسىٰ وواېه چي دى به د قوم سره يو ځاى لغ نه لمبېدى، او دوى به په بېحايي لغ پټ سره لمبېدل، نو دوى وويل چي موسى چي زموږ سره لغ نه لمبېږي يا ادرة لري يعني چوره دى يعني خايه يې پرسبدلي دي يا پيس دى.

وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ؕ

او تاسي علم لرى چي زه رسول د خداى يم وتاسي ته چي ما راتك كړى دى بالمعزات كاليد البيضاء والعصاء، او تاسي ته ما نجات دركړى له فرعون طاغي څخه چي يسومونكم سوء العذاب يذبحون ابنائكم ويستحيون نسائكم وجاوزت بكم البحر، والعلم بالنبوة يدعوكم الى التعظيم ومنع الايذاء.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فَلَمَّا زَاغُوٓا أَزَاغَ اللهُ قُلُوبَهُمْ وَاللهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِينَ ۝

نو کله چي دوی عدول وکړی له حق څخه او د موسی ؑ له ایذاء څخه منع نه سوه، نو خدای ؑ کاږه کړه د دوی زړونه له حق څخه الی المیل الی العصیان جزاء لهم بما کانوا یکسبون، او خدای هدایت نه کوي (ای هدایة موصلة الی المطلوب) و فاسق قوم ته چي خارجین وي له حق څخه و باطل ته او له طاعت څخه و عصیان ته.

درویش وایي: چي په نقل کي د قصې د موسی ؑ او دده د قوم تسلي ده و علیه الصلوٰة والسلام ته چي ستا قوم اهل مکه هم ستا سره ورته کارونه کوي، والعاقبة للمتقین.

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يٰبَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُم

او (یاد کړه) کله چي وویل عیسی ابن مریم ای بني اسرائیلو زه د خدای ؑ له خوا رسول سوی یم تاسي ته.

فائده: عیسی ؑ بني اسرائیلو ته داسي نه وویل یا قوم لکه موسی ؑ چي ورته وویل لانه لا نسب لهم فیهم یعني عیسی ؑ خو له قوم څخه د بني اسرئیلو نه ؤ.

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ

تصدیق کوم د هغه کتاب چي تر ما د مخه نازل سوی دی چي هغه تورات کتاب د موسی ؑ دی.

يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ

او زه تاسي ته زېری کوم د رسول چي تر ما وروسته به تاسي ته راځي چي نوم به یې احمد ﷺ وي.

فائده: احمد نوم د علیه الصلوٰة والسلام دی په کتب متقدمه ؤ کي چي مشتق له حمد څخه دی پر صیغه د اسم تفضیل والمعنی ډېر ویونکی د حمد تر نورو انبیاء ؑ که څه هم ټول له حمد ویونکي د خدای ؑ دي لکن احمد اکثر حمدًا تر نورو لکه محمد پر صیغه د اسم مفعول چي نوم د علیه الصلوٰة والسلام دی ای محمود، انبیاء ؑ څه هم ټول له محمود دي لکن رسول الله ﷺ اکثر محمودیة دی تر نورو کما یدل علیه باب التفعیل چي لفظ د محمد څني مشتق دی لان من خواص باب التفعیل الدلالة علی التکثیر في المصدر المبني للمفعول ای المحمودیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّا جَاۤءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

کله چي راتک وکړی هغه (بعض مفسرين وايي چي ضمير راجع دی و عيسیٰ ته بعض وايي راجع دی و احمد (ﷺ) ته) البينات ای المعجزات الظاهرة، که ضمير عيسیٰ ﷺ ته راجع سي نو مراد له بيناتو څخه ابرأ الاکمه (مور زاده ړوند) واحياء الموتی والابرص، او که ضمير احمد ته راجع سي نو قرآن کريم دده لويه معجزه ده چي کر الازمان ومر الدهور به باقي وي، کريمه: ان کنتم في ريب مما نزلنا علی عبدنا (ای محمد ﷺ) فأتوا بمثله الی اخير الآية ثم اکد عدم الاتيان بقوله تعالی ولا يأتون بمثله وان کان بعضکم لبعض ظهيراً، وقد کان کذالک الی يومنا هذا وشق القمر وغير ذالک مما لايخفی "قالوا هذات سحر مبين" وويل هغو (يعني کفار بني اسرائيل ان کان الضمير راجعًا الی عيسیٰ او کفار قريش وغيرهم ان کان الضمير راجعًا الی احمد ﷺ) دا ښکاره جادو او سحر دی، حمزهؒ يې داسي وايي (ساحر مبين) نو پردي تقدير اشاره په هذا سره و عيسیٰ او احمد ته ده عليهما الصلوة والسلام.

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰۤى اِلَى الْاِسْلَامِ

څوک دی لوی ظالم (والاستفهام للانکار ای لا احد اظلم) يعني بنسبة الشريک اليه تعالی في العبادة ککفار قريش او نسبة الولد اليه تعالی يعني عيسی ابن الله او قالوا ما انزل الله من شيئ لکه کفار د يهودانو چي په وخت کي د غضب وويل او يهودانو به ويل شريعة موسیٰ مؤبدة الی يوم القيامة الی غير ذالک من خرافات بني اسرائيل (وهو يدعی الی الاسلام) الضمير راجع ممن افتری آه، ته او دغه من اظلم را بلل کيږي و اسلام ته، دا جمله حال ده له فاعل څخه د افتری، يعني بلنه و اسلام ته چي خير د دنيا او آخرت پکښي سته دوی يې بايد اجابت کړی وای لکن دوی يعني کفارو د يهودانو او د نصاری ؤ په ځای کي د اجابت افتری علی الله مختاره کړه او تکذيب د رسولانو لکه عيسیٰ او احمد عليهما السلام مختاره کړی او يا د ټولو رسولانو لان الانبيا عليهم السلام متفقين في الدعوة الی توحيد الله عزوجل وعدم الولد له تعالی وغير ذالک من العقائد الحقة، البته په فروع کي فرق سره لري.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۷

او خدای پاک هدایت نه کوي هغه قوم ته چي په علم ازلي کي ظالمان يعني کافران وي، نو خدای ؒ دوی ته د رشد او هدايت يعني امر تکويني نه ور ښيي لان المقبول عند الله هو الايمان الاختياري۔

يُرِيْدُوْنَ لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝۸

دوی اراده لري (دا جمله حال ده له قوم ظالمين څخه) چي مړ کړي نور او روښنايي د الله ای دينه الاسلام په خپلو خولو سره يعني په اقول کاذبه ؤ سره چي د دوی خيال دا دی چي موږ به په خپلو افتراؤ نور د اسلام له منځه محوه کړو لکن هيهات، ددې مثال داسي دی لکه يو سړی چي پر لمر يا سپوږمۍ پوه کړي چي نور يې زائل کړي۔

پوه سه: چي کلمه د لام لپاره د بيان د علت ده او مفعول به د يريدون محذوف دی، والتقدير يريدون الافتراء (هذا هو المفعول المحذوف د يريدون)

هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ

هغه داسي ذات دی چي استولی يې دی خپل رسول يعني محمد ﷺ په هدايت سره (ای بما يهتدي به الحق چي قرآن دی يا معجزات باهره دي) او په حق دين سره (يعني بالملة الحنيفية المائلة من الباطل الى الحق چي (السهلة) چي اسانه دی نسبت و نورو اديانو ته (البيضاء) چي روښانه دی خفيها کجلي غيرها، (ليظهره) چي ښکاره يې وګرځوي بالحجة او السيف.

پوه سه: چي دين اسم جنس دی ځکه يې تاکيد په ګله سره وکړی ای على الاديان کلها.

درويش وايي: چي دا وعده خدای ؒ پوره کړې ده حيث قال: اذا جاء دين الاسلام لم يبق دين من الاديان الا وهو مقهور بدين الاسلام.

وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ۝۹

که څه هم دا د مشرکانو نه دی خوښ لانه نفس التوحيد وابطال الشرک چي د دوی مسلک ابًا عن جد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ

اى هغه كسانو چي ايمان يې راوړى دى آيا دلالت او ښوونه زه ونه كړم تاسي ته پر يو تجارت (اطلاق د تجارت پر ما سيجئ مجاز دى) چي تاسي ته نجات دركړي (په ورځ د قيامت) له عذاب درد وركونكي څخه اى النار، ابن ابى حاتم له سعيد بن جبير څخه نقل كړى دى چي دا ايت چي نازل سو قال المسلمون لو علمنا هذه التجارة مونږ به هغه تجارت كي خپل انفس قربان كړي واى فنزل قوله تعالى.

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

چي ايمان به راوړئ پر خداى او پر رسول د خداي چي اولى او ترټولو عظيمه سرمايه د تجارت ده چي په دمخه تجارت كي ذكر سوه.

وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ

او جهاد به كوئ د كافرانو سره په لار كي د خداى (لا لغرض الغنيمة وغيرها من الاغراض) په خپلو مالو او ځانو سره يعني په سر ښندنه سره او د وينې په تويولو سره.

پوښتنه: دې ته يې ولي تجارت ووايه؟

ځواب: ما دمخه اشاره ورته وكړه چي دا اطلاق مجاز دى چي تفصيل د هغه دا دى چي لكه په تجارت كي چي مبادلة المال بالمال ده دلته هم لويه مبادلة فى العوضين ده چي مبادلة الاموال والانفس ده وهذا هو الثمن بنعيم الاخرة ورضوان الله چي دا گويا اعلى وانفس مبيع ده وقد ربح المؤمنون في هذه التجارة ربحًا عظيمًا. او دغه رنګه مبادله د عقائد باطله ؤ چي ثمن قليل او ذليل دى بالعلوم الحقة وفيه ايضًا مرابحة عظيمة صريحة، ولهذا قال الصحابة رضوان الله تعالى عليهم اجمعين ربح البيع لانقيل ولا نستقيل وفيه اشعار بمدح الصحابة الكرامؓ بانهم معتادون بذالك.

فائده: عبارت د آيت اخبار دى لكن په معنى كي مراد امر دى بذالك فافهم، حافظ شيرازيؒ وايي:

فدائى دوست نكردم عمر ومال دريغ .... كه كار عشق زما اين قدر نمى آيد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ⑪

دغه (ای الجمع بین الایمان و المجاهدة بالاموال والانفس) خیر دی ستاسي لپاره (من الاهواء والانفس والاموال) که تاسي پوهېږئ په خبل نفع او ضرر.

پوښتنه: کلمه د ان شرطیه ده، جزاء یې څه ده؟

ځواب: جزاء یې له ما قبل څخه فهمېږي ای فأتوا به ولا تتركوه.

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ

خدای به وبخښي تاسي ته ګناهونه ستاسي او داخل به کړي تاسي و جنتو ته چي بهېږي لاندي تر هغو ویالې.

بوه سه: چي یغفر مجزوم دی جواب د امر مفهوم دی من قوله تؤمنون بالله الآیة کمامر انه خبر بمعنی الامر (ویدخلکم آه) عطف علی قوله یغفرلکم، او دا ویالې چي د جنت تر درختو لاندي به بهېږي څلور به وې یعني اوبه، شیدې، عسل او شراب، لا کخمر الدنیا لان خمر الجنة لا غول فیها ولا هم عنها ینزفون کما جاء في موضع اخر من القرآن العزیز.

وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ

او ځایونه د اوسېدو به پاک او صاف وي من الادناس (هذا من عطف الجزء علی الکل)

بوه سه: چي عدن استقرار او ثبات ته وایي، قال العرب عدن بمکان کذا ای استقر فیه ومنه المعدن المستقر للجوهر.

درویش وایي: چي په دې معنی ټوله جنتونه جنات عدن دي، لکن جنت عدن معنی علمي هم لري یعني چي د یو خاص جنت نوم دی کما قال القرطبي" في تفسیره قیل: الجنات سبع (۱) دار الجلال (۲) دار السلام (۳) دار الخلد (۴) جنت عدن (۵) جنت المأوی (۶) جنت نعیم (۷) جنت الفردوس، کذا روی عن ابن عباس رضي الله عنهما وروی عنه ایضاً چي جنتونه اته دي بزیادة دار القرار علی السبع المذکورة.

درویش وایي: چي اته والی د جنتو هو الاشهر علی السنة العوام والخواص، والله اعلم او فقیه ابو اللیث السمرقندي" وایي چي جنتونه څلور دي فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٢﴾

دغه (اى المغفرة وادخال الجنة) كاميابي ده لويه چي نسبت ودې كاميابي ته همه وهمه د دنيا كاميابي حقيره او ذليله ده، ګويا اطلاق د كاميابئ پر هغو مجاز دى فافهم.

وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ

او بل نعمت چي ستاسي خوښ دى كومك دى د خداى له خوا پر كافرانو او فتح ده نژدې، الاشهر انه فتح مكة يا فتح د خيبر، وقال عطاء فتح د فارس او روم ده كه څه هم دا دوې فتحي په زمانه كي د حيوة د رسول الله ﷺ نه دي واقع سوي لكن بشارت يې من الاخبار بالغيب دى، وقد وقع ذالك فيما يستقبل ففيه معجزة ظاهرة لصدق رسول الله ﷺ في دعوى الرسالة.

پوه سه: چي مفسرين وايي چي اخرى مبتداء ده، مظهري وايي چي خبر يې محذوف دى اى ذالكم نعمة عاجلة، او يا اخرى منصوب محلاً دى عامل يې محذوف دى اى يعطيكم نعمة اخرى (تحبونها) صفت دى د اخرى.

فائده: په (تحبونها) سره اشاره ودې ته ده چي د خلكو طبعًا عاجل پر آجل خوښ وي، دا بيان دى د نعمت اخرى.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾

او زيرى وكړه يا ايها الرسول و مؤمنانو ته په ما وعدهم الله سره في الدنيا والاخرة (وبشر) عطف دى پر قل چي مقدر دى دمخه تر يا ايها الذين آمنوا او التقدير قل يا ايها الذين آمنوا الخ.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ

اى هغه كسانو چي ايمان يې راوړى دى وګرځئ كومك كونكي د دين د خداى (بحذف المضاف لانه تعالى لايحتاج الى النصرة) لكه چي وويل عيسى بن مريم و حوراريينو ته.

فائده: دا تشبيه په اعتبار د معنى ده، والمعنى قل يا محمد (ﷺ) يا ايها الذين كونوا انصار الله كما قال عيسى بن مريم؛ او يا معنى داده كونوا انصار الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كما قال الحواريون في جواب عيسیؑ، حيث قال.

مَنْ أَنْصَارِيٓ إِلَى اللّٰهِ ۖ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللّٰهِ

څوک دي انصار (ای متوجهًا الی نصر دينه) وويل حواريينو (هم اول من آمن به چي دوولس نفره وه) موږ انصار د دين د خدایؒ يو.

پوښتنه: په قول کي د عيسیؑ انصاري راغلی يا اضافت يې و ځان ته وکړی او په جواب کي حواريون انصار الله وويل فكيف التوفيق؟

ځواب: روح المعاني يې داسي تطبيق کړی دی چي په قول کي د انصاري ترجمه يې داسي کړې ده من جندي متوجهًا الی نصرة الله (څوک دی زما لښکر چي متوجه و نصرت ته د خدایؒ وي مطابق قولهم نحن انصار الله) او بعض مفسرين وايي چي نسبت و عيسیؑ ته په من انصاري کي اضافت دی د احد المتشارکين يعني په دين کي و هغه بل متشارک ته، او اضافت و خدایؒ ته په انصار الله کي اضافت د احد المتشارکين يعني په دين کي و هغه بل متشارک ته، او اضافت و خدایؒ ته په انصار الله کي اضافة الفاعل الی المفعول لان المراد به انصار دينه فتدبر هداک الله.

فائده: علماء د تاريخ قديم وايي حوارين چي بولي مشتق دی له حور څخه وهو البياض الخالص وهم اول من امن بعيسیؑ، مقاتلؒ وايي چي عيسیؑ ته خدای وويل اذا دخلت القرينة فائت النهر الذي عليه القصارون (دوبيان چي د خلگو کالي ور مينځي او سپينوي يې يعني په مزدوری) نو ته سوال د نصرت ځني وکړه نو عيسیؑ هم دغسي وکړه، وقال من انصاري الی الله فقالوا نحن ننصرک فصدقوه ونصروه، حسين کاشفيؒ وايي و في الواقع نصرت کردند دين عيسی را بعد از رفع او به آسمان وخلق را بخدا دعوت نمودند آه، نو بعض علماء وايي چي حوارين يې په سبب د صفا د عقائدو د دوی بلل عن التردد، وقيل يظهرون نفوس بافادتهم الدين والعلم عن الشرک الجلي والخفي (ای الرياء)

درويش وايي: چي وړاندي په سورة آل عمران کي تحقيق د بيان د دوی تېر سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ

نو ایمان راوړی یوې ډلې د بني اسرائیلو په تعلیم د حواریونو ۔ او کافران سوه د عیسی ؑ په دین سره یوه ډله د بني اسرائیلو ۔

فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ﴿۱۴﴾

نو موږ تائید وکړی د الذین آمنوا یعني بالحجة او بالحرب (علی عدوهم) پر دښمن د دوی چې کافران (یعني وروسته تر رفع د عیسی ؑ الی السماء) نو دوی وګرځېدل (په تائید او نصرت د خدای ؓ غالبه پر کافرانو) البغوي ؒ وایي چې ابن عباس رضي الله عنهما وایي چې عیسی ؑ چې اسمانو ته پورته کړه سو ۔ قوم یې درې ډلې وګرځېدل، یوې ویل چې عیسی خدای ؤ اسمانو ته ولاړی، بلې ویل چې عیسی د خدای زوی ؤ بیرته خدای ځان ته وبلی ۔ او بلې ډلې ویل چې کان عبد الله ورسوله فرفعه الی السماء لحکمة، ددې ډلو د هرې یوې تابعان سوه په عقیده کې ۔ نو قتل و قتال د دوی تر منځ جاري ؤ او هغه دوې ډلې چې کافران وه پر مؤمنانو غالب سوه په جنګو کې حتی بعث الله محمدا ﷺ فظهرت الفرقة المؤمنة علی الطائفتین الکافرتین وذالک معنی قوله تعالی فایدنا الذین آمنوا الآیة والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

درویش وایي: چې د سورة الصف له تفسیر څخه په توفیق د خدای عزوجل پر یوه نیمه بجه د ماپښین په خپل حجره کې د ربیع الثاني پر شپاړس تاریخ تخمینًا فارغ سوم، اوس په دغه تاریخ شروع کوم ان شاء الله تعالی په تفسیر د سورة الجمعة خدای ﷻ دې توفیق راکړي او راته آسانه دې کړي مع الصحة والسلامة واخلاص النية والقبول في جنابک لهذه الخدمة.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

سورة الجمعة مدنية وهي بسم الله الرحمن الرحيم احدى عشرة اية وفيها ركوعان

درويش وايي: چي مدني والى ددې سورة الجمعة مروي دى له ابن عباس و ابن الزبير و عكرمة رضي الله عنهم و الحسن و مجاهد و قتادة رحمهم الله واليه ذهب جمهور المفسرين والقراء او ابن يسار وايي دا سورة مكي دى وحكى ذالک عن ابن عباس و مجاهد والاول هو الصحيح لما في صحيح البخاري وغيره عن ابي هريرة رضي الله عنه چي موږ ناست وُ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حين انزلت سورة الجمعة، او د ابو هريرة رضي الله عنه اسلام په مدينه كي دى بمدة بالاتفاق، او دغه رنګ دا ايت چي ورسو ته به راسي قل يا ايها الذين هادوا ان زعمتم آه حتمًا په مدينه كي وُ، ولي چي په مكه مكرمه كي مخاطب يهودان كله وه بالاتفاق.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

تسبيح يعني پاكي وايي خداى لره (د قوله ما لا يليق بجانبه تعالى) هغه شيان چي په اسمانو كي دي من ذوي العقول كالملائكة او يا غير ذوي العقول وي كالشمس والقمر والكواكب او هغه شيان چي په مځكه كي دي من ذوى العقول كالانس والجن يا غير ذوى العقول كالحيوانات والاشجار والنباتات والاحجار والجبال وغيرها لكن علماء د ظاهر وايي چي تسبيح د غير ذوى العقول كه په مځكه كي وي او كه په اسمانو كي وي تسبيح حالي ده يعني د دوى حال چي امكان او حدوث دى پر دې دلالت كوي چي دوى لره خالق سته، قادر مطلق سته چي پر ما شائه باندي قادر دى او د امكان او حدوث او عجز او له شريک څخه مبرأ دى الى غير ذالک من صفات الجمال ومن الصفات الجلال وهذا هو السبيح الحال لكن صحيح داده چي مراد تسبيح قولي ده، واي چي د رب جل وعلا سره هر ممكن سر د حيات لري ويدل عليه قوله تعالى وان من شيئ الا يسبح بحمده ولكن لا تفقهون تسبيحهم، وجه الدلالة ان الستبيح الحالي يعلمه كل عالم و عاقل، او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دى چي يوه ورځ موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پر كاسه ناست وُ موږ اوريدل تسبيح د كاسې او په صحيح حديث كي راغلي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم ويل چي زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه درخته اوس هم پېژنم چي زه به غار حرا ته تلم دې به راته ويل السلام عليكم يا نبي الله، او دغه رنګه ابو جهل يو څو شيګي د عليه الصلوة والسلام د امتحان لپاره په موټه کي نيولي وې او عليه الصلوة والسلام ته يې وويل چي دا زما په لاس کي څه شی دي؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ښوونه خو اسانه ده که ستا د لاس شيانو کلمه وويل تې وايي؟ ابو جهل وويل چي دا خو به اعجب وي، نو هغهٔ چي شيګو د ابو جهل په لاس کي لآ اله الا الله محمد رسول الله وويل، ابو جهل شيګي وغورځولې او ويې ويل چي پر دې دي هم سحر وکړی.

درويش وايي: و امثال ذالک کثيرة يطول بذكرها على الاستيعاب الكتاب وفيما ذكرناه كفاية لاولى الالباب فثبت ان المراد بالتسبيح في الآية التسبيح القولي.

هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ

چي مراد ځني عرب دي، ولي چي اكثره د عربو لا يكتبون ولا يقرئون، منسوب الى الام يعني لكه مور چي زېږولی دی پر هغه حال دی يعني كتابت او قرائت يې نه دی زده (رسولاً منهم) اى من جملتهم اميًا مثلهم.

درويش وايي: چي اميت د عليه الصلوة والسلام معجزه ده چي پر ده خدای ﷻ سره له اميته داسي كتاب راواستاوه چي فصحاء د عدنان او بلغاء د قحطان يې په اتيان د مثل عاجزه پاته سوه، كريمه: وان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بمثله الى اخير الآية، نو دا معجزه د قرآن كريم به باقي وي كر الازمان و مر الدهور.

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ

تلاوت كوي پر دوی باندي آياتونه (مع كونه اميًا چي چا دده قرائت او تعلم نه ؤ ليدلی) او پاكوي (من دنس الشرك والخبائث) يعني له خيرو ځخه د شرك او له نورو افعال خبيثه ؤ، او ور ښيي دوی ته كتاب اى القرآن المعجز چي كه ټول له انس او جن جمع سي پر دې چي اتيان په مثل د قرآن وكړي لا يأتون بمثله ولو كان بعضهم لبعض ظهيرًا (يعني يو د بله كومک هم سره وكړي په اتيان د مثل د قرآن) والحكمة يعني الشريعة المحكمة الموافقة لشرائع الانبياء في اصول الدين چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه په ټولو کتابو کې د انبياء عليهم السلام مثل سوی شريعت ؤ نو انکار له شريعت څخه د ده ﷺ انکار دی له شرائع مقدمه ؤ څخه چې په هغو کې يو شريعت د ابراهيم ﷺ دی او سره دد چې مشرکان وايي چې موږ پر شريعت د ابراهيم ؑ يو بلکې يهودان او نصاری هم ورته دعوې کوي چې خدای ﷻ په دغه ايت سره چې لکن پکښې مذکور دی رد د ټولو دغو دعواوو رد کړی دی ما کان ابراهيم يهوديًا ولا نصرانيًا ولکن کان حنيفًا مسلمًا وما کان من المشرکين الآية.

وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ۝

په تحقيق دوی وه د مخه تر بعثت د عليه الصلوة والسلام په ښکاره ګمراهۍ کې وه، ان مخفف د مثل څخه دی اسم يې محذوف دی يعني انهم، د کانوا څخه مراد عرب دي (لفي ضلال مبين) خبر دی د ان يعني دوی په ښکاره ګمراهۍ کې وه وهو عبادة الاصنام التي جمادات لا تضر لمن لا يعبدوهم ولا تنفع لمن يعبدونهم ويأکلون الجيف (مردار شيان) ولې چې يو حيوان به حتف انفه مردار سو دوی به ويل چې دا خدای وژلی دی، د هغو حيواناتو تر غوښو چې دوی به ذبح کړه هغې مرداري غوښې ته يې ډېر اعتبار ورکاوه.

وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ

عطف دی پر ضمير منصوب په يعلمهم کې ای ويعلم اخرين (منهم) ای من جنس الاولين چې د اولينو پر مسلک به وه ويدينون بدينهم او رفتار به يې د اولينو پر لاره ؤ، قال عکرمه و مقاتل التابعون، وقال ابن زيد هم جميع من دخل في الاسلام الى يوم القيامة، وقال عمرو بن سعيد وليث عن مجاهد هم العجم الحديث ابی هريرة ﷺ کنا جلوسًا عند النبي ﷺ اذ نزلت سورة الجمعة فلما قرء وآخرين لم يلحقوا بهم قال رجل من هؤلاء (ای الذين لم يلحقوا بهم؟) رسول الله ﷺ جواب ور نه کړی حتی دوه يا درې واره هغه سړي پوښتنه څني وکړه او په موږ کې سلمان فارسي هم ناست ؤ، قال ابو هريرة ﷺ فوضع النبي ﷺ يده على سلمان ثم قال لو کان الايمان عند الثريا (يعني پيروني) اتا له رجال من هؤلاء وفي رواية رجل من هؤلاء ای اهل فارس حتی يتناوله.

Maktaba Tul Ishaat.com		Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي اهل العلم مع قطع النظر عن التعصب په يوه خوله وايي چي د رجل څخه مراد ابو حنيفة النعمان رحمه الله دی، ولي په اهل فارس کي په علم، اجتهاد او تقوی کي مثل د ابو حنيفه رحمه الله بل څوک نه دی پيدا سوی او دی مبارک له تابعينو څخه دی پر صحيح روايت کما في رد المحتار او له رجال څخه دي صاحبين دده ابو يوسف" او محمد" او په خير القرون کي داخل دي. غير مقلدين يا سلفيان يا اهل حديث چي د ابو حنيفه رحمه الله په باره کي څه د بې شرمی خبري کوي هغه له کمزوري څخه د علم د هغو دي، ولي چي په پوره تاريخ د امام الائمة ابو حنيفه رحمه الله نه دي خبر. ابن المبارک" چي لوړ محدث دی په يوه قصيده کي د امام اعظم رحمه الله په باره کي په يو دوو خوږو بيتو کي داسي وايي:

لقد زان البلاد ومن عليها ..... امام المسلمين ابو حنيفة
فما بالمشرقين له نظير ..... ولا بالمغربين ولا بکوفة

که څوک پوره مستند تاريخ د امام ابو حنيفه رحمه الله غواړي نو شرح د فقه الاکبر چي تصنيف د عاصي دی په سالم دماغ دي مطالعه کړي، ومن الله التوفيق.

درويش وايي: چي اجماع کړې ده فقهاؤ چي تقليد د يوه مذهب من المذاهب اربعه څخه واجب دی او مخالفت د ټولو مذاهبو باطل بالاجماع دی.

حکايت: د کوټي د سلفيانو يو جماعت د ملايانو د دوی څو کاله د مخه ماته راغلی ؤ لپاره د دې چي د تقليد په باره کي زما سره مناظره بحث او مناظره وکړي وخت د ماپښين د لمانځه ؤ زه چي د لمانځه لپاره له کور څخه مسجد ته ورتلم نو د جامع مسجد ومخ ته يو موټر ولاړ ؤ پر نوشته وه جامعه سلفيه، خير وروسته تر لمانځه چي مو رو غبر سره وکړی نو دوی راته وويل چي مولوي صاحب چايي موږ ته راکوې؟ فقير ورته وويل هو! نو پټک ته سره راغلو وروسته تر چايو ما وار پر د مخه کړی يو څو کسه طالبان هم راغله، نو فقير دوی ته وويل چي تاسي خو به سلفيان ياست؟ دوی وويل هو! ما ورته وويل چي سلفيان څه صيغه ده دوی راته وويل چي ته د صرف او نحو خبري پرېږده علمي خبري به وکړو ما ورته وويل چي له د غه ځايه څخه علمي خبرو ته ځان رسوو، خو دوی دومره بې علمه خلک وه چي دا يې نه سوه ويلای چي جمع ده، ما ورته وويل چي دا به زه درو ښيم چي جمع د سلفي ده دوی وويل هو، ما ورته وويل چي د سلفي څه معنا ده؟ دوی بيا وويل چي دا خبري پرېږده علمي خبري به وکړو، ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وويل چي علمي خبرو ته به ژر ورسېږو ان شاء الله، نو له دې جواب هم دوی عاجزه پاته سوه، ما ورته وویل چي دا به هم زه دروښیم چي په سلفي کي یا د نسبت ده یعني منسوب و سلف ته ده، بیا ما ورته وویل چي د سلف څه معنا ده خو دوی بیا وویل چي علمي خبري به وکړو، خیر بیا ما ورته وویل چي سلف جمع د سالف ده. د سالف څه معنا ده؟ خیر خو دوی بیا هغه د مخه خبره تکرار کړه، ما ورته وویل د سالف معنا ده متقدم شخص، ما ورته وویل چي له سلفو څخه ستاسي صحابه کرام ﷺ مراد دي؟ دوی وویل یا، ما ورته وویل تابعین مو مراد دي؟ دوی وویل یا، ما ورته وویل تبع تابعین مو مراد دي؟ دوی وویل یا. ما ورته وویل چي خیر القرون کما جاء في الحدیث الصحیح دغه دي، تاسي ګویا تبع د ما سوی د خیر القرون یاست یعني محمد بن عبدالوهاب النجدي او ابن تیمیه الحراني، دوی وویل هو. ما ورته وویل چي موږ د خیر القرون تابعان یو او تاسي د شر القرون تابعان یاست، نو زموږ او ستاسي تر منځ علمي فیصله وسوه چي موږ تر تاسي پر حق یو، نو دوی حیران سوه چي دا یې څرنګه فیصله زموږ زد وکړه، نو یې بحث قطع کړی، وروسته یې وویل چي موږ تا مېلمه کوو په جامعه سلفیه کي نوري خبري به هوري سره وکړو، ما ورته وویل چي زه یې وقوف نه یم چي ستاسي مهماني به قبلوم، ولي که زه درسم دو دی به راکړئ او بحث هم نسئ کولای بلړه ورځ به نشریات عامه لکه اخبارات، جرائد یا رادیوګانو کي به دا شائع کړئ چي مولوي عبید الله زموږ جامعه سلفیه ته راغلی ؤ زموږ د مدرسې ډېر تحسین یې وکړی او زموږ تعلیمات یې ډېر خوښ کړه، نو دا ؤ بیان د حال د سلفیانو د کوټي.

لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝

چي د دوی زمانه یې نه ده نیولې بلکې په زمانه کي وروسته دي (او بعض مفسرین وایي چي لم یلحقوا بهم في الفضل والثواب لان التابعين ومن بعدهم لا یدرکون فضل الصحابة ﷺ) او خدای غالب دی مانع د ماشاء یې څوک نسي مانع کېدلای او حکیم دی چي ده مختار کړی رسول کریم ﷺ من کافة البشر لتعلیم الناس الدین المبین.

ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ۝

دغه (ای بعثته وتعلیمه ﷺ وزکی الناس عن الضلالات) فضل دی د خدای ورکوي یې وهغه چا ته چي د ده خوښ وي یعني لیس اعطاء النبوة مربوط بکثرة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المال والجاه والجلال كما يزعمونه المشركين، او الله تعالى د لوى فضل خاوند دى چي د خداى ﷻ لوى فضل په مقابل كي هر نعمت حقير دى.

مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا

اى علموها وكلفوا العمل بما فيها (مثال د هغو كسانو چي دوى ته بنوول سوى دى تورات او دوى مكلف كړه سوي دي په عمل سره د ما في التورات، روح المعاني وايي چي تحميل په دې معني كي چي ذكر سول شائع دى يلحق بالحقيقة يعني كنه څه هم معنى لغوي د تحميل بار كردن ده لا العلم والتكليف فافهم، او مراد له دې څخه يهودان دي (لم يحملوها) يعني عمل يې نه دى په كړى چي په تورات كي د مكلف والي عملونه دي چي د هغو په جمله كي هغه آيات د تورات دي چي په باره كي د حقيت د رسالت د رسول كريم ﷺ دي چي دوى يا پټ كړي له عوام الناس څخه د يهودانو يا يې تغيير وركړى دى خوفًا على قطع الارزاق چي له عوامو څخه دوى تر لاسه كاوه او پر عوام اليهود باندي يې خپل رياست ساته.

(كمثل الحمار يحمل اسفارًا) لكه حال د خره چي پر ده باروي كتابونه د علم نو خر خو تكليف د بار د كتابو د علم برداشتوي لكن نفع نه ځني اخلي او په دې هم نه پوهېږي چي پر ما بار لركي دي او كه كتابوه د علم دي.

فائده: يحمل اسفارًا صفت د حمار دى.

سوال: حمار خو معرفه دى په الف ولام سره او جمله يحمل په حكم كي د نكره دى كما صرح به النحات؟

ځواب: الف لام د عهد ذهني دى چي حكم يې د نكره دى عند النحاة، ولي حمار معين خو مراد نه دى فيكون من قبيل قول الشاعر: ولقد امر على اللئيم يسبني.

درويش وايي: چي د هر عالم چي په علم خپل عمل نه كوي د غه يې حال دى، قال رسول الله ﷺ اللهم اني اعوذ بك من علم لا ينفع ... بيت:

تعلم يا فتى فالجهل عار .... ولا يرضى به الا حمار

بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

بد دى حال او مثال د هغه كسانو چي تكذيب يې كوي دى چي قرآن عزيز دى مراد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لـه قوم څخه یهودان دي چي دوی تکذیب د قرآن کړی دی بلکې تکذیب د آیاتو د تورات هم کړی دی چي په هغو آیاتو کي بیان د حقیت د رسالت د رسول اللهﷺ دی.

فائده: مخصوص بالذم یې محذوف دی و التقدیر بئس مثل القوم المکذبین مثلهم.

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ۝

او خدای هدایت نه کوي هغه قوم ته چي ظالمان وي وقت اختیار هم الظلم والدوام علیه وهم الیهود ایضًا، شیخ سعدي" درباب علم بې عمل چه خوش گفته است:

علم چندانکه بیشتر خوانی ..... چون عمل در تو نیست نادانی

نه محقق بود نه دانشمند ..... چارپایی برو کتاب چند

آن تهی مغز را چي علم وخبر ..... که برو هیز مست یا دفتر

کاشفي" ابیات علم بی عمل گفته:

گفت ایزد یحمل اسفاره ..... باز باشد علم کان نه بود زهو

علمهای اهل دل حمال شان ..... علمهای اهل تن احمال شان

علم چون بر دل زند یاری بود ..... علم چون بر سر زند ماری بود

قُلْ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ اَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ

او ووایه یا محمد (ﷺ) هغو کسانو ته چي په دین کي د یهودیت داخل دي، که ستاسي زعم وي (تعبیر په زعم سره وکړی چي معنا یې ګمان دی سره ددې چي د دوی خو داغه یقین ؤ تنبهًا علی فساده) لکه دوی چي به ویل نحن اولیاء الله واحبائه "من دون الناس" یعني من دون محمدﷺ واصحابهﷺ.

فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ۝

نو خدای" ته خواست وکړئ د خپلو ځانو د مرګ (حتی تنتقلوا من دار البلیة (ای الدنیا چي سرای د بلاؤ ده) الی دار الکرامة چي جنت دی لان الموت جسر (پل دی) یوصل الحبیب الی الحبیب) که چېري تاسي یاست صادقین في زعمکم ذالک فتمنوه شرط مستغني عن جوابه بما قبل یعني فتمنوا الموت.

فائده: خدای پاک امر کړی رسول خیل چي دوی ته دي دغه خبره وکړي لیظهر کذبهم، ولي چي دوی به ویل نحن ابناء الله واحبائه، او دا یې هم ویل چي لن یدخل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجنة الا من كان هودًا، په صحيح حديث کي راغلي دي چي لما ظهر رسول اللهﷺ (اى هاجر الى المدينة) كتب اليهود المدينة الى يهود الخيبر (چي هوري د دوی احبار موجود وه) ان اتبعتم محمدًا اتبعناه وان خالفتمونه خالفناه، که يې تاسي متابعت وکړی موږ يې هم متابعت کوو او که يې تاسي مخالفت وکړی موږ يې هم مخالفت کوو. يهودانو د خيبر دوی ته داسي جواب نوشته کړی نحن ابناء خليل الرحمن ومنا عزيز ابن الله والانبياء فينا ولما كانت النبوة في العرب ونحن احق بها من محمد فلا سبيل الى اتباعه فنزلت قل يا ايها الذين هادوا آه.

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ اَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ؕ

او دوی يعني يهودان تمنی د مرګ نه کوي ابدًا په سبب د دې چي د مخه کړی لاسو د دوی (چونکه غالب کارونه په لاسو کېږي نو په دې سبب يې لاسونه ذکر کړه ورنه کفر خو د زړه کار دی) يعني دوی په دې پوهېږي چي موږ مستحق د نار کبرٰی يو په سبب د کفر او معاصيو او تحريف د آياتو د قرآن الناطقة بنبوة محمدﷺ فكيف يتمنون الموت چي دوی دي اورته ورسوي بلکې دوی احرص دي تر تاسو پر ژوند بلکې تر مشرکينو هم احرص دي ولي مشرکين جنت او دوږخ نه مني او يهودان خو يې مني حتی چي دوی به يو بل ته ويل عش انف سنة.

فائده: بعض علماء وايي چي دا مختص يعني عدم تمنی د مرګ خاص دی په هغو يهودانو کي چي په دې ايت کي مخاطب وه. لکن په صحيح حديث کي راغلي دي چي رسول اللهﷺ دوی ته وويل والله الذي نفسي بيده لايقولها احد منكم الا مات بريقه (چي په ستونو کي ناړي ودرېږي او موت به يې په خپلو ناړو سره وي) فلا يتمنه احد منهم. ولي د دوی خو يقين دی چي محمدﷺ رسول د خدای دی هر څه چي وايي هغه رښتيا وايي نو که موږ تمنی د موت وکړو دستي پر موږ عذاب نازلېږي او په خپلو ناړو به مړو او عذاب ته د جهنم به داخلېږو.

درويش وايي: چي دا د عليه الصلوٰة والسلام معجزه وه چي دوی تمنی د موت نسو ای کولای لخوفهم من لحوق العذاب بهم كما قال عليه الصلوٰة والسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ بِالظّٰلِمِيْنَ ۝

خدای (ﷻ) خبر دی په ظالمانو سره.

سوال: ځای خو د ضمیر ؤ یعني بهم، نو د الظالمین په راوړلو کي څه حکمت الهي ؤ؟

ځواب: لاظهار کونهم ظالمین فیما قالوا وفعلوا، او بل حکمت دا دی چي نورو ظالمانو ته هم شامل سي.... بیت:

چه خوش گفت یکروز دارو فروش .... شفا بایدت دوایی تلخ نوش

قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ

ته ورته ووایه یهودانو ته چي هغه مرگ چي څني تېښتئ ای تخافون اشد الخوف له دي سببه چي په خپلو اعمالو سیئه ؤ به مو خدای پاک ونسي او تاسي پر تمنی د هغه مرگ دلاوري هم نسئ کولای، نو هغه مرگ پر اجل موعود ستاسي خامخا ملاقي کېږي فائده نه کوي فرار ستاسي له مرگ څخه، الجملة الثانية خبر لان.

فائده: مکرر راوړی خدای عزوجل کلمه د انّ لکمال التاکید نظر علی اصرارهم (ای دوامهم) علی الکفر والمعاصي الذي کانه هو الدلیل علی شدة کراهتهم الموت.

ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۝

وروسته به تاسي رد کړه سئ و هغه خدای ته چي خبر دی په غیب سره یعني د خلکو څخه والا فلا غیب عن الله، او په شهادت سره یعني چي د خلکو په حضور کي تاسي گنهونه کړي دي یعني پر پټو گناهو ستاسي او پر ښکاره گناهو ستاسي به جزاء اوفی درکړي، قال المولوي المعنوي جلال الدین الرومي" في المثنوي:

پس رجـال از نـقل عالم شادمان ...... وزبقایش شادمان این کودکان

چونکه آب خوش ندید آن مرغ کور ...... پـیش کـوثر نماید آب ستور

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ

ای هغه کسانو چا چي ایمان راوړی دی کله چي اواز (یعني اذان وسي) د لمانځه لپاره د جمعې په ورځ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مراد له نداء څخه آذان اول دی، او کلمه د من په نېز د بعض مفسرينو په معنی د في ده يعني في يوم الجمعة كما في قوله تعالی اروني ما ذا خلقوا من الارض (ای في الارض)

فائده: د علماؤ اختلاف دی چي دا ولي ورځ د جمعې بولي، مع الاتفاق چي دا ورځ يې په جاهليت کي العروبة بلل چي معنی يې اليوم البين المعظم ده، بعض مفسرين وايي چي اول سړی چي ورځ د جمعې يې مسمی کړه كعب بن لوی ؤ وهو اول من قال اما بعد، چي كعب بن لوی ته به جمع کېدل په دغه ورځ قريش نو ده به وعظ او تبليغ ورته کاوه او زيری به يې ورته کاوه په مبعث د رسول اللهﷺ چي دی زموږ له اولاد څخه دی، ويأمرهم باتباعه والايمان به او كعب بن لوی به بعض اشعارهم ويله چي يو بيت يې دا دی:

يا ليتني شاهدًا نجواء دعوته ...... اذا قريش تبتغی الحق خذلانا

فائده: اولاد د اسماعيلؑ تاريخ يې له بناء څخه د الكعبة الشريفة کاوه چي كعب بن لوی وفات سو تاريخ يې بدل کړی، او ورځ د وفات د كعب بن لوی حتی كان عام الفيل (چي تفصيل به يې په سورة الفيل کي راسي ان شاء الله العزيز) چي دغه عام الفيل ورځ د ولادت باسعادت د رسول اللهﷺ هم وه، بيا خلكو تاريخ و عام الفيل ته واړاوه الی آن هاجر رسول اللهﷺ الی المدينة چي تر اوسه پوري په قمري حساب سنه هجري بولي.

تاريخ وايي: چي په مابين کي د وفات د كعب بن لوی او د مبعث د رسول اللهﷺ پنځه سوه شپېته (۵۶۰) کاله وه، وقال فيه ای في يوم الجمعة خلق د آدمؑ سوی دی كما روی احمد والنسائي وابن خزيمة وابن حبان عن سلمان الفارسيؓ ان رسول اللهﷺ قال اتدرون ما يوم الجمعة (ای وجه تسمية هذا اليوم بالجمعة) قلت الله و رسوله اعلم حتی چي دري واره رسول اللهﷺ دا خبره وکړه، قال في الثالثة جمع فيه ابو كم (يعني آدم الی اخير الحديث) قال الحافظ ابن حجرؒ وهذا اصح.

درويش وايي: چي په مناسبت د يوم الجمعة بيان او قصه د هجرت د نبيﷺ او د ابو بكرؓ په به ګډه سره واورو، تاريخ صحيح وايي چي رسول كريمﷺ د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوشنبې په ورځ يا شپه زېږېدلی دی او د دوشنبې په ورځ وحي ورت راغلي دي او
هم د دوشنبې په شپه له مکې څخه د هجرت کولو په نيت وتلی دی او هم د دوشنبې
په ورځ مدينې ته رسېدلی دی او هم د دوشنبې په ورځ د ربيع الاول پر دوولسمه
نېټه د دار الفناء په قصد د رفيق اعلی وفات سوی دی، انا لله وانا اليه راجعون،
شاه ولي الله الدهلوي المحدث الکبير" وايي چي دا ټولي واقعات چي په ورځ يا
په شپه د دوشنبې سوي دي اشاره ورته دې ته ده مصرع:

بعد از خدا بزرگ توئ قصه مختصر

مقدم رسول الله ﷺ المدينة و اول صلوة الجمعة هکذا روی البخاري عن انس عن
عائشة وابن سعد عن جماعة من الصحابة ﷺ چي مسلمانانو د مدينې چي واورېدل
چي رسول کريم ﷺ په نيت د هجرة الی المدينة المنورة ته را روان دی، نو هره ورځ چي
به دوی د سهار لمونځ وکړی په انتظار به وه د مقدم دده په الحرة (يعني ثنية الوداع)
ته به راتله مسلح به را وتل او ورځي د دوبي وې چي سخته ګرمي به وه نو سايې به
ټولي سوې ګرمی به په عذاب کړه کورو ته به ولاړل حتی چي يوه ورځ د ګرمی له سببه
دوی کورو ته تللي وه يو يهودي چي د قلا پر برج ولاړ ؤ د يوه کار لپاره مرکب د عليه
الصلوة والسلام يې وليدی، نو په لوړ اوازيې ناره وکړه يا قبيلة الانصار هذا
صاحبکم الذي تنتظرونه قد جاء، مسلمانان وغورځېدل سلاح يې واخسته او د عليه
الصلوة والسلام مخ ته ووتل او دغه ورځ د دوشنبې وه د مياشتي د ربيع الاول
دوولسمه نېټه وه، نو چي سره يو ځای سوه دا بيت د ټولو په خولو کي ؤ:

طلع البدر علينا من ثنيات الوداع .... وجب الشکر علينا ما دعاء الله داع

نو عليه الصلوة والسلام په قباء پر بني عمر بن عوف علی کلثوم بن الهدم ؓ
باندي د نزول نيت ؤ نو کلثوم ناره وکړه يو غلام ته يا نجيح نو عليه الصلوة والسلام
و ابوبکر ؓ ته وويل د نېک فالی په توګه نجحت يا ابابکر (يعني کامياب سوې)
او دغه کلثوم بن هدم په قباء کي يوه مځکه خالي درلوده چي دوی به د باغو
خورماوي دا لته راوړې د وچېدو لپاره چي نوم د دغه ځای مربد ؤ، نو رسول الله ﷺ
د کلثوم بن هدم څخه د دغه ځای وغوښتی د مسجد د جوړېدو لپاره، کلثوم ورته
وويل چي صحيح ده، نو عليه الصلوة والسلام امر وکړی چي که په دا باغ کي وچ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تیران یعني لرګي د خورما وي را دي وړي، او که څوک څره لري د بري دي پر راوچلوي، خیر کار شروع سو او په ساده ډول د مسجد قباء بنیان علیه الصلوة والسلام کښېښو. په صحیح بخاري کي وايي چي علیه الصلوة والسلام بضعة عشر یوم هوري تېري کړي چي مسجد قباء تکمیل سو، له انس څخه روایت دی چي په څوارلس (۱۴) ورځي کي تکمیل سوی وهو اول مسجد في الارض چي بناء يې د مسلمانانو په لاس وسوه، وفيه نزل: ان اول مسجد أسس على التقوى الآية، او بعض راویان وايي چي دوه ویشت ورځي يې په کور کي د عمر بن عوف کي تېري کړې، بیا علیه الصلوة والسلام بني النجار ته وویل چي دده ماماګانو په توګوه وه ولي چي مور د عبد المطلب د دوی له قوم څخه وه، او بعض راویان وايي چي په خپله د علیه الصلوة والسلام مور د دغه قوم څخه وه والله اعلم، سرې يې ور واستاوه چي راسئ زه مدینې ته ځم نو بني النجار راغله توري يې په غاړو کي وې نو دوی علیه الصلوة والسلام او اصحابو ته وویل: ارکبوا آمنین مطاعین دا ورځ د جمعې وه فرکب رسول الله ﷺ پر خپله اوښه چي قصوی يې بلل، او بني النجار وغیرهم روان وه پر راسته جانب او پر چپه جانب او وروسته تر ده بعض سپاره بعض پیاده وه فخرج رسول الله ﷺ من قباء يريد المدينة المنورة نو خلک چي مخ ته دده له مدینې څخه وتلي وه ناري يې وهلې الله اکبر جاء رسول الله ﷺ.

البیهقي له عائشې رضی الله عنها څخه روایت کړی دی چي ښځي او کوچنیان د بني النجار به داسي بیت وایه:

نحن بنات من بني النجار .... یا حبذا محمداً من جار

البغوي وايي چي د جمعې د لمانځه په وخت کي په بني سالم بن عمرو بن عوف کي داخل سو، نو علیه الصلوة والسلام په هغه شپله کي د جمعې لمونځ وکړی، دا اول د جمعې لمونځ ؤ چي علیه الصلوة والسلام و مدینې ته نژدې وګزاره، او اوله خطبه وه چي علیه الصلوة والسلام وویل چي وروسته خلګو یعني مسلمانانو هورې یو مسجد جوړ کړی دی چي مسجد جمعه يې بولي.

ثم اخذ عن يمين الطريق فمر على بني ساعدة فقام اليه سعد بن عبادة والمنذر بن عمرو وابو دجانة ﷺ هلم (راسه) يا رسول الله الى العز والثروة (اى الغنا)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والقوة (يعني چي موږ يې لرو) و الجلد (عطف تفسير دی) فيقول رسول اللهﷺ يا ابا ثابت (چي كنيت د سعد وُ) د اوښي لار ايله كړه (يعني اوښه سعد تر مهار نيولې وه) فانها مأمورة (زما اوښه مأموره ده) يعني د خدایٴ له خوا هر ځای چي خدایٴ ته منظور وُ هورې به ځپله چوكېږي. راوي وايي چي رسول اللهﷺ چي تر دوی تېر سو په لاره كي سعد بن الربيع وعبد الله بن رواحة ولاړ وه فقالا يا رسول الله (يعني د اوښي مهار يې ټينګ كړی) لا تجاوز عنا (تر موږ مه تېرېږه) يعني زموږ سره اقامت مختاره كړه، هغو ته هم رسول اللهﷺ وويل خلوا سبيلها فانها مأمورة، وروسته بيا زياد بن لبيد او فروة بن عمر په لاره كي ولاړ وه خو هغو هم دعوت وركړی او عليه الصلوة و السلام ورته جواب وركړی. يعني فانها مأمورة وروسته عليه الصلوة و السلام تېرېدی پر بني عدي النجار چي د عليه الصلوة والسلام ماماګان وه فقال ابو سليط وصرفة بن ابي انيس يا رسول الله لا تجاوز عنا نحن اخوالوک د قرابت په سبب او ثروة مو هم ډېر دی منعة او قوة مو هم ډېري دي لا تجاوز عنا الى غيرنا. دوی ته هم رسول اللهﷺ هغه پخوانی جواب وركړی خلوها فانها مأمورة. خير اوښه ورسېدله و دروازې ته د مسجد نبوي (يعني چي وروسته به مسجد نبوي جوړ سي دغه ځای به يې دروازه وي) اوښه په ځپله چوكه سوه، جبار بن صخر چي هر څو اوښه و چيخول چي ولاړه سي اوښه نه ولاړېدله، نو عليه الصلوة و السلام ځني راكښته سو وقال ای بيوت اهلنا (ای اصحابنا) اقرب فقال ابو ايو الانصاريﷺ خپل كور يې ورياد كړی وقال هذا المنزل. فقال رسول اللهﷺ اللهم انزلنا منزلاً مباركاً وانت خير المنزلين څلور واره يې دغه دعاء وكړه. الطبراني له ابن الزبيرؓ څخه روايت كړی دی چي عليه الصلوة و السلام په كور د ابو ايوب الانصاريؓ سره د زيد بن حارثهؓ. او سدي ؒ او ابن اسحاق ؒ او ابن هشام ؒ په خپل تاريخي كتابو كي وايي چي دا كور تبع اول جوړ كړی وُ.

فائده: تبع په اصطلاح د اهل اليمن هغه سلطان ته وايي چي ډېر تابعان لري د يو معين سړي نوم نه دی نو ځكه تبع په اول سره مقيد سو، چي د تبع اول سره څلور سوه (٤٠٠) احبار او علماء ورسره وه، هغو احبارو د اتفاق سره وكړی چي موږ به له يثرب (چي د مديني منورې پخوانی نوم وُ) څخه نه ورځو، نو تبع ته يې د اپېش نهاد وكړی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

چي، نو تبع سِر (يعني خفيه راز ددې قصد د دوی) وپوښتی نو هغو احبارو ورته وويل چي موږ په خپلو کتابو کي ليدلي دي چي نبي چي نوم به يې محمد (ﷺ) وي دا ښار به د هغه دار الهجرة وي، نو موږ دلې اوسېږو شايد موږ يې و وينو، يا به موږ مړه سو زموږ اولادو ته به يې و ويني وهلم جرا، تبع اول هم دا اراده وکړه چي زه هم دلې پاته سوی وای د احبارو سره، وروسته يې فکر وکړی چي زما په مخ کي فتح ده د نورو ملکو او هغه موعود تاريخ نه دی معلوم، نو دغو څلور سوه احبارو ته يې هر يوه ته د اوسېدو سرای جوړ کړی او څلور سوه مينځياني يې رانيولې او هر جبر ته يې يوه يوه په نکاح ورکړه او هر يوه ته يې ډېر نقود ورکړه او يو خط يې نوشته کړی د خپل اسلام پر محمد ﷺ، مضمون د خط دا و: اشهد علی احمد انه رسول الله ﷺ که خدای عزوجل زما عمر دومره کړی چي ما دی وليدی زه به دده وزير يم يا ابن عمه او کتاب يې مهر کړی په سرو زرو او مشر ته د احبارو يې ورکړی چي نبي ﷺ ته دې ورکړي که ده وليدی والا فمن ادرکه من ولده و ولده وهلم جرا الی النبي ﷺ او تبع د رسول کريم ﷺ لپاره هم سرای جوړ کړی چي دی به پکښې واړوي که مدينې ته راغلی په مرور د زمانو هغه سرای د ابو ايوب الانصاري ﷺ په لاس کي ؤ وهو من ولد ذالک العالم حتی دفعه الی رسول الله ﷺ.

درويش وايي: چي دا سِرِ د هغي خبري د عليه الصلوة والسلام دی چي زما اوښه مأمور ده، نو ابو ايوب ﷺ هغه مکتوب د تبع و عليه الصلوة والسلام ته ورکړی عليه الصلوة والسلام وويل نعم العبد تبع يعني ده اسلام بالغيب قبول کړی.

درويش وايي: چي که دا قصه د تاريخ پوهانو صحيح وي، نو دا ډېره لويه معجزه ده د عليه الصلوة والسلام چي دې ته په عربي ژباره ارهاس وايي لکه ولادت با سعادت د عليه الصلوة والسلام په عام الفيل کي، والعلم عند الله العزيز العلام.

آفاقها گرديده ام بسيار خوبان ديده ام، اما تو چيزی ديگری

صبا مدینے میں مصطفیٰ سے ہم غریبوں کا سلام کہنا
نہیں ہے کوئی بجز تمہاری بس میر التایام کہنا

يعني په دنيا او آخرت کي بې له تا څوک نه لرو.

فائده: مراد له نداء څخه علی ما حکی في الکشاف الاذان عند قعود الامام علی

Maktaba Tul Ishaat.com   Scanned by CamScanner

المنبر (ولې چې مسلمانان د هغه به هم على الوقت حاضر وه فلم يكن احتياج الى اعلام الغائبين) وكان لرسول الله مؤذن واحد نو عليه الصلوة والسلام چې پر منبر تشريف فرما سو هغه به اذان وكړې فاذا نزل عن المنبر اقامت بې وكړې، او ابوبكر او عمر ﷺ هم پر ده مسلک روان وه حتى چې عثمان ﷺ خليفه سو او خلک ډېر سوه او كور ونه يې لېرې سوه دو هم اذان يې زيات كړې چې اوس يې اول اذان بولي على داره الذي تسمى الزورا. بيا چې عثمان ؓ پر منبر كښېنستى مؤذن ثاني به اذان وكړې، فاذا نزل اقام نو هيڅ چا د عثمان ؓ پر دغه كار عيب نه دی ويلی.

درويش وايي: چې پر هم دغه د عثمان ﷺ پر عمل په بلادو كې د مسلمانانو عمل جاري دی، وفي الحرمين الشريفين الى يومنا هذا.

مسئله: سعي الى الصلوة الجمعة وترک البيع په نېز د بعض علماؤ په نداء ثاني پوري مربوط ده، والصحيح ان السعي وترک البيع ونحوه مربوط په اذان اول پوري لعموم قوله تعالى اذا نودي للصلوة من يوم الجمعة وصدقه على الاذان الاول ايضًا كذا قال المظهري، وفيه ان الاذان الاول لم يكن في عصر النبي ﷺ فكيف يراد في القرآن العزيز النازل في عصر النبي ﷺ فتدبر.

فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ

پوه سه: چې مراد له سعي څخه معنى متعارفه نه ده چې ځغاسته يې په پښتو بولي، ولې له سعي څخه په مذكوره معنى نهي راغلي بالامر بالسكينة والوقار، و قرء عمر بن الخطاب ﷺ فامضوا وكذا هو في قرائة ابن مسعود ؓ وقال الحسن ؒ ما هو بالسعي بالاقدام ولكن السعي بالقلوب والسعي بالخشوع والنية والخضوع، وفي الحديث آتوا الصلوة بالسكينة والوقار، وعن قتادة ؒ في تفسير هذه الآية انه السعي بالقلوب وعملكم المشي بالاقدام كما قال الله تعالى في حق اسماعيل ؒ فلما بلغ السعي معه اى المشي مع ابراهيم ؒ، وعن ابى هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذا اقيمت الصلوة فلا تسعون (راځغلئ مه) ولكن ايتوها تمشون وعليكم السكينة والوقار فما ادركتم فصلوا وما فاتكم فاتموا، رواه الصحاح الستة في كتبهم.

"الى ذكر الله" قال سعيد بن المسيب ؒ هو موعظة الامام والخطبة.

پوه سه: چې امر بالسعي لپاره د وجوب دی كما في روح المعاني او په دې سره دليل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ویل کیږي پر فرضیت د جمعې د لمانځه دی حتی چي هغه څوک چي پر هغه جماعت فرض نه وي لکه ښځي او نا بالغ هلکان سعي الی ذکر الله هم فرض نه ده وکذا ثبت فرضية الجمعة بالسنة والاجماع حتی چي بعض حنیفیان وایي چي منکر د فرضیت څخه د جمعې د لمانځه کافر دی او جمعه فرض عین ده، کذا في روح المعاني والبغوي.

پوه سه: چي فرضیت یې پر رجال بالغین باندي دی.

فائده: تخصیص د بیع چي یې وکړی له دې سببه یې وکړی چي اکثره خلک بعد الزوال په بازارو کي په بیع سره مشغوله وي والاهر کار چي سړی مشغوله کوي د لمانځه او سماع الخطبة هغه فعل حرام دی لکه نوم وغیره که دوه کسه د جمعې د لمانځه لپاره را روان وه په دغه لار بیع یې وکړه حرامه نه ده لعدم الاشتغال به عن صلوة الجمعة والخطبة.

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ۝

دغه (تګ د لمانځه او خطبې اورېدلو ته او ترک د ما یشتغل به منهما) بهتر دی تر بیع او شراء وغیرهما من الموانع (ان کنتم تعلمون) ای ان کنتم من اهل العلم په خپلو مصالحو سره (نو تعلمون نازل منزلة اللازم دی) او یا معفول محذوف دی یعني تعلمون مصالحکم شرط مستغني عن الجزاء بما قبله، وعن ابی عمرو وابی هریرة رضی الله عنهما دوی وویل چي موږ واورېدل د رسول الله ﷺ څخه پر لرګیو د منبر لتنتهين اقوام عن ودهم الجمعات او لتضمن علی قلوبهم ثم ليكونن من الغافلين (خامخا به نهي کېږي قومونه د پرېښولو څخه د جمعې د لمونځو او یا به خدای مهر پر زړو د دوی ولګوي یا به ګرځي د غافلانو له ډلي څخه، رواه مسلم، وعن طارق بن شهاب قال قال رسول الله ﷺ الجمعة حق واجب علی کل مسلم الا علی اربعة مملوک (چي مریی وي) او امرئة او صبي او مريض رواه ابو داؤد، وعن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما عن النبي ﷺ من ترک الجمعة من غیر عذر کتب منافقا وفي بعض الروايات ثلثا دا حدیث ذکر کړی دی الشافعي.

مسئله: لایجب الجمعة علی مسافر اجماعا وحکی عن الزهري والنخعي وجوبها علی المسافر اذا سمع النداء (ای الاذان)

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي مظهري كما هو عادته د تفسیر څخه فقه جوړه کړې ده چي اختلاف المذاهب الاربعة سره د دلائلو ذکر کوي او نقض او ابرام هم ذکر کوي، وما نه انکار میکنم ونه این کار میکنم.

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَوٰةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ

چي لمونځ د جمعې اداء کړه سو، نو سره متفرق سئ په مځکه کي یعني یا کورو ته ولاړ سئ یا بازارو ته.

یوه سه: چي دا امر اباحت دی وروسته تر منع لاجل الصلوة كما هو القانون في اصول الفقه چي امر وروسته تر منع لپاره د اباحت دی، قال ابن عباس رض ان شئت فاخرج وان شئت فاقعد وان شئت فصل الى العصر، او بعض مفسران وايي چي مراد انتشار في الارض نه دی لطلب الدنیا لکن لعبادة مریض وحضور جنازة وزیارة اخ في دينه.

تنبیه: قال البغوي قال الحسن وابتغوا من فضل الله هو طلب العلم، نو پر اقوالو دا امر د استحباب دی.

وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ⑩

او تاسي طلب کوئ د فضل د خدای او ذکر کوئ د خدای ډېر یعني په ډېرو حالاتو کي من القيام والقعود والاضطجاع ولا تقصروا ذكره بصلوة الجمعة د عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی ان رسول الله ﷺ قال من دخل السوق چي بازار ته سړی داخل سي فقال لا اله الا الله وحده لاشريک له وله الملک وله الحمد يحيى ويميت وهو حي لايموت بيده الخير وهو على كل شيئ قدير، كتب الله له الف الف حسنة ومحي عنه الف الف سيئة ورفع له الف الف درجة، رواه الترمذي.

یوه سه: چي لعل په معنی د لام کی دی ای لکی تفلحوا بخيرات الدارين.

یوه سه: چي بخاري او مسلم روايت کړی دی له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه چي علیه الصلوة والسلام خطبه ویل په ورځ د جمعې یوه قافله راغله چي غذائي مواد لکه غنم، اوربشي وغیره پکښې وې، ټوله خلک ورو ولاړ سوه او د علیه الصلوة والسلام سره دوه کسه پاته سوه، فانزل الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا

او چي كله و وينې دوی تجارت او يو لهو شی (چي د عربو عادت دا ؤ چي قافله د مايحتاجون اليه به راغله دوی به ډول ووهلو) دوی متفرق سي ستا څخه يعني ولاړسي.

پوښته: چي په جمله شرطيه کي دوه شيان راوړه ای التجارة واللهو او په جزاء کي يې مفرد ضمير راوړی يعني اليها اشارة الى ان تفرق الناس كان للتجارة لا للهو يعني چي غذايي مواد رانسي لا اللهو. او الحسن و ابو مالک وايي چي اهل مدينه د غذايي موادو کمبود په سبب د ډېرې لوږې سره مخامخ وه او نرخونه د غذايي موادو ډېر جگ وه، د حية بن خليفة الكلبي له شام څخه تجارتي مواد (په بعض روايتو کي زيت راغلي دي) او په بعض رواياتو کي غذايي مواد يعني اوړه او غنم وغيره او نبي ﷺ خطبه ويل نو خلک ټول له ولاړ سوه نو عليه الصلوة والسلام وويل چي که تاسي ټول له تللي وای حتى لا يبقى منكم احد. نو دا شېله به بهېدله د اوره څخه تاسي به پکښې وای.

فائده: دا ډول وهل لپاره د اعلان وه د يوې قافلې په راتګ سره. او په بل روايت کي راغلي دي چي که تاسي ټول له ولاړ سوي وای د آسمان له خوا به پر تاسي ډېر باران سوی وای.

"وتركوك قائمًا" او دوی ته پرېښولې (يعني الاكثر) ولاړه د خطبې ويلو په حالت کي.

پوښتنه: چي اصحاب د رسول الله ﷺ چي خير الناس وه څرنګه يې عليه الصلوة والسلام پر خطبه ولاړ پرېښودی؟

ځواب: مقاتل بن حبان وايي چي په دغه وخت کي د لمانځه د جمعې خطبة بعد الصلوة وه كما في العيدين نو د اصحاب الكرام دا خيال سو چي لمونځ چي فرض ؤ يعني صلوة الجمعة خو مو اداء کړی د دوی په ګمان خطبه يو وعظ نبوي دی چي موږ يې بل وخت هم اورېدلای سو، نو د غذايي موادو رانيول يې اهم وبلل كما مر آنفًا چي د غذايي موادو په مدينه کي کمبود ؤ، نو دوی چي ولاړه چي هغه غذايي مواد چي ډول يې د مخه وټکول سو خلاص نه سي، مقاتل وايي چي د هغې ورځي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځکه خطبتين د جمعې تر لمانځه د مخه سوې چې بيا نو هيڅ څوک د خطبې په وخت کي نسواى ولاړ يدلاى لبقاء الصلوة في زمتهم، فقير وايي چې دا قول د مقاتل بن حبانؒ له حال سره د اصحابوؓ د پر مناسب دى او په ولاړيدو کي د دوى لاجل التجارة لوى او بهتر عذر د دوى دى اګرچه په واقع کي اوريدل هم واجب وه فافهم.

فائده: عليه الصلوة والسلام په مابين کي د دوو خطبو جلسه خفيفه کول کما هو المعتاد الى يومنا هذا.

فائده: بعض اهل اللهؒ وايي چې ساعت خفيفه د اجابت د دعاء دى في يوم الجمعة کما ورد في الحديث الصحيح ځه وخت چې امام بين الخطبتين جلسه خفيفه کوي په دغه وخت کي يوه مهمه کوچنى دعاء دي سړى کوي، والله اعلم.

قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ ۚ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿١١﴾

ته ورته ووايه چې ما عند الله من الثواب على الثبات مع النبي ﷺ بهتر دى تر لهو او تجارت (ولي ما عند الله من الثواب محقق، قوي دى بخلاف ما يزعمونها من التجارة) او الله عزوجل ښه رزق ورکونکى دى، لانه تعالى يوجب الارزاق على نفسه بمقتضى وعده وکرمه، نو د هغه خداى ځخه رزق غواړئ.

پوښتنه: الرازقين يې جمع راوړى مع انه لا رازق الا هو؟

ځواب: دا جمع مبني پر عموم مجاز ده يعني مراد د رازق ځخه عام دى من الرازق الحقيقي وهو الله تعالى، والمجازي کالوالد لاولاده فافهم، نو بايد د حقيقي رازق ځخه رزق طلب کړل سي، کريمه: ادعوني استجبلکم.

فائده: مسلمانانو لره په کار دى اقتصاد يعني ماينه روئي ويکره الحرص وحب المال، د ابى الحميد الساعديؓ ځخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل اجملوا في طلب الدنيا فان کلکم ميسر لما خلق له، رواه الحاکم وابو الشيخ وابن ماجه، وعن ابى هريرةؓ قال قال رسول الله ﷺ يا ايها الناس ان الغنى ليس عن کثرة العرض (اى المال سماه عرضا لسرعة زواله) لکن الغنى غني النفس چې نفس د سړي غني وي، وان الله يؤتي عبده ما کتب له من الرزق فاجملوا خذوا ما حل (اى ما حل الله له) و دعوا ما حرم، رواه ابو يعلى في مسنده، وعن کعب بن مالکؓ قال قال رسول الله ﷺ ما ذئبان جائعان (نه دوه لېوان چې وږي هم وي) ارسلا في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غنم (چي ايله يې کړې په پسو کي) با فسد لها (پسو لره) من حرص المرء على المال والشرف اى الاسراف، ولي چي دوه وږي ليوان خوبه پسو نه فاسد کړي او حرص المال والاسراف د سړي دين ور فاسدوي، يعني حريص سړی نه حلال ګوري او نه حرام، درواغ وايي ناحقه قسمونه اخلي، غلاوي کوي او اسراف په حلال او حرام کار کي کوي، کالزنی وغيره.

درويش وايي: چي په ورځ د چهار شنبې پر دوولس بجې له تفسير ځخه د سورة الجمعة په توفيق د الله عزوجل د ربيع الثاني پر (۲۸) نېټه سنه (۱۴۳۳) هـ فارغ سوم، پر هم دغه تاريخ د سورة المنافقون شروع کېږي ان شاء الله تعالى.

الله نور السموات والارض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اِحْدٰى عَشَرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

اللہ سہل ویسر وتممہ بالخیر والعافیة

روی البخاري وغيره من زيد بن الارقم رضي الله عنه دی وايي ما واورېده د عبدالله بن ابي (رئيس د منافقانو چي ۳۰۰ وه) چي خپلو ملګرو هم مذهبو ته وويل لاتنفقوا علی من عند رسول الله ﷺ پر هغه کسانو چي په نېز د رسول الله ﷺ دي (يعني من فقراء المهاجرين رضي الله عنهم)

فائده: ابن ابی چي دی رسول الله و بولی پر زعم د مسلمانانو، ورنه دی عبدالله بن ابی خو د عليه الصلوة والسلام رسالت نه مانه يعني په زړه کي، حتی ينفضوا چي دده څخه منتشر سي يعني د لوږي له سببه چي موږ انفاق ځني بند کړو، او بله خبره ابن ابی دا خبره وکړه لئن رجعنا (يعني دده ي سفره څخه چي په يوه غزاء کي منافقان د عليه الصلوة والسلام سره ملګري وه) الی المدينة ليخرجن الاعز (چي مراد يې خپله ډله وه) منها (له مدينې څخه) الاذل هغه ذليله ډله چي مراد دده خبيث عليه الصلوة والسلام او مؤمنان وه، زيد بن ارقم رضي الله عنه دا خبري د عبدالله بن ابي و خپل اکا ته وکړې اکا دده دا خبري و عليه الصلوة والسلام ته وکړې، نو زيد بن الارقم رضي الله عنه وايي چي عليه الصلوة والسلام زه ور وغوښتم، نو ما د عبدالله بن ابی خبري و عليه الصلوة والسلام ته وکړې، نو عليه الصلوة والسلام ابن ابی او اصحاب دده را وغوښته او هغه خبري يې ورته وکړې چي زيد بن الارقم رضي الله عنه د دوی له خوا څخه عليه الصلوة والسلام ته کړي وې، نو دوی اشد قسمونه و عليه الصلوة والسلام ته واخسته چي موږ دا خبره نه دي کړي، زيد دروغ وايي، نو عليه الصلوة والسلام زما تکذيب وکړی يعني پر خلګو ناحقه دروغ ولي وايې او د دوی د قسمو تصديق يې وکړی، زيد رضي الله عنه وايي چي ما ته دومره لوی غم لاحق سو چي هيڅ وخت دومره نه وم غمجن سوی، نو زما اکا راته وويل چي ستا په دې خبر رساني کي دا وُ چي عليه الصلوة والسلام دي تکذيب وکړي، زيد بن الارقم رضي الله عنه وايي چي زه له شرم څخه کور کښېنستم يعني هر چا چي به وليدم ويل به يې چي تا ولي دومره دروغ عليه الصلوة والسلام ته وويل چي هغه دي تکذيب وکړی حتی دا سورت نازل سو، نو عليه الصلوة والسلام ما ته سړی را واستاوه او دا سورت يې راته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرائت کړی او داسي يې راته وويل: ان الله قد صدقک يا زيد يعني خدای ته دي وکړي په هغو خبرو کي چي تا ماته کړي وې، زيد بن الارقم وايي چي ما د خدای سره عهد وکړی چي زه به تر توله عمر دروا غ نه وايم.

فائده: رشتيا ويل لکه يوه ترخه دوا چي صحت بخش وي اگر في الوقت ترخه وي، او دروا غ لکه خوږه دوا چي في الوقت ډېره خوږه وي او د سړي د نافع خيال پر کېږي لکن په حقيقت کي ضرر منده وي و مريض ته حتی بعض وقت مفضي و هلاک ته مريض يا شدت ته مرض د مريض مثلاً د شوکر مريضي چي يوه خطرناکه ناجوړي ده و هغه ته شهد يا شکر يعني د دغه قسم نور خواږه شيان ورکړي يا بې هلاک کړي يا به يې شوکر د پای درجې ته ورسوي، يو شاعر وايي:

نگوی که شهد و شکر فائق است..... کسی را که سقمونیا لائق است

إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ

چي تا ته راسي منافقان (يعني عبد الله بن ابی او ملگري)

فائده: منافقانو خپل قول په تاکيدات سره مؤکد کړی اول يې نشهد و وايه چي معنی يې اخبار دی د علم څخه د مشهود به علماً يقيناً، بيا يې مؤکد کړی په ان سره بيا يې لام د ابتداء راوړی، دا ددې لپاره چي زموږ ايمان د عليه الصلوة والسلام وزړو ته ولوېږي څکه خدای د مشهود به تصديق وکړی او د شهادت د دوی يې انکار وکړی، ولي چي شهادت خو اخبار من صميم القلب والاخبار عن علم يقيني چي په دوی کي نه و.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۚ﴿۱﴾

او خدای علم پر دي لري چي ته رسول دده يې "والله يشهد آه" لا في المشهود به چي انک لرسول الله بلکي په اخبار د دوی چي دا قول زموږ صادر دی عن علمهم واذعانهم حتی بصدق علی قولهم هذا لفظ د شهاده لان لفظ الشهادة معناه انه صادر عن اعتقاد جازم وصميم القلب وليس فيهم ذالک، هذا علی تقدير کون کلمة نشهد اخبارا وان انه ای لفظ د نشهد انشاء ده د شهادة فمعنی قوله والله يشهد ان المنافقين لکاذبون في زعمهم ان قولهم شهادة اذ يشترط في الشهادة ای انشائه مواطات القلب وليس فيهم ذالک وتفصيل ذالک في المطول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

دوی کرځولی دی دا حلف کاذب (یا دا شهادت د دوی لان المشهادة من الفاظ الایمان، معنٰی جنت یعني سپر او وقایه د ځان ساتني د قتل او د سبي څخه) "فصدوا" ای اعرضوا و امتنعوا (نو پر دې تقدیر صدوا لازمي دی او منعوا الناس عن الاسلام، نو متعدي دی) "عن سبیل الله" د لاري څخه د خدای ای الدخول في دین الاسلام "انهم سآء ما کانوا یعملون" په تحقیق بد دی دغه عمل چي دوی یې کوي من النفاق و الصد.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝

دغه (نفاق او کاذب قسمونه د دوی) "بانهم" ای بسبب انهم "آمنوا" ای اظهر و الایمان په مخکي د مسلمانانو، یعني لپاره د حفظ من القتل و التهب "ثم کفروا" اذا خلوا الی شیاطینهم یعني رؤساء الکفر.

("فطبع" عطف دی علی کفروا) د خدای له خوا مهر ولګول سو پر زړو د دوی حتی سلب عنهم ادراک الحق. کلمة الفاء للسببية، نو دوی په حقیت د اسلام نه پوهیږي........ الشیاطین علی قلوبهم آه.

فائده: ثم لپاره اختیار د کفر علی الایمان او یا للتفاوت بین الحالین.

وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ؕ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ ؕ

چي ته دوی و وینې یا محمد (ﷺ) یا مخاطب غیر معینه (عطف دی پر اتخذوا) تا په تعجب کي اچوي بدنونه د دوی (یعني پنډ پنډ بدنونه لوی لوی ځیټې او سپین مخان یې دي له ډېره استراحت څخه) او که دوی خبري کوي ته د دوی و خبرو ته غوږ نسي، قال ابن عباس "کان ابن ابی جسیمًا فصیحًا چي ده به په خبرو شروع وکړه سمع النبي ﷺ قوله.

پوښتنه: په حدیث د ابن عباس رضي الله عنهما چي یوه ورځ ابن ابی راغلی، او په قرآن کي رئیتهم اجسامهم و ان یقولوا تولو صیغې او ضمائر د جمع راغلي دي چي راجع و منافقینو ته دی لا الی ابن ابی فقط؟

ځواب: علماء وایي چي فعل د یوه و ډېرو ته یې نسبت روا دی په عربیت کي کما یقولون بنوا فلان قتلوا، د فلاني سړي زامنو سړی مړ کړی مع ان القاتل منهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واحد، نو دلته هم چي ابن ابی د ټولو مخکښي ؤ نو د ابن ابی احوال یې د ټولو منافقینو ته منسوب کړی فافهم.

كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۖ يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ

ګویا دوی پنډ تیران و دېوال ته تکیه کړې وه، پنډ والي یې د تیرانو خود دوی جسامت مشبه به دی او د تکیه والي و دېوال معنی دا ده چي لکه تیران چي علم او ادارک او فهم صحیح نه لري منافقین یې هم نه لري، ولي که یې فهم صحیح درلودای نو په ظاهر او باطن سره به یې ایمان راوړی وای "یحسبون کل صیحة علیهم" دوی ګمان کوي پر هره نعره چي په لښکر کي د علیه الصلوة والسلام چي به وسوه مثلاً یو چا به نعره وکړه چي د فلاني دابه ورکه ده چا به نه وي لیدلې چي دا نعره پر ضرر زموږ وي، بعض مفسران وايي چي د سبب د رعب في قلوبهم، او بعض مفسران وايي چي له بېري ددې چي زموږ نفاق لکه چي ظاهر سو یا ددې سببه چي د دوی ګمان به دا ؤ چي زموږ د قتل اعلان به ؤ کذا قیل.

هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۚ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۖ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ④

"هم العدو" جمله مستأنفه ده والضمیر راجع الی المنافقین ای هم الکاملون في العداوة والراسخون فیها "فاحذرهم" د دوی څخه ته وېرېږه یا محمد ﷺ ولي هغه تر ټولو دښمنانو ستا بالا دغه منافقین دي او د دوی په ظاهره غوره مالي ته مه خطا وزه "قاتلهم الله" پر دوی دي لعنت وي د خدای ﷻ او دوی طرد وي د لویه رحمت څخه.

فائده: تعبیر د لعنت څخه یې په قتل سره وکړی ددې سببه چي نهایت له شدائدو څخه د دنیا قتل دی وکذالک الطرد عن رحمة الله عزوجل.

پوهسه: چي دا طلب دی د خدای ؐ د خپل ذات څخه بلعنهم او تعلیم دی مؤمنانو ته چي تاسي هم دغه دوی ته وایاست "انی یؤفکون" یعني څرنګه دوی له حق دین څخه مصروف دي یعني قلباً، په صحیح روایت کي د ابن جریر او قتادة او ابن المنذر د عکرمه ؒ څخه راغلي دي چي یو چا ابن ابی ته وویل چي ته نبي ﷺ ته ورایه چي تا ته دعاء د بخښني د خدای ؐ وکړي، ابن ابی اعراض څني وکړی، فنزلت هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ

چي وويل سي منافقانو ته تاسي راسئ چي طلب د بخښني ستاسي لپاره رسول د خداى ﷺ څخه وكړي، نو دوى سرونه د ډېره تكبره څخه جګ ونسي.

وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ⑤

او ته وينې (خطاب عام دى يعني ايها الحاضر عند ذالک القول) "يصدون" اى يعرضون عن الاستغفار "وهم مستكبرون" عن الاعتذار الى رسول اللہ ﷺ وطلب المغفرة منه. دا جمله حال ده له فاعل څخه د يصدون.

سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ

برابره ده و دوى ته (داسي يې نه وويل سواء عليک ولي رسول اللہ ﷺ پر تبليغ دوى ته ثواب وركوي وان لم يؤمنوا)

فائده: سواء مصدر دى په معنى د مشتق دى مرفوع على الخبرية دى او استغفرت آه مبتداء ده.

سوال: فعل څرنګه مبتداء واقع كېداى سي؟

ځواب: ابتدائيه يې په تأويل د مصدر دى. و التقدير استغفارک لهم وعدم استغفارک لهم مستويان. وقد مر مزيد تحقيق السوال والجواب في سورة البقرة في تفسير قوله تعالى: سواء عليهم انذرتهم ام لم تنذرهم لا يؤمنون.

"لن يغفر الله لهم" بيان للاستواء ابن المنذر له عروة ؓ څخه داسي روايت كړى دى چي هغه ايت چي نازل سو چي په بل ځاى كي د قرآن راغلي دي استغفر لهم او لا تستغفر لهم ان تستغفر لهم سبعين مرة، فان الله لا يغفر لهم، قال رسول اللہ ﷺ لازيدن على سبعين مرة فانزل هذه الآية سواء عليهم الآية.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفَاسِقِينَ ⑥

په تحقيق خداى پاک هدايت نه كوي و هغه قوم ته چي فاسقان وي يعني خارج وي د اصلاح كولو څخه (كما هو معنى الفسق وهو الخروج) يعني ډوب وي په كفر او نفاق كي.

پوهسه: چي مراد له هدايت څخه دلالت موصله دى و مطلوب ته. فالمعنى ماداموا على الكفر والنفاق لا يهديهم الله بالامر التكويني لان مدار الثواب والعقاب على الايمان والكفر الاختياري كما لا يخفى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنْفَضُّوْا

منافقان هغه کسان دي چي دوی به ویل و قوم انصارو ته دا علت د عدم المغفرة دی للمنافقین، تاسي نفقه مه ورکوئ و هغه کسانو ته، مراد ځني مهاجرین دي په نېز د رسول الله ﷺ.

سوال: منافقانو خو علیه الصلوة والسلام رسول الله نه باله، نو دلته یې ولي لفظ د رسول الله وو ایه؟

ځواب: اطلاق بناء دی پر دې چي دی ځان رسول الله بولي، لکه جهجاه وغیره من فقراء المهاجرین "حتی ینفضوا" د دې لپاره چي متفرق او جلا سي د علیه الصلوة والسلام څخه یعني د لوږي له سببه.

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ۝

او الله لره دي خزائن د اسمانو (یعني نعمتونه د جنت او باران او تقدیر د ارزاقو) او د ځمکي (من الارزاق یعني خوارکي مواد، والمراد لا یعطی احداً شیئاً الا باذنه لان بیده ملکوت کل شیئ، دا رد دی د هغه قول د منافقانو چي تاسي چي انفاق پر دوی ونه کړئ دوی به متفرق سي، حاصل د رد یې دا دی چي خزانې د ارزاق په قدرت کي د خدای دي یعطي منها ما یشاء ویمنع ما یشاء) لکن منافقان په دې نه پوهېږي، که پوهېدلای دا خبري به یې نه کولای.

يَقُوْلُوْنَ لَئِنْ رَّجَعْنَآ اِلَى الْمَدِيْنَةِ لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ ؕ

دوی وایي (یقولون بدل دی د یقولون سابق څخه) که موږ رجوع وکړو له دې سفر څخه و مدینې ته.

پوه سه: چي اسناد د دې قول او د اول قول خدای عزوجل تولو منافقینو ته وکړی مع القائل واحد وهو عبد الله بن ابی بن سلول لرضاء الباقین بهذا القول الخبیث وقد مر مثاله فتذکر.

"لیخرجن الاعز منها الاذل" اللام للقسم، او نون ثقیله هم د تاکید دی، هغه ډېر عزت مند چي مراد د خبیث خپل ځان وُ د مدینې له مدینې څخه هغه ډېر ذلیل سړی چي مراد د خبیث رسول الله ﷺ او مؤمنان وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٨﴾

او خاص خدای لره ده غلبه او قدرت (دا جمله حال ده له فاعل څخه د يقولون الثاني) او رسول او مؤمنانو ته چي خدای عزوجل به غلبه او نصرت ورکړي و رسول ته خپل او مؤمنانو ته په اظهار د دين د اسلام ونصرهم على الاعداء.

درويش وايي: چي اخبار بالغيب دی او معجزه ده د قرآن عزيز او معجزه ده د نبي کريم ﷺ لانه قد کان کذالک "ولکن المناقفين لايعلمون" لکن منافقان علم نه لري پر عظيم قدرت د خدای عزوجل لغاية جهلهم وتکبرهم.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ

ای هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دی، تاسي دي مشغوله نه کړي ستاسي اموال او اولاد يعني تدبير د اولادو او اموالو د ذکر څخه د خدای، عمومي مفسران وايي چي مراد له "ذکر الله" څخه پنځه لمونځونه دي، لکن زيبا خبره داده چي لفظ د ذکر الله عام دی ټولو عباداتو ته شامل دی حتى الجهاد في سبيل الله ته هم شامل دی کما لايخفى.

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿٩﴾

او که څوک دغه فعل وکړي نو دوی د پر تاوان وکړی، ولي چي جليل نعمت باقيه چي جنت او نعمت هنالک په حقير فاني چي نعيم د دنيا دی بدل کړه.

فائده: په ما سبق کي خدای بيان کړه بد کردار د منافقانو صراحةً او په دې ايت او په وروسته ايتر خدای عزوجل منع کړه مسلمانان د تشبه څخه د منافقانو ولي چي دا کار ونه د منافقانو وه.

وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ

او تاسي نفقه کوئ بعض د هغو اموالو چي موږ تاسي ته په رزق در کړي (سواء کان الانفاق فرضًا کالزکوة او واجبًا کصلة الرحم وغير ذالک) تر مخه د دې چي راځي يوه ته ستاسي مرګ يعني علاماتي د مرګ من الامراض و کبر السن وغير ذالک نو په دې وخت کي وصيت کوي لفلان کذا ولفلان وقد کان لفلان "من قبل" ظرف دی د انفقوا، له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي: اى الصدقة اعظم اجرًا؟ چي د کومي صدقې اجر ډېر دی، عليه الصلوة والسلام ورته وويل ان تصدق وانت صحيح شحيح (چي په صورت جوړيې او حريص د دنيا يې) تخشي الفقر وتأمل الغنى (له مسکنت څخه بېرېږې او ستا سره فکر د کثرت المال درسره وي) ولا تمهل حتي اذا بلغت الحلقوم (ته نه ځنډوې انفاق تر هغه وخته چي نفس کرنکي ته را ورسېږي) قلت لفلان کذا وقد کان لفلان، متفق عليه.

فائده: انفقوا عطف دی پر لا تلهکم باندي.

فَيَقُوْلَ رَبِّ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍۙ فَاَصَّدَّقَ وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰﴾

نو وايي اى زما ربه، يعني وروسته تر مرگ چي تصدق يې په ژوند کي نه وي کړی له ډېر افسوس څخه داسي وايي "لو لا اخرتني" ولي دي زه نه ځنډولم بتأخير الموت "الى اجل قريب" يعني تر لږ زماني پوري "فاصدق" اصل يې اتصدق ؤ تا يې په صاد بدله کړه او ادغام يې وکړی، دا جمله جواب د هغه تحضيض دی چي د لولاء څخه وفهمېدی، والتقدير لولا کان منک يا الله تاخيري في الدنيا فتصدق مني يعني انفاق او تصدق کړی وای که تا ماته تاخير د اجل راکړی وای "واکن من الصالحين" او که به وای ستا د صالح بندګانو څخه.

وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَاۭ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱﴾

او هرګز هيڅ مهلت نه ورکوي خدای ؑ و هيڅ نفس ته که يې څه هم نفس تمنی وکړي، دا جمله حال ده له فاعل څخه د فيقول آه.

فائده: مقاتل ؒ د صالحين ترجمه په مؤمنين سره کړې ده، دی او نوريو جماعت يې هم داغه ترجمه کوي، نو دوی دا آيت په شان کي د منافقينو نازل بولي، او بعض مفسرين وايي چي په شان کي د مؤمنينو دی نو مراد له صلاح څخه کول د ټولو فرائضو او واجباتو دی او ترک د منهايتو دی "اذا جآء اجلها" کله چي يې اجل ورسېږي يعني عمر يې پای ته ورسېږي ضمير راجع دی و نفس ته چي مؤنث سماعي دی "والله خبير بما تعملون" او خدای ﷻ خبر دی په عملو ستاسي سره، کلمه د ما يا مصدريه ده يعني بعملکم په معنى مصدري، يا موصوله دی والعائد محذوف ای بما تعملونه.

درويش وايي: چي د پنجشنبې د ورځي په اول وخت کي د عصر د ربيع الثاني پر (۲۸) تاريخ تفسير د سورة المنافقون پای ته ورسېدی، و لله الحمد والمنة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ مَدَنِيَّةٌ وَّهِيَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّفِيْهَا رُكُوْعَانِ

پوه سه: چي روح البيان او مظهري وايي چي آيتونه ددې سورة اتلس (١٨) دي، او روح المعاني وايي تسع عشر (١٩) بلا خلاف. والله اعلم بالصواب.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

تسبيح وايي د الله (عزوجل) هغه چي په اسمانو کي دي (کالملائکة) او هغه چي په مځکه کي دي (کالانس والجن)

درويش وايي: چي تفصيل ددې ايت دمخه تېر سوی دی، او اختلاف د علماؤ دی چي مراد تسبيح حالي ده په غير ذوی العلم کي، او د علماؤ د باطن يعني الصوفية الکرام چي مراد تسبيح قولي دي په ټولو مخلوقاتو کي که ذوی العلم وي يا غير ذوی العلم وي، او که حيوانات وي او که جمادات وي، او د غه رنګه دلائل ددې چي مذهب حق دی هم تېر سوی دی فتذکر.

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ①

او د هغه لپاره ريښتوني بادشاهي ده او حمد دی (تقديم د جار او مجرور لپاره د حصر دی) او خدای ﷻ پر هر شي قادر دی، قدرة تامة حتی د مېږي او د اسمان د خدای په قدرت کي فرق نسته، لانه جلت قدرته اذا اراد شيئًا ان يقول له کن فيکون.

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ②

هم هغه ذات دی چي تاسي يې پيدا کړي ياست، بيا څوک په تاسي کي کافر دی په خدای سره څوک مؤمن به تعالی.

پوه سه: چي دا تفصيل دی لما في خلقکم من الاجمال.

فائده: قدم الکافر علی المؤمن لانه الاغلب "والله بما تعملون" من الايمان والکفر والطاعة والمعصية "بصير" خبر دی، نو تاسي ته به جزاء درکړي پر عملو ستاسي بالجنة او النار.

درويش وايي: چي مسئله د قدر من الله د مغلقو مسئلو څخه ده، وقد ضل فيها المعتزلة حيث يقولون چي بندګان خالق دي د عملو من الکفر والايمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والطاعة والعصيان وهذا باطل، مخالف لقوله تعالى انا خلقنا كل شيئ و مخالف لاجماع الصحابة ﷺ ومخالف للاحاديث الصحيحة لكه حديث د بخاري او مسلم والترمذي و ابو داوٗد عن ابن مسعود ﷺ قال حدثنا الصادق المصدوق (اراد به النبي ﷺ لانه صادق فيما يقول ومصدوق فيما يقول يعني خداى عزوجل هم دده تصديق كړى دى، وما اتاكم الرسول فخذوه الآية) ان خلق احدكم يجمع في بطن امه اربعين يومًا نطفة ثم يكون (يعني يصير) ثم يكون علقة مثل ذالک (اى اربعين يومًا) ثم يكون مضغة مثل ذالک، وروسته خداى عزوجل ملكي ورته را واستوي باربع كلمات (چي څلور خبري نوشته كوي) رزقه (رزق دده نوشته كړي چي غني به وي كه فقير) و اجله (څومره به يې اجل وي يعني عمر) و عمله (چي څه عمل به كوي من العصيان والطاعة) وسعيد و شقي (يعني مؤمن به وي كه كافر) ثم ينفخ فيه الروح (بيا وروسته په ده كي روح پوه كړل سي، يعني داخل سي يعني انسان وګرځي) الى اخير الحديث.

درويش وايي: چي په دې باب كي احاديث كثيره سته كما روى مسلم عن عبدالله بن عمرو ﷺ مرفوعًا يعني الى النبي ﷺ كتب الله مقادير الخلائق قبل ان يخلق السموات والارض بخمسين الف سنة.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝

پيدا كړي يې دي اسمانونه او مځكه په حق سره (اى متلبسًا بالحق والحكمة البالغة دالة على صانع حكيم ... بيت:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

درويش وايي: چي د شنو درختو بلګونه د خداى عزوجل د پېژند ګلوى او د حكمت دفتر دي، فكيف لايكون خلق السموات والارض دالة على حكمت خالقها وصانعها "وصوركم" تاسي ته يې صورتونه دركړي دي ايها الناس او ډېر زيبا او قشنګ صورتونه يې دركړي دي تر ټولو حيواناتو، هم ظاهرًا ولي چي هر څو بدرنګه سړى وي خپل صورت په صورت د خره يا د بيزو نه بدلوي الى غير ذالک، او هم باطنًا باعطاء العقل والمعرفة والادراک والافعال الحسنة والنطق والفصاحة والبلاغة الى غير ذالک "واليه المصير" او خداى ته ستاسي رجوع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده يعني يوم القيامة فيجازي كم على طاعاتكم و اعمالكم السيئة، والمراد چي تاسي چي ما پر احسن الصدر باندي پيدا كړي ياست نو تاسي خپل استعدادونه مه ضائع كوئ په اختيار كي د رزائلو حتى چي حشر مو پر اقبح الصور و كړي.

به روزی که دهشت خورد انبیاء ......تو عذر گناه را چه داری بیا

يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ

خداى علم لري په هغه شيانو سره چي په اسمانو كي دي من الملائكة وغيرها او په هغه شيانو سره چي په مځكه كي دي من الحيوانات وغيرها، او علم لري پر هغو كارو چي تاسي يې په پټه كوئ يا يې په ښكاره كوئ.

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ④

او خداى په هغو شيانو چي تاسي يې په زړو كي كوئ، والمراد بما في الصدور هغه اسرار دي چي ستاسي په سينو كي يعني په زړو كي دي... بيت:

برو علم یک زره پوشیده نیست.... که پوشیده و رسوا بنزدش یکی است

فائده: پوه سه چي تكرار د علم پر منزله د تكرار د وعيد دى على اتيان بما يخالف امره ورضاه.

پوه سه: چي قوله يعلم مع ما عطف عليه دريم خبر دى لقوله هو في قوله هو الذي خلقكم.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ

آيا تاسي ته نه دى رسېدلى (ايها الكفار) خبر يعني قصه د هغو كسانو چي تر تاسي دمخه يې كفر كاوه مثل قوم نوح وعاد و ثمود و قوم لوط وغيرهم.

فَذَاقُوْا وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيْمٌ ⑤

دوى وڅكل يعني، دوى ته ورسېدى ضرر د كفر د دوى په دنيا كي (من اهلاكهم بالمرة) او د دوى لپاره دى عذاب تل تر تله يعني في الآخرة وهو عذاب النار الدائم.

فائده: وبال په اصل كي ثقل ته وايي، ومنه الوبيل للطعام الثقيل على المعدة والوابل يعني تېز باران ته هم وايي چي غټ غټ څاڅكي يې وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ بِأَنَّهُ كَانَتْ تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالُوٓا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا

دغه (اى العذاب في الدنيا والآخرة هلاكًا في الدنيا وادخالاً في النار في الآخرة) "بانه" اى بسبب چي دوی ته به راتلل كاوه رسولانو د دوی په معجزاتو ظاهراتو والدلائل الواضحة "فقالوا ابشر آه" عطف على كانت و "ابشر" اسم جنس دی يطلق على الواحد والكثير چونكه مراد په ايت كي جمع ده يعني الرسل، نو ځكه يې ضمير د يهدوا جمع راوړى يعني داسي يې نه وويل يهدينا بصيغة المفرد، والاستفهام للانكار والتعجب من كون الرسل بشرًا، والتعجب من عقولهم انكروا كون الرسل بشرا ولم ينكروا كون المعبود حجرًا يعني الصنم.

فَكَفَرُوا وَتَوَلَّوا وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۚ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ﴿٦﴾

نو دوى كفر مختاره كړى او مخ يې واړاوه له فكر وهلو څخه په آياتو بيناتو كي، او بې پرواه دی خدای عزوجل (يعني د هر شي څخه فضلاً عن ايمانهم وطاعتهم) او خدای عزوجل غني دی له هر شي څخه "حميد" مستحق دی للحمد على صفاته الجميلة والجليلة وافعاله الحكيمة يعني كه يې څوک حمد وايي كه يې نه وايي.

پوښتنه: چي خدای عزوجل مستغني ؤ نو څه حكمت ؤ په ارسال د رسولانو؟

ځواب: ارسال الرسل تفضل او منية دی د خدای پر دوی لكن مقوله الراضي بالضرر لايستحق النظر اى اللطف من الله عزوجل.

زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَن لَّن يُبْعَثُوا

او گمان فاسد دی د هغه چا چي كفر يې وكړى (يعني د كافرانو د مكې) دا چي مړه به بعث يعني ژوندي نه سو بعد الموت.

قُلْ بَلٰى وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ۚ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيرٌ ﴿٧﴾

ته ورته ووايه "بلى" جواب دی د انكار د دوی د بعث بعد الموت او "ربي" تاكيد دی د جواب په قسم سره يعني وربي چي معنى يې دا ده چي زما دي په خدای قسم وي "لتبعثن" چي تاسي به بعث كړى، په لام د ابتداء په نون ثقيله سره تاكيد د بعث بعد الموت يې وكړى "ثم لتنبؤن" وروسته تر بعث به تاسي ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبر دركړه سي په هغه شي سره چي تاسي يې عمل كړى دى من الكفر والمعاصي والاشراک بالله الواحد القهار، او دا بعث او حساب والجزاء پر خداى آسانه ده لكمال قدرته تعالى.

فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلْنَا ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ۝

(تفريع على وجوب البعث) نو ايمان راوړئ يا كفار مكه پر خداى بالوحدانية، او پر رسول د خداى (يعني محمد ﷺ بالرسالة) او پر هغه نور چي موږ نازل كړى دى يعني القرآن العظيم، او خداى ستاسي په عملو بنه خبر دى، يعني نو به جزاء دركړي بعد البعث.

فائده: قرآن كريم ته يې نور ووايه لانه ظاهر بنفسه په سبب د اعجاز، كريمه: قل ان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا آه، او مظهر دى لغيره من الشرائع والاحكام كما هو معنى النور.

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ ٱلْجَمْعِ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلتَّغَابُنِ ۗ

پوه سه: چي يوم يا منصوب دى په اذكر مقدر پوري يعني مفعول به دى وهذا الوجه هو المشهور في كل ظرف وقع في الابتداء او يا ظرف دى د مضمون د "بما تعملون خبير" (چي مضمون يې داؤ مجازئكم فالتقدير مجازيكم في ذالک اليوم او يا ظرف دى د لتبعثن "ليوم الجمع" چي جمع كيږي په هغه ورځ كي ملكي او انس او جن اولهم و آخرهم، او كلمه د لام لپاره د تعليل ده، والمعنى يجمعكم لاجل ما يكون في يوم الجمع من الحساب والجزاء.

پوه سه: چي تغابن باب د تفاعل دى مجرد يې غبن دى چي معنى د مجرد يې خطايسل د يو چا دي په يو عقد كي بالاخفى، او د تفاعل معنى يې دا ده چي خطايستل يو د بل سره چي په دې ورځ كي به مظلوم ته حسنات د ظالم وركړل سي په قدر د ظلم د هغه، او مؤمنان به ځايونه د كافرانو او اشقياؤ اشغال كړي چي دا كافران سعداء او مؤمنان وايي، دا لفظ دلته مستعار دى من تغابن التجار بعضهم لبعض او الف او لام په التغابن كي لپاره د عهد دى اى التغابن الحقيقي دون التغابن الدنيوي، په صحيح حديث كي چي روايت يې عبد الرزاق او عبد بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حميد او ابن جرير او الحاكم رحمهم الله كړي دی له ابو هريرة رضي الله عنه څخه قال قال رسول الله ﷺ يرثون (اى المؤمنون) مساكنهم.

درويش وايي: چې اطلاق د يرثون پر خپلو ځايو مشاكلة دی لما بعده ومساكن اخوانهم (مراد له اخوة څخه اخوة دی په انسانيت كي فقط لا الاخوة الديني) يعني الاشقياء التي اعدت لهم لو اطاعوا الله.

واخرج سعيد بن منصور وابن ماجه وابن جرير وغيرهم بسند صحيح عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ ما منكم من الاوله منزلان منزل في الجنة (يعني كه دی مؤمن وای) ومنزل في النار (كه دی كافر وای) فاذا مات فدخل النار ورث اهل الجنة منزله، نو دا معنی دده قول د خدای عزوجل اولئك هم الوارثون.

فائده: مراد له مؤمن او كافر څخه يوازې امت د رسول الله ﷺ نه دی، ولې مؤمن او كافر حصر په امت كې د رسول الله ﷺ نه دی بلكې مراد مؤمنان او كافران د ټولو امتو دي.

سوال: په حديث شريف كې خو منكم راغلی دی چې خطاب و امت ته د عليه الصلوة والسلام دی؟

ځواب: دا تعبير مبني دی پر تغليب د حاضر پر غائب بالذي فافهم.

وروی مسلم والترمذي عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ تاسي خبر ياست چې مفلس په تاسي كې څوك دی؟ دوی ورته وويل چې مفلس په موږ كې هغه څوك دی چې لا درهم له (ولا دينار) ولا متاع، قال رسول الله ﷺ چې مفلس زما د امت هغه څوك دی يأتي يوم القيامة بصلوة وصيام و زكوة لكن بښكنځل يې كړي وي يوه سړي ته وقذف هذا وسفك دم هذا (نسبت د زنی يې كړی وي چا ته چې ته زنی كاره يې، يا يې ويني بيولي وي د چا په قتل سره) او يو بل سړی يې وهلی وي فيعطى هذا من حسناته وهذا من حسناته او تمامي سي نېكۍ دده قبل ان يقضى ما عليه اخذ من خطاياهم (اى المظلومين) وطرحت عليه ثم طرح في النار. وفي الحديث الصحيح لا يلقى الله احد (يعني يوم القيامة) الا نادمًا (مگر د دنيا پر ژوند به پښېمانه وي) ان كان مسيئًا (نو پر دې به پښېمانه وي چې تا ولې د محسن كار ونه كول) او كه محسن وي پر دې به پښېمانه وي چې د ېر ښه كار و نه دي ولې نه كول.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

بعض علماء وايي چي سخت د خلګو په غبن کي دي (۱) عالم علم الناس: نو خلګو د ده په علم عمل کاوه او ده په خپله عمل نه په کاوه نو فدخل غيره بعلمه الجنة وهو اذ لم يعمل بعلم دخل النار .... بيت:

واعظان كه اين جلوه در منبر و محراب ميكنند
چـون بخلوت ميروند كاري ديگران ميكنند

(۲) هغه مربي دی چي د خدای عبادت يې کاوه په نفقه د مال د ده د بادار و عصى الله سيده فدخل العبد الجنة بقوة مال سيده و دخل مالكه النار بمعصية الله.

(۳) ولد ورث مالاً من ابيه نو ده كارونه په هغه مال كول من اطعام لابن السبيل وصلة الرحم والزكوة وغيره فدخله الله الجنة وابوه كان شحيحًا (حريصًا اى بخيلاً) وعصى الله في ماله يعني زكوة يې نه وركاوه او صلة الرحم يې نه كوله الى غيره من افعال الخير فدخل النار ببخله.

وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ط

او څوک چي ايمان لري پر خدای (چي خالق العالم خدای سته) او متوحد دی في ذاته وصفاته، او عمل صالح كوي من الفرائض والواجبات وغيرها هم كوي خدای به و بخښي و ده ته بعض ګنهونه چي له ده څخه صادر سوي وه، او داخل به يې كړي و جنتو ته (المراد به الجنس) چي بهيږي به لاندي تر درختو د هغو جنتو ويالي (يعني څلور) عسل مصفى وماء غير آسن ولبن خالص وخمر لا لغو ولا تأثيم لذة للشاربين، چي تل ترتله به وي دوی په دغه جنتو کي ابدًا بلا موت ولا هرم.

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۹﴾

دغه (اى مجموع الامور المذكورة) كاميابي ده لويه. اللهم اجعلنا منهم.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۰﴾ ع

او هغه چي كفر يعني انكار كوي او تكذيب كوي زموږ په اياتو سره يعني دروغ يې بولي زموږ آيتونه (يعني آيتونه د قرآن عزيز) دوی اصحاب د اور دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

همېشه به وي په اور کي (د فیها ضمیر راجع دی نار ته چي مؤنث سماعي دی) او بد ځای دی د ورتلو، مخصوص بالذم محذوف دی ای النار.

درویش وایي: چي کافرانو به ویل چي که مسلمانان پر دین حق وای نو ولي به دوی ته مصائب رسېدل یعني ناجوړي د بدن یا مرګ د اولاد و یا فقر او مسکنت، فنزلت هذه الآیة.

مَآ اَصَابَ مِنۡ مُّصِیۡبَةٍ اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ

لفظ د من زائد دی لپاره د استغراق د نفي دی نو لفظ د مصیبة که څه هم لفظاً مجرور دی په من جاره سره لکن مصیبة محلاً مرفوع دی فاعل د اصاب دی یعني نه رسېږي مصیبت هیڅ چا ته که مؤمن وي او که کافر وي مګر نه په تقدیر او ارادې د خدای عزوجل.

وَمَنۡ یُّؤۡمِنۡۢ بِاللّٰهِ یَهۡدِ قَلۡبَهٗ ؕ وَاللّٰهُ بِکُلِّ شَیۡءٍ عَلِیۡمٌ ﴿۱۱﴾

او څوک چي ایمان لري پر خدای او تصدیق لري چي ما اصاب من مصیبة الا باذن الله او پر دې یې ایمان وي ان ما اصابک لم یکن لیخطئک وما اخطاءک لم یکن لیصیبک ... بیت:

تړوله انداز د خیر او شر بوله له خدایه څخه
کله پېښېږي نېک او بد د خپلي رایي څخه

"یهد قلبه" خدای به هدایت وکړي د ده زړه ته (یعني توفیق به ورکړي د صبر او د رضا په قضاء الهي سره او تسلیم به سي د خدای و قضاء ته) او الله په هر شي سره علیم او باخبر دی حتی د زړه په حالاتو سره، د ابن الدیلمي څخه روایت دی قال اتیت الی ابی بن کعب فقلت قد وقع في قلبي (یعني الوسوسة) في قدر الله فحدثني لعل الله یذهب عن قلبي، فقال ان الله لو عذب اهل سمواته (یعني الملائکة) واهل ارضه (یعني الانس والجن) عذبه وهو غیر ظالم، ولو رحمتهم لکان رحمته خیراً لهم من اعمالهم، ولو انفقت مثل احد ذهبًا في سبیل الله ما قبله الله منک حتی تؤمن بالقدر (یعني من الله بالقدر) وتعلم ان ما اصابک لم یکن یستخنک وما اخطاک لم یصیبک ولو مت علی غیر هذه الحالة دخلت النار، ثم ایت ابن مسعود قال مثل ذالک قال ثم اتیت حذیفة بن الیمان فقال مثل ذالک ثم اتیت زید بن ثابت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فحدثني ذالک عن النبي ﷺ، رواه احمد وابو داؤد وابن ماجه.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ۚ

او تاسي اطاعت کوئ د خداى او د رسول، يعني چي په هر شي مو امر کړي او يا مو له هر شي څخه نهي کړي.

فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿١٢﴾

او که تاسي اعراض وکړئ له اطاعت څخه د خداى او د رسول، نو په تحقيق زما پر رسول باندي دى (يعني پر محمد ﷺ) رسول د امر الله په ښکاره ډول، يعني ستاسي روى ګرداني ضرر نه رسوي و محمد ﷺ ته هيڅ شى اذ ليس الواجب عليه الا التبليغ و وقد فعل.

اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٣﴾

لفظ الله مبتدا ء ده وروسته جمله يې خبر دى، والمعنى نسته معبود مګر الله عزوجل لا استقلالاً و لا اشتراکا.

پوه سه: چي جمله په ځاى کي علت ده د امر بالايمان والطاعة، او تقديم د جار او مجرور لپاره د حصر دى. يعني خاص پر خداى توکل کوي مؤمنان، ولي چي په دمخه ايتو کي تقدير د خير او شر پر خداى حصر ؤ وجب حصر التوکل عليه دون غيره، اخرج الترمذي والحاکم عن ابن عباس ﷺ ان رجالاً من اهل مکة اسلموا، نو دوى اراده د هجرت وکړه يعني مدينې ته لان الهجرة کان فرضًا على مؤمني اهل مکة نو د هجرت د هغو ماينې او عيال يې مانع سوله، البغوي وايي چي ازواجو او اولادو دوى ته يې وويل چي موږ صبر وکړى ستاسي پر اسلام ولا نصبر على فراقکم فترکوا الهجرة، فنزلت.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ ۚ

اى هغه کسانو چي ايمان يې راوړى دى اى ايمانًا خالصًا من النفاق په تحقيق بعض ستاسي د ازواجو او اولادو څخه ستاسي دښمنان هم دي چي له طاعت څخه د خداى عزوجل تاسي منع کوي لکه په دې ځاى کي هجرت و مدينې منورې ته، که څه هم ظاهري عداوت خو نه لري لکن لا عدو اقبح من الشخص الذي يمنع المرء من طاعة الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي کلمه د من لپاره د تبعيض ده، ازواج جمع ده نر او ښځي دواړو ته شامل دی، بعض عوام الطبع ملايان وايي چي نر ته زوج وايي او ښځي ته زوجه وايي ويرده هذه الآية وقوله تعالى يا آدم اسکن انت و زوجک الجنة چي مراد ځني حوا ده، اولاد جمع ده زوی او لور دواړو ته وايي بخلاف الابن والبنت.

فائده: ازواج يې مقدم راوړ تر اولاد يا له دې سببه چي ازواج اصول دي د اولاد يا له دې سببه چي ازواج محل د قضاء شهوت طبعي دي نو دوی جفت بقلوب الناس واشغل دي د زوج له عبادت څخه، له هم دې سببه يې دوی د مخه کړه کريمه: زين للناس حب الشهوات من النساء الآية، وجاء في الحديث ليس عدوک الذي لقيته فقتلته واجرک الله (يعني الکافر) لکن عدوک (يعني اصل دښمن) نفسک التي بين جنبيک (يعني چي ستا سره هر ځای ملګري دي) وامرئتک التي تجاورک على فراشک "فاحذروهم" نو د دوی څخه بېرېږئ چي منع د طاعت څخه مو نه سي.

سوال: ضمير د جمع چا ته راجع دی؟

ځواب: عدو ته راجع دی فانه يطلق على الجمع ايضًا.

حکايت: تاريخ وايي چي د خسرو پرويز بادشاه د ماهي غوښي ډېري خوښي وې، نو راوي وايي چي يوه ورځ خسرو د خپلي ماينې سره چي نوم يې شيرين وُ په ايوان بالا کي ناست وُ چي يو ماهي ګير دومره غټ ماهی راوړی چي تر دغه وخت د مخه پرويز نه وُ ليدلی، نو پرويز ته يې ډېر خوند ورکړی، نو پرويز ماهي ګير ته څلور زره درهمه انعام نوشته کړی چي ورسه د بانک محلي څخه يې واخله، ماهي ګير چي د بانک و خوا ته راهي سو، شيرين ورته وويل: بئس ما صنعت، ولي تر دې وروسته که ستا وزير يو لوی خدمت وکړي په څلور زره درهمه نه خوشحال کېږي، ولي وزير به وايي چي دا خو دي د ماهي ګير انعام راکړی، خسرو ورته وويل صدقت (رشتيا دي وويل) لکن د بادشاهانو سره دا مناسبه نه ده چي خپله پېرزوينه او انعام د چا څخه بيرته واخلي، شيريني ورته وويل چي تر اوسه يې د بانکه روپۍ نه دي اخستي بيرته يې را وغواړه او ورته ووايه چي ستا دغه ماهي نر دی او که ښځه ده، که يې ښځه ياده کړه ورته ووايه چي زما خو د نر ماهي غوښي خوښي وې بار کړه خپل ماهی دي رقعه د بانک ځني واخله، او که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالعکس یعني که یې درته وویل چې نر ماهي دی هم ورته خبره ورته وکړه، نو خسرو دستي عسکر پسې راهی کړی ماهي کیر یې راوګرځاوه او هغه خبره د شیریني یې ورته وکړه، ماهي کیر ورته وویل چې دا ماهي نربنځي دی خسرو وخندل پر مکتوب یې څلور زره درهمه نور ور نوشته کړه، نو ماهي کیر اته زره درهمه په یوې ګوټي یا په هغه تبره کې چې ماهي یې پکښې راوړی ؤ واچول په شا یې کړه د وتلو اراده یې وکړه خپله پلنده یې په شا کړه، نو یو درهم له بوجې څخه ولوېدی، نو ماهي ګیر پلنده کښېښول او درهم یې راواخستی او بادشاه او شیرنه ورته ګوري، نو شیریني ملک ته وویل چې ته نه ګوري دې خبیث سړي ته چې د یوه درهمه لپاره یې د اتو زرو درهمو غوټه کښېښول او ور کوږ سو هغه یو درهم یې را واخستی، ولي یې نه پرېښاوه چې یو بل فقیر اخستی وای، نو ملک ته درد ورغلی او وه یې ویل لقد صدقت یا شیرین، بالفور یې عسکر پسې راهي کړی چې ورسره صیاد حاضر کړه، صیاد چې یې راوستی پرویز الملک ورته وویل یادنی الهمة لست بانسان ما هذا الحرص، څومره حرص د دنیا اخستی یې پر یوه درهمه دې غوټه کښېښول، صیاد ورته وویل چې زه د یوه درهم وړی نه وم، بلکې ددې لپاره مې را پورته کړی چې پر یوه مخ د درهم د ملک عکس ؤ او پر بله خوا د ملک نوم ؤ، نو زه پر دې وبیرېدم چې یو سړی په ناخبرتیا پښه پر کښېږدي د ملک اهانت به وکړل سي، فتعجب خسروا الی کمال عقل الصیاد فامر باربعة الاف اخرٰی وکتب وصیة لرعیته، لا تطیعوا النساء اصلا ولا تعملوا برأیهن.

روی الترمذي والحاکم عن ابن عباس رضی اللہ عنہما چې هغه کسان چې ماینو او اولادو دوی له هجرت څخه منع کړي وه، وروسته چې مدینې ته راغله نور مهاجرین چې تر دوی دمخه یې هجرت کړی ؤ بنه احکام د دین او فقاهت یې حاصل کړی ؤ، نو هغه وروسته مهاجرینو اراده وکړه چې ازواجو او اولادو ته چې دوی یې د هجرت څخه منع کړي وه عقاب ورکړي، فانزل الله تعالیٰ.

وَإِن تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾

که تاسي عفوه وکړي خپلو ماینو او اولادو ته چې تاسي یې له خیر کثیر څخه د هجرت منع کړي واست، او سرزنش او منت نه پر وکړئ او ورو بخښئ ګناه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی، نو په تحقیق خدای ؒ ګناه بخښونکی او مهربان دی پر تاسي به خدای رحم وکړي او بخښنه به درته وکړي.

درویش وایي: چي ابن جریر له عطاء بن یسار ؒ څخه روایت کړی دی چي سورة التغابن ټوله مکي دی مګر نه دا وروسته آیتونه تر اخیره پوري د سورت دا په مدینه منوره کي نازل سوي دي په باره کي د عوف بن مالک الاشجعي رضی الله عنه وکان ذا اهل (یعني زوجة) و اولاد چي عوف ؒ به اراده د غزاء وکړه ماینې او عیال به یې ورته ژړل او داسي به یې ورته ویل الی من تدعونا موږ چا ته پرېږدې دده به زړه پر وسو او له غزاء څخه به پاته سو، فنزلت هذه الآیات.

فائده: الحطیئة چي یو معروف شاعر دی د سفر اراده یې وکړه، نو ماینې ته یې دا بیت نوشته کړی:. عدی السنین لغیبتي وتصبري... شمېره ای ښځي د پره کلونه د غائب والي زما او صبر کوه. ماینې یې داسي جواب ورکړی:

و اذکر صبابتنا الیک وشوقنا ..... و ارحم بناتک انهن صغار

ته در پیاد کړه محبت زموږ له تا سره او زموږ شوق، او رحم وکړه پر لوڼو خپل چي کوچنیاني دي.

اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۭ وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝

په تحقیق سره اموال ستاسي او اولاد ستاسي فتنه دي (یعني امتحان دی د خدای ؒ له خوا څخه او ابتلاء ده، نو څوک حقوق د خدای ؒ او حقوق د خلکو پر ځای کړي مع کثرة العلائق والموانع بعثه الله تعالی علی منازل الابرار وکان افضل ممن ادی حقوق الله تعالی بلا موانع و عوائق) او الله عزوجل لوی اجر لرونکی دی، نو تاسي طلب د اجر عظیم کوئ و آثروا محبته علی محبة الاموال و الاولاد والسعي لهم.

درویش وایي: چي چونکه طاعت د خدای عزوجل مع العوائق والموانع افضل دی تر طاعت د خدای بدون العلائق والموانع والعوائق اجمع اهل السنة والجماعة علی ان خواص البشر ای الانبیاء علیهم السلام افضل دي من خواص الملائکة وعوام البشر اعني العلماء والصلحاء افضل من عوام الملائکة سبب یې دا دی چي ملکو لره عائق او مانع نسته من طاعة الله تعالی یعني لکه شغل د ملکو بالاموال و الاولاد و اداء الحقوق، او دغه رنګه ملکي باعثه کونکي پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معاصيو يعني النفس والشيطان نه لري او پر تناول د حرام نه لري.

فائده: ذكر الله سبحانه وتعالى الازواج والاولاد او هورې يې كلمه د من تبعيضي راوړه لان بعض الازواج والاولاد ليسوا عدوًا للمؤمنين او في كونهم فتنة او دلته په دې ايت كې انما اموالكم آه كلمه د تبعيض نه ده راوړې لان الاموال والاولاد لايخلوا عن اشتغال القلب بهم، اخرج ابن ابى حاطم عن سعيد بن جبير رح لما نزل قوله تعالى اتقوا الله حق تقاته اشتد على الصحابة الكرام رض نو دوى دومره پر نوافلو لمونځو د شپې او ورځې مقيم سوه چې پښې يې و پړسېدلې د طول القيام له سببه او تنديان يې زخمي سوه د كثرة السجود له كبله، فانزل الله تعالى تخفيفًا للمسلمين هذه الآية.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ

عطف على آمنوا و اطيعوا، كلمه د فاء لپاره د سببيت ده لان الايمان سبب للتقوىٰ ومعنى الآية چې په عبادت كې او په تقوى كې خپل طاقت پر كار واچوي، كريمه: لايكلف الله نفسًا الا وسعها "و اسمعوا" مواعظ القرآن والرسول عليه الصلوة والسلام "و اطيعوا" او امره سبحانه "وانفقوا" يعني اموالكم في سبيل الله خالصة لمرضات الله عزوجل "خيرًا لانفسكم" منصوب دى په فعل مقدر سره اى افعلوا ما هو خير لانفسكم من اموال و اولاد، نو دا ايت تاكيد دى پر باعثه كولو پر امتثال د ما سبق من الاوامر فافهم وتذكر.

وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ⑯

او هغه څوک چې وساتل كړه سي (يوق صيغه د مجهول ده) يعني خداى ج يې وساتي و يعصمه د بخل څخه د نفس خپل چې يو رزيل خوى او ملكه ده چې په خټه كې د هر انسان سته الا من عصمه الله، نو دغه كسان فائزون دي بكل مرام. وفي الحديث الصحيح كفى بالمرء من الشح ان يقول آخذ حقي لا اترك منه شيئًا، ترجمه: كافي ده سړي لره د بخل څخه دى وايي چې زه خپل حق غواړم نه پرېږدم خپل د حق هيڅ شى.... شعر:

فرومانده گانرا درون شاد كن .... ز روز فرومانده گى ياد كن
نخواهندهٔ بر در ديگران .... بشكرانه خواهنده از در مران

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ

درويش وايي: چي چونکه خداوند متعال بقرض محتاج نيست، نو ترجمه د آيت دا ده بحذف المضاف اى تقرضوا عباد الله، او المراد به صرف المال في طاعة الله رجاء الثواب والجزاء "قرضًا حسنًا" يعني مقرونًا بالاخلاص وطيب نفس چي د رياء او سمعه څخه خلاص وي او د من او اذى څخه هم خلاص وي (او د احسان اچولو څخه پر فقير او زيرولو څخه د فقير هم خلاص وي)

پوه سه: چي قرضًا حسنًا منصوب مفعول دى د تقرضوا.

"يضاعفه لكم" خداى به مضاعف کړي دغه قرض ستاسي من عشر الى سبع مائة الى ما شاء الله تعالى قال الله عزوجل في كتابه الكريم: مثل الذين ينفقون اموالهم في سبيل الله يعني يا په جهاد کي د كافرانو سره يا يې فقير ذا متربة ته ورکړي يا يې يتيم ذا مقربة ته ورکړي الى غير ذالک من وجوه الخير "كمثل حبة" (دا حبه د اېږدن تخم دى يا د باجري دانه ده) "انبتت سبع سنابل في كل سنبلة مأة حبة (اووه اوږي په هر وږي کي سل داني چي مجموع يې اووه سوه کېږي) والله يضاعف لمن يشاء (يعني الى ماشاء الله تعالى)

"ويغفر لكم" او تاسي ته به بخښه د ګنهو وکړي په برکت د انفاق.

وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١٨﴾

يعطى الجزيل بالقليل "حليم" حلم لري چي تلوار په عقوبت کي د عاصي نه کوي، عالم الغيب دى يعني علم کامل لري پر هغو شيانو چي د بندګانو څخه پټ وي يا دوى ته ښکاره وي، او يا معنى دا ده چي هغه شيان موجود في الحال وما وجد من قبل يا ما سيوجد من بعد "العزيز" الغالب التام القدرة لا مانع لما اراه تعالى "الحكيم" په هر مخلوق کي حکمت لري يعني عبث بلا فائده کار خداى نه کوي که يې څه هم په حکمت څوک نه پوهېږي.

قد تم سورة التغابن بفضله تعالى وقت الظهر (٥) بجه يوم الاثنين ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وآله وصحبه البررة وتسمى سورة النساء القصرى كما في روح البيان وروح المعاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة الطلاق مدنية وهي اثنتا عشرة آية وفيه ركوعان

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ

في هذه الآية مباحث (١) ندا يې خاصه كړه په عليه الصلوة والسلام پورې او خطاب د حكم يې عام كړى يعني "طلقتم" سر (راز) يې څه دى؟

جواب: لانهﷺ امام امته، داسي مثال يې دى لكه يو سړى يعني يو حاكم چې ناري كړي رئيس ته د قوم يا فلان افعلوا كذا وكذا چې په دې كې اظهار د رياست او د التقدم دده دى، او اشاره و دې ته ده چې دى يوازې په حكم كې د ټولو دى ولهذا اختير لفظ النبي، ولې لفظ د نبي دلالت پر علو كوي ففيه علو مرتبتهﷺ، او بعض مفسرين وايي چې نداء او خطاب دواړه و عليه الصلوة والسلام ته دى الا انه اختير لفظ الجمع للتعظيم، او بعض مفسرين وايي چې په ايت كې تقدير د قوم دى، فالمعنى والتقدير يا ايها النبي قل لامتك اذا طلقتم وقيل غير ذالك.

(٢) او مراد له ښځو څخه هغه ښځې ذوات الاقراء يعني چې عده يې په حيضو سره وي چې حامل ځني ووزي ولې چې عده د هغې په وضع الحمل سره ده، او آيسه چې سپين سرې وي حيض يې قطع سوې وي يا صغيره چې حيض نه وي ورغلى ولې د دوى دواړو عده په درې مياشتو سره ده.

(٣) د آيت تقدير داسې دى اذا اردتم تطليق النساء تا چې فطلقوهن جواب صحيح سي فهذه الآية من قبيل قوله تعالى اذا قمتم الى الصلوة فاغسلوا وجوهكم الآية اى اردتم الصلوة فاغسلوا الآية.

درويش وايي: چې مذكور بيان له دغو تفاسيرو څخه مأخوذ دى، تفسير روح المعاني للعلامة محمود البغدادي" والكشاف للعلامة زمخشري" و روح البيان للعلامة اسماعيل البروسوي" والعلامة ثناء الله الپاني پتي" وبحر العلوم للعلامة السمرقندي" فتذكرها.

"فطلقوهن لعدتهن" په نيز د حنفيهؤ د آيت معنى داده مستقبلات لعدتهن متوجهات للعدة چې په نيز د حنفيه" درې حيضه دي فاللام متعلق بمحذوف دل عليه الكلام، روح البيان لاستقبال عدتهن.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي د استقبال د عدة صورت دا دی چي سړي مابينه په طهر کي نه وي وطي کړي طلاقه يې کړي، وروسته به اول حيض ورسي بيا دوهم بيا دريم نو د مېږه ښځه خلاصه سي، دا احسن طلاق دی او د سنت سره برابر دی، ولي که مېږه وروسته تر يوه يا دوو حيضو پښېمانه سو پر طلاق رجوع به ورته وکړي او که پښېمانه نه سو دريم حيض ته يې پرېږدي ښځه پر خپله لاره ځي، ولي که درې طلاقه دفعةً ورکړي بيا پښېماني فائده نه کوي بلکې تزويج د زوج آخر غواړي او وطي د هغه او بيا طلاق د زوج ثاني بيا د هغه عده تېرول.

پوه سه: چي طلاق بدعي پر څلور قسمه دی (۱) ان يطلقها في طهر جامعها فيه د دې سببه چي ده جماع ورسره وکړې دې ته دا نه معلومېږي چي زما عده په وضع الحمل سره وي که ما حمل اخستی وي او که به په حيضو سره وي که مې حمل نه وي اخستی (۲) طلاق يا په حيض يا نفاس کي ورکړي لما فيه من تطويل العدة پر مذهب د حنيفيانو، ولي چي د غه حيض چي مېړه طلاق پکښې ورکړی په عده کي نه دی حساب (۳) دا چي درې طلاقه په طهر واحد کي دفعةً ورکړي يا يې متفرقًا ورکړي يعني په يوه طهر کي.

فائده: منشاء د اختلاف د حنيفيانو او شافعيانو دا ده چي لفظ د قرء مشترک دی په مابين کي د طهر او د حيض، نو حنيفيه وايي چي معنی يې حيض دی د دوی پر مذهب چي سني طلاق يعني چي په طهر کامل کي يې ورکړي تطويل يا تنقيص د عدې نه راځي ولي چي درې حيضه پر له پسې به تېر کړي د مېږه ښځه به خلاصه سي او د شافعيه پر مذهب تطويل يا تنقيص خامخا لازمېږي ولي طلاق سني چي د دوی په نېز هم دا دی چي په طهر کي يې ورکړي، نو د غه طهر چي څو ورځي وتلي وي دا حساب دی په عده کي نو عده د ښځي درې طهره پوره نه سوه بلکې طهرين و بعض طهر وهو الذي اوقع الزوج فيه الطلاق او که دا طهر حساب نه سي نو د ښځي عده اوږده سوه يعني ثلاثة اطهار و بعض طهر کما لايخفی فافهم.

وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ رَبَّكُمْ

بنه حساب ورته کوئ او په حفظ کي يې نسئ چي درې حيضه پوره سي کامل (دا د دې لپاره چي رجوع ورته ونه کړي دده په ګمان عده پاته ده او سره د دې چي عده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به تېره سوې وي يا ښځه قبل انقضاء العدة بل مېړه وته کړي چې دا دواړه کاره ناروا دي او ناجائز دي شرعًا) او وېرېږئ د خداى ځخه. دا خطاب دى و مړو ته چې پر مطلقه عده مه اوږدوئ او ماينې ته ضرر مه رسوئ، لکه په جاهليت کې چې دا عادت ؤ چې ماينه يې طلاقه کړه يو طلاق چې عده يې تېرېدو ته نژدې سوه قولاً به يې رجوع ورته وکړه. بيا به يې بو طلاق ورکړى چې عده به يې نژدې سوه په قول به يې رجوع ورته وکړه بيا به يې طلاقه کړه چې د ښځې به درې قروء نهه قروء وګرځېدله.

لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ

تاسي مه باسئ دغه مطلقات ماينې که په رجعي طلاق طلاقي وي او که په بائن طلاق طلاقي وي "من بيوتهن" له خپلو خونو ځخه چې په وخت کې د طلاق دوى پکښې وي (وهي بيوت الازواج حتى چې عدة يې پاى ته ورسېږي) "ولايخرجن" او دوى دي په خپل اختيار هم نه وزي.

فائده: له دې آيت ځخه دا ثابته سوه چې مطلقات که رجعيه وي او که بائنه وي د مېړه له کوره به نه وزي ليلاً ولا نهارًا الا بضرورة مثلاً ناجوړې وه طبيب ته ووتل لان الضرورات مثنات في العبادات شرعًا لان الضرورات تبيح المحذورات، والضرورات على اقسام (۱) مثلاً هغه خونه چې مطلقه پکښې اوسېدله ونړېدله (۲) خوف السرقة (۳) وجدان كراء البيت (۴) او يا خونه تنګه وه چې دا او مېړه په خونه کې اوسېدله (۵) يا يې مېړه فاسق ؤ او طلاق بائن ؤ ښځه پر دې بېرېدله چې د شپې به ناجائزه وطي راسره وکړي، ولم يكن في الدار قادرًا على الحيلولة بينهما او نحو ذالک.

مسئله: چې د ښځې مېړه مړ سي او دا په عده کې وي يجوز لها الخروج من بيت نهارًا (د ورځې) ولا يجوز ليلاً. البغوي وايي چې په احد کې چې ډېر شيهدان وسوه نو د هغو زوجات و عليه الصلوة والسلام ته راغلې چې موږ يو ازې په خونو کې بېرېږو نو عليه الصلوة والسلام دوى ته اجازه ورکړه چې تر وخته پورې د خوب تولې په يوه خونه کې مجلس سره کوئ چې د خوب وخت راسي هر يوه دې خپلې خونې ته ولاړه سي.

إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ

مګر راتګ وکړي په بد کار سره چې ښکاره وي چې مراد ځنې زنا ده، قال ابن مسعودؓ الفاحشة الزنى نو معتدة دې له کورو باسي لاقامة الحد بيا دې بېرته

Maktaba Tul Ishaat.com　　Scanned by CamScanner

کورته راولي، وقال ابن عباسؓ الفاحشة المبينة دا ده چي معتدة و اقرباؤ ته د زوج پوچ و رد او شرارت پر کار واچوي فيحل اخراجها.

پوه سه: چي دا ستثناء مفرغ ده په محل کي د ظرف ای لاتخرجوهن في وقت الاوقات الا وقت ان يأتين بفاحشة مبينة قال ابن عمرؓ والسدي و ابراهيم النخفيؒ يجوز للفاحشة اخراجها من بيتها قبل انقضاء العدة وبه اخذ ابو حنيفةؒ بقول ابن مسعودؓ اخذ ابو يوسفؒ.

وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهٗ ؕ

او دغه احکام مذکوره احکام د خدای دي او څوک چي تجاوز وکړي تر حدودو د خدای نو په تحقيق ده ظلم وکړی پر خپل ځان چي خپل ځان يې و عقاب ته د خدای عزوجل پيش کړی.

لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ①

ته نه پوهيږې ايها المخاطب شايد خدای به پيدا کړي وروسته تر دې يو شی، دا جمله تعليل د احصوا العدة ولا تخرجوهن، والمعنى لعل الله بعد بغضها وارادة فراقها والنفرة عنها في قلب زوجها محبتها والرغبة فيها نو به دوی پښېمانه سي پر طلاق باندي و تريدون الرجعة اليها.

فَاِذَا بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ اَوْ فَارِقُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ

چي د مطلقاتو عده پوره سي.

پوه سه: چي ضمير د هن راجع دی و خاصو مطلقاتو ته يعني المطلقات الرجعية ذکر الله سبحانه و تعالى حکم الفرد الخاص من المطلقات ای الرجعية وان کان الصدر عامًا للرجعيات والمطلقات البائنة ولا يبطل عموم الصدر، ومعنى بلوغ الاجل قرب انقضاء الاجل بدليل قوله سبحانه و تعالى "فامسکوهن" ای راجعوهن "بمعروف" يعني بدون قصد الاضرار بهن بتطويل العدة کما مر "اوفارقوهن" يعني عده به يې تېره سي او ستا سره به يې علاقه د زوجيت قطع سي.

وَّاَشْهِدُوْا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ

او تاسي شاهدان ودروئ يا پر رجعت يا پر وقت دوه کسه عادلان ستاسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځکه تاچي قطع د تنازع د مېړه او د مايني راسي په آئينده کي مثلاً مېړه به وايي چي ما تا ته رجوع په عده کي وکړه ماينه به وايي چي تا ماته رجوع بعد المضي العدة کړي ده "واقيموا الشهادة لله" تاسي اداء کوئ اى شاهدانو شاهدي چي تاسي ور وبلل سئ او اداء ته يې لپاره د خداى يعني د چا مراعات مه کوئ په عدم اداء کي د شاهدى بلکي د خداى د حکم مراعات وکړئ.

يوه مسئله: چي امر اشهاد يې لپاره د استحباب دى لايشترط الشهود للرجعة عند ابى حنيفة ومالک واحمد وعند الشافعي في اصح قوليه وفي قول الشافعي يشرط الشهود وايضًا الامر للايجاب دى.

فائدة جديدة في ايجاب العدة على الرجال في بعض المواضع:

(۱) يوه دا ده چي يو سړي څلور مايني درلودې يوه يې طلاق کړه، نو ده ته نه ده روا بله ماينه تر هغو چي د مطلقې عده نه وي تېره سوې، ولي قبل مضي عدة المطلقة خو مانيې پنځه کېږي لان المطلقة زوجته في العدة.

(۲) دوهم دا صورت دى چي يو سړي ماينې ته طلاق ورکړی تر څو چي د هغې عده نه وي تېره سوې د هغې خور ورته نا روا ده لانه يلزم الجمع بين الاختين وهو حرام بالاجماع.

(۳) يوه مينځه يې رانيول ده ته يې وطي نا روا دي تر څو هغې ته حيض ورته سي يعني چي دا معلومه سي چي مينځه حمل نه لري، ولي چي د بل پر کښت اوبه لګول نا روا دى شرعًا.

(۴) ان تزوج حربية يعني من اهل الكتاب لا يجوز له وطيها قبل الاستبراء بحيضة ودليله مامر في صورة: ۳.

(۵) يوې ښځي ته چي د يو چا ماينه وه خبر ورسېدى چي مېړه دې په فلاني تاريخ وفات سو مثلاً په سفر کي يا په غزاء کي او د هغه تاريخ ددې د وفات الزوج عده پوره سوې وه نو دې بل مېړه وکړى او له هغه ځخه يې ولد هم پيدا سو، وروسته يې اول مېړه ژوندى راغلى، نو دا ښځه د اول مېړه ماينه ده لانها منكوحته او د دوى ترمنځ کوم شى د فرقت نه دى راغلى يعني طلاق نو دا پر نکاح سابق پاته ده، لکن اول مېړه به يې وطي نه ورسره کوي چي د دوهم مېړه ځخه يې عده تېره سوې نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په مذکوره سورت کي خو د دوهم ميړه نکاح فاسده ده نو عده څه کوي؟

ځواب: وجوب د عدې پر صحت د نکاح نه دی موقوف اذا وطيها الزوج الثاني، فاحفظ هذه المسائل لوجوب العدة على الرجل.

ذٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهٖ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۬

دغه مذکوره احکام چي بيان يې تېر سو (نو تذکير د دا سره ددې چي احکام خو دېر ذکر سوه په تأويل د مذکور دی) پند اخلي په هغو سره هغه کسان چي ايمان پر خدای په معبوديت او توحيد سره لري او پر ورځ د آخرت يې هم ايمان وي.

درويش وايي: چي احکام د قرآن که څه هم عام دي لکن نفع اخستونکي مؤمنان دي والمقصود تذکير المؤمنين، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه په صحيح سند روايت دی چي عوف بن مالک الاشجعي رضي الله عنه عليه الصلوة والسلام ته راغلی او وې ويل يا رسول الله زما زوی دښمنانو نيولی دی او مور يې ډېره بې صبري کوي وفي رواية اشتكى الى رسول الله ﷺ الفاقة (ای المسکنت ايضاً) فما تأمرني فقال ﷺ زه تا او ماينه امر کوم چي ډېر وايا ست لا حول ولا قوة الا بالله، عوف رضي الله عنه چي ماينې ته راغلی و ماينې ته يې د عليه الصلوة والسلام خبره وکړه هغې ورته وويل چي په ښه شي يې امر کړی يې فجعلا يكثران ما علمهما رسول الله ﷺ څو ورځو وروسته چي دښمن دده غافل سو د هغو دښمنانو پسونه يې را په مخ کړه پلار ته يې راوستل. البغوي رحمه الله وايي چي څلور زره پسونه وه، فنزلت من يتق الله الآية، نو پلار يې ورغلی بيان د خپل زوی او د غنيمت را وړلو يې عليه الصلوة والسلام ته بيان کړی او دا پوښتنه يې ځني وکړه چي دا مال موږ ته حلال دی، فقال النبي ﷺ نعم.

وَمَنْ يَتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝ وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۬

که څوک له خدايه وېرېږي په مصيبت کي (او په فقر او مسکنت او صبر کي او جزع او شکايت نه کوي او ارتکاب د حرام نه کوي لکه سرقه) و به ګرځوي خدای ج دده لره ځای د وتو له هغه مصيبت او بلا څخه، او په رزق به ورکړي يعني بعد فقره رزقاً حلالاً، له داسي جهته څخه چي دده به ګمان نه کېږي لکه عوف بن مالک الاشجعي رضي الله عنه ته چي يې ورکړی، عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من انزل به فاقة (كه چا ته ورسېږي مسكنت او فقر) فانزل على الناس (يعني يوه سړي ته وايي زه مسكين فقير يم او بل سړي ته وايي) لم يسد فاقته (دا مسكنت به يې پاى نه كړي پيدا) ومن نزلت به فاقة فانزلها بالله (يعني خداىؒ ته زارى كوي) فيوشك الله ان يرزق عاجلاً او اجلاً، رواه ابو داؤد والترمذي وقال حديث صحيح، وعن ابى هريرةؓ قال قال رسول اللهﷺ من جاع او احتاج فكتمه الناس واقضى به الى الله كان حقًا على الله ان يفتح له قوت سنة من حلال.

الطبراني له حديث څخه د عقبة بن عامرؓ داسي روايت كړى دى من انعم الله عليه من نعمة (نو دى يې اراده د بقاء د دغه لري) فليكثر من قوله لاحول ولا قوة، او بخاري او مسلم له ابو موسىٰ الاشعريؓ څخه داسي روايت كړى دى انها (اى كلمة لا حول ولا قوة) كنز من كنوز الجنة، وفي رواية النسائي من قال لا حول ولا قوة الا بالله كان دواءً من تسعة و تسعين داءً (اى مرضًا) ايسرها الهم.

وَمَنۡ يَّتَوَكَّلۡ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسۡبُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمۡرِهٖ ؕ

كه څوک توكل وكړي پر خداىؒ بانديي خداىؒ بس او كافي دى يعني په مهماتو كي كه دنياوي وي او كه اخروي وي، وعن عمر بن الخطابؓ قال سمعت رسول اللهﷺ لو توكلتم على الله حق توكله (يعني په زړه كي دده بېله خدايه بل څه نه وركوځي) لرزقكم كما يرزق الطير (چي له خپلي ځالګی څخه سهار ووزي وږى وي ماښام چي راسي موړ وي، رواه الترمذي.

درويش وايي: چي د توكل على الله معنى دا نه ده چي سړى كسب، تجارت او مزدوري نه كوي او كښېنت دي هم نه كوي، بلكې معنى يې دا ده لكه علامه جلال الدين الرومي‌ؒ چي په مثنوي كي وايي ولنعم ما قال:

گر توكل ميكنى دركار كن ...... كشت پس تكيه بر جبار كن
رمز الكاسب حبيب الله شنو ...... از توكل در سبب كاهل مشو

په حديث صحيح كي راغلي دي چي يو سړى مسافر و عليه الصلوة والسلام ته راغلى، عليه الصلوة والسلام پوښتنه ځني وكړه چي پر څه شي سپور راغلې، هغه ورته وويل چي پر اوښ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي اوښ دي څه په وكړه، هغه ورته وويل چي ايله مي كړى پر توكل د خداىؒ عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وويل چي ورسه زنګون يې ور وتړه بيا يې پر توكل د خداى پر پرېږده، او كما قال رسول اللهﷺ، حاصل د كلام دادې چي دانې د غنمو وغيره په مځكه كي وپاشه او حسب المعمول يوې يې كړه ماله پر تړه كړه، بيا به دې په زړه كي داوي چي منبت خداى عزوجل دى ليس الا الله.

"ان الله بالغ امره" په تحقيق خداى جلت قدرته رسوي خپل امر موافق د مايريد سره، يعني لا يفوته مراده ولا يرد قضائه، مسروق وايي چي معنى د ايت داده ان الله بالغ امره توكل عليه او لايتوكل غير ان المتوكل عليه تعالى رژوي خداى يعني وربخښي به ګناهونه دده ويعظم له اجرًا.

قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا ۝

په تحقيق خداى ګرځولى دى هر شي لره تقدير او مقدار؛ روايت كړى دى ابن جرير و اسحق بن راهوية والحاكم وغيرهم بسند صحيح عن ابى بن كعبؓ قال لما نزلت الآية في سورة البقرة في عدة النساء (اى المطلقة وغيرهن) خلكو وويل يعني مؤمنانو چي څو قسم له ښځو څخه چي عده يې نه سوه ذكر الصغار چي بلوغ ته نه وي رسېدلي او يا ډېري سالخورده سپين سري يعني چي حيض يې قطع سوى وي يا حاملات وي، فنزلت هذه الآية.

وَالّٰٓـِٔيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ

او ستاسي هغه (مطلقه) ښځي چي له حيضه نا امېده سوي وي.

اعراب: پوه سه: چي "والائي" د موصولاتو څخه جمع د التي ده "المحيض" مصدر ميمي دى په معنى د حيض.

پوه سه: چي كبر سن ته بعض علماؤ (۵۵) كاله عمر اېښى دى، او بعض علماؤ (۶۰) كاله وضع كړى دى يعني دغه سن ته چي ورسېږي فبعد ذالك لورئت دمًا لايكون حيضًا يقال امرئة آسن اذا يأسها من الحيض ولا يقال آيسة بتاء التانيث لان تاء التانيث للفرق عن المذكر والايس صفة خاصة للمؤنث فهذا اللفظ كالحائض والحامل.

اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ

كه تاسي په شك كي واست د دوى په عده كي، نو د دوى عده درې مياشتي ده. قوله والائي مبتداء ده فعدتهن يې خبر دى. ان ارتبتم جمله معترضه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي ارتياب يې په ان د شک راوړی اشاره ودې ته ده چي عدة آيس د دې استنباط کولای سوای چي په هغه ايت کي يې فکر او غور کړی وای "والمطلقات يتربصن بانفسهن ثلثة قروء" ولي چي درې حيضه غالبًا په درو مياشتو کي پيدا کېږي، فاذا لم توجد القروء كما في الآيس يجب اعتبار ازمنة ثلثة قروء وهي ثلثة اشهر.

وَّالِّيْ لَمْ يَحِضْنَ ۚ وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ

او هغه ښځي چي حيض نه وي ورغلی که صغيره وي که مراهقه وي يعني نژدې و بلوغ ته يا د سن له کبله بالغه وي لکن حيض نه وي ورغلی، مبتداء ده خبر يې محذوف دی چي دلالت ما سبق پر کوي يعني كذالک عدتهن ثلثة اشهر.

پوښتنه: يوه ځوانه ښځه چي حيض يې څو واره ليدلی هم وُ، نابېره يې حيض بند سو بعذر من الاعذار، د دې ښځي عده په څه شي تېرېږي؟

ځواب: قالا ابو حنيفة والشافعي "لاتنقضى عدتها حتى يعودها الدم فتعتدى بثلثة قروء يا به يې ردوي عمر ته د آيساتو نو به عده درې مياشتي تېروي كذا في روح البيان وكتب الفقه والمظهري.

"و اولات الاحمال" او هغه ښځي چي حمل لري او مېړه يې طلاقي کړي نو عده د دوی دا ده چي ايږدي حمل خپل يعني لنګېږي.

پوښتنه: چي دا حکم عام دی مطلقاتو لره او هغو ښځو لره چي مېړه يې مړ وي حتی که د مېړه تر طلاق وروسته يا د مېړه تر وفات وروسته په ادنی وخت کي دا ښځه دواړه قسمه عده يې تېرېده چي وضع الحمل يې وسو دستي د مېړه سره نکاح ورته روا ده.

وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَّهُ مِنْ أَمْرِهِ يُسْرًا ④

څوک چي بېرېږي له خدای "څخه په اجراء کي د احکامو د خدای". نو آسانه به کړي و ده ته امر د دنيا او آخرت و يوفقه للخير.

ذَٰلِكَ أَمْرُ اللَّهِ أَنزَلَهُ إِلَيْكُمْ ۚ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ وَيُعْظِمْ لَهُ أَجْرًا ⑤

دغه (اى الاحكام المذكورة، مبتداء ده) امر دی د خدای (امر الله خبر دی) چي نازل کړی يې دی و تاسي ته (انزله اليكم، جمله حال ده له امر الله څخه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عامل معنی د اشیر دی چي د ذالک څخه و فهمېدی کذا في کتب النحو) او څوک چي له خدایه بېرېږي في اجراء احکامه تعالی من الاوامر والنواهي، نو خدای به دده ګناهونه ور وبخښي او لوی به ور کړي ثواب.

اَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ

"اسکنوهن" متصل بقوله لاتخرجوهن جمله مستانفه ده په جواب کي من قال این یسکنوهن، والضمیر راجع الی المطلقات المذکور في اول السورة.

فائده: دا آیت شامل دی رجعیانو مطلقاتو ته او بائناتو ته صغیرات کن او حائضات او آیسات ته او حرائر او مینځیانو ته چي د چا مایني وي او طلاقي یې کړي "من حیث سکنتم" کلمه د من زائده ده، والمعنی چېري چي تاسي اوسېږئ او یا لپاره د تبعیض ده یعني په بعض حصه کي د هغه مکان چي تاسي پکښي اوسېږئ.

مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ ۚ

چي د طاقت سره مو پوره وي که کوټې وي او که ساده سرای وي، او ضرر مه ور رسوئ په سکنٰی کي، چي تاسي تنګي جوړوئ پر دوی ببعض الاسباب چي داسي څوک ددې سره ملګری کړئ چي د دوی نه وي خوښ، یا ددې خونه و بل چا ته ور کړئ چي و تلو ته مجبوره سي.

وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ

که وي دا مطلقات خاوندانې د حمل نو نفقه د دوی به ور کوئ تر هغه وخته چي وضع الحمل کوي یعني لنګېږي.

فائده: مطلقه که په طلاق رجعي طلاقه وه نو پر مېړه یې نفقه او سکنٰی سته باجماع الفقهاء ما دامت في العدة، نو که سرای د زوج ملکي سرای وُ پر مېړه دا واجب ده چي له سرایه ووزي او سرای دي مایني ته پرېږدي په ورځو کي د عدې ددې که یې اراده د رجوع نه درلوده، او که سرای د کرایې وُ فالاجرة علی الزوج، واما المعتدة البائنة بالخلع او الطلقات الثلث او بکنایات الطلاق کما هو مذکورة في کتب الفقه الشریف علی مذهب ابی حنیفة رحمه الله نو دا مطلقې حق د سکنٰی پر مېړه نه لري که حامل وي او حمل نه لري چي په عربي یې حائل بولي عند اکثر اهل العلم لعموم لقوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى اسكنوا هن من حيث سكنتهم من غير فرق بين المطلقات المذكورات.

فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ

يعني كه مطلقاتو وروسته تر وضع الحمل و تمام العدة و اولادو ته ستاسي شيدې ورکولې، نو تاسي ورکوئ دوی ته مزدوري د رضاع د ولد ستاسي.

پوه سه: چي په سورة البقرة كي د دې آيت په تفسير كي والوالداة يرضعن اولادهن تېر سوه چي ارضاع د ولد واجب ده پر مور باندي نو كه يو سړی مزدوري ورکوي پر ارضاع الولد لايجوز ذالک الاجر للام لانه اخذ الاجرة على فعل واجب عليها، د هغه شخه به دا ګمان کېدی چي اخذ د اجرة پر رضاع د ولد يعني ښځي لره چي مطلقه بعد انقضاء العدة هم نه دی روا الكن په دې ايت فان ارضعن لكم الآية مور اخذ د اجرة پر ارضاع روا بولو . فظهر بهذه الآية ان وجوب الارضاع على اللام مقيد بوجوب رزقها على الاب لقوله تعالى وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن ففي حالة الزوجية او العدة عند الطلاق ابوه قائم برزقها او بعد تمام العدة ليس على الاب الرزق والكسوة فيقوم الاجرة مقام الرزق.

”وأتمروا بينكم بالمعروف“ خطاب للزوجين يعني هر يو د دوی دوو د هغه بل اوري اذا امره الآخر بمعروف اى ما هو الاحسن في الشرع الانور يعني مېړه دې دا بخل نه كوي چي په لږ مبلغ ته: ما زوی ته تی ورکوه يا مور دې له مېړه شخه بالا تر اجر مثل نه غواړي، والحاصل چي يو و بل ته د اضرار قصد نه کوي.

وَإِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ ۝

كه پر تاسي ايها الابوين سختي وه، يعني ارضاع پر مور باندي سخته وه نو دې منع وکړه له ارضاع شخه مع وفور شفقتها على الولد فليس على الاب اجبارها عليه او دا دي معذور و بولي لظن عجزها عن الارضاع مع الشفقة الوافرة لها على الولد. او كه مور صرف بهانه کول ارضاع ورته ګرانه نه وه په واقع کي نو دا ګناه ګاره ده عند الله وان كان عسر على الاب اعطاء الأم اجرها چي دې غوښتی او پلار ربله ښځه پيدا کړې ده چي بې اجرته دده ولد ته شيدې ورکولې او يا يې د مور تر اجرت په کمه شيدي ورکولي لايجب على اعطاء اجر المثل للام، ويسترضع الاب من غير الام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"فسترضع له اخرىٰ" ژر دی چي رضاع او تی به ورکړي د خدای لپاره، او په دې کي چي بله ښځه یا مفت یا په کم د اجر مثل د مور شیدې ورکړي په دې کي عتاب دی و مورته د ولد چي دې ولي سخته لار خپله کړه.

فائده: علماء وایي چي په ارضاع کي د غیر الام دا شرط دی چي ارضاع بې عند الام وي ما لم تنکح الام زوجاً آخر غیر محرم من الولد، ولي غیر محرم د ولد د دې له زوی ځخه بد راځي.

یوه سه: چي په موطاء کي د امام مالک" راغلي دي په روایت د قاسم بن محمد" چي عمر ﷺ یوه ښځه غوښتې وه د المضار له قبیلي ځخه فولدت له عاصم بن عمر" بیا یې هغه ښځه طلاقه کړه او خپل زوی عاصم چي کوچنی ؤ مورته یې په لاس ورکړی چي کور یې په قباء کي ؤ، یوه ورځ عمر ﷺ قباء ته ولاړی هورې یې ولیدی چي دده زوی عاصم د نورو کوچنیانو سره د قباء بازی کولې، نو یې خپل زوی تر لاس ونیوی پر دابه یې سپور کړی یعني چي مدینې ته یې بوزي (له دې سببه چي دلته په قباء کي بې علمه او بې ادبه کېږي) نو د عاصم انا یعني د مور مور پسي را میدان کړه او د عمر ﷺ سره یې دعوه سوه یعني چي حق د حضانت د عاصم زما د لور دی، خیر خو عمر ﷺ د دې خبره ونه منل حتی ابوبکر خلیفة الاول ﷺ ته د اسلام راغله فقال ابوبکر ﷺ خل بینه و بینها (ایله کړه عاصم او انا یې) عمر ﷺ هیڅ نه ورته وویل او خپل زوی عاصم یې د انا په لاس ورکړی، کذا رواه عبد الرزاق، و روی ابن ابی شیبة" قال ابوبکر ﷺ یعني و عمر ﷺ ته چي مسح کول د مور او غېږ د مور او بوی د مور خیر دی ده لره یعني عاصم لره تر تا حتی چي بالغ کېږي کوچنی، بیا به هغه د مور او پلار ځخه یوه خوا مختاره کړي د ځان لپاره.

مسئله: که د کوچني مور مطلقه وه او عده یې هم تېره سوې وه د پلار ځخه د زوی اجر مثل نورو مرضاعاتو غوښتی لیس للاب ان یسترضع لابنه غیر الام بالاجماع.

لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ ۖ

هر آئینه انفاق دي کوي چي غني وي علی قدر غناه (یعني مرضعه ته دي ښه ډو دی مثلاً غوښي یا ورجي وغیرها ورکوي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ

او كه پر چا تنګ ؤ رزق (مثلاً د غوښو طاقت يې نه درلودی) نو هغه دې نفقه كوي چې خدای ده ته وركړې وي يعني على قدر طاقته.

لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾

نه مكلفوي خدای عزوجل هيڅ نفس مګر په هغه شي سره چې خدای ده ته وركړي من اليسر والغنى والفقر وقلة المال، دا دليل دی پر عدم وجوب د زيادة پر معسر باندې، وهذا هو ظاهر الرواية من مذهب ابى حنيفة رحمه الله ابن الهمام په فتح القدير كې وايي چې بناء پر دې روايت كه ميړه د ښځې معسر ؤ يعني مسكين ؤ او مايينه يې له غني خاندان څخه وه، نو پر ميړه نفقه د اعسار واجب ده، ولي مايينه كې څه هم غني ده لكن لما تزوجت معسرًا فقد رضيت بنفقة المعسرين دليل يې لا يكلف الله الآية دی.

"سيجعل الله بعد عسر يسرًا" قريب ده چې خدای د تنګۍ وروسته فراخي د رزق پيدا كړي يا عاجلاً يا آجلاً لان الدنيا غاد وراح.

وَكَأَيِّنْ مِنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِ

او ډېر ("كائن" په معنى د كم خبري مبتداء دی) له قريو څخه (اى اهل قرية) نافرماني شروع كړې له امر څخه د خدای عزوجل او له امر څخه د رسولانو د خدای اى بالكفر والمعاصي.

فَحَاسَبْنَاهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَاهَا عَذَابًا نُكْرًا ﴿٨﴾

نو حساب كړی دی موږ هغو له حساب سخت يعني حساب د مناقشة والاستقصاء وعدم العفو لشيئ، او موږ به دوی معذب كړو په عذاب نابلده سره (فالنكر بمعنى المنكر) وقيل عذابًا فضيعًا من الجوع والقحط والسيف والاسر والهلاك)

فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾

نو وڅكې يعني ورسېدی دوی ته عقوبت د كفر او ګنهو د دوی، نو دی آخير كار د امر د دوی تاوان في القبر والآخرة (تاوان دی په معامله كې چې دوږخ يې په بدل كې د جنت رانيوی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ ۚ

اى في الآخرة "عذابًا شديدًا" وهو النار المؤبدة عليهم مع لدغ الحيات والعقاب والطعام من شجرة الزقوم وشرب الماء الحارة جدًا من غلبة العطش الى غير ذالك "فاتقوا الله" نو وېرېږئ له عذاب څخه د خدای (يعني لا تطغوا عن امر ربكم ولا تخرجوا عن اوامره تعالى او له رسول څخه د خدای كيلا يصيبكم مثل ما اصابهم) اى خاوندانو د عقلو سليمهؤ "لب" په اصل كي مغز ته د بادام يا جوزوايي، نو عقل سليم د انسانانو مغز دى بدن يې قشر دى او ملبوسات يې قشر القشر دي.

الَّذِينَ آمَنُوا ۚ قَدْ أَنزَلَ اللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾

هغه كسان چي ايمان يې راوړى وي ايمانًا حقيقيًا (صفت كاشفه د اولى الالباب دى ولي چي مقتضى د لب ايمان دى) په تحقيق خداى نازل كړى دى (دا جمله حال دى له فاعل څخه د فاتقوا) تاسي ته ذكر يعني القرآن الكريم.

رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِ اللَّهِ مُبَيِّنَاتٍ

رسول ("رسولا" منصوب دى په فعل مقدر سره يعني و ارسل رسولا يعني محمدًا ﷺ) تلاوت كوي و تاسي ته آيتونه د خداى يعني د قرآن څخه چي واضح الدلالات دي.

پوه سه: چي نسبت د تلاوت و رسول ته حقيقةً دى او و قرآن ته مجازًا دى.

لِّيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۚ

چي وباسي دا رسول يا قرآن هغه كسان چي ايمان يې پر رسول او قرآن راوړى دى او عملونه صالح هم كوي له تاريكيو څخه (اى الكفر والجهل) و نور روښنايي ته چي ايمان او فقه او اعمال صالحه دي چي موجب د نور دي په اخرت كي.

پوښتنه: په موصول كي چي الذين امنوا آه دى ايمان او عمل صالح راغلي دي، نو دوى خو د ظلماتو څخه د كفر او جهل وتلي دي فما معنى قوله ليخرج من الظلمات الى النور؟

ځواب: مراد دوام د اخراج د ظلمات الى النور دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

څوک که ایمان راوړي پر خدای ﷻ یعني په وحدانیت سره او عمل صالح من الفرائض والواجبات وغیر ذالک هم وکړي خدای ﷻ بې داخل کړي یعني په ورځ د قیامت و جنتو ته چي بهېږي به لاندي تر درختو د هغو ویالې یعني څلور، الماء والعسل واللبن والخمر چي همېشه به وي دوی په هغو جنتو کي تر ابده پوري لایخرجون ولایموتون ولایهرمون، ولا خوف علیهم ولا هم یحزنون.

قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ۝

پوه سه: چي ضمیر د له راجع دی ومن ته نو ټولو مؤمنانو ته شامل دی.

ترجمه: ښه به ورکړي خدای ﷻ و ده ته رزق یعني الجنة التي لاتنقطع نعیمها وفیه تعظیم لما رزقوا.

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ؕ

الله هغه ذات دی چي پیدا کړي یې دي اووه اسمانونه، او مځکه هم د اسمانو رنګه یعني مځکه هم اووه طبقي لکه اسمانونه چي یو تر بل لوړ دي.

نکته: لفظ الله مبتدا ده او موصول سره د صله یې خبر دی، او سبع سموات یې نکره راوړه للتعظیم الدال علی کمال قدرة صانعها علی وفق حکمته الشاملة. له ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چي په داسې وخت کي نبي الله ﷺ ناست ؤ او اصحاب رضی الله عنهم هم ناست وه چي وریځ پیدا سوه، فقال النبي ﷺ هل تدرون ما هذا؟ اشاره یې و وریځي ته وکړه، قالوا الله ورسوله اعلم.

سوال: وریځ خو هر چا پېژندل چي سحاب ده نو دوی ولي وویل والله ورسوله اعلم؟

ځواب: د تعظیم له کبله د علیه الصلوة والسلام او بل دا چي د دوی دا خیال ؤ چي علیه الصلوة والسلام په دې سوال کي یو حکمت لري، قال هذا العنان چي د وریځي بل نوم دی دا روایا ده د مځکي (یعني اوبو ونکې د مځکي) یسوقها الله خدای ﷻ روانه کړې ده و داسي قوم ته چي نه د خدای ﷻ شکر وایي او نه بې عبادت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي يعني الكفرة ثم قال هل تدرون ما فوقكم؟ قالوا الله ورسوله اعلم، قال فانها الرقيع سقف محفوظ وموج مكفوف ثم قال هل تدرون ما بينها وبينكم. څونه مسافه ده په مابين کي د رقيع او ستاسي؟ قالوا الله ورسوله اعلم. قال بينكم وبينها خمس مائة عام (۵۰۰) کاله مسافت دی، ثم قال هل تدرون ما فوق ذالک؟ قالوا الله ورسوله اعلم، سماآن بعد ما بينها خمسة مائة عام ثم قال کک تی عد سبع سموات بين السماء و الارض ثم قال هل تدرون ما فوق ذالک (يعني تر اوو اسمانو لوړ) قالوا الله ورسوله اعلم، قال فوق ذالک العرش الى اخير الحديث الطويل المشتمل على المتشابهات.

يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

جاري دی حکم د خدای او قضاء د خدای په مابين کي د دغو اسمانو وينفذ حكمه تعالى وقضائه تعالى فيهن كلها چي تاسي په پوه سئ چي خدای پر هر شي قادر دی ولي دا علويات يې پر ترتيب مذکور پيدا کړه نو قدرت پر دې هم لري چي اموات و موقف ته د حساب او جزاء بعث کړي.

وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا ۝

او په دې هم پوه سئ چي خدای پر هر شي احاطه کړې ده، وقوله علمًا تميز محول له فاعل څخه دی يعني احاط علمه تعالى بكل شيئ، ولي چي يوه خونه بېله داسي چا چي علم د بنايي يې نه وي زده نه سي جوړولای، وکذلک يوه دروازه بې نجاره چي عالم په نجارۍ نه وي نه يې سي جوړولای. فكيف لايدل هذا العالم الكبير على علم صانعه الخبير البصير.

درويش وايي: چي تفسير د سورة الطلاق په توفيق د خدای عزوجل پر يوه نيمه بجه د ماپښين ۱۵ د جمادی الاول سنه (۱۴۳۳) هجري قمري پای ته ورسېدی، ولله الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وعلى آله وصحبه البررة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سورة التحريم مدنية وهي　بسم الله الرحمن الرحيم　اثنا عشرة آية وفيها ركوعان

درویش وایي: چي د راتلونکي آیت په شان نزول کي متعارضه روایات راغلي دي چي فقیر به یې درته بیان کړي ان شاء الله تعالی.

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكَ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَاجِكَ

ای نبي ولي ته حراموې هغه شیان چي خدای حلال کړي دي و تاته، ته غواړې رضا د خپلو مایانو، بخاري او مسلم له عطاء څخه روایت کړی دی، دی وایي چي ما واورېدل له عائشي ؓ څخه چي نبي ﷺ به د زینب بن جحش ؓ په حجره کي ډېر درنګ کاوه چي د هغې د خپلوانو له خوا څخه یو چا عسل راوړي وه نو هغه عسل به یې خوړل، نو عائشي او حفصي (یعني بنت عمر ؓ) اتفاق سره وکړی چي هري یوې ته چي علیه الصلوة والسلام ورتږدې سو هغه دې ورته ووایي اجد منک ریح مغافیر (چي د یوې درختي ژړا ده بدبویه) خير فدخل رسول الله ﷺ علی احداهما، هغې هغه خبره د مغافیر ورته وکړه، علیه الصلوة والسلام ورته وویل لا بأس شربت عسلاً عند زینب بن جحش وقد حلفت (یعني لا اشرب العسل) ولا تجزي احداً یعني مرضات نسائه.

درویش وایي: چي په بعض روایاتو کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ یشرب العسل عند سودة ؓ فیدخل علی عائشة ؓ فقالت اني اجد منک ریح مغافیر ثم دخل علی حفصة ؓ فقالت مثل ذالک علیه الصلوة والسلام لعله شراب ای عسل شربته عند سودة ؓ والله لا اشربه، قال الحافظ ابن حجر ؒ في شرح البخاري الراجح ان صاحبة العسل زینب بنت جحش ؓ لا سودة ؓ لان مسند عبید بن عمیر اثبت من طریق ابن ابی ملکیة، ډېر مفسرین ؒ پر دې رایه دي چي دا ایت په تحریم کي د ماریة ؓ دی چي یوه مینځه وه چي علیه الصلوة والسلام ته المقوقس رالېږلې وه، البغوي ؒ وایي چي علیه الصلوة والسلام یقسم بین نسائه ای المنکوحة فلما کانت یوم حفصة بنت عمر ؓ هغې د علیه الصلوة والسلام څخه اجازه وغوښته چي زه به د پلار کره ولاړه سم علیه الصلوة والسلام هم اجازه ورکړه چي هغه ولاړه رسول الله ﷺ ماریه القبطیه راوغوښته هغه چي راغله د حفصي ؓ په خونه یې دننه کړه نو وطي یې ورسره شروع کړې، حفصة ؓ چي بیرته د پلار له کوره راغله د

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

خوني دروازه د دننه له خوا بنده وه، نو حفصهؓ د دروازې سره کښېښسته، نو عليه الصلوٰة والسلام له خونې را ووتی چې پر مخ مبارک يې خوله را ايله وه او حفصې ؓ ژړل، فقال ﷺ پر څه شي ژاړې؟ دې ورته وويل چې تا چې ما ته د پلار د کور اجازه را کړه ددې لپاره چې مينځه دې را وستل زما خونې ته فوقعت عليها في يومي وعلى فراشي اما رئيت لي حرمت ولاحقًا، چې ورته کار د ماينې سره چا نه دی کړی، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چې دا خو زما مينځه ده ما ته خدای روا کړې ده، خو حفصې ؓ و خپلې ژړا ته دوام ورکړی، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چې مه ژاړه ماريه پر ما حرام ده التمس بذالک رضاک، او دا خبره يې هم حفصې ؓ ته وکړه چې په دې موضوع به څوک نه خبروې، عليه الصلوٰة والسلام چې له کوره ووتی حفصې ؓ د عائشې ؓ د خونې د ېوال ور وټکاوه، عائشهؓ چې راغله حفصې ؓ ورته وويل چې زيرې مې درباندې عليه الصلوٰة والسلام ماريه پر ځان حرامه کړه له دې څخه خدای خلاصي کړو.

درويش وايي: چې له دغې ماريې ؓ څخه خدای عزوجل و عليه الصلوٰة والسلام ته زوی ورکړی ؤ چې نوم يې ابراهيم پر ايښی ؤ او د رضاع په حال کې يعني چې يوې ښځې ته يې د رضاع لپاره سپارلی ؤ او په عمر کې تقريبًا د (۱۶) مياشتو ؤ وفات سو، انا لله وانا اليه راجعون، او د عليه الصلوٰة والسلام نور ټوله عيال نر او ښځې د ام المؤمنين خديجة الكبرىؓ له نسل څخه وه، مگر حکمت د خدای عزوجل دی نر عيال د خديجة الكبرىؓ بلوغ ته نه دی رسېدلی يعني وفات به سو او ښځينه عيالو نه يې پاته وه د نکاح تر وخته پورې لکه فاطمةؓ زوجة عليؓ وغيرهن.

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

خدای بخښونکی دی د دغه ذلت و تاته فانه لا ينبغي تحريم ما احل الله "رحيم" حيث رحمک فجعل لک من التحريم ولم يؤاخذک به.

قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ۚ وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝

خدای تاسې ته ستاسې د قسمو کفاره مقرره کړې ده "فرض" ای شرع "تحلة ايمانکم" يعني تحليل ما حرم باليمين، او په هدايه کې راغلي دي من حرم شيئًا على نفسه مما يملکه لم يکن محرمًا عليه نو ده ته روا دی تحليل د هغه شي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لازمه ده پر ده كفارة اليمين لان التحليل الحرام يمين عند ابی حنيفةؒ، ولهذا قال في تفسير الحسيني: بدرستی که بیان کرده خدای تعالی شمارا فرو کشادن سوگندهایٔ شمارا بکفاره دادن آه.

درويش وايي: چي پر عليه الصلوة والسلام په دې حلة اليمين كي د تحريم د ماريهؓ كفاره واجبه وه او ده دا كفاره اداء كړه او كه څرنګه؟ نعم پر واجبه وه، مقاتلؒ وايي چي عليه الصلوة والسلام په تحليل كي د ماريهؓ مريي ازاد كړی، او الحسنؒ وايي چي كفاره نه وه پر واجب لانه مغفور له، ده ته خو خدای عزوجل بخښنه كړې ده، وهذا ليس بصحيح لان مغفوريتهﷺ لاينافي وجوب شيئ عليه لانهﷺ سهى في الصلوة فسجد سجود السهوة، وهذا الحديث متفق عليه، او غير له سجود السهو لكه سجده تلاوت وهو ايضًا حديث متفق عليه، وصلوة الوتر على المذهب الصحيح.

فائده جديده: كه څا وويل حرمت علي امتي هذه او طعامي هذا او يا مثلاً فلانی ميوه پر ما حرامه ده يكون يمينًا عند ابی حنيفةؒ او پر تقدير د تحليل د هغه پر ده كفاره لازمه ده وهو المروي عن احمدؒ والاوزاعيؒ وعن ابی بكر و عائشةؓ ويؤيد قول مقاتلؒ قول ابن عباسؓ لقد كان لكم في رسول الله اسوة حسنة يعني والله تاسي لره سته په رسول اللهﷺ سره اقتداء بنه، يعني ده مبارک په تحليل كي د ماريهؓ كفاره د مريي په ازادولو سره وركړه، نو تحريم الحلال كه يمين نه وای نو كفارة الميمن يې ولي وركوله والله اعلم.

وَإِذْ أَسَرَّ النَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَاجِهِ حَدِيثًا

"اذ" منصوب دی په اذكر مقدر سره، او كله چي پټه خبره وكړه النبيﷺ و بعض ازواجو ته (چي مراد حفصه بنت عمرؓ ده) "حديثًا" يوه خبره چي تحريم العسل وه كما في البخاري و مسلم يعني شربت عسلاً عند زينب بنت جحشؓ ولن اعود، او تحريم مارية وهو الراجح عند اهل التفسير چي عليه الصلوة والسلام چي د مارية القبطيةؓ سره وطي وكړې په خوله د حفصهؓ او هغې ته غصه ورغله او ژړل يې عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي دا خبره ته پټه ساته يعني عائشهؓ په خبره نه كړې ماريه پر ما حرامه ده او حفصهؓ في الحال عائشهؓ خبره كړه كما مر، فغضبت عائشةؓ بهذا الموضوع.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ

الضمير المؤنث راجع الى بعض ازواجه وهي حفصةؓ، يعني انبئت حفصةؓ عائشةؓ "واظهره الله عليه" يعني ظاهر كړى خداى ﷻ دا سر يعني چي حفصةؓ دا سرو عائشهؓ ته ويلى دى، راوي وايي چي عائشهؓ چي په غضب سوه په تعريض د رسول اللهﷺ په ماریة القبطیةؓ سره دا يې نه وويل چي زه حفصېؓ خبره کړم "عرف بعضه" بعض خبر يې و حفصهؓ ته بيان کړى چي تا و عائشېؓ ته دا سر رسولى دى، وقصد رسول اللهﷺ جزائها بالطلاق فجاء جبرئيلؑ لا تطلقها فانها صوامة (نفلي روژې نيسي) قوامة (د شپې د تهجد لمونځ کوي) وانها من نسائك في الجنة، فلم يطلقها، او په بعض طرق کي راغلي دي چي قصد چي يې وکړى او طلاق رجعي يې ورکړى جبرئيلؑ راغلى چي رجوع ورته وکړه "واعرض عن بعض" او د بعض خبرو څخه يې اعراض وکړى، راوي وايي چي عليه الصلوة والسلام چي کراهت وليدى په مخ کي د حفصېؓ او ددې ژړا يې وليده او دا چي په خونه کي ددې پر فراش د ماریه قبطیهؓ سره جماع وکړه سوې، نو ددې د خوشحالى لپاره يې يوه خبره دا ورته وکړه چي ماریه پر ما حرامه ده، او بل يې دا خبره ورته وکړه د زړې لپاره چي خلافت تر ما وروسته به ابى بکرؓ وابيها عمرؓ ته رسيږي، نو حفصېؓ دا ټوله حال و عائشېؓ ته وواپه، نو په ايت کي له عرف بعضه څخه مراد حفصهؓ ده پر سر چي عليه الصلوة والسلام دي ته ويلي وه چي دا خبره به پټه ساتې او دې دا خبره عائشېؓ ته وکړه اظهار د ملامتيا يې حتى اراده د طلاق يې وکړه کما مر عنقريب، او اعراض وکړى عليه الصلوة والسلام د خلافت د ابوبکر الصديق او د عمر فاروقؓ چي دا خبره په خلګو کي قبل الوقت نشر نه سي.

فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هَٰذَا ۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ﴿٣﴾

نو کله چي خبر ورکړى نبيﷺ و حفصهؓ ته بما اظهره الله عليه (چي افشاء د سر حفصهؓ کړې ده) نو وويل حفصه، چا تا ته خبر درکړى ددې (يعني د سر د افشاء کولو) عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي زه خبر کړم عليم خبير خداى ﷻ.

إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ

که تاسي توبه وکاږئ (يعني حفصه و حائشهؓ) و خداى ﷻ ته (چي تاسي دوو کومک سره کاوه على رسول اللهﷺ وافشاء سره) کوږ والى او ميل کړى وُ ستاسي زړو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له استقامت څخه پر لار حق حيث رضيتما يعني بافشاء سره بما كره رسول الله ﷺ افشائه من تحريم مارية، والواجب على كل واحد ان يحب رسول الله ﷺ ويكره ما كرهه".

پوه سه: چي په دي ايت كي التفات له غيبت څخه و خطاب ته دى مبالغة في العتاب لهما، او جواب د شرط محذوف دى اى اتيتما بالواجب يعني تاسي واجب كار پر ځاى كړى واى، او دليل يې د محذوف په ځاى كي ودراوه يعني قوله تعالى "فقد صغت".

پوښتنه: د دوو ښځو خو دوه زړونه نو قلوب يې جمع راوړى؟

ځواب: له دې سببه چي دوى تثنيه في ما هو كالكلمة الواحدة ثقيل په عربيت كي يعني قلبا كما، كما هو في كتب العربية.

فائده: كلمه د فاء في فقد لپاره د سببيت ده لتعليل الجزاء فان زيغ القلوب سبب للمعصية والمعصية سبب لوجوب التوبة كذا في روح المعاني والمظهري.

روى البخاري وغيره عن ابن عباس رضي الله عنهما چي زه همېشه حريص وم پر دې چي د عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړم چي من المرئتين من ازواج النبي ﷺ التي قال الله تعالى في شانهما ان تتوبا الى الله فقد صغت قلوبكما لكن وقت د يوازي والي د عمر رضي الله عنه سره په لاس نه راغلى، حتى چي عمر رضي الله عنه حج ته تلى زه هم وسره ولاړم، نو عمر رضي الله عنه له لاري څخه گوښه سو يعني د اودس مات لپاره زما سره مشكوله د اوبو وه، عمر رضي الله عنه چي فارغ سو ما اوبه وراچولې او ده اودس تازه كاوه ځاى فارغ مي پيدا كړى، فقلت يا امير المؤمنين من المرئتان اللتان قال الله تعالى ان تتوبا الى الله فقد صغت قلوبكما، قال عجبًا لک يا ابن عباس هما عائشة و حفصة (تعجب دى تا ته چي ته تر اوسه په دې نه يې خبر چي هغه عائشه او حفصه دي) ابن عباس وايي چي امير المؤمنين عمر رضي الله عنه قصه له سره راته شروع كړه، قال كنت انا و رجل من الانصار من بني امية بن زيد وهم من عوالي المدينة (د اطرافو د مدينې ؤ) او ما او هغه انصاري نوبت سره ايښى ؤ يوه ورځ به دى راتلى و نبي ﷺ ته او يوه ورځ به زه راتلم چي زه به مدينې منورې ته راغلم نو ماښام چي به ورغلم د ورځي ټول حالات من الوحي وغيره من الواقعات به مي انصاري ته بيان كړه او چي دى به مدينې ته راغلى ماښام چي به راغلى ماته به يې ټول حالات بيان كړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا د عمر او انصاري ﷺ نوبت ددې لپاره وُ چي يوه ورځ هر يو چي به کور پاتهٔ وُ د کور خرڅ وغيره بې تر سره کاوه لکن مع هذا مابنام به راغلی مدينې ته تو له علمي ديني حالات بې ورته وويل دا کار له ډېره محبت څخه د هر يوه د ديني زده کړي محبت وُ ، خير عمر ابن عباس ﷺ ته وويل چي موږ قريش پر خپلو مايئنو باندي غالب وُ چي موږ مدينې ته هجرت راوکړی او د انصارو همسايه سوو انصار داسي يو قوم وُ چي ښځي پر دوی غښتلي وې ، نو زموږ ښځو هم ادب د انصارو د ښځو زده کړی ، نو ما يوه ورځ خپلې ماينې ته ناره وکړه دې سخت جواب راکړی يعني په لوړ اواز يې راته وويل چي څه نارې وهې ، ما ددې پر درست جواب دې ته انکار وکړی ، دې راته وويل چي ته ولي پر ما انکار کوې فوالله ان ازواج النبي ﷺ و ده ته سخت جوابونه ورکوي او ګاهي يوه د دوی د عليه الصلوة والسلام څخه مروره وي او د ورځي تر مابنامه پوري د عليه الصلوة والسلام سره خبري نه کوي ، عمر ؓ وايي چي زه ددې خبري ډېر غمجن کړم ، وقلت قد خابت من فعل ذالک وخسرت ، عمر ؓ وايي فجمعت علي ثيابي کالي مي واغوستهٔ فنزلت المدينة فدخلت على حفصة فقلت لها اى حفصة اتغاضب احدى کن النبي ﷺ اليوم الى الليل؟ قالت نعم ، قلت قد خبت وخسرت افتاء ستنين ان يغضب الله لغضب رسوله ﷺ فتهلکي (يعني في الاخرة لا تستکثرى على رسول الله (د عليه الصلوة والسلام څخه ډېر شيان مه غواړه ولا تراجعه في شيئ او جواب مه ورکوه په هيڅ شي چي دی و غواړي ، ولا تهجره يعني مخ مه ځني ګرځوه څه وخت چي خبري نه ورسره کوي ، او زما څخه غواړه هر شی چي غواړې ، ولا يغرنک (تا دې خطا نه باسي) ان کانت جارلک اوضاء منک واحب الى رسول الله ﷺ (که څه هم ستا همسايه يعني عائشه چي تر تا ښائسته هم ده او پر عليه الصلوة والسلام ګرانه هم ده) يعني و ښائستې محبوبي ماينې ته د سړي ډېر درد نه راځي لکه بلې ماينې ته چي نه ډېره ښائسته وي او نه محبوبه د مېړه وي ، عمر ؓ وايي چي موږ به سره ويل چي د غسان قبيله زموږ د جنګ لپاره ځانونه اماده کوي د آسانو پر پښو نعلونه ولي ، نو هغه زما ملګری انصاري چي پر خپل نوبت مدينې منورې ته تللی وُ مابنام چي راغلی دروازه يې ډېر وټکول وقال اثمه هو عمر (عمر کور دی) ففزعت زه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروازې د عادت د خلاف ټکولو څخه وېرېدم، زه چې راووتم ده راته وویل: قد حدث اليوم امر عظيم، نن لوی کار پېښ سوی دی، ما ورته وویل اجاء غسان؟ قال لا بل هو اعظم من ذالک و اطول، طلق رسول الله ﷺ ازواجه، عمر وايي قد خابت حفصة وخسرت، زما د مخه لا دا خيال وُ چې دا خبره به پېښېږي فجمعت علي ثيابي وصليت صلوة الفجر مع رسول الله ﷺ فدخل النبي ﷺ مشربة (بالا خاني ته) له خلکو څخه يې ځان گوښه کړی، ودخلت على حفصة فاذا هي تبكى فقلت ما يبكيک الم اکن حذرتک هذا، اطلقکن رسول الله ﷺ؟ دې راته وویل خبره نه یم، دی مبارک په مشربه کې ناست وُ عمر وايي فجئت الى المنبر النبوي فاذا حوله رهط يبکى بعضهم فجلست معهم قليلاً بيا مي سودا غالبه سوه فجئت المشربة التي فيها النبي ﷺ فقلت لغلام له استأذن لعمر يعني زما لپاره اجازه وغواړه د ورتلو و عليه الصلوة والسلام ته، فدخل الغلام فكلم النبي ﷺ يعني چې عمر اجازه د دخول غواړي عليه الصلوة والسلام هيڅ نه ورته وویل نو غلام چې له مشربه څخه راووتی عمر ته يې وویل چې ما ستا د دخول ذکر عليه الصلوة والسلام ته وکړی هغه هيڅ نه وویل، عمر وايي چې زه بيرته د هغو کسانو سره کښېنستم چې د منبر سره ناست وه او ژړل يې يو کړی ناست بيا مي سودا سوه او هغه غلام ته مي وویل چې ما ته اجازه د دخول د عليه الصلوة والسلام څخه وغواړه، عمر وايي غلام بيرته راغلی او ويې ويل چې ما ستا نوم عليه الصلوة والسلام ته واخستی هيڅ يې نه وویل يعني لا يا نعم، بيا راغلم د منبر نبوي د خلکو سره کښېنستم، دريم وار بيا سودا را ولوېده او راغلم مريي ته مي وویل چې عليه الصلوة والسلام څخه اجازه د راتلو وغواړه مريی عليه الصلوة والسلام ته ورغلی او بيرته راغلی هغه د مخه خبر يې راته وکړه يعني ذكرتك لرسول الله ﷺ فصمت يعني عليه الصلوة والسلام هيڅ خبره راته ونه کړه يا لا يا نعم، بيرته چې زه را روان سوم مريي را ناري کړې چې راسه عليه الصلوة والسلام اجازه درته وکړه، عمر وايي زه چې دننه ورغلم عليه الصلوة والسلام پر يوه بوريا پروت وُ چې د بوريا او دده تر مابين هيڅ شی هوار نه وُ حتى د بوريا لرگيو دده مبارک په غوښو کې تغمې پيدا کړې وې، تکيه يې کړې وه پر يوه بالښت چې پوښ يې د څرمني وُ او په مابين کې يې ليف وه يعني غمبک، فسلمت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليه ثم قلت (يعني بعد السلام و اجابته ﷺ) و انا قائم يا رسول الله اطلقت نسائک (يعني كما قال لعمرؓ رفيقه وشاع خبر الطلاق في الناس ايضًا) عليه الصلوة والسلام پورته راته وكتل (ولي عمرؓ ولاړ ؤ) فقال لا، فقلت الله اكبر (د خوشحاليه) وفي رواية بل آليت منهم شهرًا ثم قلت وانا قائم استانس (دده خوشحالي مې غوښته) لو رئيتني وكنا معشر قريش نغلب النساء، فلما قدمنا المدينة اذا هم (اى الانصار) قوم تغلبهم نسائهم كما مر تفصيلاً فتبسم رسول الله ﷺ ثم قلت يا رسول الله لو رئيتني و دخلت على حفصة فقلت لايغرنک جارتک هي اوضاء منک واحب الى رسول الله يريد عائشةؓ كما مر مع الترجمة، فتبسم رسول اللهﷺ تبسمة اخرى، عمرؓ وايي چي وروسته زه كښېنستم حين رئته تبسم، ما په خونه کي شاوخوا وكتل فوالله ما رئيت شيئًا يرد البصر (چي سترګي دي پر تكيه سي) غير د درو پوستکو څخه فقلت يا رسول الله ادع الله لامتک فليوسع الله عليهم (چي دوى ته فراخه رزق وركړي) فان فارس والروم قد وسع عليهم واعطوا من الدنيا وهم لايعبدون الله، نو عليه الصلوة والسلام كښېنستى چي د مخه يې تكيه كړې وه كمامر، فقال او في هذا يا ابن الخطاب؟ (ته دد ې خبري لپاره راغلی وې) ان اؤلئک اى فارس والروم قوم عجلت لهم طيباتهم في الحيوة الدنيا (يعني في الآخرة لهم النار ان لم يؤمنوا) فقلت يا رسول الله ماته بخښه وكړه، فاعتزل النبي ﷺ من اجل ذالک الحديث الذي افشته حفصة الى عائشة من تحريم مارية ونزل آية التخيير للناس (يعني كه يې طلاق غوښتى طلاق وركړه او كه يې ستا سره د پخوا دول بقاء غوښتل، او داسي عليه الصلوة والسلام ويلي وه ما انا بداخل عليهن شهرًا من شدة موجدة (له ډېر درد څخه) عليهن حين عاتبه الله يعني يا ايها النبي لم تحرم ما احل الله لک تبتغي مرضات ازواجک الى اخير الآية، نو چي نهه ويشت (۲۹) شپې تېري سوې دخل على عائشةؓ فبدء بها (يعني شروع د تخيير يې له دې څخه وكړى) عائشةؓ ورته وويل چي تا خو قسم اخستى ؤ چي په يوه مياشت کي به خپلو زوجاتو ته نه ورځم، نن خو د مياشتي نهه ويشت تاريخ دى چي ما ورځي او شپې شمېرلي، عليه الصلوة والسلام ورته وويل الشهر (يعني دغه مياشت د نهه ويشت ورځو ده) راوي وايي چي هغه مياشت (۲۹) ورځي وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي تر دې ځايه پورې مو د عمر رضي الله عنه قصه هم واورېده چي عليه الصلوة والسلام چېرې دا د عزلت شپې او ورځي تېرولې، لكن مظهري په صفحه (۳۴۰) كي وايي اعتزل رسول الله ﷺ نسائه وقعد في مشربة ام ابراهيم مارية رض حتى نزل آية التخيير او حواله يې البغوي ته كړې ده، زما تر د په دې كي دى چي ام ابراهيم مارية رض خو د عليه الصلوة والسلام مينځه وه مشربه يې كله درلوده، والله اعلم بالصواب، خير اجمالاً قصه خو دا ده تخيير يې له عائشي رض څخه شروع كړى هغې دى مختاره كړې، بيا ټولو ازواجو مطهراتو اقتداء په عائشي رض پسي وكړه، او تفصيل د تخيير ما روى البخاري عن عائشة رض قالت ان رسول الله ﷺ اني ذاكر لك امرًا (زه تاته يوه خبره كوم) او ته يې په جواب كي تلوار مه كوه چي د پلار او مور سره مشوره ونه كړې، دا وايي چي دده مبارک غرض دا ؤ چي زما پلار او مور ما نه امر كوي په فراق د رسول الله ﷺ، ثم قال ان الله قال يا ايها النبي قل لازواجك الى الخير الآيتين، قلت او في هذا استأمر ابوى فاني اريد الله ورسوله والدار الآخرة اى ثوابها وروسته ټولو زوجاتو مطهراتو رض په عائشة رض پسي اقتداء وكړه في قولها فاني اريد الله و رسوله والدار الآخرة، قال الحافظ ابن حجر رح في شرح البخاري يحتمل انيكون مجموع هذه الاشياء يعني قصة العسل عند زينب بنت جحش، وقصة مارية وافشاء حفصة السر، و قصة سوالهن الزيادة في النفقة كان سببًا لاعتزالهن وهذا هو الاوفق بمكارم اخلاقه ﷺ وسعة صدره وكثرة صفحه اى عفه، نو دا اعتزال نه دى كړى عليه الصلوة والسلام حتى چي د ازواجو مطهراتو رض له خوا متكرر دا مذكوره افعال نه دي وجود ته راغلي، والله اعلم.

درويش وايي: چي قصه د زيادت دا وه چي روايت يې مسلم كړى دى عن جابر رض انه استأذن عن رسول الله ﷺ الدخول عليه فأذن له فدخل ثم جاء عمر رض فاستأذن له فاذن له فوجد رسول الله ﷺ جالسًا وحوله نسائه واجمًا يعني ساكتًا ونسائه يطلبون الزيادة في النفقات، نو عمر رض د ځان سره داسي خبره وسنجول چي عليه الصلوة والسلام وخاندي، فقال عمر رض يا رسول الله لو رئيت كه تا ليدلي واى چي بنت خارجة چي د عمر رض كور والا وه چي زما څخه يې سوال د زيادة في النفقة وكړى زه ورولاړ سوم تر ستوني مي ونيول خپه مي كړه، فضحك رسول الله ﷺ وقال هن (اى

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

الازواج المطهراتؓ) حولي كما ترى تسألوني النفقة اى الزيادة فيها فقام ابوبكرؓ الى عائشةؓ تر غاړه يې ونيول خپه يې كړه، وقام عمرؓ الى حفصةؓ تر غاړه يې ونيول خپه يې كړه او عليه الصلوة والسلام پر خندل دواړو خپلو لونړو ته وويل لا تسألين رسول اللهﷺ ابدًا ما ليس عنده انتهى.

وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيۡهِ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوۡلَىٰهُ وَجِبۡرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ

د تثنيه ضمير راجع دى و عائشةؓ او حفصةؓ ته. او د عليه ضمير راجع دى و عليه الصلوة والسلام ته يعني كه تاسي دوې يو د بلي سره كومك سئ پر ضد د عليه الصلوة والسلام يعني بما يسوؤه چي د عليه الصلوة والسلام خوا په بديږي من افشاء السر وغيره او توبه ونه كاږئ (دا شرط دى جزاء يې محذوف ده، اى لا تظفرا عليه) برى پر عليه الصلوة والسلام نه سئ پيدا كولاى بدليل قوله تعالى "فان الله" دليل دى د محذوف جزاء "هو" ضمير فصل دى لپاره د تاكيد "مولاه" اى ناصره "وجبرئيل" رئيس الملائكة المقربين يعني جبرئيل هم معاون دى "وصالح المؤمنين" لفظ د صالح كه څه هم مفرد دى مراد تري جنس دى ولذا عم بالاضافة الى الجمع، او بعض مفسرين وايي چي اصل صالحوا ؤ يعني په صيغه د جمع واو تري حذف سو لالتقاء الساكنين، والمراد ان المؤمنين اجمعين اتباعه واعوانه. الكلبيؒ وايي چي مراد له المؤمنين څخه دا دى چي منافق نه وي، وروى عن ابن عباس وابى بن كعبؓ ان صالحوا المؤمنين ابوبكر و عمرؓ دي.

پوښتنه: يوازي خداى عزوجل خو په نصرت كي د عليه الصلوة والسلام كافي ؤ؟

ځواب: نعم لكن ذكر د جبرئيلؑ وصالح المؤمنين والملائكة من جملة ما ينصره تعظيمًا لهؤلاء، وخص جبرئيلؑ من الملائكة تعظيمًا له.

وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ

او ملائكي وروسته تر دغه (اى بعد نصرة الله عزوجل وجبرئيل وصالح المؤمنين) كومك كونكي دي مع كثرتهم.

سوال: لفظ د ظهير خو مفرد دى او لفظ د ملائكه جمع دى. فكيف الحمل؟

ځواب: البغويؒ وايي هذا من الواحد يؤدى معنى الجمع كما في قوله تعالى حسن اؤلئك رفيقًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ

که چېرې رسول الله (ﷺ) تاسې ته طلاق درکړي (يعني ټولو ته) نو عجبه نه ده چې خدای ؒ ده ته ماينې ورکړي چې خېرې وي تر تاسې.

پوه سه: چې ان طلقكن شرط معترض دی په مابين کې د اسم د عسٰى چې ربه او خبر د عسٰى چې ان يبدله دی، و جواب الشرط محذوف ای فلا بأس به. البغوي ؒ وايي هذا اخبار عن القدرة فلا يرد چې څوک د ښځو به خيرې وي تر عائشهؓ.

فائده: ''ازواجا'' چې يې وويل او سره ددې چې خطاب خو د حفصه او عائشه سره دی تغليبًا، او يا على تعميم الخطاب.

مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّ اَبْكَارًا ۝

''مسلمات'' باللسان ''مؤمنات'' بالقلب فلا يلزم التكرار ''قانتات'' يا مصليات يا داعيات يا موظبات على الطاعة ''تائبات'' ای عن الذنوب او راجعات الى الله تعالى او الى رسول الله ﷺ ''عابدات'' عبادت کونکې د خدای ؒ به وي يا مذللات لامر الرسول ﷺ ''سائحات'' ای صائمات كما قال ابن عباس و ابو هريرة و ابن جبير و قتادة ؒ و الضحاک والحسن و زيد بن اسلم وابنه عبد الرحمن ؒ وروى عن النبي ﷺ، وفي الحديث الصحيح سياحة امتي الصوم، قال الفراء اللغوي ؒ و سمى الصائم سائحًا لان السائح لا زاد معه وانما يأكل من حيث وجد الطعام و كذالک الصائم لا يأكل الا وقت الافطار، وعن زيد بن اسلم وهمان مهاجرات وقال ابن زيد ليس في الاسلام سياحة (ای المفروضة) الا الهجرة فلا يرد على الحصر ان السياحات الجائزة كثيرة او المندوبة ايضًا كثيرة فتدبر فيه ''ثيبات و ابكارًا'' کنډيانې چې مېړه يې مړوي مثلًا او ابكارًا يعني پېغلې.

فائده: په مابين کې ددې دوو صفتو يې واو راوړی لتنافيهما كما هو ظاهر.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ

ای هغه کسانو چې ايمان يې راوړی دی وساتئ خپل ځانونه او خپل اولادونه يا ماينې وغيرها (بالتعليم والتاديب والامر بالمعروف والنهي عن المنكر) له اور څخه يعني په ورځ د قيامت باداء الواجبات بالمعنى الاعم وترک المعاصي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وقودها" صفت دی د نارًا، يعني هسي اوور چې بلېږي په انسانانو (ای الکفار) او په ډبرو، لکه چې بلېږي اور د دنيا په لرګو سره، وفيه تنبيه على شدة تلک النار.

عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ

صفت ثاني دی د اوور، يعني مسلطه وي پر دغه اوور ملکي (چې خزنة جهنم يې بولي) چې سخت مزاجه وي پر اهل النار يعني زړه يې نه پر سوځي "شداد" د بر قوت لرونکي دي حتی چې يوه ملکه د دوی په يوه دفعه اوويا زره کافران اوور ته غورځوي چې په نامه د زبانيه شهرت لري.

لَّا يَعْصُونَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ﴿۶﴾

دوی نافرماني نه کوي له امر څخه د خدای، يعني هر امر چې دوی ته وسي هغه دوی پر ځای کوي "ويفعلون ما يأمرون" يعني امتناع عن قبول امر الله نه کوي بلکې يؤدون.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷﴾

ای هغه کسانو چې په دنيا کې يې کفر کاوه عذر به نه وايا ست نن ورځ يعني د قيامت، ولې د عذر وخت په دنيا کې ؤ او هغه تاسي په کفر کې تېره کړه، نن ورځ تاسي ته جزاء د رکول کېږي په هغه شي سره چې تاسي يې عمل کاوه (کلمه د ما موصوله ده عائد يې محذوف دی ای شيئ تعملونه) دا خبره دوی ته هغه کول کېږي چې دوی د ورځ ته داخل کړه سي.

پوښتنه: دوی نو څه عذر وايي؟

ځواب: يا دا وايي يا ربنا ماکنا مشرکين، چې عذر انکار دی يا دا وايي ربنا ابصرنا وسمعنا فارجعنا يعني الى الدنيا نعمل صالحًا چې دا عذر مهلت دی او رجوع و دنيا ته ده.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا

ای هغه کسانو چې ايمان يې راوړی توبه وکاږئ خدای ته له ټولو معاصيو څخه "توبة نصوحًا" يعني خالصًا من صميم القلب والنصح فکر کول په قول او فعل کې چې په هغه کې ستاسي خير وي، والنصح جاء بمعنى الاخلاص يعني چې خالي وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

له رياء او سمعه څخه، البغوي وايي قال عمر و ابى معاذ التوبة النصوح ان يتوب عن الذنب ثم لايعود كما لا يعود اللبن الى الضرع، شيدې و غولانځي ته.

درويش وايي: چې جامع تعريف د توبة النصوح ما نقل عن علي ﷺ چې بيضاوي رانقل کړی دی چې د علي ﷺ څخه چا سوال د توبة النصوح په باره کې وکړی ده وويل يجمعها ستة اشياء (۱) على الماضي من الذنوب الندم (۲) د فرضي عبادات متروکه ؤ اعاده (۳) ورد المظالم مثلاً د چا څخه په غصب روپۍ يا بل شی اخستل وي (۴) واستحلال الخصوم مثلاً که يې چا ته ښکنځل کړي وه يا يې وهلی ؤ عفوه به ځني غواړي (۵) قصد محکم کول چې بد کار به بيا زه نه کوم (۶) پر طاعاتو د خدای عزوجل ملازمت کوي لکه چې پر معاصيو يې کاوه، او نورو مفسرينو يې بعض د دغو خصالو تفسير کړی دی کالبغوي والقرطبي والکلبي والحسن ﷺ وفيما ذکرنا کفاية.

عَسٰى رَبُّكُمْ اَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

ښايي چې رب ستاسي وبخښي ګنهونه تاسي ته ګنهونه ستاسي او تاسي داخل کړئ جنتو ته چې بهېږي لاندي تر درختو د هغو الانهار، شراب، اوبه، شيدې او عسل.

فائده: خدای عزوجل لفظ د طمع چې عسیٰ ذکر کړی اشارة الى ان کفران السيئات وغيرها تفضل من الله عزوجل والتوبة غير موجبة لهذه الامور، اذ لايجب على الله شيئ، والاشارة الى ان العبد لابد انيکون ابدًا بين الخوف والرجاء، اخرج ابو نعيم عن علي ﷺ قال قال رسول الله ﷺ چې خدای پاک وحي وکړې و يوه نبي ته د انبياؤ د بني اسرائيلو، قل لاهل طاعتي من امتک ان لا يتکلوا چې دوی دي تکيه نه کوي پر اعمال حسنه ؤ خپل ولي چې زه نه دروم عبدًا من عبادي لحساب يوم القيامة الا ان شئت ان اعذبه عذبته، يعني حساب به بالاستيعاب دده د طاعاتو او خپل د نعمتو چې و ده ته مي ور کړي وه، نو دده طاعت خلاص سي او زما نعمتونه به ډېر پاته وي نو پر هغو به عذاب ورکړم لان الله عزوجل ليس بظلام للعبيد، وقل لاهل معصيتي من امتک نا اميد کېږئ مه له رحمت څخه زما فاني اغفر الذنوب العظيمة ولا ابالي، ولنعم ما قيل في الفارسية به بها نمی بخشد و بيهانه می بخشد وفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الباب احادیث کثیرة قصیرة و طویلة چي ساحه د تفسیر ایوبي په نسي څایولای.

يَوْمَ لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ

هغه ورځ چي خدای نه ذلیلوي النبي (ﷺ) او هغه مسلمانان چي دده سره ملګري دي "یوم" ظرف دی د "وید خلنکم" او "والذین آه" عطف دی علی النبي، خزي د نبي ﷺ او خجالت دده دا دی چي شفاعت دده په باره کي د عاصیانو د امت دده رد کړي..... بیت:

عطای شفاعت چنان دهند..... که امت تمامی ز دوزخ رهند

درویش وایي:.... بضاعت نیاوردم الا امید..... خدایا ز عفوم مکن نا امید

نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ

دا علت دی د "لایخزی الله آه" د دوی، نور د دوی یعني پر پل صراط روان وي دمخ دخوا او پر راسته لاس د دوی، بعض مفسرین وایي چي والذین مبتداء ده او نورهم مبتداء ثاني ده او یسعی خبر د مبتداء ثاني دی او ټوله جمله خبر د "والذین" ده.

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

دوی وایي "یقولون" جمله مستأنفه ده یا خبر بعد الخبر د موصول دی، دوی دا خبره هغه وخت کوي چي د منافقینو نور مړ سي او په توره تاریکه کي پر پل صراط د غم په دریاب کي غرق وي "ربنا اتمم لنا نورنا" ای زموږ بادارہ زموږ نور تام وګرځوه زموږ لپاره او موږ ته بخښنه وکړې د تقصیراتو زموږ په تحقیق ته یا ربنا پر هر شي قادر یې، ای مطلقًا.

پوه سه: چي دا علت دی د اتمام د نور لتفاوت انوارهم علی تفاوت اعمالهم نو وی د دغه تفاوت د نور دفع غواړي تفضلاً.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ

ای نبي جهاد وکړه د کفارو سره (بالسیف والحجة) او د منافقانو سره په رد او رسوایي سره که یې نفاق ښکاره سو، او پر دوی درشت او غلیظي او سختي کوه او رحم مه باندي کوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَأْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٩﴾

او ځای د دوی جهنم دی (ضمير د هم راجع دی و کفارو او منافقينو دواړو ډلو ته) بد ځای دی د ورتګ و المخصوص بالذم محذوف ای النار.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ

او بيان کړی دی الله مثال د کافرانو لپاره (ای لحال الکفار يوم القيامة) زوجه د نوح ﷺ (چي نوم يې واحلة او کافره وه) او زوجه د لوط ﷺ چي هغه هم کافره وه چي نوم يې واهلة ؤ.

پوهه: چي امرئة نوح او امرئة لوط يا دوړه بدل دی بحذف المضاف ای مثل امرئة نوح وامرئة لوط وکذا في امرئة فرعون.

فائده: خدای عزوجل حال د کفارو بيانوي يوم القيامة چي دوی ته به دوږخ په سبب د کفر د دوی او دوی ته فائده نه کوي قرابت د انبياء حتی ابو طالب او نورو قريشو ته چي پر کفر مړه سوه قرابت بينهم وبين النبي ﷺ في خلاصهم من عذاب النار کما لم ينفع المرتبتين المذکورتين ووصلتها د دوو نبيانو بالزوجية.

كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا

"چي دې دوو پيوند د زوجيت درلودی د دوو بندګانو يعني نوح و لوط" "من عبادنا صالحين" مراد د دې عبارت تعظيم د نوح او لوط دی، مدح د دوی يې وکړه. ولې کمال د صلاح په عصمت سره د من المعاصي التي درجة النبوة.

"فخانتاهما" دې دوو ښځو خيانت وکړی د دې دوو نبيانو سره بالکفر والنفاق، قال ابن عباس چي زنی د نبي مايني نه ده کړې نو خيانت د دوی دا ؤ چي پر غير د دين د نوح او لوط وې نفاقًا چي امرئة نوح به خلکو ته ويل چي زما مېړه ليونی دی چي چا به ايمان پر نوح راوړی دې به کافران په خبر کړه، او امرئة لوط قوم ته چي عادت يې لواطت ؤ که د شپې د لوط کره به مېلمانه راغله دې به خپل کور او ربل کړی قوم به يې پوه سو چي د لوط کره ننه شپه مېلمانه راغلي دي، او که به د ورځې مېلمانه راغله دې به په کور کي دود جوړ کړی په هر حال قوم يې په مېلمنو خبراوه د لواطت لپاره، الکلبي" وايي چي دا دوې ښځي منافقاني وې او اظهار د ايمان يې کاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ⑩

نو دي دوو نبیانو دفع نه کړی عذاب د خدای "عنهما" د ددې دوو ښځو څخه "شیئًا" ای شیئًا من الاغناء، نو شیئًا یا مفعول مطلق دی من غیر لفظ الفعل او یا مفعول به دی، نو وویل سول دغو دوو ښځو ته (عند موتهما او یا یوم القیامة) داخل سئ و اور ته سره د داخلینو ای سائر الداخلین من الکفرة چي هغو به پیوند د قرابت نه درلودی د انبیاوُ سره.

پوه سه: چي په دې ایت سره خدای عزوجل قطع کړه طمع د کافرانو بایمان غیرهم من کانوا حتی الانبیاء علیهم السلام.

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ ۘ

او بیانوي خدای مثال د هغو کسانو چي ایمان یې راوړی وي زوجه د فرعون چي آسیة بنت مزاحمؒ فانها کانت تحت عدو الله فرعون ولم یضرها کفره.

تاریخ صحیح وایي: چي موسیٰ علیه السلام چي پر ساحرانو د فرعون غالب سو نو امرئة فرعون ایمان راوړی، فرعون الجبار چي ددې په اسلام خبر سو د دوبي ولمر ته یې پرې ایستل چي خلک به ځني ولاړه ملکو به سایه پر وکړه چي د لمر په تودوخي دا هیڅ نه پوهېدله.

اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

"اذ قالت" ظرف دی متعلق په کائن پوري چي هغه صفت دی لمثل امرئة فرعون والتقدیر مثل امرئة فرعون کائن وقت قولها "رب ابن عندک" ای ربه جوړ کړې هغه ځای چي تا ته منظور وي.

درویش وایي: فلا حاجة الی ما قال المظهري عندیة لاکیف لها فانه تعالی منزه من المکان.

درویش وایي: چي مظهري دا ایت د متشابهاتو څخه بولي ضرورت و دې ته څه دی علی ما ترجمنا الآیة فافهم "بیتًا في الجنة" مظهري وایي چي دې ته خدای کشف کړی ددې ځای په جنت کي چي دې هم ولیدی.

درویش وایي: چي عندیت بلاکیف ته ضرورت و چي دې په جنت کي خپل خونه ولیده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَجِّنِي مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهِ وَنَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّلِمِينَ

او ماته نجات راکړه له فرعون څخه او دده له عمل څخه (تعني تعذيبه اياى على الاسلام، وقال مقاتل" ارادت بعمله اجبارها على الشرك وقال ابو صالح عن ابن عباس ارادت جماعه معها نو فرعون چې به اراده وکړه ددې سره د جماع آلة الجماع به يې مراوى سو يعني انتشار به يې پرېښو) او ماته نجات راکړې د هغه قوم څخه چې پر خپل ځان ظلم کوي بالكفر والمعاصي، په قصه کې داسې هم راغلي دي چې فرعون يوه لويه ډبره راواخسته چې ددې پر جسد يې وغورځوي، دې چې خپل ځاى په جنت کې وليدى روح يې قبض سو د فرعون ډبره پر جسد بلا روح ددې واقع سوه ولم تجد المأ. او ابن كيسان" وايي رفع الله امرئة فرعون الى الجنة فهي تأكل من ثمار الجنة وتشرب من مياه الجنة والله اعلم.

وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِنْ رُّوحِنَا

او مريم بنت عمران (عطف على امرئة فرعون) چې دې ساتلې ؤ خپل ځان د رجالو څخه (يعني مېړه يې نه درلودى) "فنفخنا فيه" اى نفخ جبرئيل بامرنا په ګرېوان کې د قميص ددې نفخا واصلاً الى فرجها فحملت بعيسى عليه السلام ضمير فيه راجع الى الفرج.

فائده: ولما كان النفخ بامر الله تعالى وان كان ظاهرًا من جبرئيل اسند الله تعالى النفخ الى نفسه او لان افعال العباد مخلوقة لله تعالى "من روحنا" اى روحًا خلقناه بلا توسط زوج.

فائده: كلمه د من زائدة في الاثبات عند الاخفش وهو الظاهر وعند سيبوية كلمة من للتبعيض.

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَٰنِتِينَ

او دې تصديق درلودى په كلمات سره د رب ددې (يعني بما اوحى الى الانبياء والمراد شرائع الله تعالى)

پوه سه: چې ابو عمر او حفص "كتبه" په صيغه د جمع وايي كما في المصاحف المطبوعة، نو مراد ځنې تول كتب منزله دي فهو كعطف التفسير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بكلمات ربها، او باقي قراء يې په صيغه د افراد يعني كتابه وايي، والمراد به ما كتب في اللوح المحفوظ يا جنس الكتب المنزلة " وكانت من القانتين " يعني له جمله څخه مواظبين على الطاعات.

پوښتنه: دا خو ښځه وه نو جمع خو يې قانتات ده نو جمع مذكر يې د څه حكمت لپاره راوړه؟

ځواب: يا لپاره د تغليب د جمع مذكر راوړه يا لپاره د تنبيه پر دې چي كه دا ښځه وه لكن په عبادت كي تر رجال كاملانو كمه نه وه، وعن ابى موسٰیؓ قال قال رسول اللهﷺ كمل من الرجال كثير.

درويش وايي: چي مراد د كمال مطلق كمال دی لا كمال النبوة خاصة و الا يلزم النبوة في النساء في قولهؑ ولم يكمل من النساء الا اسية امرئة فرعون و مريم بنت عمران، و ان فضل عائشةﷺ على النساء كفضل الثريد (ښوروا) على سائر الطعام، رواه الشيخان اى البخاري و مسلم في الصحيحين والترمذي وابن ماجه وابو نعيمؒ.

او الثعلبي او ابو نعيمؒ په حلية كي داسي روايت كړی دی كمل من الرجال كثير ولم يكمل من النساء الا اربع:

(۱) آسية بن مزاحمؓ امرئة فرعون.

(۲) مريم بنت عمرانؓ.

(۳) خديجة بنت خويلدؓ.

(۴) و فاطمة بنت محمدﷺ.

درويش وايي: چي مظهريؒ ويلي دي چي مراد له كمال څخه البلوغ الى كمالات النبوة فما فوقها انتهى، دا خبره ده عقل او نقل دواړه ردوي كما لايخفى فكيف صدر منه مع انه تابع للسنة النبوية شايد په دې خبره كي به ده د چا متابعت كړی وي، وروى عن ام سلمةؓ ان رسول اللهﷺ دعا فاطمةؓ في مرضه التي مات فيه، نو يوه پټه خبره يې ورته وكړه چي فاطمهؓ وژړل. بيا يې پټه خبره ورته وكړه فاطمهؓ وخندل، فلما توفى رسول اللهﷺ ام سلمةؓ وايي چي ما سبب د ژړا او وروسته د خندا وپوښتی فاطمهؓ راته وويل چي عليه الصلوة والسلام راته وويل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

چي زه له دې مرضه څخه مرم، نو ما وژړل، وروسته يې راته وويل چي انت سيدة النساء اهل الجنة الا مريم بنت عمرانؑ فضحكت نو ما وخندل.

درويش وايي: چي هغه ښځي چي په حديثو كي تاسي واورېدلې هغه خو تر تولو نساؤ افضلي دي بلا ريب، او د دوى تر منځ د فضيلت علم و خداى تـه وسپاري عقل په دې لار كي ځاى نه لري.

درويش وايي: چي بحمد الله وحسن توفيقه تفسير د (۲۸) جزء يعني قد سمع الله د دوشنبې په ورځ د ماپښين په وخت كي چي د جمادي الاول اخيري نېټه وه سنه (۱۴۳۳ هجري قمري) پاى ته ورسېدى ...... بيت:

د فقير زړه ورځ په ورځ خوشحاله كېږي .... چي تفسير يې و اخير ته نږدې كېږي
دا تفسير زما د عمر سرمايه ده .... نقود څه كوم و بل ته به پاتېږي

سعدي شيرازي قدس سره چه خوش گفته:

تو با خود ببر توشهٔ خويشتن .... كه شفقت نيايد ز فرزند و زن

هغه ورځ به زما د خوشحالى وي .... چي تفسير پر والناس باندي دربېږي
تفسير د كلام الله لكه باران دى .... په دې باران سره د زړه مځكه اوبېږي

روز محشر كه آيد تصوير جانان دربغل
من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل

الحمد لله الذي وفقني لتفسير (۲۸) من اجزاء القرآن الكريم والصلوة والسلام على رسوله الكريم وعلى آله وصحبه اجمين.

لا اله الا الله محمد رسول الله

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي د مضامینو فهرست

شماره	سرلیک	مخ
۱	سریزه	۳
۲	د اووه ویشتمي پاري پیل	۵
۳	د سورة الطور پیل	۱۷
۴	د سورة النجم پیل	۳۹
۵	د درویش د سترګو لیدلی حال	۷۸
۶	د سورة الفجر پیل	۹۵
۷	د سورة الرحمن پیل	۱۲۰
۸	د سورة الواقعة پیل	۱۵۵
۹	د سورة الحدید پیل	۱۸۷
۱۰	د اته ویشتمي پاري پیل	۱۱۹
۱۱	د سورة المجادلة پیل	۲۲۰
۱۲	د سورة الحشر پیل	۲۵۱
۱۳	د یو راهب حکایت	۲۸۶
۱۴	د یو ریاء کار شیخ حکایت	۲۹۶
۱۵	د سورة الممتحنة پیل	۳۰۰
۱۶	د سورة الصف پیل	۳۲۴
۱۷	د سورة الجمعة پیل	۳۳۵
۱۸	حکایة د هجرت الی المدینة	۳۴۴
۱۹	د سورة المنافقون پیل	۳۵۵
۲۰	د سورة الطلاق پیل	۳۷۷
۲۱	د سورة التحریم پیل	۳۹۳
۲۲	د "ان تتوبا الی الله" تفسیر	۳۹۶

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسير ايوبي حنفي۱۷ ټوک

د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو.

تاريخ. ۲۲-۴-۱۳۹۹

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعــا پــه هيله احـمـدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner